۴۰

# ناوړه دودونه

او

## د شریعت په رڼا کې د هغو حل

## د څېړنې او اسلامي علومو د مطالعاتو رياست، چاپ او خپاره شوي کتابونه

۱ـ تفسيرايات احکام
۲ـ رسالت محمدی
۳ـ بسوی وحدت اسلامی
۴- مسؤولیت جوانان از نگاه اسلام
۵- فرد و دولت در اسلام
۶ـ رهنمایی حج و عمره
۷ـ معانی کلمات قرآن
۸ـ چگونه اولاد خود را تربیه نمائیم؟
۹ـ تاریخ مکهٔ مکرمه
۱۰ـ وظیفه علمای دینی ما
۱۱ـ بیزاری اسلام از قتل بیگناهان
۱۲ـ اسلام د بیگناهانو له وژنې بیزاره دی
۱۳- Islam and Killing Innocent
۱۴ـ بنیانگذار مذهب حنفی
۱۵ـ غازی نامور
۱۶ـ تحفة الأمان فی سیرة النعمان
۱۷ـ تاریخ مدینه منوره
۱۸ـ مولانا نجم الدین آخند زاده
۱۹ـ سیاسة شرعیة
۲۰ـ زبدة التجوید
۲۱ـ وقف در آئینه فقه و قانون
۲۲ـ ایمان
۲۳ـ شخصیت امام قتیبه بغلانی
(مجموعه مقالات سمینار علمی وتحقیقی)
۲۴- جایگاه امنیت در اسلام
(مجموعه مقالات سمینار علمی وتحقیقی)
۲۵ـ پاسداران راستین
۲۶ـ رښتوني ساتونکي
۲۷ـ جایگاه انسان در شریعت و قانون
۲۸ـ اهمیت اجازه خواستن در اسلام
۲۹ـ اضرار و پیامد های بد زبانی
۳۰ـ اختطاف و قاچاق انسان
۳۱ـ رهنمای ایراد خطبه برای خطباء
۳۲ـ د امامانو او خطيبانو د خطبو لارښود
۳۳ـ خطبه های جمعه (در دو مجلد)
۳۴ـ آشنایی با بزرگان دین [سلسلهٔ ۱ ]
(زندگینامه مختصر مؤلفین صحاح سته)
۳۵- آشنایی با بزرگان دین [سلسلهٔ ۲ ]
(زندگینامهٔ مختصرعلامه، امام، محدث ابن حبان بستی هلمندی)
۳۶- رسالهٔ اخلاص
۳۷- رسالهٔ اخوت
۳۸- د جمعي خطبي ( په دوه ټوکه کي)
۳۹- چاپ مجدد خطبه های جمعه ( در دو مجلد)
۴۰- ناوړه دودونه او د شريعت په رڼا کې د هغو حل

۴۰

ناوړه دودونه او د شریعت په رڼا کې د هغو حل

# ناوړه دودونه او د شریعت په رڼا کې د هغو حل

لیکوال: د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د څیړنې او مطالعاتو ریاست.

**د کتاب ځانګړتیاوې:**

**د کتاب نوم:** ناوړه دودونه او د شریعت په رڼا کې د هغو حل

**لیکوال:** شیخ فریدالله ازهري د معارف او اسلامي فرهنګ دیپارټمنټ آمر

**خپرندوی:** د ارشاد، حج او اوقـافو وزارت د څیړنــې او د اسـلامي علومـو د مطالعاتو ریاست

**د چاپ وار:** لومړی ځل

**د چاپ کال:** ۱۳۹۸هجري لمریز کال

**د چاپ شمېره:** (۲۰۰۰) ټوکه

**د چاپ ځای:** د سریع ګرافیکس طباعتي شرکت

ټول حقوق او امتیازات د خپروونکی لپاره محفوظ دي

**بریښنالیک:** Islamicresearch@mohia.gov.af

**پته:** کابل، شهرنو، افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

# د مطالبو فهرست

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت تقريظ.............................١
د څېړنې او مطالعاتو رياست سريزه..............................٤
د مؤلف سريزه .........................................................٦
د دودونو تعريف.......................................................٨
عرف په لغت کې........................................................٨
عرف په اصطلاح کې.................................................. ١٠
عرف په دوه ډوله دی.................................................١٠
اجباري ودونه...........................................................١٢
د اجباري نکاح او يا واده لاملونه..................................١٤
د قرآن کريم او سنتو په رڼا کې د دې ستونزې حل...........١٤
د اجباري ودونو په هکله د ځينو فقهاؤ نظر......................١٩
سره لدې چې اسلامي شريعت ښځې.................................٢١
د نجونو پلورل..........................................................٢٥
بدل يا د شغار واده....................................................٢٧
شغار په لغت کې.......................................................٢٧
شغار په اصطلاح کې..................................................٢٨

یوه شبهه.......................................... ۳۰
د یاد شوې شبهې ځواب............................... ۳۱
په بدو کې د ښځو ورکول.............................. ۳۳
د مال په ځیر په میراث کې د ښځو وړل................... ۳۷
د میراث څخه د ښځو محرومول........................... ٤۲
اسلام نه وړاندې ټولنه کې د ښځو حالت.................... ٤٤
د سرو قیمومت د ښځو لپاره هم ډېر اړین دی................ ۴۷
په مهرونو کې ډېر زیاتوالی............................... ۵۳
ښځینه ؤ سره تاوتریخوالی................................ ۵۹
اسراف په ځانګری ډول د واده په ډوډۍ کې.................. ٦۷
د سپو، چرګانو، زرکانو او مړزانو جنګول..................... ۷۳
د حیواناتو د جنګولو حکم................................ ۷۵
د حیواناتو جنګولو په هکله د ځینو فقهاؤ څرګندونې.......... ۷٦
د حیواناتو په جنګولو د شرط کیښودلو حکم.................. ۷۸
په حیواناتو رحم کول د ګناهونو د ښښنې لامل دی............ ۸۰
په حیواناتو تېری او ظلم جهنم ته دي....................... ۸۵
د سپیانو د ساتلو حکم................................... ۸۸
د سپي د نه ساتلو اړوند روایات........................... ۸۹

د ځينو نارينه ؤ ځوانانو له لوری د سرو زرو استعمال.......... ۹۵
په نارينه ؤ د سرو زرو د استعمال د حرمت د لائل.............۹۶
په سګرټو او نسوارو او نورو نشه يي توکو روږدی کيدل.......۱۰۱
د مخدره توکو لغوي تعريف....................... ۱۰۲
د مخدره توکو غوره مصطلح تعريف..........................۱۰۳
د ځينو علماؤ  له لوری د ثيرني له پلوه................... ۱۰۳
د ځينو علماؤ له لوری د قانون له پلوه.................... ۱۰۴
مخدره توکي په اساسي ويش سره...........................۱۰۴
۱ ــ طبعي مخدرات...........................................۱۰۴
هغه مخدره توکي چې د پوزې لياري څخه استعماليږي.....۱۱۰
اداري فساد......  .................................................۱۱۴
د فساد تعريف.................................................۱۱۵
فساد په لغت کې..............................................۱۱۵
فساد په اصلاح کې............................................۱۱۵
رشوت په لغت کې.............................................. ۱۱۵
رشوت په اصطلاح کې.........................................۱۱۶
د رشوت (بډې) ګناه د آياتونو په رڼا کې...................۱۱۶
د رشوت (بډې) ګناه د احاديثو په رڼا کې....................۱۲۰

نامناسبه لباس اغوستل................................ ۱۲۶
په پیغلو د ټوپک ډز کول او یا په بل دود سره د پیغلې........۱۳۲
د ماشومانو حقوقو ته نه پاملرنه................................ ۱۴۵
د حل لارې چارې.................................................. ۱۵۸
خاتمه.................................................................۱۶۰
واړندیزونه.........................................................۱۶۱
مصادر او سرچینې.............................................. ۱۶۳

# د ارشاد، حج او اوقافو وزارت محترم وزیر مولوي عبد الحکیم (منیب) تقریظ

**الحمد لله الذي قال: (يُؤتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاءُ وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلاَّ أُوْلُواْ الأَلْبَابِ)** [1] والصلاة والسلام على رسوله محمد وعلى آله وصحبه أجمعين. وبعد:

د ارشاد، حج اواوقافو وزارت له سته امکاناتو سره سم چې په واک کې یې لري دا دنده او مسؤولیت لري چې د اسلامي لاربښوونو په برخه کې ګرانو هیوادوالو ته هر اړخیزه معلومات د غږیزو او انځوریزو چینلونو، ورکشاپونو، سمپوزیمونو، سمینارونو او په ځانګړي توګه د کتابونو، رسالو، مجلو ( د وزارت پیام حق مجلې) او همدارنګه د منابرو له لارې بیان کړي او دوی ته د اسلام مقدس دین په رڼا کې د خپلو عباداتو، کړنو، دودونو او

[1] - د البقرې، سورت ۲٦۹آیت.

رواجونو ترسره کولو او د هغو ناوړه دودونو او رواجونو نه د ځان ساتني چې د اسلام مبین دین سره په ټکر کې ویصحیح منهج وړاندې کړي او هغه لاره د عملي کړی شي چې زموږ د ټولنې ټولو ناخوالو او بدمرغیوته د پای ټکی کیږي او د ټولنې د پرمختګ او هوساینې لامل وګرځي.

الحمد لله د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د یاد مسؤولیت د اداکولو په اړوند په دي وروستیو کې د تیر په څیر کوټلي ګامونه پورته کړي او خپلو هیوادوالو ته یې د پام وړ خدمتونه وړاندې کړل، تردې چې په ټولو اړینو اسلامي موضوع ګانو یې ځانګړي کتابونه، رسالې او علمي آثار ولیکل، ترڅو وکولای شو خپل ژوند د اسلام مقدس دین په رڼا کې ترسره کړو.

د ناوړه دودونو موضوع لکه: د نجونو پلورل، ښځې د مال په څیر په میراث کې وړل، ښځینه ؤ ته د مهر حق نه ورکول، هلکانو او نجونو ته د خپل ژوند د واده د ملګري د انتخاب حق نه ورکول، ښځې د میراث حق څخه محرومول او داسې نور چې د موږ ټولنه ورسره لاس او ګریوان ده او هغه ناروا کړنې چې د رواج په څیر په دې جامعه کې مروجې دي او د شریعت او قانون له پلوه ممنوع او ناروا اعمال دي، د دې اړتیا احساسیږي چې لیکل

پرېږي وشي او زموږ ګران ولس ته د هغو خرابوالی او بدي څرګنده شي تر څو په راتلونکي کې ورنه په کلکه ځان ساتنه او ډډه وګړي او سرغړونکو باندې یې شریعت پلی او په پایله کې د ټولو وګړو نارینه او ښځینه ؤ حقوق خوندي او د مکرم او ښاغلي انسان څرنګه چې پکار دی درناوی وشي او هیچا په حقوقو تېری او تجاوز ونشي.

د لیکنو او علمي آثارو د تصنیف له لارې د اسلامي او دیني خپرونو په هکله د تدقیق او اسلامي علومو د مطالعاتو ریاست د محترم رئیس او د دې کتاب د لیکوال شیخ فرید الله ازهري نه ستړي کیدونکې هڅې د ستاینې وړبولم او د الله جل جلاله څخه ورته ستر اجر او ښه بدلونونه غواړم او په دې هکله ورته د لازیاتو بریاوو غوښتونکی یم.

وما ذلك على الله بعزيز

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت محترم وزیر

الحاج مولوي عبد الحکیم (منیب)

پسرلی کال ۱۳۹۸

# د خېړنې او اسلامي علومو د رياست سريزه

الحمد لله رب العالمين والصلاة والسلام على رسوله الذي قال: (العلماء ورثة الأنبياء...) و على آله و صحابته أجمعين. وبعد:

د الله (جل جلاله) په فضل سره د خېړنې او اسلامي علومو د مطالعاتو رياست په دې وروستيو کې د پام وړ لاسته راوړنې لري ، د بيلگې په توگه د (جمعي خطبې) کتاب چې په ډېرو علمي مضامينو او بحثونو مشتمل دی او د علماؤ او امامانو د گټې اخستلو وړ گرځيدليدی او د هېواد په دواړو رسمي ژبو پښتو اوفارسي خپور شوی دی ، دا رنگه (د امامانو او خطيبانو د خطبو لارښود) کتاب چې خلکو ته د ياد شوو مضامينو او بحثونو د وړاندې کولو طرز او طريقه ښوونکې رساله ده او داسې نور په لس گونو علمي او خېړنيز آثار يې ليکلي او د گرانو هيوادوالو چوپړ ته يې وړاندې کړي.

دغه کتاب (د ناوړه دودونو او رواجونو له منځه وړو کې د اسلامي شريعت ونډه) چې د هېواد يو عالم شيخ فريدالله ازهري

تألیف کړی دی، چې په ډېرو مهمو ناوړه دودونو او رواجونو چې د مونږ ټولنه یې د ستونزو سره مخ کړی ده  چې د هغو حل یې د اسلامي شریعت په رڼا کې بیان کړی دی، مشتمل دی، الله پاک دې مؤلف زحمتونه په خپل درکې قبل او منظور کړي.

الله (جل جلاله) د وکړی چې دا کتاب د موږ هېوادوالو د ناوړه دودونو له منځه وړولو کې مثمرتمام شي  او د هغوی ټپونو ته دې درمل شی او د ټول امت لپاره د ډېر خیر، سعادت اونیکمرغي ذریعه وګرځي او د مونږ ټولنه د داسې ناخوالو او ستونزو څخه پاکه او ستره وګرځوي او مؤلف ته د لازیات ظرفیت او استعداد او پیاوړتیا د الله (جل جلاله) څخه غواړم. و ما توفیقي إلا بالله علیه توکلت و إلیه أنیب

**د خیړنی او اسلامي علومو ریاست رئیس**

**محمد شریف رباطی دراني**

**پسرلی کال ۱۳۹۸**

# د مؤلف سریزه

**الحمد لله الحي القيوم الأحد والصمد الذي لم يلد ولم يولد ولم يكن له كفوا أحد والصلاة والسلام على خاتم الأنبياء والمرسلين الذي نجانا من ظُلَم رسوم الجاهليه التي أهلكت من قبلنا وعلى آله وأصحابه من سار على نهجهم إلى يوم الدين.**

وبعد:

په دې کتاب کې یو برخه ناوړه دودونه چې د مـوږ پـه ټولنـه کې عادت او راوج په توگه را روان دي د هغو څخه مو یوازي (١٦) دودونه ذکر کړې دي او دا ځکه چې د دغو څخه بحث ډېره اړیـن وه، ترڅو د موږ ټولنه د هغو څخـه وژغـورل شي او د شریعـت پـه رڼا کې د هغو حل بیان شي او د اسلام مقـدس دیـن لـه لـوري د هغو په اړوند معلومات د موږ گران هېوادوال ترلاسه کـړي او خپـل دودونه د اسلامي شریعت سره سم برابر کړي.

## د ناوړه دود څخه زما مراد:

هر هغه کړن اوعمل دی چې په ټولنه کې د ځینو وګړو له لوري د دود او رواج په څیر عملي کېږي او په اسلامي شریعت کې هغه بد ګڼل شوی وي او یا په راتلونکی وخت کې د ستونزو او د شریعت خلاف اعمالو لامل ګرځي او یا د ښو کړنو او مسؤولیتونو پریښودل د رواج او رسم په ډول په ټولنه کې رواج شوی وي.

د لوی څښتن الله تعالی څخه غواړم چې دا کتاب د موږ د مسؤولیت د ادا کولو، د درجاتو د لوړوالي او د جهنم د اور څخه د نجات ذریعه وګرځوي؛انه سمیع الدعاء ومجیبه.

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد و علی آله وأصحابه ومن اهتدی بهدیه الی یوم الدین.

شیخ فرید الله ازهري میاخیل

۱۳۹۸ هجری لمریز

## بسم الله الرحمن الرحمن

**الحمد لله الذي أرسل رسوله الذي كان قدوة حسنة بالمحجة البيضاء ليلها كنهارها والصلاة والسلام على الذي أدى الأمانة وبلغ الرسالة ونصح الأمة ومحى الظلم سيدنا ومولانا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.**

## د دودونو تعریف:

ناوړې دودونه او رواجونه چې له پخوا څخه راروان دي، لومړی د هغو تعریف او پیژندگلوي، نو وایو چې دودونه د دود او رواجونه د رواج جمع دی چې په عربي ژبه کې ورته عرف او عادت ویلی شي.

## عرف په لغت کې:

د عرف ماده په عربي ژبه کې د لغت له پلوه په ډېرو معانیو سره راځي چې ځیني یې دادي:

۱ ـ د يوشي ادراک او په هغه پوهه راتللو ته وايي لکه عرب وايي:(**عرف الشيء أي أردكه بعلمه**) يعنې په هغه يې علم اوپوهه راغله.

**۲ ـ** اعتراف او اقرار لکه عرب وايي:(**عرف بذنبه أي اعترف به**) يعنې په خپله گناه يې اعتراف وکړو .

۳ ـ مجازات او مکافات لکه عرب وايې: (**عرفه أي جازاه و كافأه**) يعنې هغه سره يې د مجازاتو او مکافاتو معامله وکړله.

**۴ ـ** صبر لکه عرب وايي: (**عرف للأمر أي صبر عليه**) يعنې په هغه يې صبر وکړلو.

۵ ـ معروف، معلوم او څرگند ته ويلی شي لکه عرب وايي: (**هذا الشيء معروف**) دغه شی معلوم او څرگند دی.

٦ ـ ښه کړنه لکه حديث کې راغلې دي: (**كل معروف صدقة وإن من المعروف أن تلقى أخاك بوجه طلق وأن تفرغ من دلوك في إناء أخيك**).[1] يعنې هره ښېگڼه صدقه دی او ځينی د ښېگڼو څخه دا همدی چې مسلمان ورور سره په ورين تندی ملاقات وکړي او د خپلې سلواغې څخه د ورور په لوښې کې څه ورتو يې کړي.

---

۱ - سنن الترمذي، حديث شمېره: ۱۹۷۰، شيخ الباني صحيح گڼلی.

**عرف په اصطلاح کې:** (**العرف ما اعتاده الناس وساروا عليه من قول أو فعل أو ترك**)[1]. یعني: عرف هغه څه دی چې خلکو کې عادت وي او هغه په خپلو وینا، کړو او وړو کې عملي کوي.

## عرف په دوه ډوله دی:

(**وقد يكون معتبراً شرعاً أو غير معتبر**)[2]. یو هغه چې شرعا د اعتبار وړ وي بل هغه چې شرعا د اعتبار وړ نه وي.

هغه عرف (دود/رواج) چې اسلامي شریعت کې د اعتبار وړ دی، هغه دادی: (**هو العرف المعتبر شرعاً هو ما استجمع الشروط**)[3]. یعني: په شریعت کې معتبرعرف هغه دی چې ټول شرایط یې پوره کړیوي. دهغو شرایطو څخه دا هم دی چې شریعت څخه مخالفت ونلري، د داسې عرف په هکله مجلة الأحکام العدلیة داسې وایي: (**المعروف عرفا كالمشروط شرطا**)[4]. یعني: کوم څیز چې د عرف له پلوه (په تعامل د خلکو کې) معلوم وي هغه داسې دی

١ - الفقه الاسلامي و ادلته للدكتور وهبة الزحيلي، ټوک ٧، مخ ۴۱٦۴، طـ مکتبه رشیدیه، ۱۳۷۰، پیښور.

٢ـ الفقه الاسلامي و ادلته للدكتور وهبة الزحيلي، ټوک ٧، مخ ۴۱٦۴.طـ مکتبه رشیدیه، ۱۳۷۰، پیښور.

٣ـ ذکر شوي سرچینه.

٤ـ مجلة الاحكام العدلية، د مادي شمېره : ۴۳.

لکـــــه پــــــه شريعــــــت کــــــې چـــــې شرط شــــــويوي.
هغه عرف چې په اسلامي شريعت کې فاسد او غير مقبول ګڼلـی شي، هغه هغه دی چې د اسلامي شريعـت څخـه مخالفـت ولـري لکـه:(**أن لا يخالف الشريعة، فإن خالف العرف نصاً شرعياً أو قاعدة من قواعد الشريعة فإنه عرف فاسد**).[1] يعنې: د عرف شرايطو څخه دا هم دی چې د شريعـت صريـح نـص او يـا يـوه قاعـدې د قواعـدو د هغـه څخـه خلاف نه وي. که چېـري دهغـو څخـه مخـالف وي نـو بيـا قابـل د قبول نه دی او عمل کول په هغه باندې ګناه، نـاروا او ظلـم بللـی شي، چې د موږ سپيڅلي دين کې داسـې دودونـو او رواجونـو پـه ډېره ښه طريقې سره حل شوی دي.

د موږ په افغاني ټولنه کې داسې رواجونه شتون لري چې د شريعت او قانون په خلاف عملي کېږي چې په پايله کې هلاکت، ناخوالې او بدبختې را منځ ته کوي، داسې دودونه ډېر زيات دي چې دلته د ما د بحث موضوع همدا (ناوړه دودونه) يعنې هغه دودونه چې د اسلامي شريعت له پلوه مردود وي، ځينې د هغو څخه په لاندې ډول دي

١ ـ الفقه الاسلامي و ادلتـه للـدکتور وهبـة الـزحيلي، ټـوک ٧، مخ ۴۱٦۴.طـ مکتبـه رشيديه، ١٣٧٠، پيښور.

# اجباري ودونه

## د اجباري (په زورسره) واده تعریف:

داهغه نکاح څخه عبارت دی چې د طرفینو(ناکح او منکوحه) د عقد د رضا او مشورې او یا یو د طرفینو د رضا پرته تر سره شي چې په هغه کې مصلحت او منافع د شرعي وکیل او یا د بل کوم شخص نیول شوی وي نه د زوج او زوجې.

د زور، جبر او ظلم نکاح چې د بالغې نجلۍ هلک رضا پرته او د ولي لطرفه د څه دنیاوي اغراضو د پوره کولو لوجهي تر سره کیږي هیڅ صحت نه لري، ځکه نکاح هم یو عقد دی او په هر عقد کې رضا د طرفینو شرعي امر دی د ښځې رضا د نکاح په هکله ډول ډول طریقې راغلي چې وروسته به ـ ان شاء الله ذکر شي او په ځینو حالاتو کې داسې کیږي چې ښځې دا نکاح رده وي خو ولي د ده رد کولو ته هیڅ پام نکوي دا نکاح ډیر ډول ډول ضررونه او زیانونه منځ ته راوړي، د بیلګې په ډول هغه محبت چې د میړه او میرمنې ترمنځ الله پاک اچولی هغه له منځه وړي

او د دوی تر منځ کینه، بغض، حسد منځه ته راځي داسې کړنې د اولاد په روحیو باندې بدې اغیزې را پیدا کوي، داسې جبري ودونو کې د میړه او ښځې تر منځ د اطمنان او قناعت فضا ختمه شي او د دوی تر منځ خیانت، درواغ او د حقوق ضایع کول منځ ته راځي او په پایله کې د خواهشاتو د پوره کولو لپاره منکراتو، فحشاوو او نور ډول ډول گناهونو ته لاس پوری کیږي او بالاخره په ځینو حالاتو د ښځې له طرف د کور څخه تیښته، او یا ځان وژنه یا ځان سوزونه او داسې نورې ناخوالي منځ ته راځي چې د طرفینو ته دښمني، عداوت او تربگني را وزیږوي او قتل او کور ورانی او د دنیاوي او اخري مسؤولیت منځ ته راوړي،اما په شرعي لحاظ، صحیح نکاح هغه مهال رامنځ ته کیدلی شي چې کله د نکاح تړلو پر مهال طرفین (دواړه جوانب) په دې نکاح تړلو باندې خوښ او راضي وي، او قانوني خبره داده چې هر کله هلک او انجلۍ د نکاح په مجلس کې خپله خوښي او رضایتمندي ښکاره کړي نو د دوی نکاح تړل په دې صورت کې سمه او درسته گڼل کیږي.

## د اجباري نکاح او واده لاملونه:

**الف:** د والدينو او يا قانوني ولي او مشر د شرعي احکامو او قانوني حقوقو څخه ناپوهي.

**ب:** د پيسو او مال لاسته راوړل.

**ج:** د دښمنۍ او تاوتريخوالي له منځه وړل يا په بل اصطلاح سره د ښځې ورکول په بديوکې.

**د:** د زور واکو جبر او زور.

**هـ:** حيله، چل فريب او ټګۍ. او داسې نور.

## د قرآن کريم او سنتو په رڼا کې د دې ستونزې حل:

الله پاک په خپل کلام کي فرمايلي دي: **(وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاء فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلاَ تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ إِذَا تَرَاضَوْاْ بَيْنَهُم بِالْمَعْرُوفِ ذَلِكَ يُوعَظُ بِهِ مَن كَانَ مِنكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكُمْ أَزْكَى لَكُمْ وَأَطْهَرُ وَاللّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ)**.[١]

١ ـ د البقرې سورت، ٢٣٢ آيت.

ژباړه: کله چې تاسي خپلو ښځو ته طلاق ورکړ او هغو خپل عدت پوره کړ، نو بیا پدې لاره کې خنډ مه پیدا کوئ چې هغوی د خپلي خوښي مېړونه انتخاب کړي. که د دواړو خواو په دې موافقه راغله چې سره نکاح وکړي، تاسي ته ښودنه کېږي چې هیڅکله داسې حرکت مه کوئ، که پر الله او د اخرت پر ورځ ایمان لرئ. ستاسي لپاره مناسبه او سپېڅلې لاره همدا ده چې له دېنه ځان وژغورئ . الله پوهیږي او تاسي نه پوهیږئ.

د دې آیت په شان نزول کې امام بخاري رحمه الله په خپل سند سره داسې روایت کوي:«**عَنْ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ أَنَّ مَعْقِلَ بْنَ يَسَارٍ كَانَتْ أُخْتُهُ تَحْتَ رَجُلٍ فَطَلَّقَهَا ثُمَّ خَلَّى عَنْهَا حَتَّى انْقَضَتْ عِدَّتُهَا ثُمَّ خَطَبَهَا فَحَمِيَ مَعْقِلٌ مِنْ ذَلِكَ أَنَفًا فَقَالَ خَلَّى عَنْهَا وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَيْهَا ثُمَّ يَخْطُبُهَا فَحَالَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا فَأَنْزَلَ اللهُ: (وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ) إِلَى آخِرِ الْآيَةِ فَدَعَاهُ رَسُولُ اللهِ، فَقَرَأَ عَلَيْهِ فَتَرَكَ الْحَمِيَّةَ وَاسْتَقَادَ (وَاسْتَرَادَّ) لِأَمْرِ اللهِ**».[1]

ژباړه: قتاده له حسن رضي الله تعالی عنهما څخه روایت کوي چې معقل بن یسار خور په یو سړی واده وه هغه طلاقه کړه او

---

۱ ـ صحیح البخاري، بَابٌ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ، د حدیث شمیره: ۵۳۳۱.

رجوع ورته ونه کړه تر هغه چې عدت يې تير شو، بيا يې په نکاح وغوښتله خو هغه ننګاو اعراض يې ترې وکړ او ويې ويل: پرې ښوده او رجوع ورته ونه کړه سره لدي چې په رجوع قادر وه او اوس بيا يې غواړي  د دوی نکاح کول يې منع کړه نو الله (جل جلاله) دا قولخپل نازل کړو: (**وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ**).يعنې: کله چې تاسي خپلو ښځو ته طلاق ورکړ او هغو خپل عدت پوره کړ، نو بيا پدې لاره کې خنډ مه پيدا کوئ چې هغوی د خپلي خوښي مېړونه انتخاب کړي تر اخره پوري دا آيت نازل شو، رسول الله معقل بن يسار را وغوښتلو او په ده  يې (ياد آيت)ولوستلو د ننګ کولو څخه منع شو او د الله پاک ته يې غاړه کيښوده.

پدې آيت کې په ډاګه سره موږ ته دا لارښوونه دی چې کوم ځاي کې د ښځو خوښه شي د نکاح کولو نو هغوی مه منع کوئ بلکې الله پاک دوی د انتخاب د خاوند (ميړه) حق ورکړی.

د دي ستونزې په حل کې د نبي عليه الصلام والسلام د احاديثو په ذخيره کې ډېر ارشادات شتون لري حتی امام بخاري

داسي باب وضع کړی دی: **بَابٌ لَا يُنْكِحُ الْأَبُ وَغَيْرُهُ الْبِكْرَ وَالثَّيِّبَ إِلَّا بِرِضَاهَا**: باب دی په دې کې چې پلار او داسي بل څوک به پیغله او کونډه په نکاح نه ورکوي مګر په رضا د هغو سره.

داسلام مقدس دین د نکاح عقد واک او اختيار هلک او نجلۍ ته ور کړی.

لکه: **عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ**: **قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم**: «**الأَيِّمُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ فِى نَفْسِهَا وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا**».[1] یعنې: د ابن عباس رضی الله تعالی عنهما روایت دی کونډه ښځه د خپل نفس په نکاح سره ورکولو کې د ولي څخه ډیره غوره دی او د پیغلې څخه به اجازه اخستلی شي، چوپوالی یې اجازه دی.

دارنګه بل روایت دی: «**أَنَّ النَّبِيَّ قَالَ لَا تُنْكَحُ الْأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَكَيْفَ إِذْنُهَا قَالَ أَنْ تَسْكُتَ**».[2] یعنې: حضرت نبې علیه الصلاة والسلام فرمايي: کونډه ښځه به په نکاح نشي- ورکولای مګرترهغه وخت چې

---

۱ صحیح الامام مسلم، باب استئذان الثیب في النکاح بالنطق والبکر بالسکوت، د حدیث شمېره : ۱۴۲۱.

۲ - صحیح البخاري،بَابٌ لَا يُنْكِحُ الأَبُ وَغَيْرُهُ الْبِكْرَ وَالثَّيِّبَ إِلَّا بِرِضَاهَا، د حدیث شمېره : ۵۱۳۶.

مشوره ورسره وکړای شي او پیغله به په نکاح نشي ورکولای مگر چې اجازه یې واخستلی شي اصحابو عرض وکړو چې اجازه به یې څرنگه اخستلی شي؟ پېغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چوپوالی یې اجازه دی.

امام بخاري رحمه الله په پخپل صحیح کې پدې عنوان باب ایښی دی: «**باب أبٌ إِذَا زَوَّجَ ابْنَتَهُ وَهِيَ كَارِهَةٌ فَنِكَاحُهُ مَرْدُودٌ**» باب دی په بیان د دې کي چې پلار خپله لور په نکاح ور کړي او هغه ناراضه وي نو نکاح یې رد دی.

او بیا دا حدیث یې په خپل سند سره روایت کړی: «**عَنْ خَنْسَاءَ بِنْتِ خِذَامٍ الْأَنْصَارِيَّةِ أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ ثَيِّبٌ فَكَرِهَتْ ذَلِكَ فَأَتَتْ رَسُولَ اللهِ فَرَدَّ نِكَاحَهُ**»[۱]. یعنې: د خنساء بنت خذام انصاري (رضی الله تعالی عنها)څخه روایت دی چې پلار یې په نکاح سره ورکړه، په داسې حال کې چې دا کونډه وه، هغې خپله ناخوښی حضرت نبي کریم صلی الله علیه و سلم ته وړاندې کړه هغه صلی الله علیه و سلم

۱ ـ صحیح البخاري، بَابٌ إِذَا زَوَّجَ ابْنَتَهُ وَهِيَ كَارِهَةٌ فَنِكَاحُهُ مَرْدُودٌ، د حدیث شمېره : ۵۱۳۸.

د هغـې نکـاح رد کـړه . پـه دې هکلـه نـور زیـات حـدیث شـتون لـري پـه همـدې اکتفـاء کـوو.  دارنگـه روایـت دی: «**عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَـا قَالَـتْ يَا رَسُـولَ اللهِ إِنَّ الْبِكْـرَ تَسْـتَحِي «تَسْـتَحِيِي» قَـالَ رِضَـاهَا صَمْتُهَا**».[1] د بــی بــی عائشــې رضي اللــه تعــالی عنهــا څخــه روایـت دی چـې دې وویـل: آی رسـول اللـه! پیغلـه خـو حیـا کـوي نـو څرنگـه بـه رضـا خپلـه پـه ژبـه بیـان کـړي؟  پېغمـبر صـلی اللـه علیـه وسـلم وفرمایـل: رضـا یـې دا دی چـې چـوپ شي.

## د اجباري ودونو په هکله د ځينو فقهاوو نظر:

د حنفـــي فقهـــي  مشـــهور عـــالم صـــاحب الهدایـــه برهـــان الـــدین مرغینـــاني رحمـــه اللـــه وایـــي: «**وينعقد نكـاح الحرة العاقلة البالغـة برضـاها وإن لم يعقـد عليهـا ولى بكـرا كانـت أو ثيبـا عنـد أبي حنيفـة وأبي يوسـف رحمهمـا الله في ظـاهر الروايـة ..... ووجـه الجـواز أنها تصرفت في خـالص حقهـا وهـي مـن أهلـه لكونهـا عاقلـة مميـزة ولهـذا**

[1] ـ صحیح البخاري، بَابٌ لاَ يُنْكِحُ الأَبُ وَغَيْرُهُ الْبِكْرَ وَالثَّيِّبَ إِلَّا بِرِضَاهَا، د حدیث شمېره : ۵۱۳۷.

**كـان لهـا التصـرف في المـال ولهـا اختيـار الأزواج ...ولا يجـوز للـولي إجبار البكر البالغة على النكاح...».[1]**

ژباړه:په ظاهر روایت کې د امام ابو حنیفه او امام ابویوسف رحمهما الله په نزد د اصیلي بالغې ښځي پیغله وي او که کونډه نکاح د هغې په رضا سره صحیح دی اګر که ولي یې هم عقد پري نوي کړی.... د جواز وجه یې دادی چې هغه په خپل ځانګړي حق کې تصرف کوي او د تصرف اهل هم ده؛ ځکه چې د عقل او ادراک څښتنه ده نو ځکه هغې لره په خپل مال کې هم تصرف حق شته او دا رنګه هغې لره د خپل خاوند د انتخاب اختیارشته... او د ولي لپاره جایز نه دی چې په بالغه پیغله ښځه د نکاح په هکله اجبار او زورنه وکړي.

نو بناء په مذکور دلایلو په اصیله بالغه ښځه د نکاح په باب هیڅ زور، زیاتي او اجبار څوک نشي کولای.

---

۱ - الهداية في شرح بداية المبتدي، باب في الأولياء والأكفاء، ټوک ۱، مخ ۱۹٦، مكتبه شامله.

**سره لدې چې اسلامي شريعت ښځې ته د خپل خاوند انتخاب حق ورکړی خو بيا هم لاندينيو نکتو ته پاملرنه اړينه دی:**

**لومړی ـ** د نجلۍ نکاح مشرکانو، کفارو او نورو دينونو وګړو سره جواز نلري.

**دوه هم ـ** د هلک (نارينه) نکاح مشرکانو، کفارو او پرته د اهل کتابو نورو دينونو وکړو سره جواز نلري.

**درېيم ـ** د نکاح په هکله کفاءت (مثل) شرط دی.

**څلورم ـ** نسبي، رضاعي او خوسرګلوي محرماتو سره نکاح روا ندی.

**پنځم ـ** دا چې بايد د نکاح له ديندارو، ښه اخلاقو او تربيه لرونکو کورنيو ښځو او نارينه ؤ سره؛ ځکه د واده کولو څخه مقصد يوازې د جنسي غريزې اشباع کول نه دي بلکې عمده هدف يې د بشري کورنۍ تشکيل دی چې د نيکو او صالحو کورنيو او ايمان، اخلاق او سالمه تربيه لرونکو په نکاح سره تأکيد شوی په دې هکله د ديندارو ميرمنې د اختيار په هکله ټينګار شويدی او روايت دی:«**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ – رضي الله عنه – عَنِ النَّبِيِّ ـ صلى الله عليه**

وسلم . **قَالَ تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ»**[1].ژباړه: د ابي هريره رضي الله تعالى عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ښځه د څلور صفاتو له کبله په نکاح سره غوره کيږي د مال، نسب، خايستوالى او دين له وجهې څخه نو خپله نيکمرغى د ديندارى ميرمنې په اختيار کې ولټوئ (لاسونه دى په خاور ولړلي سه).

او همدا راز د مسلمان خاوند په اختيار کې روايت دى: «**عن أبي هريرة قال: – قال رسول الله صلى الله عليه و سلم ـ إذا أتاكم من ترضون خلقه ودينه فزوجوه إلا تفعلوا تكن فتنة في الأرض وفساد عريض**».[2]

ژباړه:کله چې تاسي ته مرکه راشى نو که چيرې هغه شخص ديندار او د نيکو اخلاقو خاوند وى هغه ومنئ که نه نو داسې کار (د ديندار شخص رد کول او د فاسق شخص اختيارول) به په ټولنه کې د لويي فتنې او فساد باعث وګرځي.

١ ـ صحيح البخاري، باب الأكفاء فى الدين وقوله ( وهو الذي خلق من الماء بشرا...)، د حديث شميره: ٥٠٩٠.

٢ ـ سنن ابن ماجه، باب الأكفاء، د حديث شميره: ١٩٦٧.

**شپږم ـ** د خاوند د اختیار حق سره باید د والدینو مشوره او لارښوونو ته د پاملرنه وشي تر څو را تلونکی یې خراب زمونږ ځوان او گران ورونه، پیغلې او قدرمنې خوېندې به هم د خپلو درنو والدینو نظر ته هم غوږ دي، حتی د واده په څیر حساسه مسئله او پرېکړه کې به د هغوی نظر ته ترجیح ورکوي؛ ځکه د دوی تجربه او پاملرنه د اولاد په اړه ډېره گټوره ده، کله کله داسې کېږي چې نجلۍ د والدینو د مشوري پرته د یو تربله په سطحې پیژندنه د ظاهري څیره په بنسټ نکاح وکړي بیا وروسته ظاهر شي چې هغه طرف په اسلامي روزنه او اخلاقو سره اشنا ندی او په مخدره موادو روبدی دی، سمه اسلامي پوهه او روزنه نه لري، په غلا، ظلم، درواغو باندې عادت دی، نه د الله پاک د حقوقو مراعت ساتي او نه د هغه د مخلوق، نو بیا وروسته ډېر پښیمانه وي خو دا پښیماني ورته هیڅ گټه نه ر سوي. هغه ځوان او هغه پیغله چې د لومړي ځل لپاره د گډ ژوندانه لپاره تصمیم نیسي نو معلومه خبره ده چې د مور او پلار او نورو مشرانو په نسبت به د دوی نظر او تجربه هم خامه او لږه وي په دې لړ کې به له خورا پټو رازونو او کارونو څخه ناخبره وي نو ځکه ښائي چې د مور او

پلار او د نورو سپين سرو او سپين ږيرو فکر او نظر ته هم په درنه سترگه وکتل شي.

بله مهمه خبره داده چې د مور او پلار په حق کې دا طبيعي خبره ده چې هغوی د خپل اولاد لپاره د خير، ښيگڼې او نيکمرغه ژوند غوښتونکي وي او په فطري ډول په خپل لاس د روزل شوي اولاد لپار هيڅکله هم د شر غوښتونکي نه وي.د خپل اولاد سره د مور او پلار مينه، په نړۍ کې د نورو ټولو مينو په نسبت خورا سوچه، بې ريا او بې غرضه وي او دا ځکه چې لوی څښتن تعالی د دوی په زړونو کې د اولاد لپاره درنښت او گرانښت، شفقت او مودت اچولی.

# د نجونو پلورل

په ځینو سرحدي سیمو کې بعضې خلک خپلې لوڼې اوخویندې د مال او حیوان په څیر دعدت تیریدو او نکاح پرته پلوري او د دوی مد نظر مال، پیسې، یا بله ښځه، او یا قرب حاصلول وي ځینو لوړ چارواکو او زورمندانو ته چې دا کار په حقیقت کې د جاهلیت د وخت یو ناروا او ناوړه عادت دی چې ښځو ته به یې د انسان په سترګه نه کتلو او د مال په څیر به یې تری کار اخستلو او بالعکس د اسلام په مقدس دین کې الله پاک ښځې ته کرامت ورکړی په ډیر عزت او احترام سره به خپل سرنوشت د خاوند په ټاکلو کې اداکوي او د دوی ولیانو ته یې امر کړی تر څو د خپل اولادونو، خویندو او لورانو په مشوره او په پوره واک ورکولو سره دوی ته د نکاح په باب کې سره د پاملرني دین، کفاءت، تقوی، اخلاق او داسې نورو امور په جدي توګه مراعت کړي، تر څو د خپلو نسلونو راتلونکی له ستونرو څخه خوندی وساتي او شرعي مسؤولیت یې په پوره توګه ادا کړي او انسان د مال په څیر ونه پلورل شي؛ ځکه د ازاد انسان پلورل حرام او

باطل کار دی پدي هکله نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي:«**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ . صلى الله عليه وسلم . قَالَ قَالَ اللَّهُ ثَلاثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفَى مِنْهُ وَلَمْ يُعْطِ أَجْرَهُ**».[1]يعني: ابوهريره رضي الله تعالی عنه د نبي کريم صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: چې الله جل مجده فرمايلي دي: په ورځ د قيامت کې به زه د دريو کسانوسره جګړه کونکی او مدعي يم چې ملامتوم به يې، لومړی هغه کس چې د ما په نوم امان ور کړی او بيا غدر او خيانت وکړی بل هغه څوک چې يو اصيل انسان خرڅ کړی او پيسې يې وخوری او هغه کس چې مزدور باندې کار وکړی او د هغه مزدوري ورنه کړی. د دې حديث څخه جوته شوه چې د انسان خرڅول دومره لويه ګناه ده چې الله تعالی به پخپله د دغه عمل کوونکی سره په ورځ د قيامت کې جګړه کوی او هغه به ملامتوی.دا حديث په حل دې ناوړه د دود کې څرګند دی.

---

١ ـ صحيح البخاري، بَابُ إِثْمِ مَنْ بَاعَ حُرًّا، د حديث شمېره : ٢٢٢٧.

# بدل یا د شغار واده

د بدل واده چې شریعت کې ورته شغار وایي او په لاندې ډول تشریح کېږي:

## شغارپه لغت کې:

شغار په لغت کې: په معنی د خالي والي سره دی او له دي قول دې عربو څخه اخستل شویدی: (من شغر البلد إذا خلا لخلوه عن الصداق).[1] او ځینې وایي چې شغار مأخوذ دی له دي قول د عربو څخه: (شغر الكلب) یعنې: سپي خپله خپه پورته کړه او متیازې وکړی چې په باب د نکاح کې کنایه دی له جماع څخه چې دغه ډول نکاح په ناوړتوب اوقباحت کې د سپي فعل سره مشابه شویدی.[2]

---

١ ــ المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج،أبو زكريا يحيى بن شرف النووي، المكتبة الشاملة.

٢ ــ مخکېنی مرجع .

## شغار په اصطلاح کې:

دا هغه نکاح دی چې یوې ښځې ولي پلار او داسې نـور افـراد دا ښځه بل کس ته په نکـاح ورکـړي پـه دې شرط سره چـې هغـه کس به هم یوه ښځه ده ته  په نکـاح ورکـوی او د دوی لپـاره مهـر ونه ټاکل شي. دا ډول ناوړه پدیده او دود په افغاني ټولنه کـې پـه ځینو سیمو کې شتون لري. په اسـلامي شریعـت کـې د دې ډول نکاح منع راغلي دی؛ ځکه دي کې د هغه انسان  چـې اللـه جـل جلاله هغه ته کرامت ورکړی، مکلف، د عقل او پوهي څښـتن یـې ګرځولی، مشابهت دی له حیـوان سره، پـه دې هکلـه نبـي کـریم صلی الله علیه وسلم د هغه څخه منـع کـړی او فرمـایي: «لاشـغار فی الإسلام»[1]. اسلام کې شغار ځای نلري.دارنګه له حضرت ابـن عمـر رضـی اللـه عـنهما څخـه روایـت دی: «**عن ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ نَهَى عَنِ الشِّغَارِ وَالشِّغَارُ أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ «الرَّجُلَ» ابْنَتَهُ عَلَى أَنْ يُزَوِّجَهُ الْآخَرُ ابْنَتَهُ لَيْسَ بَيْنَهُمَا صَدَاقٌ**»[2]. ژبـاړه: د عبـد الله ابن عمر رضي الله تعالی عنهما څخـه روایـت دی چـې وایـي

۱ ـ سنن ابن ماجه، د حدیث شـمېره: ۱۸۸۵، شـیخ البـاني د دې حـدیث پـه صحت حکم کړی.

۲ ـ صحیح بخاري، باب الشغار، د حدیث شمېره :۵۱۱۲.

پیغمبر صلی الله علیه وسلم د شغار نکاح(د بدل نکاح ) څخه منع کړی شغار یعنې د بدل نکاح او هغه دیته وایي چې یو سړی خپله لور یا خور بل ته ورکړی په دې شرط سره چې هغه به خپله لور یا خور ده ته ورکوي په داسې حال کې چې د دوی لپاره مهر ونه ټاکي.د جمهورو علماوو رایه په نارواوالي د نکاح شغارکې دادی: (**وأجمع العلماء على أنه منهي عنه**).[۱]یعنې علماوو په دې اتفاق کړیدی چې د شغار نکاح منع دی. مګر که چا دا ډول ناروا او منع شوی نکاح وکړه نو د امام ابو حنیفه (رح) باندې نافذه او منعقده کیږي دی او د دواړو ښځو لپاره مهر مثل لازمیږي لکه څرنګه چې فتاوی هندی په دې هکله وایي: ( **قد قالوا ان نكاح الشغار منعقد و الشرط باطل ولكل واحدة من المراتين مهر مثلها**...) [۲]یعنی: علماوو ویلي دي چې د بدل نکاح منعقده دی او شرط باطل دی یعنی هغه شرط چې یوه ښځه د بلې ښځې په بدل کې او عدم مهر د دوی لپاره دا شرطونه باطل دي بلکې د هرې وې ښځې لپاره مهر مثل لازمیږي.

---

۱ ـ عون المعبود، عون المعبود شرح سنن أبي داود، محمد شمس الحق العظيم آبادي أبو الطيب، المكتبة الشاملة.

۲ ـ الفتاوی الهندية، الباب السابع فی المهر، ټوک ۱، مخ ۳۰۳.

خو د امام اعظم ابو حنیفه (رحمه الله) علما د نورو علماوو سره د شغار د نکاح په منع او حرمت بانـدې اتفـاق لـري، خـو دا دول نکاح که چا وکـړه صـحیح دی او فسـخه یـې لازم نـه دی او هـرې یوې ښځې لپاره مهـر مثـل لازمیـږي او د هغـه مهـر مثـل لازمـول باطل شرطونه له منځه وړي نو شغار د په معنا نه پاتی کیږي.[1]

نو پایله دا شوه چې دا ډول نکاح په پیـل کـې منـع او لا یجـوز دی خو که چا دا ناوړه کار ارتکاب وکـړو نـو فسـخه لازم نـه دی او فسخه یې لازم نه دی او هرې یوې ښځې لپاره مهر مثل لازمیـږي او باطل شرطونه ختمیږي او نکاح منعقده او نافذه دی.

**یوه شبهه :**

ځینې خلک د بدل د نکاح په صورت کې داسې وایي چې یوه ښځه لکه لور یا خور یو سړی بل ته ورکړی او هغه خپله لور یا خور ده ته ورکړی، نو موږ یو څه مقدار پیسې د مهر په نوم مسمی کوو، بناء مهر تعیین شو، نو نکاح شغار پاتي نه شوه.

---

۱ - المبسوط، ټوک ۵، مخ ۱۰۵، او بدائع الصنائع، ۲، مخ ۲۷۸.

## د یاد شوې شبهې ځواب:

دا ثابته دی چې یو مقدار مبلغ ورسته وټاکل شو چې لومړی حالت کې نه وه ټاکل شوي، موږ وایو چې که چېرې دا یو اړخ په یاد شوی صورت کې خپله لور یا خور بل اړخ ته ورنه کړی آیا بل طرف به خپله لور یا خور دوه هم اړخ ته په مقابل د دغو کم مقدار مبلغ کې ورکړي، نو ځواب یې منفي دی، نو دا ویلی شو چې د لومړی حالت څخه د یوې ښځې مقابل بله ښځه راغله نه هغه مهر چې ورسته یې د حیلې په طور ټاکي؛ ځکه دا د لومړی وخت څخه معروف بین طرفین دی بناء په دې قاعده فقهي باندې: (**المعروف عرفا کالمشروط شرطا**)[1] ژباړه: د عرف له پلوه معروف او معلوم څیز دا داسې دی لکه شرط شوی څیز.

په دې ناوړي دود (شغار) کې کله داسې پیښیږي چې یو کورنۍ که دا واده شوې ښځه د پلار د کورڅخه بنا په یو دلیل منع کړي، نو بله کورنۍ هم خپله واده شوې ښځه پرته د کوم دلیل څخه منع کوي، که چېري یو طرف واده شوی ښځه ورټې او یا وهل ټوکل منځ ته راشي، نو بل طرف عین بالمثل عمل خپلې

---

۱ـ مجلة الاحکام العدلیة، د مادي شمېره: ۴۳.

زنانه سره کوي چې ملامتي او سلامتي په پام کې نشي نیولی په پای کې پاک او برى ته سزا ورکول کېږي.

په ځینو حالاتو کې یوه منکوحه د دوی دواړو ښځه، خپل والدینو ته چې د بلې ښځې خسرخیل یادېږي، شیطاني او ناروا خبرې نقلوي او دوهم ښځه هم په داسې کړو مجبوره شي چې ټول ژند او عمر د دواړو له ناخوالو، تاوتریخوالو، ناروا او بدبختیو سره تیر شي، په بعضو حالاتو کې د دواړو کورنیو ترمنځ جګړې، دښمنۍ او ناندرۍ راپورته شي او تر قتل او قتال پورې وغځېږي.

نو بناء شغار یا هغه نکاح کول چې یوه زنانه د بلې زنانه په مقابل کې په صراحت سره راشي او هرى یوې لپاره مهر ونه ټاکل شی نو بلاشک بیاخو د جهالت د وخت شغار دی.

# په بدو کې د ښځو ورکول

په ځینو سیمو کې دښمنۍ، تاوتریخوالی، قتل یا اخ او ډب او یا د عیب لاس او پښې هډو کې ماتولو په صورت کې د ښځو په ورکولو سره پای ته رسول کیږي په داسې حال کې چې کله ښځه هیڅ خبره هم نه وي او خوښې ته یې هم هیڅ اعتبار نه ورکول کیږي، دا کړن هم لوی جرم او ګناه ده؛ ځکه ګناه او جرم یو کړی وی سزا یې بل ته ورکول کیږي داسې کړنه اسلامي شریعت او د نافذه قوانینو په رڼا کې ګناه دی په دې هکله حضرت نبي کریم علیه الصلاة والسلام فرمایي: «**الصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ، إِلاَّ صُلْحًا حَرَّمَ حَلاَلاً، أَوْ أَحَلَّ حَرَامًا**»[1]. یعنې: د مسلمانانو ترمنځ هره صلحه جایز دی پرته د هغې صلحې څخه چې حرام حلاله وي او حلال حرام وي. د دې حدیث په رڼا کې کومه ښځه چې په بدو کې د صلحې په نوم ورکولای شي جایز نه دی او عاملین یې د ګناه ارتکاب کونکي دي؛ ځکه اصیله ښځه مال ندی چې د قتل په

---

۱ ـ سنن ترمذي، باب ما ذکر عن رسول الله صلی الله علیه و سلم في الصلح بین الناس،د حدیث شمېره : ۱۳۵۲ .

عوض کې وارث د مقتول ته ورکـول شي او یـا د عیـب پـه صـورت کې معیوب ته ورکول شي بلکې پدې کې ډېر احتیـاط پکـار دی؛ ځکه د عامو خلکو دا وینا چې دا دښمني د ښځې ورکولو پرته پـه بل څه نشي دفعـه کیـدی دا یـو ډول تمسـخر او اسـتهزاء دی پـه اسـلامي شریعـت پـوري چـې خـوف د کفـر دی او پـه ارتکـاب د صغیري او کبیري گناه څوک د اسلام د دائرې څخه نوځې تر څـو تری درې کاره صادر نشي:

۱ ـ د شریعت سپک گڼل یا په بل عبارت د گناه سپک گڼل.

۲ ـ د گناه حلال شمیرل.

۳ ـ په گناه فخر کول.

پدې درې حالاتو کې ځکه انسان د گناه په ارتکاب کفر ته رسیږي چې دا علامه دی د ده به نسبت کولو د کذب الله پاک او د محمدي صلی الله علیه وسلم په شریعت ته.

نو ښځې په بدو کې ورکول، یا د شغار واده کول او یا د ولی او خاوند له لوری د ښځې د مهر په مال کې تصرف د هغې د زړه د رضا او محبت پرته جایز ندی.[1]

۱ ـ تنویر المجاهدین، حقوق و وجائب زنان ازنظر اسلام، ټوک ۷، مخ ۲۱۰.

دارنګه الله جل جلاله فرمايي: (**ولاتزر وازرة وزر أخرى**).[1] ژباړه: هيڅ نفس د بل نفس د ګناه او جرم جزا نه شي پور ته کولی دا آيت په قرآن پاک کې ډېر ځلي په تکرار سره راغلی. او دا مفهوم په دې قول د الله پاک کې هم ياد شويدی: (**لها ماکسبت وعليها ما اکتسبت**)[2]. يعنې: هر نفس انساني چې څه کړن تر سره کوي د خير څخه ګټه يې ده ته راجع کېږي او هغه څه چې د بدی څخه کړيوي ضرر يې ده ته راجع کېږي.

که چېرې څوک د ناوړو کړنو مرتکب شو هغه ده د خپل اعمالو په جزا ورسيږي که قتل عمد يا قتل خطا يا شبه خطا او يا سرقه کبری يعنې قطاع طريقی کړيوي او يا داسې نورې ناوړه کړنې ترسره کړيوي نو د هر يو ځانګړې احکام په قرآن کريم، د نبوي صلی الله عليه وسلم د حديثو په ذخيره او د علماوو په اجتهاد او استنباط کې شتون لري نو د اسلامي شريعت په رڼا کې د بديو او ناخوالو حل او فصل وشي نه دا چې ناروا د په ناروا حل شي

١ ـ د الأنعام سورت، ١٦٤، د الاسراء سورت، ١٥، د الفاطر سورت، ١٨، د الزمر سورت، ٧، آيتونه.

٢ - د البقرې سورت،٢٨٦ آيت.

بلکې د نارو په ناروا حل نشي راتللی د دې خلاف د نورو ناخوالو او تربګنيو زيات والي امکان هم شته.

## ښځې د مال په څېر په میراث کې وړل کېږي

افغاني ټولنه کې په ځینو سیمو کې چې کله د بعضو ښځو او نجونو ولي پلار او غیره وفات شي، نو دوی داسې په میراث کې وړی شي لکه مال کله چې د یوې ښځې خاوند وفات شي هغه ښځه د هغه ورور،تره ځوی او داسې نورو ته په نکاح سره ور کول کېږي که چېري هغوی ورکوټي وي، نو دا ښځه هغه ته د عدت څخه ورسته ډېر کلونه په خوارۍ او ذلت سره انتظار باسي. د دې ناوړې پدیدې حرمت په دې آیت کریمه کې شوی، الله جل جلاله فرمایي: (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا**...)[1] ژباړه: آی مومنانو! تاسوته روا نه دی چې ښځې په زور سره په میراث کې وړئ....

د دې آیت د شان نزول په هکله علماوو څو اسباب بیان کړي دي:

---

۱ ــ د النسآء سورت: ۱۹ آبت.

۱ـ امام بخاري رحمه الله د حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه څخه داسې روایت کوی: کله به چې یو سړی مړ شو د ده اولیاء (قریبانو/ خپلوانو) به د ده د ښځي وکالت په لاس کې واخستو د هغې د اهل او خپلوانو رایه ته به هیڅ اختیار نه وه، که غوښتلو به یې، نو نکاح به ورسره وکړه او که نه، نو بل ته به یې په نکاح سره ورکړه او پا به یې د نکاح پرته ساتله، نو د دې ناوړي رواج ختمولو په هکله دا یاد شوی آیت نازل کړی شو. نوهغه انسان چې الله پاک ورته کرامت ورکړی سره به یې د مال او میراث په څیر معامله کوله.

۲ ـ ابوداود رحمه الله د دې آیت د شان نزول په هکله داسې روایت کوی : چې د یو سړی به د خپلوانو ښځه به په میراث کې وړه، د نکاح څخه به یې منع کوله تر دې چې مړه به شوه او یا ده ته واپس هغه مهرچې پخوا خاوند یې ور ته ورکړی وه، ور کړی، د دې رسم او رواج پای ته رسولو کې دا آیت نازل کړی شو.
۳ ـ دارنگه د حضرت ابن عباس رضي الله تعالی عنهما څخه روایت دی چې د جهالت په وخت کې به چې د کومې ښځي خاوند (میړه) مړ شو، یو سړی به ورته راغلو او په دې ښځه به یې

يوه جامه (لکه څادر) ورواچولو، نو د دې ښځې واک او اختيـار بـه د ده شو، نو د دغـه رواج او نـاوړه دود منـع کولـو پـه اړه دا مـذکور آيـــــــت کريمـــــــه نـــــــازل شـــــــو.

۴ ــ دارنگه د حضرت ابن عباس رضي الله تعـالى عـنهما څخـه د دې آيت په شان نزول کې داسې روايت دی: کله به چې يو څوک مړ شو او د ده ښځه به لور پاتي شوله، نو د ده دوست (ملگری) به ور ته راغلو او په هغې به يې يوه جامه (لکه څادر) ور واچاوه خلکو به يې تری منع کړل که ښکلې (ښايسته) به وه، نـو نکـاح بـه کـړه اوکه بد څيره به وه، نو بيـا بـه يـې د مـرگ وخـت پـوری حصـاروله ترڅو ميراث يې ويسی، نو ذکر شوی آيت د دغـه نـاوړي دود پـای ته ټکی کيښودو۱.

کله چې ښځه کونډه شوه او يا د نجلۍ پلار وفات شو نو اسلامي شريعت ورته د اختيار واک ورکړی دی، او کولی شي چې پخپلو ژوندنيزو چارو کې او په ځانگړې توگه د واده په څير په يوه حياتي او سرنوشت سازه موضوع کې په خپله خوښه تصرف او پرېکړه وکړي.

۱ ــ د حافظ ابن کثير تفسير د سورت النسآء ۱۹ آيت په ذيل کې.

کونډه ښځه او يا هغه ښځه چې پلار او يا اولياء يې وفات شول د نکاح په هکله د نورو ښځو په شان د د دې اختيار لري چې له چا سره به نکاح ترسره کوي او له چا سره به نکاح نه قبلوي هر وخت چې الله پاک د ښځي ميړه، پلار اويا بل ولي وفات شو نو دا لا ډېر د شفقت لايق ده چې ښه ورسره وشي نه داچې وارث يې په ظلم او ناروا او بلا اختياره ځيني خپله په نکاح اخلي او ځيني نوري په خپل زړه سره چاته ورکوي چې ډېر ولور ورکړي او بولی پري جوړه کړي.

اسلام انسان ته کرامت ورکړی او خورا د توقير او درنښت په سترگه ورته گوري او له همدې کبله يې خپلواک گڼلی دی او په ټولنيز او فردي ژوند کې د اختيار آزادي ورکړی دی البته دا ډول لوړ انساني کرامت او د فکر او رأيې آزادي يوازې او يوازې د اسلامي شريعت له مهمو ځانگړتياوو څخه ده چې په نورو نړيوالو نظامونو او دينونو کې هېڅ شتون نلري او دې فرهنگ په دې وروستيو کلونو کې د شرق او غرب په يو لړ غير اسلامي ملتونو کې اوس ترويج موندلی دی او هغوی هم د اسلامي ارشاداتو او توجيهاتو څخه په تقليد، مېرمنو ته د رأيې او فکر آزادي ورکړې دی او اوس ليدل کيږي چې هغوی هم د ميرمنو نظر ته په خورا

درنه سترګه ګوري چې دا د اسلام مقدس دين څخه يې اخستلی دی، اسلامي شريعت په دې حالت کې دواړو ته ښځي او نارينه ته د اختيار واک ورکړی دی، او دوی کولی شي چې پخپلو ژوندنيزو چارو کېاو په ځانګړې توګه د واده په څير په يوه حياتي او سرنوشت سازه موضوع کې په خپله خوښه تصرف او پرېکړه وکړی، نو ښځه که کونډه وي او که پيغله پوره حق لري چې د شريعت د لارښوونو سره سم په خپل اختيار واده وکړي نو د وارثانو هيڅ حق نلري چې ښځي په ميراث کې د مال په څېر ويشي.

# د میراث څخه د ښځو محروموال

په افغاني ټولنه کې دا هم یو بد دود او رواج دی چې ښځینه طائفه د دوی د مسلم حق څخه چې میراث دی محرومېږي د دې حق په اړوند الله جل جلا لـه فرمايي: (**لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَفْرُوضًا**).[1] یعنې: کوم مال چې لـږ وی او کـه زیـات د پلار، مور او نـورو خپلوانـو څخـه پـاتې شـي، نـارینوو او ښـځینوو( وارثانو)لپاره معلومه مقرره برخه فرض شوی ده.

امام طبري روایت کـوی: «**عن قتادة قال: كانوا لا يورِّثون النساء، فنزلت:وللنساء نصيبٌ مما ترك الوالدان والأقربون**».یعنـې: لـه قتـاده رحمه الله روایت دی چـې ښـځو تـه بـه وړانـدې وخـت کـې دوی میـراث نـه ورکـاوه، نـو دا آیـت نـازل شـو: (**وللنساء نصيبٌ مما ترك**

---

۱ ــ د النسآء سورت: ۷ آبت.

**الوالدان والأقربون)** او د ښځینه ؤ لپاره معلومه برخه ده د هغه څخه چې والدینو او نورو خپلوانو پریښیوي۱.

دارنګه الله جل جلاله فرمایي: (**يُوصِيكُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَيَيْنِ فَإِنْ كُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِنْ كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ**...).۲ یعنې: الله جل جلاله تاسو ته د تاسو د اولادونو د میراث په هکله داسې امر کوي : نرینه لپاره دوه پرتله د ښځینه میراث ورکولای شې، که چېرې د مړي څخه یوازې لورانې دوه یا زیاتې د دوو څخه پاتې وی،نو د دوی لپاره دوه ثلثه د متروکې دي او که یوه لور پاتې وی، نو نیم متروکه وړي. دارنګه په نورو آیاتونو او احادیثو کې د ښځینه ؤ د میراث برخه ذکر دی لکن متأسفانه د هیواد په ډېرو سیمو کې اوس هم ښځینه طایفه د رواجونو او دودونو قرباني ګرځیدلي چې د میراث د حق څخه بې برخې دي.

---

۱ ــ د طبري تفسیر، د حدیث شمېره: ۸٦۵۵.

۲ ــ د النسآء سورت: ۱۱ آیت.

غواړم چې دلته په وړاندنیو شپږ ناوړه دودونو اړوند معلومات د معارف القرآن تفسیر غوره تحلیل رانقل کړم تر څو د ښځو د حقوقو په هکله صحیح او معتدل موقف اختیار کړی شي:

## د اسلام نه وړاندې ټولنه کې د ښځو حالت:

د جاهلیت د زمانې ټولو قومونو ښځې لره د کورنی استعمال د یو څیز حیثیت ورکړی وو د څارویو پشان به یې خرڅولی شوی، د خپل واده ښادي کولو هیڅ اختیار یي نه لرلو د دوی اختیارمنو به چه چا ته ورکولي د هغو څخه پرته په یې هیڅ اختیار نه درلوده. د خپلوانو په میراث کې د دوی حصه نه وه بلکه د نورو څیزونو پشان به دوی د سړو په میراث کې راتلی او د سړو ملکیت (مال دولت) به ګڼلی شوی د دوی په قبضه او ملکیت کې به هیڅ نه وو او که په نوم به څه وو نو د سړو د اجازت نه بغیر به یي په دغه مال کې څه دخل نه شو لرلی، د دې خاوند ته پوره اختیار وو چه د دې (ښځې) مال ئې په څه ډول چه غوښتو، په هر ځای کې لګولی شو او د پوښتنی کولو حق هم نلرلو، تر دی چه ځنی مغربی ملکونو کې (چه ډېر ترقي یافته ګڼلی شي) ځینی سړو به ښځه هیڅ انسان نه ګڼلو.

په دین او مذهب کې د ښځې حصه نه وه، نه ورته د عبادت کولو حق وو او نه به جنت حقداره ګڼلی شوه د روما په ځینی مجلسونو کې دا فیصله په مشورې سره شوی وه چه دا یو پلیت ځناور دی، کوم چه روح نه لری د یو پلار د پاره به دا روا ګڼلی شو چه هغه خپلی ژوندی لونړې په زمکه کې ښخی کړی. بلکه دا عمل به د عزت نښه او د شرافت معیار ګڼلی شو، د ځینی خلقو دا خیال ؤ چه د ښځی په قاتل نه خو قصاص شته او نه دیت که چیرې خاوند به یې مړ شو نو ښځه به یې ورسره ژوندۍ په اور سوزوله او له منځه به یې وړه. د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د پیدائش نه پس او د هغوی صلی الله علیه وسلم د نبوت نه وړاندې په ٥٨٦ هـجري کال کې فرانسي د ډېرو اختلافاتو نه پس دا قرارداد تصویب کړو اوپه هغه کې صرف دومره اومنلی شوه چه ښځه یو انسان دی خو د سړی د خدمت د پاره ده او دا یې په ښځه لوړ احسان اوکړو.

غرض دا چه د دنیا ټولو قومونو او مذهبونو ښځې سره هغه قسم سلوک کولو چه د هغې په اوریدو سره بدن زیګ شي دې عاجز

مخلوق سره به نه د عقل پوهې مطابق  معامله کولی شوه نه د عدل او انصاف.

په رحمة للعالمین صلی الله علیه وسلم او د هغوی په راوړلی شوی حق دین چې د انسان سترګې یې پرانستې انسان ته یې د انسان د قدر او عزت یوه طریقه اوښودله د عدل او انصاف قانون یې جاری کړو، د ښځو حقونه یې په سړو داسې لازم کړل لکه څنګه چه د سړو حقونه په ښځو لازم دي هغه یې د سړو په شان آزاده خپل  واکه او د خپل مال ځان داسې مالکه وګاکله چه یوی ښځې لره خپل پلار نیکه هم په نکاح ورکولومجبوره کولی نشي او که چیرې د هغې اجازت نه بغیر بل چا ته نکاح کړی شوه نو د دې په انکار به نکاح باطلیږې. او د دې په منظورولو به صحیح کیږي د دې په مال کې هیڅ یو نارینه د دې د اجازت او رضانه بغیر هیڅ دخل مداخلت نشي کولی. د خاوند د مرګ یا طلاق ورکولو نه پس دا خپل واکه ده، څوک پری زور زیاتی نشي کولی په میراث کې د نارینوو پشان ښځه هم حصه لري او په ښځه مال لګولو او د هغې رضا ساتلو لره شریعت محمدی صلی الله علیه وسلم عبادت ګاکلی دی که چیرې خاوند د هغې واجب حقوقو

لره نه پوره کوي نو هغه د اسلامي عدالت په زور خپل حقوق یا طلاق اخستی شي.

## د سړو قیمومت د ښځو لپاره هم ډېر اړین دی:

بلاشکه د اسلام په مقدس دین کې د ښځو په ډېر غټه کچه حقوق شتون لري که ښځه نوي مور،خور، لور، ترور، خاله وریره او خورزه به هم نوي، ښځه د انساني نسل د بقا سبب دی نیمه بلکې د نیمي څخه زیاته برخه د انسان د نسل جوړوي، ښځو کې د اسیا بي بي دفرعون میرمن، مریم د عمران لور، بي بي عائشه، بي بي خدیجه  فاطمه زهری رضي الله تعالی عنهن په شان ښځې شتون لري، یوازي د حضرت بي عائشې رضي الله تعالی عنها څخه (۲۲۱۰) حدیث روایت شوی دي  او ښځو له خپل مناسب حقونه نه ورکول زور ظلم، او سنگدلی او بدبختی وه کوم چه اسلام ختم کړل دغه شان دوی بی قیده پریښودل او د سړو دمشرۍ او انتظام نه ازادول او د خپل د وخت تیرول او ډودۍ جامی گټلو دپاره هم دا ذمه واره جوړول د هغې حق تلفی او بربادی ده، نه د هغی د بدن جوړښت  دا پیټی اوچتولی شی

او نه د کورنی کارونو ذمه واری او د خپل اولاد د پالنې دا غټ کار د دغه پیټی پورته کول دې ته څه موقعه ورکوي.

دی نه علاوه د سړو د مشرۍ او انتظام نه په وتلو سره ښځه د ټولی انساني معاشري د پاره لویه خطره جوړیږي په دنیا کې تری فساد او مرګ ژوبله پیدا کیږي او دی عمل نه راپورته شوی قسما قسم فتنې پیدا کیدل لازمی او د روزانه لیدلو کتلو خبری دی هم دا وجه ده چه قرآن کریم د ښځو د واجب حقوقو د بیان سره سره دا هم ارشاد اوکړو چې: (وللرجال عليهن درجة) د سړو درجه د ښځو نه اوچته ده، او په نورو لفظونو کې یې مطلب دا دی چه سړی د ښځو نګران او ذمه وار دی.

مګر خنګه چه د اسلام نه وړاندې په جاهلیت اولی کې د دنیا ټول قومونه د دی غلطۍ ښکار شوی ؤ چه ښځی به یې د کور د سامان یا د څارؤ په شان ساتلی، دغه شان د اسلام د تنزل په زمانه کښی د جاهلیت اخری دور شروع شو، دیکې د ړومبۍ غلطۍرد عمل د دی په مقابله کې د دویمې غلطۍ په صورت کې کولی شی. چه په ښځو باندې د سړو د دومره مشرۍ نه د خلاصیدو او خلاصولو پرله پسی روانې دي، چه په نتیجه کې یې فحاشي او بی حیایې عامه شوه دنیا د جنګ جګړو او د فساد کور

جوړ شو مرګ ژوبلی دمره ډېرې شوی چه جاهلیت اولی ته یې شکست ورکړو د عربو یو مشهور متل دی (**الجَاهلُ اِمَّا مُفْرِط او مُفَرِّط**) جاهل زیاتی کوي یا کمي خو په خپل حال برابر او په میانه روی هیچری قائم نه پاتی کیږي.

اوس هم دا حال د زمانه سازو خلقو دی چه یا خو به یې ښځه انسان نه ګنړلو او چه ترقی یې اوکړه نو د ښځو په څټ پروت د سړو د مشری واک اوغورځولو کوم چه دنیا دپاره د حکمت او ښیګړی خبره ده، د دی بد انجام مونږ په خپلو سترګو وینو او یقین وکړئ چه تر څو د قرآني ارشاد په وړاندې ټیټ نشئ او عملي نکړو نو فتنې فسادونه به ورځ په ورځ زیاتیږي.

اوسنی حکومتونو په دنیا کښی د آمن راوستو دپاره روزانه نوی نوی قانونو نه جوړ وی اود دی لپاره نوی نوی اداري قائموي، په بي شمیره روپی پرلګوي لیکن د کومې چینی نه چه فتنې راخوټیږي هغې طرفته توجه نه شي ورکولی که چیرې نن صبا په دنیا کښی د فتنو فسادونو، مرګ ژوبلی، جګړو او جنګونو د اسبابو د تحقیق دپاره یو کمیشن جوړ کړی شي نو ځما په خیال

کښی د دی اسباب به نیم نه زیات د ښځې د اسلامي چوکاټ نه زیات ازادول وي .

مگر د موجود زمانی د هوښیارو خلقو سترگې ځکه د دی نه پټی دی چه هغوی نفس پرستی کې تردې حده رسیدلی دي چه د نفساني خواهشاتو په ضد د خیر ښیگړی هیڅ بندیز نه شی زغملی.

الله پاک د زمونږ زړونه د ایمان په نور رښانه کړي او په کتاب الله د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په هدایاتو د پوره عمل کولو توفیق مونږ ته راکړي ځکه چه هم دا ځیزونه د دنیا او آخرت د نیک بختی پنگه ده.

د قرآن کریم پدي آیت: (**وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ**).[1] ژباړه: (د ښځو لپاره هم په نېکه توگه هماغسي حقوق دي، لکه څنگه چې د نارينه ؤ پر هغو حقوق دي)، په ضمن کې دا معلومه شوه قرآن حکیم ښځی او خاوند ته خپلی خپلی ذمه واری داسې اوښودلی چه د سړو په ذمه د ښځو حقونه ادا کول داسې فرض دی څنگه چه د ښځو په ذمه د سړو حقونه ادا کول فرض دي، په

١ ـ د البقرې سورت، ٢٢٨ آیت.

دیکې دی خبرې ته اشاره ده چه ښځه خاوند د خپلو خپلو حقونو د غوښتنې په ځای د خپلو خپلو ذمه وارو خیال وساتي که داسې وشو نو د حقونو د غوښتلو قضیه به د مینځه وځی ځکه چه د سړی ذمه واری هم د ښځی حقوق دی او ښځی ذمه واری هم د سړی حقوق دی چه هر کس خپلی ذمه واری پوره کړی نو د هر کس حقوق به د هغې په ضمن کې پوره پوره ادا شی نن سبا د ټولنې جگړې هم دی نه راپورته کیږي چه هر یو کس د خپلو حقونو غوښتنه په وړاندې لري. لیکن د خپلو ذمه وارو پوره کولو هڅو خیال نه ساتی.

د دې نتیجه دا شوه چه د حقوقو د غوښتنی نه جنگونه جوړ شول، کوم چه د حکومتونو، عوامو، ښځو لو خاوندانو او د هر کس په مینځ کې روان دي، د قرآن کریم دې اشارې ته د خبرې اړخ داسې بدل کړو چه هر کس د خپلو حقونو غوښتلو کنبی دنرمی، چشم پوشی، معافی او درگزر نه کار واخلي او په خپلو ذمه وارو ادا کولو د زوو ورکړي. په دی قرآني تعلیم که عمل

اوشی نو د کورنو او خاندانونو بلکه د حکومتونو او ملکونو اکثر جګړې به ختمی شي.[1]

---

١ ـ تفسیر معارف القرآن، د مولانا مفتي محمد شفیع، د وحید الله ژباړه، مطبعه وحیدي کتب خانه، د کال چاپ غیر معلوم.

# په مېرونو کې ډېر زياتوالى

يو د هغو ناوړه دودونو څخه دا هم دى چې ډېر زيات مهر ټاکلى شي ، چې دا کار د ځونانو نجونو او هلکانو د واده کولو په وړاندې خنډ دى چې ډېر وارى د ځوان نسل ودونه ورسته کوي په ځينو سيمو کې هلکان ډېر کلونه د عربي خليج او يا د اورپايي هيوادونو په سفر کې په مزدورۍ تېر کړي تر څو د خپلو د داسې درانده ودونو، مېرونو، دواده خوړو، او د خاصو هوټلونو په تالارونو کې دوليمې ډوډۍ ته د ډېرو خلکو را بلنه او ګډون او دارنګه د ناوې لپاره په زياته کچه سره او سپين زر او ډول ډول قيمتي لباس چې د عامو خلکو د وسې څخه بهر وي، چې داسى دارنده رواجونو او دودونو زمونږ د ځوانانو نارينه ؤ او ښځينه ؤ ودونه وروسته کوي او يا يې د ودونو څخه محروم ګرځوي او ځينې نور يې اداري فساد او نور ناوړه کړنو ته مخ کوي تر څو خپل نورو وسه لرونکو ملګرو سره د واده په مراسمو، راوجونو او دودونو کې

سیالۍ تر سره کړي، کله کله داسې ناوړه دودونه د جنو د کور ښځه د تیښتې لامل ګرځي او په پایله کې د دوی کورنۍ کې د اخلاقی بد والي ته لیاره پیدا کیږي. په ځینو وختونو کې د واده دارنده دودونه په راتلونکی کې د واده شوې نجلۍ ښځه د انتقام او بدلي چې د ښځې په وړاندې د تاوتریخوالي یو ډول دی یو ډول نوی دروازه خلاصوي.

داسې زیات مهرونه مقررول او لازم ګورځول د اسلامې شریعت په رڼا کې صحیح کار ندی:

پدې هکله راویت دی: «**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً مِنْ الْأَنْصَارِ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ نَظَرْتَ إِلَيْهَا فَإِنَّ فِي عُيُونِ الْأَنْصَارِ شَيْئًا قَالَ قَدْ نَظَرْتُ إِلَيْهَا قَالَ عَلَى كَمْ تَزَوَّجْتَهَا قَالَ عَلَى أَرْبَعِ أَوَاقٍ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَرْبَعِ أَوَاقٍ كَأَنَّمَا تَنْحِتُونَ الْفِضَّةَ مِنْ عُرْضِ هَذَا الْجَبَلِ مَا عِنْدَنَا مَا نُعْطِيكَ وَلَكِنْ عَسَى أَنْ نَبْعَثَكَ فِي بَعْثٍ تُصِيبُ مِنْهُ قَالَ فَبَعَثَ بَعْثًا إِلَى بَنِي عَبْسٍ بَعَثَ ذَلِكَ الرَّجُلَ فِيهِمْ**».[۱]

---

۱ ـ صحیح الامام مسلم، باب ندب النظر إلى وجه المرأة وکفیها لمن یرید تزوجها، دحدیث شمیره: ۱۴۲۴.

ژباړه: حضرت أبي هريرة رضي الله تعالى عنه راويت كوي: چې يو سړی نبی صلی الله عليه وسلم ته راغی او ویی ویل: ما نکاح وکړه د يوې ښځې سره د انصارو څخه، نبي صلی الله عليه وسلم ورته ويي فرمايل: آيا ورته کتلي د وه؛ ځکه د انصارو په سترگو کې څه شی وي چې خوښ به د نوی ويی ويل: ما ورته کتلی وه او ورته ويی فرمايل په څومره د نکاح وکړه؟ وويل څلور اوقيه باندې، نبي صلی الله عليه وسلم ورته ويی فرمايل: په څلور اوقيه آيا لکه د ده غره د يو اړخ څخه سپين زر را تراشئ! موږ سره ـ اوس ـ څه شتون نلري چې دريې کړو په کوم ټولی د جهاد کې به دې وليږو تر څو څه لاس ته غنيمت راوړي، راوي وايي يو ټولی کي د بني عَبْس ته وليږولو چې يو پکې دغه سړی هم وه.

د دې حديث څخه دا لاندې نکتې استنباط کيږي:

١ ـ امام نووي رحمة الله د دې شرحه کې وايي:

د نبی صلی الله عليه وسلم مطلب د دی فقير سړی لپاره د داسې زياد مهر مقرره مکروه گڼل وه.

٢ ـ د شک پرته نکاح يو شرعي امر دی او په وخت د خوف د ارتکاب د زنا کې بيا فرض مرتبې ته رسيږي ډېر خلک د داسو زياتو مهرونو له کبله نشي کولای چې دې شرعي امر يعنې نکاح

ته لاس رسی ولري، د مسلماتو شرعيو څخه دی چې هر څه وسيله وي وجوب ته بيا کړن يې واجب کيږي، نو لدې څخه معلوميږی چې د حاکم امر په کمښت د مهرونو او د خلکو منع کول د زياتو مهرونو اخستلو څخه د شرعي خلاف کار ندی، بلکې پدې کار کې د خاوند او ميرمني مصلحت په پام کې نيول شويدی او دغه کار د شريعت لخوا د تقدير وړ دی.

۳ ـ په ځينو حالاتو کې د ښځي په نه ورکولو کفء ته د هغې خپلوان خپل شخصي مصلحتونه په پام کې نيولي وي ليکن هغه کفء د داسې زيات مهر توان نلری او د خپلوانو هدف صرف اسراف او فخر وي چې دا کار د شريعت خلاف دی، دې کار ته دوام ورکول داسې خپلوان فاسقان ګرځوي او د کفالت صلاحيت تري سلب کيږي نو د مسلمانانو حاکم ته پکار دی چې په داسې حالاتو کې مداخله وکړي او د نکاح واک په خپله واخلې.

۴ ـ د ډېر غريبانو او ضعيفانو لوړ مهر لامل د نکاح د منع کولو ګرځي او د دي کار څخه چې کوم زيانونه او مفاسد منځ ته راځي هغه د چا څخه پټ ندی پداسې حال کې چې اسلامي شريعت د مصالحو د تکميل او د مفاسدو د کمښت او له منځه وړولو لپاره راغلی.

نو اګر چې په ظاهر خو زیاتوالی د مهر د ښځو او د دې خپلوانو لپاره ښه ښکاریږي لکن کوم مفاسد چې په هغه مرتّب کیږي هغه ډېر زیات دي.

دارنګه روایت دی: «**خَيْرُ النِّكَاحِ أَيْسَرُهُ**».[1] ډېر ښه نکاح هغه دی چې ډېره اسانه وي. یعنې کومه نکاح چې تکلیف، مهر او نور امور یې کم او اسانه وي هغه د شریعت له پلوه ښه د خیر او برکت سبب کیږي.

نه داسې چې ځینې خلک یې وایي چې دا خو که په کم مهر موږ خورلڼه واده شي بیا خو یي حیثیت او وقار کمیږي، ځکه د مال او شتمنی سره وقار نه زیاتیږي بلکې وقار په دیانت، تقوی، ښو اخلاقو، تعلیم، او ښې روزنې سره زیاتیږي.

پدې هلکه راویت دی: «**عَنْ أَبِي الْعَجْفَاءِ السُّلَمِيِّ قَالَ خَطَبَنَا عُمَرُ رَحِمَهُ اللَّهُ فَقَالَ أَلاَ لاَ تُغَالُوا بِصُدُقِ النِّسَاءِ فَإِنَّهَا لَوْ كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنْيَا أَوْ تَقْوَى عِنْدَ اللَّهِ لَكَانَ أَوْلاَكُمْ بِهَا النَّبِيُّ (صلى الله عليه وسلم) مَا أَصْدَقَ رَسُولُ اللَّهِ (صلى الله عليه وسلم) امْرَأَةً مِنْ نِسَائِهِ وَلاَ أُصْدِقَتِ امْرَأَةٌ مِنْ**

---

۱ ـ سنن أبي داود، باب فيمن تزوج ولم يسم صداقا حتى مات، د حدیث شمیره: ۲۱۱۸.

**بَنَاتِهِ أَكْثَرَ مِنْ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً»**.[1] ژباړه: د أبي عجفاء سلمي روايت دى چې وايي: عمر رضي الله عنه موږ ته خطبه وويله: او ويې فرمايل: خبردار د ښځو مهرونو کې تجاوز مکوئ، ځکه که دا کار په دنيا کې عزت او د الله پاک په وړاندې تقوى وى نو نبى صلى الله عليه وسلم به د ستاسو څخه ډېر پدې کار بهتر وه، رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلو بيبيانو ته مهر نه ورکړى او نه د ده لورانو ته مهر ورکړى شويوه زيات له دولسو او قيو څخه.

پدې روايت کې عمر رضي الله عنه په ډېر صراحت سره خلک منع کړل له زياتوالي څخه بلکې په مهرونو کيدى د خلکو فقر او حالت ته د نظر وسي.

[1] ـ سنن أبي داود، باب الصداق، د حديث شميره: ۲۱۰۸.

# ښځينه ۀ سره تاوتريخوالی

په افغاني ټولنه کې يو د هغو ناوړه دودونوڅخه دا هم دی چې ښځينه ۀ سره تاوتريخوالی او د هغو وهل ټکول، شکنجه، عيبي کول او پوزه غوڅ پريکول او دېته ورته کړنې چې دا ټول د اسلامي شريعت او د مور د خور پيغمبر صلی الله عليه وسلم د سيرت سره په ټکر کې دي،

دارنګه روايت دی: «**عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَمْعَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ لَا يَجْلِدْ أَحَدُكُمُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ ثُمَّ يُجَامِعُهَا فِي آخِرِ الْيَوْمِ**»[1].

ژباړه: د عبد الله بن زمعه رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: د ستاسو څخه دی څوک خپله ميرمن ته د غلام په څير وهل ورنکړئ؛ ځکه چې شايد په اخر د ورځ کې يې نږدوالی ورته وکړی. يعنې ډېر واري د وهلو وروسته د کوروالي ضرورت او اړتيا راشي چې دهغې په ذريعه د ناروا علاقي څخه دی ژغورل کيږي نو بيا به پښېمانه وي نو بناء څوک دې د مريه په څير د خپله ښځه نه وهئ ګرچه تأدبي وهل

---

۱ - صحيح البخاري، باب ما يكره من ضرب النسآء، د حديث شميره: ۵۲۰۴.

د نشوز په حالاتو کې جایز او منصوصي امر دی لکن د خوږ پېغمبر صلی الله علیه وسلم څخه هیڅ کله هم په خپل عمر کې وهل ندي واقع شوي مگر که د الله پاک په لیار کې د جهاد په مهال راغلی وي څرنگه چې د مؤمنانو مور حضرت بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي: «**ما ضرب رسول الله صلى الله عليه وسلم شيئا قط بيده، ولا امرأة، ولا خادماً الا أن يجاهد في سبيل الله**».[1]

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅکه یو شی په لاس نه دی وهلی، نه ښځه، نه خادم، مگر د الله تعالی په لاره کې د جهاد په مهال. نو چې کله پېغمبر صلی الله علیه وسلم په لاس وهل ندي کړي نو پورته د هغه څخه قطعا ترې ندي ثابت شوي.

بې له شکه ښځه یو نه یو ډول کمزوري لري خو هره کمزورتیا بده نه گڼل کیږي، ښځه که له جسمې اړخه کمزوري ده نو په دې یې څوک ملامتولای نشي، ځکه په دې کمزورتیا کې د دې لاس نشته، له قلبې او عاطفي اړخه کمزورتیا په دې مانا چې زړه سواندې او ډېره مهربانه ده، دا په اصل کې کمزورتیا نه، بلکې د

---

۱ - صحيح الامام مسلم، باب مباعدته صلى الله عليه وسلم للآثام واختياره من المباح أسهله وانتقامه لله عند انتهاك حرماته، حديث رقم: ۲۳۲۸.

ښځې یو غوره صفت دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې صفت ستاینه کړې او تل یې صحابه کرامو ته په دې اړه توصیه کړې ده او فرمایلي یې دي: «**استوصوا بالنساء خیرا**»[1]. ښځو سره د ښه چلن په هکله توصیه وکړئ.

او همدغه نصیحت یې د حجة الوداع پر مهال چې، خپل زرګونه امت یې مخاطب وو تکرار کړی دی ترڅو خلک د دې وصیت په اهمیت وپوهیږي، نو ځکه یې په همدې لویه ورځ په خپله خطبه کې همدغه وصیت ته ځانګړی ځای ورکړی ۀ او فرمایلي یې ۀ: «**استوصوا بالنساء خیرا؛ فانما هن عوان عندکم**».[2] ښځو سره د نیکو چلن په هکله وصیت وکړئ؛ ځکه دوی ستاسو سره بندیاني دي.

ښځې یې ځکه له بندیانو سره تشبیه کړې چې، سړی واکمن یې، د طلاق واک له سړي سره وي او له جسمې پلوه هم پر ښځه غښتلی وي، له همدې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم د

---

۱ ـ متفق علیه.

۲ ـ سنن الترمذي، باب حق المرأة علی زوجها و في تفسیر سورة التوبة، د حدیث شمېره : ۳۰۸۷، ۱۱۶۳.

سړي عاطفه د ښځې پر وړاندې داسې را ګرځوی: «**خیرکم خیرکم لأهله و أنا خیرکم لأهلي**»[1].

ستاسې غوره څوک هغه دی چې د خپلې کورنۍ/میرمنې پر وړاندې غوره وي او زه د خپلې کورنۍ/میرمنې پر وړاندې غوره یم.
رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه ډېره بلیغه جمله کې ښځې له نارینه و سره په اهمیت، ارزښت او مقام کې برابرې بللې دي، د ښځیتوب له امله باید هیڅکله په کمه سترګه ورته و نه کتل شي، فرمایلې یې دي: «**ان النساء شقائق الرجال**»**٢**. بیشکه ښځې د نارینه ؤ په مثل دي.

ابن اثیر رحمه الله د (شقائق) مانا په (نظائر او امثال) سره کړې دی.
دا یوازې هغه کلمات نه دي چې ښځې له عاطفي پلوه پرې تسکین شي، بلکې دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه

١ ـ سنن الترمذي، باب فضل ازواج النبی صلی الله علیه وسلم، د حدیث شمېره : ٣٨٩٥.

٢ ـ سنن الترمذي، باب فیمن یستیقظ فیری بللا ولایذکر احتلاما، د حدیث شمیره: ١١٣.

عملي ژوند دی چې، هره ورځ او هره شېبه به يې په خپل او د صحابه کرامو په کورونو کې تکراريده.

د ښځو اړوند د رسول الله صلی الله عليه وسلم ځينې موقفونه په ګوته کوو چې، څومره يې له ښځو سره نرم چلن کړی دی او څومره يې له نرمۍ، تسامح او ښښنې کار اخيستی:

**«عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ اسْتَأْذَنَ أَبُو بَكْرٍ رَحْمَةُ اللَّهِ عَلَيْهِ عَلَى النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– فَسَمِعَ صَوْتَ عَائِشَةَ عَالِيًا فَلَمَّا دَخَلَ تَنَاوَلَهَا لِيَلْطِمَهَا وَقَالَ لاَ أَرَاكِ تَرْفَعِينَ صَوْتَكِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ (صلى الله عليه وسلم) فَجَعَلَ النَّبِيُّ (صلى الله عليه وسلم) يَحْجُزُهُ وَخَرَجَ أَبُو بَكْرٍ مُغْضَبًا فَقَالَ النَّبِيُّ (صلى الله عليه وسلم) حِينَ خَرَجَ أَبُو بَكْرٍ (كَيْفَ رَأَيْتِنِى أَنْقَذْتُكِ مِنَ الرَّجُلِ). قَالَ فَمَكَثَ أَبُو بَكْرٍ أَيَّامًا ثُمَّ اسْتَأْذَنَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ (صلى الله عليه وسلم) فَوَجَدَهُمَا قَدِ اصْطَلَحَا فَقَالَ لَهُمَا أَدْخِلاَنِى فِى سِلْمِكُمَا كَمَا أَدْخَلْتُمَانِى فِى حَرْبِكُمَا. فَقَالَ النَّبِيُّ (صلى الله عليه وسلم)«قَدْ فَعَلْنَا قَدْ فَعَلْنَا».١**

ژباړه: د نعمان بن بشير څخه روايت دی چې ابوبکر رضي الله عنه د رسول صلی الله عليه وسلم څخه اجازه واخيسته او د رسول الله صلی الله عليه وسلم کورته دننه شو ناڅابه يې د خپلې لور عائشي رضي الله عنها غږ په لوړ اواز واوريدل، ورغی

١ - سنن أبي دادو، باب ما جآء فی المزاح، حديث رقم: ٥٠٠.

او غوښتل یې چې په څپیړ یې ووهي او ویل یې : ته نه پوهیږې چې، پر رسول الله صلی الله علیه وسلم په لوړ اواز ناري وهي؟! رسول الله صلی الله علیه وسلم یې مخنیوی وکړ، ابوبکر رضي الله عنه په غوسه له کوره ووتل، چې کله هغه ووتل رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «**کیف رأیتني انقذتک من الرجل؟**».

و دې لیدم، څنګه مې له سړي خلاصه کړې؟ راوي وایې: څو ورځې وروسته بیا ابوبکر رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم کورته ورغی چې، دواړو بیرته سوله کړې وه، نو ورته ویې ویل: ماته د ستاسو سولې په وخت د ننوتلو اجازه راکړئ څرنګه مو چې د جګړې په وخت اجازه راکړې وه ، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل: «**قد فعلنا قد فعلنا**» دا کار مو کړی دا کار مو کړی یعنې: موږ اجازه درکړې.

د رسول الله صلی الله علیه وسلم رحمت د پلار تر رحمت وړاندې شو، د حضرت عائشې رضي الله عنها پلار ابوبکر صدیق رضي الله عنه غوښتل چې خپلې لور ته جزا ورکړي، خو رسول الله صلی الله علیه وسلم پرې رحمت وکړ او د هغه مخه یې ونیوله کړه.

کله نا کله یې یوه میرمن یوه لویه خطا کوي، او د خلکو له مخه یې کوي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اذیت لامل کیږي، خو بیا هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رحمت له امله د هغې موقف ستایل کیږي، او د هغې کمزورتیا بښل کیږي، بلکې د هغې خطایې د هغې غیرت بلل کیږي، عکس العمل نه رامنځ ته کیږي، له تسامح او نرمۍ څخه کار اخیستل کیږي.

پدې اړوند روایت دی:«**عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ عِنْدَ بَعْضِ نِسَائِهِ فَأَرْسَلَتْ إِحْدَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ بِصَحْفَةٍ فِيهَا طَعَامٌ فَضَرَبَتِ الَّتِي النَّبِيُّ فِي بَيْتِهَا يَدَ الْخَادِمِ فَسَقَطَتِ الصَّحْفَةُ فَانْفَلَقَتْ فَجَمَعَ النَّبِيُّ فِلَقَ الصَّحْفَةِ ثُمَّ جَعَلَ يَجْمَعُ فِيهَا الطَّعَامَ الَّذِي كَانَ فِي الصَّحْفَةِ وَيَقُولُ غَارَتْ أُمُّكُمْ ثُمَّ حَبَسَ الْخَادِمَ حَتَّى أُتِيَ بِصَحْفَةٍ مِنْ عِنْدِ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا فَدَفَعَ الصَّحْفَةَ الصَّحِيحَةَ إِلَى الَّتِي كُسِرَتْ صَحْفَتُهَا وَأَمْسَكَ الْمَكْسُورَةَ فِي بَيْتِ الَّتِي كَسَرَتْ « كُسِرَتْ**».[1]

ژباړه: له انس رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې رسول الله صلی الله علیه وسلم له یوې میرمنې سره ؤ، چې بلې میرمنې یې یوه کاسه خواړه را ولیږل، نو د خادم لاس یې ووهل،

[1] ـ صحیح البخاري، باب الغیرة، حدیث رقم: ۵۲۲۵.

کاسه لاندې پرېوته او ماته شوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم د کاسې ټوټې سره یوځای کړي، بیرته یې هغه خواړه پکې ټول ول او ویل یې: «غارت أمكم» ستاسو مور غیرت وکړ، خادم یې منتظر کړه تر دې چې دهغې کور څخه یې بله روغه کاسه راوړله اود چا کاسه چې ماته شویوه هغې ته ورکړه او ماته کاسه د دې په کور کې چې ماته کړیوه (یا ماته شویوه) پاتی کړه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلې میرمنې قهر او غضب د هغې غیرت وبلل، د هغې درنښت ته یې پاملرنه وکړه، ویې فرمایل: ستاسې مور غیرت وکړه، د هغې د قهر او غوسې په مقابل کې یې هیڅ غبرګون و نه ښود، په ډېره اسانی ډول یې له موضوع سره برخورد وکړ.

# اسراف په ځانګړی ډول د واده په ډوډۍ کې

د موږ په ټولنه کې بل یو ناوړه دود اسراف او په ځانګړی ډول د واده په ډوډۍ کې بې دریغه زیاتوالی او اسراف دی،الله جل جلاله په قرآن کریم کې لارښوونه کوي فرمايي: (**وكلوا واشربوا ولاتسرفوا إنه لايحب المسرفين**).[1] ژباړه: او وخورئ او وڅښئ او له حد نه تیری مه کوئ الله جل جلاله له حدنه تیری کوونکي نه خوښوي.

اسراف کوونکي په خپلو ناوړه کړنو سره شیطان سره دوستي او وروري کوونکي دي، الله تعالی فرمايي : (**إن المبذرين كانوا إخوان الشياطين و كان الشيطان لربه كفورا**).[2] ژباړه: په باوري توګه بی ځایه لګښت کوونکی د شیطان ورونه دي او شیطان د خپل رب ناشکره دی. اسراف د مال اضاعت دی او اضاعت حرام دی ځرنګه چې د الله جل جلاله رسول صلی الله علیه وسلم فرمايي:«**إن الله كره لكم ثلاثا قيل و قال و إضاعة المال و كثرة**

---

١- د الأعراف سورت: ٣١ , أيت .

٢ - د الإسراء سورت : ٢٧ آيت .

**السؤال»**.[1] ژباړه: الله ستاسو لپاره درې شیان بد او ناوړه بللي دي، قیل و قال (خبرو کې مناقشې او له حد زیاتوالي)، د مال ضایع کول او ډېر سوال کول.د ډېر خوراک په هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «**ما ملأ آدمي وعاء شرا من بطن، حسب الآدمي لقیمات یقمن صلبه، فإن غلبت الآدمي نفسه فثلث للطعام وثلث للشراب وثلث للنفس**».[2]

ژباړه: انسان هیڅ لوښی د ګېډې نه بدتر نه دی ډک کړی د انسان لپاره کافی ده چې څو مختصرې نمړی وخوري څو په هغه سره خپله ملاسمه کړي، که چېرې په انسان باندې نفس غالب شو نو درېیمه برخه دې ی طعام، بله درېیمه دې څښاک او بله درېیمه دې نفس لپاره دې وګرځوي.

موږ هیواد یو فقیر، جنګ او جګړو ځپلی دی چې ډېر خلک یې ناچاره بې وسه او لالاهانده دي، ډېری داسې وګړي هم شتون لري چې اقتصادي وضع یې صفر دی، یا خو هیڅ ځوک د مزدورۍ، خپلو ستونزو او اړتیاوو پوره کولو نلري؛ ځکه په جګړو او

١- متفق علیه.

٢ـ سنن ابن ماجه، باب الاقتصاد فی الأکل و کراهة الشبع، د حدیث شمیره، ٣٣٤٩.

خپل منځي شخړو کې يې د کور سرپرستان او متوليان شهيدان شوي دي حتى ځيني داسې خلک هم شتون لري چې د خپلو شهيدانو او مړو جسدونه هم لاسته ندي ورغلي، بناء موږ ته هيڅ ډول جواز نشته چې د خپل مالونو په هکله اسراف او تبذير وکړو، راځئ چې د هغو لوړ بيه خوراکونو او د مشهورو هوټلونو د تالارونو پر ځای متوسطه ډودۍ اوخوراکونه په متوسطو هوټلونو او يا خپل کورونو کې ودونه وکړو او هغه زياتي روپۍ خپلو بې وسه ګاونډيانو سره مرسته وکړو او د دې حديث مصداق وګرځورسول الله صلى الله عليه وسلم ګاونډی ته د نيکۍ په اړه ابوذررضي الله تعالى عنه ته خطاب کوي فرمايي: «**يا أباذر إذا طبخت مرقة فأكثر ماءها و تعاهد جيرانك**».[1] ژباړه: ای ابوزره! کله دی چې خوروا پخه کړې اوبه يې زياتي کړه او ګاوندی ته ترى ور کړه.

په بل حديث که رسول صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «**ليس المؤمن من يشبع و جاره جائع الى جنبه**».[2] ژباړه: هغه څوک کامل مسلمان ندی چې موړ وي او ګاونډی يې په څنګ کې

---

۱-سنن الترمذي، باب حق الجوار، د حديث شميره: ۱۹۴۴.

۲- شعب الإيمان للبيهقي، دحديث شميره: ۳۳۸۹، امام ذهبي صحيح ګڼلی.

وړی وي. په بـل حـدیث کـی راغـلي دي: «**قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: خیر الأصحاب عندالله تعالی خیرهم لصاحبه و خیر الجیران عندالله تعالی خیرهم لجاره**».[1] ژبـاړه: رسـول اللـه فرمـایلي دي: د اللـه پـاک پـه وراندېـدېر ښـه ملکـري هغـه دي چـې د خپـل ملګریپـه وړاندې ښه وي او ډېر ښه ګاوندید الله په وړانـدې هغـه دي چېـد خپلوګاوندېپه وړاندېډېر ښه وي.

نن ورځ د پوهانو او ډاکترانو د څیړنو په اثر ثابته شوې ده چې د روغتیا له غوره قوانینو څخه یو دادی چې ډېر خوراک د ډول ډول ناروغیو سر چینه ده.

موږ چې مال خرڅ کوو د هغه داسې پوښتنه موږ نه کیږي څرنګه چې د هغه لاسته را وړنو موږ نه پوښتنه کیږي پدي هکله روایت دی:«**عن أبي برزة الأسلمي قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاتزول قدماعبد یوم القیامة حتی یسئل عن عمره فیم أفناه وعن علمه فیم فعل وعن ماله من أین اکتسبه وفیم أنفقه وعن جسمه فیم أبلاه**».[2]

۱- سنن الترمذي، باب ما جاء في حق الجوار،د حدیث شمیره: ۱۹۴۴.

۲ـــ سنن الترمذي، باب القیامة، د حدیث شمیره: ۲۴۱۷.

ژباړه: د ابي برزه اسلمي رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د قیامت په ورځ به د انسان قدمونه کوم طرف لاړ نشي تر څو تری ونه پوښتل شي د عمر څخه چې په څه کې یې تېر کړی، د علم څخه چې څومره یې عمل پرې کړی، د مال څخه چې د کوم ځایه یې لاس ته راوړی او کوم ځای کې مصرف کړی او د جسم د ده څخه چې په څه کې یې زوړ کړی.

نکاح یو طبیعی او فطري قانون دی، که چېرې د نکاح د پرېښودو یا وروسته کیدو لپاره کوم عامل سبب شي هغه انساني ضد عامل دی چې باید مخنیوی یې وشي. یوه بله بدمرغی چې په نورو فسادونو برسېره د نکاح مخه ډپ کوي درانه مهرونه او ملاماتوونکي جهیزونه او بې اندازې لګښتونه او د نکاح په جشنونو کې بې معنا تشریفات او نورمصارف دي نو که چېرې په دې هکله اسراف نه کیدای نو لویه برخه ستونزې به حل شوې وای. راځئ دې دغو درانه مهرونو او جهیزونو کې اسراف څخه ځان وژغورو او هغه مالونو د یتیمانو په کفالت او هغوی سره په مرسته کې مصرف کړو تر څو د مال د اسراف د ګناه څخه په امن او هم د هغه ثواب او اجر مستحق شو چې په حدیثو کې ذکر

شوی، پدي هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «**أنا و كافل اليتيم فى الجنة هكذا**».[۱] ژباړه: زه او هغه څوک چې د یتیم پالنه کوي په جنت کې به داسې یو ځای یو. یعنې د دې دواړه ګوتو په څیر نږدې به په جنت کې یو.

او د دارنګه ناوړه دودونو کې مصرف پر ځای باید یتیمانو سره ښه چلن او د هغوی ښووني او روزني ته پاملرنه وکړو تر څو د دې مبارک حدیث عاملین شو: «**قَالَ رَسُولُ اللهِ صلى الله عليه وسلم: ... وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لاَ يَلِي أَحَدٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَتِيمًا فَيُحْسِنُ وِلايَتَهُ، إِلاَّ جَعَلَ اللَّهُ لَهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ دَرَجَةً، وَأَعْطَاهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ حَسَنَةً، وَكَفَّرَ عَنْهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ سَيِّئَةً**».[۲] ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ... قسم په هغه ذات چې زما روح دهغه په لاس کېدی، هرمسلمان چې د یتیم کفالت وکړي او دهغه ښه پالنه په غاړه واخلي الله پاک د هر یو ویښته په مقابل کې یې درجه اوچته کړي او د هر ویښته په مقابل ورته یوه نیکي ورکوي او د هر ویښته په مقابل کې یې یوه ګناه وربښي.

۱- صحیح البخاري، بابٌ حُسْنُ الْعَهْدِ مِنَ الإِيمَانِ، د حدیث شمیره: ۶۰۰۵.

۲- شعب الإیمان للبیهقي، باب في رحم الصغیر و توقیر الکبیر، د حدیث شمیره:۱۰۵۳۰.

# د سپو، چرګانو، زرکانو او مږزانو جنګول

یو بل ناوړه دود چې د زموږ  په ټولنه کې لـه ډېـر پخـوا نـه پـه ځینو وکړو مسلط دی چـې هغـه دسـپو، چرګانو،زرکـانو مږزانـو او داسې نور حیواناتو جنګول دي بلاشکه چې په ډېرو احادیثو کـې د حیواناتو حقوق بیان شوی دي او د هغوی تعـذیبول لویـه ګنـاه بلل شوي، لیکن بیا هم د موږ په ټولنه کـې دا نـاړوه کـار د ځینـو وګړو له لوري د رسم او عـادات پـه ډول راروان دی او پرتـه د کـوم احساس د دینه چې ایا دا ګناه دی اوکـه نـه؟ نـو ډېـر د افسـوس ځای دی چې د موږ د افغان، غیرتي او مجاهد ولـس لـه هغـو بي ژبه څارویو چې الله پاک موږ ته مسخر او تابع کړیـدي، ظلـم او د اسلامي شریعت خلاف  چلند وکړو، اسلامي شریعت موږ ته په هر ساه لرونکي څیز د ترحم او مهربـانۍ لارښـوونه کـړی دی څرنګـه چـې روایـت دی:**عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ (صلى الله عليه وسلم) «الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ ارْحَمُوا أَهْلَ الأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ»**[١].

---

١ ـ سنن أبي دادو، باب الرحمة، د حديث شميره: ٣٩٤٣.

ژباړه: دعبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به یې د دې روایت سند رسولو: رحم کوونکو باندې به رحمن ذات رحم کوي، نو د ځمکې اهل باندې رحم وکړئ تر څو هغه ذات چې په اسمان کې دی پرتاسو رحم وکړي.

که چیرې دې حدیث ته موږ زیر شو نو معلومیږي چې اهل الارض کې ټول حیوانات چې د موږ د ګټې لپاره پیدا کړی شوی دي په هغو باندې ترحم کول شرعي امر دی او لامل دی رحم کیدلو دی په موږ باندې، ځکه جزا د جنس د عمل څخه وي نو د رحم په مقابل کې په رحم وینو، که چیرې مو په حیواناتو رحم ونه کړو او هغوی مو په جنګ واچول او هغو ته مو په ډول ډول تعذیب او زورونه ورکړه نو الله د نه کړي چې موږ په جنګ، ورانی او هلاکت سره مخ شو او خپل منځي جنګونه به نورهم دوام دار شي، څرنګه چې اصحاب فیل د خانه کعبې د نړولو په قصد یې غټ غټ فیلان ځان سره راوستلي وه او دغو حیواناتو (فیلانو) څخه یې ناوړه ګټه پورته کوله په مقابل کې الله جل جلاله د هغوی حالت داسې وګرځولو لکه د څارویو شخوند وهل شوي وابښه، نو راځئ لدې قراني واقعې څخه پند واخلو او د سپو، چرګانو، زرکانو او مرزانو... د جنګولو څخه ځان وژغورو.

## د حیواناتو د جنگولو حکم:

د حیواناتو جنگول، هغوی یو تربله په جنګ تیـزول او پـه هغـو ظلم کول په اسلامي شریعـت کـې حـرام دی، څرنګـه چـې سـنن ترمذي په خپل سند سره روایت کـوي:«**عن مجاهد أن النبي صلى الله عليه و سلم نهى عن التحريش بين البهائم**».[1]

ژباړه: حضرت مجاهد روایت دی چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د حیواناتو ترمنځ تیزول یعنې په جنګ اچولو څخه یې منع کړي.

دارنګه سنن أبي دادو په خپل سند سره روایـت کـوي:«**عنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَـالَ نَهَـى رَسُـولُ اللَّهِ (صـلى الله عليـه وسـلم) عَـنِ التَّحْـرِيشِ بَـيْنَ الْبَهَائِمِ**».[2]

ژباړه: د ابن عباس رضي الله تعالی عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حیواناتو د جنګ اچولو څخه منع کړي.

---

۱ سنن الترمذي، باب كراهية التحريش بين البهائم والضرب والوسم، د حدیث شمیره: ۱۷۰۸، ۱۷۰۹.

۲ ـ سنن أبي داود، باب فى التحريش بين البهائم، د حدیث شمیره: ۲۵۶۴.

## د حيواناتو د جنګولو په هکله د ځينو فقهاؤ څرګندونې:

(أَمَّا تَحْرِيشُ الْحَيَوَانِ بِمَعْنَى الإِغْرَاءِ وَالتَّسْلِيطِ وَالإِرْسَال بِقَصْدِ الصَّيْدِ فَمُبَاحٌ كَإِرْسَال الْكَلْبِ الْمُعَلَّمِ، وَمَا فِي مَعْنَاهُ مِنَ الْحَيَوَانَاتِ.وَلاَ خِلاَفَ بَيْنَ الْفُقَهَاءِ فِي حُرْمَةِ التَّحْرِيشِ بَيْنَ الْبَهَائِمِ، بِتَحْرِيضِ بَعْضِهَا عَلَى بَعْضٍ وَتَهْيِيجِهِ عَلَيْهِ، لأِنَّهُ سَفَهٌ وَيُؤَدِّي إِلَى حُصُول الأَذَى لِلْحَيَوَانِ، وَرُبَّمَا أَدَّى إِلَى إِتْلاَفِهِ بِدُونِ غَرَضٍ مَشْرُوعٍ وَجَاءَ فِي الأَثَرِ: نَهَى رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّحْرِيشِ بَيْنَ الْبَهَائِمِ).۱

ژباړه: د حيواناتو تحريش چې په معنى دى تيزولو، مسلط کولو اود ښکار پسې ليږدول دى، که چېرې د تعليم ورکړى شوي سپي او يا د ده په څير نورو حيواناتو په ذريعه سره وي نو بيا مباح دى. او په حرمت د تحريش د حيواناتو په هکله په منځ د فقهاؤ کې کوم اختلاف شتون نه لري تحريش په معنى د تيزولو او باعث کولو په جنګ سره د ځينو حيواناتو په ځينو نورو باندې دى؛ ځکه دا ناپوهي دى او لامل د زيان او ضرر کيږي په حيوان

۱ ـ الموسوعة الفقهية، ټوک ۱۰، مخ ۱۹۵، مکتبه شامله.

پوري او ډېر واري سبب د حیوان د هلاکت ګرځي پرته د کوم شرعي موخې څخه، ځکه په اثر کې راغلي دي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځارویو او حیواناتو د جنګولو اویو تربله تیزولو څخه نهي اومنع کړي.

ربښتیا هم چي زمونږ پروردګار په خپلو بندګانو څومره زړسواند او مهربان دی چي دهغوی دګټې او فایدې لپاره یې ګڼ شمېر ځاروي چي په جوړښت، قوت او ضخامت کي تر انسان څو ګونه زیات دي، تابع ګرزولي دي، بیا مونږ ولي ددې ځارویو دپیدایښت دموخو سرچپه له هغوی نه داسې کارونه اخلو چي یوازي زمونږ ببځایه او ببګټې شوق او هوس مړوي او نوره هېڅ ګټه نلري پدې سربېره دځارویو دا ډول منفي کارونه دهغوی لپاره ډار، ځورونه، خوږ، پرهارونه او ستوماني پېښوي.

داهم باید له یاده ونه باسو چي داسلام مبین دین دهغو تفریحـي لوبونه مخنیوی نکوي کومي چـي انسـاني جسـم تـه ګټـه رسـوي اوداسي څه پکي نه وي چي له دیني مقرراتـو سره ټکـر وي، لکـه بـې حیـایي، دنارینـه وو او مېرمنـو یوځـایي ګـډون، بـې موجبـه دځارویو ځورول او یوله بل سره جنګول، بلکه مسلمانان یـې کولـو

او د مهارتونو پکي لاسته راوړلو تـه وربـولي، لکـه دلامبـو وهلـو زده کړه، دآسـونو ځغلـول او يـا دآسـونو دسـورلی مسـابقې لکـه نېـزې وهل، د نښـي وېشتل مخکي په غشـو او اوس پـه موډرنـو وسـلو او همدا راز نوري لوبي چي دانسان روغتيا اوجسم ته ګټـه رسـوي او د شرعي مقرراتو په چوکاټ کي وي، لکه منډي وهل او ورزشي يـا تمرينـــــــــــي نـــــــــــوري لـــــــــــوبي.

داچي مونږ ځاروي او يا مرغان يوله بـل سره جنګـوو آيـا دادخپـل تش شوق دپوره کولو لپاره دهغو بې موجبـه ازارول نـه دی؟ مـونږ ولي دا له ياده ابستلي چي له مونږ څخه به ددې ځارويو په هکله دقيامت په ورځ پوښتنه کېږي؟

## د حيواناتو په جنګولو د شرط کېښودلو حکم:

دا پـورتنی بحـث د ځـارويو اوحيوانـاتو د جنګولـو حکـم هغـه صورت وه چې په هغه کې کوم شرط نه وي اېښودل شوی اما کله چې د حيواناتو په جنګولو کې شرط او مال کيښـودل شي نـو لـه پورته ګناه سره بيا قمار هم پکې راغی نو قمار څه شی دی؟

قمار: هغه معامله ده چې په هغې کې پریکړه او اتفـاق وشي پـه شرط لگولو د هغې په گټلو یا په بایللو سره چـې دا گټـه او تـاوان یې مبهم او نا معلوم وي بیا دا د قمار (مَیْسِر) په نوم یادیږي.

قرآن کریم کې قمار حرام او د شیطان عمل بلل شوی: الله پاک فرمایي: (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ**).۱ ژباړه: ای مؤمنانو! یقینا چه شراب او قمار او بتان او غشي (د فال، دا څلور واړه تول) پلیت دي د شیطان د کړنو څخه دي نو له دې څخه ځان وساتئ لپاره د دې چې نجات ومومئ.

کومه لوبه کې چې شرط لگول شوی وي او وړل او بایلل پکې وي هغه د قمار په حکم کې دي په دې هکله اثر دی:

«**حَدَّثَنَا وَكِيعٌ ، قَالَ: حدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ نَجِيحٍ قَالَ : رَأَيْتُ ابْنَ سِيرِينَ مَرَّ عَلَى غِلْمَانٍ يَوْمَ الْعِيدِ بالْمِرْبَد وَهُمْ يَتَقَامَرُونَ بِالْجَوْزِ ، فَقَالَ: يَا غِلْمَانُ ، لاَ تُقَامِرُوا , فَإِنَّ الْقِمَارَ مِنَ الْمَيْسِرِ**».۲ ژباړه: مصنف ابن أبي شیبه په خپل سند سره د وکیع او هغه د حماد بن نجیح څخه روایت کوي

۱ - د المائدې سورت، ۹۰ آیت.

۲- مصنف ابن أبي شيبة، باب فِي لعِبِ الصِّبيانِ بِالجوزِ، د حدیث شمیره: ۲۶۶۹۴.

چې هغه ویلي: ابن سیرین مي لیدلی وه چې د اختر په ورځ د کورونو تر څنګ په ماشومانو چې په غوزانو یا چهارمغزو یې قمار کولو تیریدلو، نو ورته ویې ویل: آی هلکانو! قمار مکوئ؛ ځکه چې قمار جواری دی.

دارنګه بل اثر دی:«**عَن طَاوُوس، قَالَ كَانَ يَكْرَهُ الْقِمَارَ وَيَقُولُ: إِنَّهُ مِنَ الْمَيْسِرِ حَتَّى لَعِبِ الصِّبْيَانِ بِالْجَوْزِ وَالْكِعَابِ**»[1].

ژباړه: د طاووس رحمه الله څخه رانقل دی چې هغه به قمار بد ګڼلو او ویل به یې: هر هغه څیز چې په قمار کې داخل وي هغه د میسر په حکم کې داخل دی تر دې چې د ماشومان په غوازنو یا چهارمغزو او ګټکیو د ګټلو او بیللو لوبې کوي هغه هم قمار یا جواری دی.

## په حیواناتو رحم کول د ګناهونو د بښنې لامل دی:

لومړی د اسلامي شریعت له مخې په حیواناتو او مرغانو بلکې په ټول مخلوق خواخوږی، زړسواند او رحم کول مطلوب امر دی او داچې اسلام مونږ دخارویو، مرغانو او دزمکې په مخ دټولو

---

١ ـ مصنف ابن أبي شيبة، باب فِي لِعبِ الصِّبيانِ بِالجوزِ، د حديث شميره: ٢٦٦٩٣.

خوځېدونکيو او روح لرونکيو په هکله دترحم او خواخوږي لورته ورغواړي د بيلکې په توګه په دې حديثو کې:

**۱. «عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ رَحِمَ وَلَوْ ذَبِيحَةَ عُصْفُورٍ رَحِمَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».**[۱]

ژباړه: له أبوأمامه رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چې زړه سوی او خواخوږي وکړي که د چنچوښي مرغۍ په حلالولو کې هم وي الله تعالی به دقيامت په ورځ ورباندې رحم وکړي.

**۲ . «عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ ارْحَمُوا تُرْحَمُوا وَاغْفِرُوا يَغْفِرْ اللَّهُ لَكُمْ ».**[۲]

ژباړه: عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله تعالى عنهما څخه

---

۱ ـ شعب الإيمان لأحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى :٤٥٨هـ)، باب فی رحم الصغير و توقير الكبير، رقم الحديث: ۱۰۵۵۹.

۲ ـ مسند الامام أحمد، د حديث شميره: ٦٥۴۱.

روايت دی چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: رحم وکړئ ترڅو په تاسو باندې رحم وکړل شي ښښنه کوئ تر څو الله تعالى تاسو ته ښښنه وکړي.

۳ . «**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ الصَّادِقَ الْمَصْدُوقَ (صلى الله عليه وسلم) صَاحِبَ هَذِهِ الْحُجْرَةِ يَقُولُ: «لاَ تُنْزَعُ الرَّحْمَةُ إِلاَّ مِنْ شَقِيٍّ**».[۱] له ابوهريره رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چي ابو قاسم له هغه رښتوني تصديق شوي صاحب د دغې کوټې يعنې رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه مي اوريدلي دی چې فرمايلي: هغه څوک چي بدبخته (بد مرغه) وي دهغه په زړه کي ترحم او زړسوی نه وي.

**۴ . «عن شداد بن أوس قال اثنتان حفظتهما عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إن الله كتب الإحسان على كل شيء فإذا قتلتم فأحسنوا القتلة وإذا ذبحتم فأحسنوا الذبح وليحد أحدكم شفرته فليرح ذبيحته».**[۲]

ژباړه: شداد بن اوس رضي الله تعالى عنه روايت کوي چي دوه شيان مي له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه ياد کړي هغه

---

۱ ـ سنن أبى داود، باب الرحمة، د حديث شميره: ۴۹۴۴.

۲ - صحيح الامام مسلم، باب الأمر بإحسان الذبح والقتل وتحديد الشفرة، د حديث شميره: ۱۹۵۵.

داچي ويي فرمایل: الله تعالی په هرڅه باندي احسان کول لازم گرځولي دي نو که تاسو وژل یا حلالول کوئ نو په ښه توگه يې کوئ او تاسو خپلو چاړه تېروئ ترڅو خپل ځاروی د حلالې په وخت ژر مستریح کړئ.

سپی هغه حیوان دی چې دهغه بلا ضرورته په کور کې ساتل هم ناروا دی او د هغه شتون په کور کې سبب د منع د رحمت ملائکو گرځي، خو بیا هم هغه ته د اوبو په ورکولو يو انسان مغفور گرځي او ښښنه ور ته کېږي پدې هکله روایت دی:

**٥ . «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ – رضي الله عنه – أَنَّ رَسُولَ اللهِ قَالَ بَيْنَا رَجُلٌ يَمْشِي فَاشْتَدَّ عَلَيْهِ الْعَطَشُ فَنَزَلَ بِئْرًا فَشَرِبَ مِنْهَا ثُمَّ خَرَجَ فَإِذَا هُوَ بِكَلْبٍ يَلْهَثُ يَأْكُلُ الثَّرَى مِنَ الْعَطَشِ (الْعُطَاشِ) فَقَالَ لَقَدْ بَلَغَ هَذَا مِثْلُ الَّذِي بَلَغَ بِي فَمَلَأَ (فَنَزَلَ بِئْرًا فَمَلَأَ) خُفَّهُ ثُمَّ أَمْسَكَهُ بِفِيهِ ثُمَّ رَقِيَ فَسَقَى الْكَلْبَ فَشَكَرَ اللهُ لَهُ فَغَفَرَ لَهُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَإِنَّ لَنَا فِي الْبَهَائِمِ أَجْرًا قَالَ فِي كُلِّ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ».**[١]

ژباړه: ابوهریره رضي الله تعالی عنه روایت کوي چي رسول الله صلی الله علیه وسلم ويي فرمایل: یو سړی په لاره روان وو، تنده

١ ـ صحيح البخاري، بابُ فَضْلِ سَقْيِ الْمَاءِ، د حدیث شمیره: ٢٣٦٣، ٦٠٠٩.

ورباندپزیاته شوه، یوځاه ته ورکوز شو، اوبه یې وڅښلې او بېرته راووت، ګوري چي یوه سپی ژبه را اېستلي او له ډېري تندي لمده خاوره څټي، دې سړي له ځان سره وویل چي داسپی به هم ځما په شان تږی وي بېرته هماغه ځاه ته ورکوز شو، خپله موزه یې له اوبو ډکه کړه او په خوله کي یې ونیوله ترڅو له ځاه راوخوت هغه سپی یې اوبه کړ، بیا یې پدې کارالله تعالی د دې عمل په کړنه اجر ورکړه او ټول ګناهونه یې وروبښل.

د سپي په ځیر ځاروي ته د اوبو ورکولو سره یو انسان الله جل جلاله بښنه کوي نو دارنګه نورو حیواناتو او ځارویو ته پاملرنه، د ګرمۍ او یخنۍ موسم کې هغو ته مناسب ځای برابرول، د وسه او طاقت څخه پورته کار نه کول، د هغو د توان نه زیات بار پرې نه وړل، د هغو د خوراک او څښاک ته پاملرنه او په ژوند هغه په اور نه داغل او د هغو شاؤ څخه منابر او چوکۍ نه جوړول او هغه حیوان چې د سوارۍ لپاره نه وي پیدا شوی لکه غوا او غویا په هغه سواري نه کول او هغو ته ضرر او زیان نه رسول او د شرعي هدف څخه پرته د هغو نه حلالول او نه ضایع کول د اجر سبب ګرځي.

## په حیواناتو تېری او ظلم جهنم ته لیار برابرول دي:

په دې هکله ډېر حدیث شتون لري چې د حیواناتو زورونه او تکلیفونه عذاب او جهنم ته انسان نږدي کوي څرنګه چې پدې هکله ډېر روایات شتون لري:

**١ .«عَن ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ قَالَ دَخَلَتِ امْرَأَةٌ النَّارَ فِي هِرَّةٍ رَبَطَتْهَا فَلَمْ تُطْعِمْهَا وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ (خُشَاشِ–خِشَاشِ) الْأَرْضِ».**[1]

ژباړه: ابن عمر رضي الله تعالی عنهما له نبي صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمایلي: یوه مېرمن پدې وجه دوزخ ته داخل شوه چي خپله پشو یې تړلي وه نه خو یې پخپله خواړه ورکول اونه یې دیته پرېښودله چي د ځمکي په مخ ځانته خواړه ومومي.

١ ـ صحیح البخاري، د حدیث شمیره: ۳۳۱۸.

**۲ . «مَنْ مَثَّلَ بِذِي الرُّوحِ ، ثُمَّ لَمْ يَتُبْ مَثَّلَ اللَّهُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ حُسَيْنٌ: مَنْ مَثَّلَ بِذِي رُوحٍ».**[۱]
ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یوڅوک چې د کوم ژوندی ساه لرونکی غوږ، پوزه یاکوم بل اندام ورغوڅ کړي او بیا تر مرګ وړاندې الله تعالی ته توبه ونه باسي الله تعالی به یې دقیامت په ورځ دهماغه ځاروي غوندي اندامونه ورغوڅ کړي.
د حیواناتو نښه ګرځولو څخه په اسلامي شریعت کې منع را غلې لکه په دې حدیث شریف کې:
**۳ . «عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ أَنَسٍ عَلَى الْحَكَمِ بْنِ أَيُّوبَ فَرَأَى غِلْمَانًا أَوْ فِتْيَانًا نَصَبُوا دَجَاجَةً يَرْمُونَهَا فَقَالَ أَنَسٌ نَهَى النَّبِيُّ أَنْ تُصْبَرَ الْبَهَائِمُ».**[۲] ژباړه: هشام بن زید وایي زه او انس حکم بن ایوب ته ورغلو ویې لیدو چې هلکانو او یا ځوانانو یوه چرګه نښه کړېوه چې ویشتلې نو انس رضي الله تعالی هغوی ته وویل: نبي صلی الله علیه وسلم د دینه منع کړي چې ژوندي بهائم او حیوانات

---
۱ ـ مسند الامام أحمد، د حدیث شمیره: ۵۹۵۶.
۲ ـ صحیح البخاري، بابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ الْمُثْلَةِ وَالْمَصْبُورَةِ وَالْمُجَثَّمَةِ، د حدیث شمیره: ۵۵۱۳، او صحیح الامام مسلم، باب نهي عن صبر البهائم، د حدیث شمیره: ۱۹۵۶.

ترهغو بند او حصارکړی شي او په ویشتلو او یا په بله ذریعه مړه کړی شي.دارنګه بل روایت دی:

۴ ـ «عن عبد الله بن جعفر قال مر رسول الله صلى الله عليه و سلم على أناس وهم يرمون كبشا بالنبل فكره ذلك وقال لا تمثلوا بالبهائم».[۱]

ژباړه: عبد الله بن جعفر رضي الله تعالى عنهما فرمايي: چي رسول الله صلى الله عليه وسلم په یوه ډله کسانو تېرېدو ویې لېدل چي هغوی دیوه ژوندي مږ ځېني اندامونه په نښه کړي او په غشو یې ویشتل، ډېره کرکه یې وکړه او ویې فرمایل: دژندیو خارویو اندامونه مه غوڅوئ.

اسلام دخارویو او مرغانو بې ځایه زوروول حرام ګرځولي دی، لکه په لوړه اوتنده کي ساتل، او دهغوله شاؤ څخه چوکۍ جوړول یعنې ډېر وخت د هغه په شا سپور پاته کېدل، دهغه ستومانه کول او ستونزمن کار ورڅخه اخېستل او دهغه تر وس زیات دروند بار وربانديې اېښودل، یوازي دخوند اخېستلو او شوق پوره کولو په خاطر دهغوی وژل او ښکارول چي نوره ګټه ښکار

۱ ـ سنن النسائي، باب النهي عن المجثمة، د حديث شميره:۴۴۴۰.

کوونکی نه ورڅخه آخلي، او دهغه په ښنه گرځول که په ډبرو وي، یاپه غشو او یا پـه کارتوسـانو او کـه دمثـال پـه ډول بزکشي- او یـا گوسـاله کشي- وي چـي ژونـدي څـاروي پکـي کـارول کیـږي. دارنگه د اسلام مقدس دین مونږ پـه ټینگـه پـدې مکلـف گرځـوي چي په اور باندي دڅارویو، مرغانو او حشراتوله سوځولو څخه ډډه وکړو او دجسم ځیني برخي يې په اور ونه داغوه کار؛ ځکـه پـه اور عـذاب ورکـول د اللـه پـاک کـار دی نـه د انسـان، حیوانـات او یـا مرغان دلوبو لپاره یوله بل سره په جنگ اخته نکړو، دمرغـانو هغـه ځالي وراني نکړو او بېځایه يې نکـړو چېرتـه چـي هغـوی اوسي او یابچي زیږوي او دمېږیانو ځایونه له سوځولو څخه ځانونه وسـاتو.

## د سپیانو د ساتلو حکم:

علماء د لاندنیو احادیثو په رڼاکي لیکي چي که یو څوک سپی په کور کي ددې لپاره چي ښکار ورباندي وکړي، یا کرونده ورباندي ساتي، یا خپل څاروي ورباندي پیایي، یا خپل کور له غلو او دښمن څخه ورباندي ساتي یا يې دولتي اداري ددې لپاره ساتي چي نشه يي توکي ورباندي معلوم کړي او یا غله ورباندي وپېژني بیا يې ساتل جواز لري او که دا یادي شوي اړتیاوي نه

وي بيا يې ساتل مکروه او د اسلام له نظره کرکجن عمل دی او دا دساتونکي په نيت پوري اړه لري خو هغه څوک چي سپی جنگوي له عمل نه يې نيت جوته ده اودسپيو ساتل ورته جواز نلري ځکه چي دحيواناتو او مرغانوجنگول ناروا عمل دی او که پدې جنگولو باندي گټه لاس ته راوړي او مشروط جنگول وي نو بېشکه چي په قمار کي داخل دی او گټه ورنه اخېستل حرام کاردی.

## د سپي د نه ساتلو په اړوند روايات:

**«عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ – رضي الله عنه – قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ مَنْ أَمْسَكَ كَلْبًا فَإِنَّهُ يَنْقُصُ كُلَّ يَوْمٍ مِنْ عَمَلِهِ قِيرَاطٌ إِلَّا كَلْبَ حَرْثٍ أَوْ مَاشِيَةٍ قَالَ ابْنُ سِيرِينَ وَأَبُو صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ إِلَّا كَلْبَ غَنَمٍ أَوْ حَرْثٍ أَوْ صَيْدٍ وَقَالَ أَبُو حَازِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ كَلْبَ صَيْدٍ أَوْ مَاشِيَةٍ».**[١]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي يو سپی ساتي دده دنېکو عملو له ثواب څخه هره ورځ يو قېراط (درجه) کمېږي مگر که دکرهني او يا د خارويو د ساتني لپاره وي، ابن

١ ـ صحيح البخاري، بَابُ اقْتِنَاءِ الْكَلْبِ لِلْحَرْثِ، د حديث شميره: ٢٣٢٢.

سيرين او ابو صالح رحمهما الله د أبي هريره رضي اللـه او هغـه د نبي صلى الله عليه وسلم څخه روايت کړی: مگر هغه سـپی چـې د رمې، کرهنې او يا د ښکار لپاره  وي او ابو حـازم د أبي هريـره او هغه د نبي صلى الله عليه وسلم څخه روايت کـوي: مکـړ سـپی د ښکار او يا که د څارويو لپاره وي.

دارنگه بل روايت دی:

«**عن أبي هريرة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال من اقتنى كلبا ليس بكلب صيد ولا ماشية ولا أرض فإنه ينقص من أجره قيراطان كل يوم**».[1]ژباړه: له ابوهريره رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلى الله عليـه وسـلم وفرمايـل: څـوک چـي يـو سـپی ساتي چې نه دښکار کولو وي، نه دڅارويو  او نه د کښت د سـاتلو لپاره وي الله تعالى به يې دده دنېکو عملو له ثواب څخه هره ورځ دوه قېراطونه (درجې) کموي.

غواړم چې د دې بحث په اخر کې د قرآن کريم د آيتونو په رڼا کې د حيواناتو ځيني گټو يادونه وکړم: الله تعالى فرمايي:

---

١ - صحيح الامام مسلم، باب الأمر بقتل الكلاب وبيان نسخة وبيان تحـريم اقتنائهـا إلا لصيد أو زرع أو ماشية ونحو ذلك، د حديث شميره: ١٥٧٥.

**(وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ، وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ ، وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَى بَلَدٍ لَمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنْفُسِ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ ، وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ).**[1] ژباړه: او څاروي يې پيدا کړل چې په هغو کې ستاسو دپاره گرم پوښاك او نورې گټې هم شته او له هغو نه خوراك هم کوئ او (دا هم) تاسو ته يو ډول ښکلا ده پکې چې سهار يې وباسئ او ماښام يې بېرته راولئ او ستاسو درانه پيټي تر هغې سيمې وړي چې تاسو يې له ډېر کړاو گاللو پرته نه شئ رسولی، رښتيا چې ستاسو رب خامخا ډېر مهربان خواخوږی دی, اسونه، کچر او خره يې هم ددې دپاره پيدا کړل چې هم پرې سپاره شئ او هم ښکلاوي او نور داسې شيان هم پيدا کوي چې تاسو ورباندې نه پوهېږئ.

دارنگه الله تعالی فرمايي:

---

١ - د النحل سورت، ٥ ــ ٨ آيتونه.

**(أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مَالِكُونَ، وَذَلَّلْنَاهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ وَمِنْهَا يَأْكُلُونَ، وَلَهُمْ فِيهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ أَفَلَا يَشْكُرُونَ)**.[١]

ژباړه: ایا دوی نه ویني چې موږ پخپلو لاسونو د جوړو شویو شیانو څخه د دوی لپاره څاروي پیدا کړل او اوس یې دوی خاوندان دي ، موږ هغه پداسې شان دوی ته تابع کړیدي چې پر ځینو باندی دوی سپریږي، د ځینو غوښه خوري او په هغو کې د دوی لپاره راز راز ګټې او څښاکونه شته نو ایا دوی شکر نه باسي؟

په داسې نورو ډېرو آیاتونو کې د حیواناتو او څارویو ګټې ذکر شوی دي، چې ځنیې د هغو ګټوڅخه په لاندې کرښو کې ذکر کیږي:

١ ـ د هغوی د څرمنو او پوسکو څخه د ژمې ګرم ډول ډول پوښاک لاسته راوړی شي او دارنګه د هغو څخه نور د ژوند زینت یعنې لباس جوړولی شي.

٢ ـ د ځینو غوښې خوړی شي او د انسان خوراکي اړتیاوې پوره کوی شي.

---

١ ـ د یس سورت، ٧١ ـ ٧٣ آیتونه.

۳ ـ د شیدو څخه یې استفاده کېږي او نور ډول ډول خوراکي توکي تری لاسته راځي او انسان د دې لیارې څخه ډول ډول صحي ویټامینونه پوره کوي.
۴ ـ د ځینو په واسطه ښکار کولی شي لکه سپی.
۵ ـ د ځینو په ذریعه د کښت، څارویو او ځانونو ساتل کولی شي.
٦ ـ د ځینو په ذریعه سوداګري توکي او نور مالونه د مقصد ځایونو ته رسوو.
۷ ـ ځیني د سپرلی او انتقال وسیله دي.
۸ ـ د حیواناتو د پوستکو څخه د هستوګن ځایونه جوړیږي لکه کیږدۍ او داسې نور.
۹ ـ څارویو او مرغانو کې الله پاک لوی ښایښت اچولی لکه آس، طاووس او داسې نور.
۱۰ – د انسان لپاره په ځینو حالاتو کې د خبر او کشف ورکول لامل ګرځي لکه د سپي په ذریعه نشه یي توکي او داسې څیزونه کشفول.
۱۱ ـ په ځینو حالاتو کې د انسان د پوهي او تعلیم ذریعه ګرځي لکه چې کارغه څخه انسان د دفن طریقه یاده کړه.

۱۲ ـ ځیني حیوانات د انسان د اور د سوزولو توکي برابروي او د ځمکې د حاصلاتود پیاوړتیا لپاره پارو او سره لاسته ترى راځي.

۱۳ـ د موږ د افغاني ټولنې اقتصادي لویه برخه حیوانات او څاروي تشکیلوي.

په څارویو کې داسې نورې ډېرې ګټې دي، نو راځئ چې دغه څارویو او حیواناتو څخه دا جایزې ګټې واخلو تر څو د الله پاک له لوري د اجراو ثواب مستحق شو او د دوى په هکله ناوړه اوناروا دودونو لکه په جنګ اچول یې او یا پرى قمار کولو څخه ځانونه وژغورو تر څو د الله پاک د عذاب څخه په نجات او خوندي پاتي شو.

# د ځینو نارینه ځوانان له لوري د سرو زرو استعمال

زمونږ د ټولنې یو بل ناوړه دود دا دی چې ځینې ځوانان خصوصا هغه ځوانان چې نوی کوژده او یا واده کوي د سره زرو چیله (د واده د نښې گوته) استعمالوي او یا خو خپله ځوانان یې اخلې او یا یې د خسرخیلو لطرفه ورته د ډالۍ په ټوگه ورکول کیږي نو بیایي دا مسلمانان ځوانان هغه سره زر (طلا) استعمالوي او په گوته یې کوي او یا نری سرو زرو زنځیر ځینې ځوانان په غاړه او یا په لاس کې اچوي، نو راځئ چې دا دود د اسلامي شریعت په رڼا کې وڅیړو:

د سره زره استعمال که هغه د گوتې او یا د زنځیر او یا داسې د نورو څیزونو په شکل وي، د موږ د اسلامي امت په نارینه ؤ د خوږ نبي صلی الله علیه وسلم په ژبه حرام شوی.

غربي پوهانو د علمي تجربو او څیړنو په نتیجو کې دیته رسیدلي چې د سره زرو د استعمال د نارینه ؤ په جنس کې د وینو په سرو کریاتو او دارنگه په حافظې قوې چې په ذهبي حجره باندې یادیږي منفي تأثیر

يعنې بده اغيز لري او د ښځينه ؤ په باب دغه منفي اثرات شتون نه لري؛ ځکه چې د هغوی د پوسکي لاندې شحمي مواد شتون لري چې هغه د سره زرو اشاعاتو او منفي تأثيراتو مخنيوی کوي.

## په نارينه ؤ د سرو زرو د استعمال د حرمت دلايل:

١ - پـدې هکلـه روايـت دی: «**عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زُرَيْرٍ الْغَافِقِيّ، سَمِعْتُهُ يَقُولُ: سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ يَقُولُ : أَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ حَرِيرًا بِشِمَالِهِ، وَذَهَبًا بِيَمِينِهِ، ثُمَّ رَفَعَ بِهِمَا يَدَيْهِ، فَقَالَ: إِنَّ هَذَيْنِ حَرَامٌ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِي، حِلٌّ لِإِنَاثِهِمْ**».[1]

ژباړه: عبد الله بن زرير غافقي څخه روايت دی چې وايې ما د علي بن أبي طالب رضي الله تعالی عنه څخه اوريدلي دي چې ويلي: رسول الله صلی الله عليه وسلم په چپ لاس کې وريښم او په ښي لاس کې طلا نيولي وه او دواړه يې پورته کړه او ويې فرمايل:  دغه دوه شيانو (سره زر او وريښم) جنسونه د ما د امت په نارينه ؤ حرام دي او د دوی د ښځينه ؤ لپاره حلال دي.

رسول الله صلی الله عليه وسلم د دغه دوه شيانو جنس يعنې هر څه چې د هغو څخه جوړيږي د اسلامي امت په نارينه ؤ حرام

١ - سنن أبي داود، کتاب اللباس، بَابُ لُبْسِ الْحَرِيرِ وَالذَّهَبِ لِلنِّسَاءِ، د حديث شميره: ٣٥٩٥.

گرځولي؛ ځکه الله پاک په جنت کې د هغو عوض ورکوي، اما ښځینه طائفه لپاره حلال دي دا ځکه چې هغوی به خپل خاوندانو ته د هغو په ذریعه ځانونه ښایښته کړي.

۲ ـ دارنگه روایت دی: «**عن ابن عباس رضي الله عنهما: أن رَسُول الله – صلى الله عليه وسلم – رأى خاتَماً مِنْ ذهبٍ في يدِ رجلٍ فنَزعه فطرحه، وَقالَ: يَعْمدُ أحَدُكُمْ إلَى جَمْرَةٍ مِنْ نَارٍ فَيَجْعَلُهَا في يَدِهِ! فقِيلَ لِلرَّجُلِ بَعْدَمَا ذهب رَسُول اللهِ – صلى الله عليه وسلم – : خُذْ خَاتَمَكَ انْتَفِعْ بِهِ. قَالَ : لا والله لا آخُذُهُ أبَداً وَقَدْ طَرَحَهُ رسولُ الله – صلى الله عليه وسلم –**».[1]ژباړه: له عبد الله بن عباس رضي الله تعالی عنهما څخه راویت دی هغه وایي رسول الله صلی الله علیه وسلم د سروزرو (طلاؤ) یوه گوته د یو سړي د لاس په گوته کې ولیدله او هغه گوته یې د هغه د لاس څخه راوویستله او وغورزوله او ویې وفرمایل: آیا یو د ستاسو په قصد سره د اور سکروټه په لاس کې اخلي، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د هغه ځای څخه لاړو نو هغه سړی ته وویل شول: گوته دې واخله! کومه بله

۱ - صحیح الامام مسلم، باب تحریم خاتم الذهب على الرجال ونسخ ما كان من إباحته في أول الإسلام، د حديث شميره: ۲۰۹۰.

ګټه به ترینه واخلئ، هغه ویل: په الله مې قسم دی چې هیڅ کله به یې هم را وانخلم په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وغورځوله (نو زه به څنګه را واخلم).

د سرو زرو ((طلاؤ) حرمت په ډېرو نورو روایتونو کې هم راغلی لکه دا روایت:

۳ ـ **«وعن أَبِي موسى الأشْعَري رضي الله عنه أنَّ رسول الله صلى الله عليه وسلم قَالَ: حُرِّمَ لِبَاسُ الحَرِير وَالذَّهَبِ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِي، وَأُحِلَّ لإِنَاثِهِمْ»**.[1]ژباړه: د أبي موسی اشعري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چې څما په امت د سړو لپاره د وریښمو جامې او سره زر حرام ګرځولي شوي دي او د ښځو لپاره حلال کړی شوی دي.

۴ ـ بل روایت دی: **«عَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَلْبَسْ حَرِيرًا وَلَا ذَهَبًا»**.[2]

ژباړه: د أبي أمامه رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې څوک پر الله

---

۱ ـ سنن الترمذي، باب ما جاء في الحرير والذهب، د حدیث شمیره: ۱۷۲۰.
۲ ـ مسند الامام أحمد، د حدیث شمیره: ۲۲۲۴۸.

تعالى او په ورځ د آخرت ايمان لري هغه د وريښمو جامې او سره زر نه استعمالوي يعنې هغه لره نه ښايي چې د وريښم او سره زر استعمال کړي.

۵- امام أحمد رحمه الله په خپل مسند کې روايت کوي:«**عنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِي وَهُوَ يَشْرَبُ الْخَمْرَ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ شُرْبَهَا فِي الْجَنَّةِ وَمَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِي وَهُوَ يَتَحَلَّى الذَّهَبَ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ لِبَاسَهُ فِي الْجَنَّةِ**».[۱]ژباړه: عبد الله بن عمرو رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايلي دي: څوک چې د ما د امت څخه په داسې حال کې مړ شي چې شراب څکي الله پاک به په جنت کې د شراب څښل پرې حرام کړي او څوک چې د ما د امت څخه په داسې حال کې مړ شي چې سره زر استعمالوي الله پاک به په جنت کې د سرو زرواستعمال پرې حرام کړي. ځيني ځوانان چې د سرو زرو گوته او يا زنځير په لاسونو او يا غاړو کې اچوي دوی په دې ناوړه دود سره ښځينه ؤ سره تشبيه کوي؛ ځکه د طلاؤ استعمال او اچول په اسلامي شريعت کې په ښځينه ؤ پوري خاص دی نو

۱ ـ مسند الامام أحمد، د حديث شميره: ٦٩٤٨.

هرکله چې نارینه بالخصوص ځوانان سره زر په غاړه او لاسونو کې د زنځیر او گوتې په شکل استعمال کړي نو د دوی تشبیه له هغوی سره راځي، او په ښځو سره تشبیه کوونکو سړو باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت ویلی ځرنگه چې روایت دی:

٦ ـ «**عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللهِ الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ**».[1] ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغو نارینه ؤ لعنت ویلی چې له ښځو سره تشبیه کوونکي وي او دارنگه په هغو ښځو چې له نارینه ؤ سره تشبیه کوونکې وي.نو راځئ چې دې ناوړه دودو ته د پای ټکی کېږدو په ځای یې اسلامي ښووني، روزني، ښو اخلاقو او ادابو ته مخ کړو او د خپل هیواد او د خلکو د خدمت او سکالی ترقی په لور قدمونه پورته کړو او د موږ خوږ هیواد له دې کړاوونو څخه خلاص کړو او د دارینو بریا، نجاح، فلاح مو نصیب کړو.

١ ـ صحیح البخاري، بابٌ الْمُتَشَبِّهُونَ بِالنِّسَاءِ وَالْمُتَشَبِّهَاتُ بِالرِّجَالِ، د حدیث شمیره: ٥٨٨٥.

# په سګرټو، نسوارو اونورو نشه يي توکو روږدي کېدل

د موږ په ټولنه کې يو بل ناړوه دود چې ځيني وګړي په ځانګړی توګه ځوانه طبقه په سګرټو، نسوارو او مخدره توکو عادت دي چې دا ډېر زيان لرونکي عادت او دود دی چې زيان او نقصان يې يوازې اخته خلکو پوری ندی خاص بلکې په ټولو وګړو ته سرايت کوي، د سګرټو، نسوارو او نشه يې توکو زيانونه خورا زيات ځاني، روحي، ټولنيز، اقتصادي او دارنګه اخروي زيانونه لري چې ځيني يې عبارت دي له: غاښونه، وری، ستونی، سږي خرابوي په بوی او لوږي سره يې نورو ته ضرر رسيږي پدې کې مال بې ځايه مصرف کيږي او اخته خلک ځانونه او نور په تدريج سره د هلاکت کندې ته سوق کوي همداسې  د زړه ټکان زياتوي، د بدن دفاعي سيستم کمزوری کوي، د مرکزي اعصابو د سيستم فعاليتونه کمزوري کوي، د ستوني او سږو سرطان پيدا کوي، د وينې فشار زياتوي، د باصرې، شامې او ذايقې حسونه

کمزوري کوي، د وينې کلسترول زیاتوي، په معتاد سري کې لتې او کمزورتیا رامنځته کوي، د زړه د ناڅاپي دریدلو (سکتې) لامل کیږي، په تنفسي سیستم کې ګډوډي رامنځته کوي او روحي ګډوډي ستړیا، پریشاني، ګوښه توب او داسې نور زیانونه لري. غواړم لومړی د مخدره توکو تعریف او بیا یې اساسي ډولونه بیان کړم:

## د مخدره توکو لغوي تعریف:

مخدره توکي په لغت کې: د مخدرکلمه د (خِدْر) له کلمې څخه اخیستل شوې ده، چې خدر د پښوالي، کمزورۍ، سستۍ او تنبلۍ په معنی راځي. (تخدرالعضو) دا کلمه عرب په هغه وخت کې استعمالوي چې یو اندام یې شل شي او حرکت ونشي کړای.

په بل عبارت سره د ډار، وروسته پاتې کېدل،سرګرځیدنې او داسې نورې معانې له ځانه سره لري او دا په هغه چاکې ښه شتون پیدا کوي چې په مخدره موادو روږدی وي، که دا مخدره توکي د مایعو لکه شراب او یا د جامدو لکه تریاک او یا د دخانیاتو یعنې د لوګی لکه چرس په ډول استعمال شي.

## د مخدره توکو غوره مصطلح تعریف:

علماوو د مخدره توکو د اصطلاح له پلوه ډېر تعریفونه کړیدي چې د هغو څخه جامع او مانع تعریف دادی: (**عقاقير تؤثر على الجهاز العصبي المركزي بالتنشيط أو التثبيط أو تسبباهلوسة والتخيلات، وتؤدي بمقتضاها إلى التعود أو الإدمان وتضر بالإنسان صحياً واجتماعياً، وينتج عن ذلك أضرار اقتصادية واجتماعية للفرد والمجتمع**).[1] یعنې مخدره توکي هغه څه دي چې عصبي اوعقلي جهاز په مستۍ سره او یا له منځه وړلو او یا په کمزورۍ او یا په وهم او تخیَل سره متأثر کوي، چې د عادت (اموختـه) کېدو خاصه لـه ځـان سره لري چې په نتیجه کې اقتصادي او ټولنیز زیانونه فرد او ټولنې ته رسېږي.

## د ځینوعلماؤ له لورې د څېړني له پلوه د مخدره توکو

**تعریف**:(هي مادة كيميائية تسبب النعاس والنوم أو غياب الوعي المصحوب بتسكين الألم). یعنې هغه کیمیایي ماده ده چې د

١- سعود بن عبد العالي البارودي العتيبي، الموسوعة الجنائية الإسلامية المقارنة بالأنظمة المعمول بها في المملكة العربية السعودية، فرع منطقة الرياض، الطبعة الثانية ١٤٢٧، ټوک: ١، مخ: ٦٩٥.

پرکالۍ، خوب، د هوش او فکر د پټوالي سره د درد د تسکين سبب ګرځي.

د ځینوعلماؤ له لورى د قانون له پلوه د مخدره توکو تعريف:

(**هي المادة التي تشكل خطرا على صحة الفرد وعلى المجتمع**) يعنې: دا هغه ماده ده چې د فرد او ټولنې روغتيا ته زيان رسوي.

ځينو علماؤ يې داسي تعريف کړيدى: دا هرهغه څه دي چې عقل پوښی، مستی او کمزوري ورسره شتون ولري؛ ځکه دا د مايعو مخدره توکوله ځانګړتياوو څخه دی.

## مخدره توکي په اساسي ويش سره په لاندينيو ډولونو ويشل شوی:

### ۱ ـ طبعي مخدرات:

دا هغه درمل دي چې له کيمياوي موادو څخه جوړيږي د دوی تأثير د طبعي او مصنوعي موادو په څير دی، چې د(حبوب) ګوليو، کپسولو، پوډرو، درملو او مشروباتو په شکل استعماليږي.

مخدره توکي ډېر ډولونه لري او په څو بېلا بېلو برخو ویشل شوي دي، ځکه د درمل جوړولو صنعت هره ورځ د مخدره موادو د ترکیب او جوړښت په اړه نوې لاسته راوړنې لري، دلته به په لنډه توګه دهغو موادو ځینو ډولونو بیانوو، خمر(شراب) مو بیان نکړل؛ ځکه چې د هغو حرمت، ناوړتیا او بدې اغېزې یې په قرآني نصوصو او نبوي احادیثو سره واضح ډول بیان شویدي. په دې کې شک نشته چې د مخدره توکو ډولونه ډېر زیات دي چې په هرې سیمې او هیواد کې ځانګړي ډولونه د نشه یې توکو شتون لري چې خلک پرې روږدي دي، چې ځینې ډولونه یې په لاندې ډول معرفي کیږي:

**اپین (تاریاک / افییم):** تاریاک هغه مخدره مواد دي چې په کیمیایي ډول جوړیږي او د مخدره موادو په منځ کې ډېر ضرري شمېرل کېږي. خوندې تریخ او اثر یې نشه لرونکی او وژونکی دی، همدا راز د هغو له پوډرو څخه د ډېرو طبي دواګانو په جوړښت کې هم استفاده کېږي.

**د اپیونو اغېزې**: کله چې يو انسان په تارياکو روږدی شي، نـو هغه يې د ژوند يوه برخه وګرځي، چې د هغه بدن پرتـه د هغـه لـه استعمال څخه کارنه شي کولای، هر کله چې پـه هغـه لاس رسي پيدانکړي، نو له مختلفو دردونو سره مخامخ کېـږي او صـحت يـې له منځه ځي، د انـدامونو پـه کمـزورۍ د حـافظې پـه کمـزورۍ د اشتها کمښت په ځيګر کې د اخـتلال پـه پيـدا کېـدو ، د سـترګو درنـګ بدلېـدل ، د تـنفس او نـبض سـختېدل، د بـدن حـرارت ټيټېدل او نور بد اثرات د دې وژونکې وبا په سبب مـنځ تـه راځـي اپين يوه توره بخنه نسواري مـاده ده چـې د يـوه بـوټي لـه شـېرې څخه چې کوکنار نومېږي لاس تـه راځـي. د انسـانانو معلومـات د اپينو او د هغه د طبي تاثيراتو په اړه کم تر کمـه څلـور سـوه کالـه مخکې تر مېلاده رسي[1].

**اپين روغتياته قوي ګواښ دی:** د اپينو استعمال بېلا بېـل زيانونه لري لکه: مسموميت، د زړه ناروغي، ډنګـر تـوب او د بـدن عمومي کمزوري، د سږو سرطان، د حـافظې کمـزوري ، د بـدن د وزن کموالی، د ستړيا احساس، د جنسي ميل کمزوري.

---

۱ ـ مخکېنۍ سرچينه.

**جوزبویا:** دا دې هغه مخدره توکو څخه یادېږي چې په طبعي ډول مخدر دي په عربي ژبه کې ور ته (جوزة الطبیب) ویل کیږی په گرمو هیوادونو کې کرل کېږي لکه هندوستان اوداسې نور.

**د جوزبویا اغېزې:** خوله وچوي، معده کمزوې کوي، د نورو ناوړه پیښو اثرات هم لري او تنده مینځته راوړي[1]

**حشیش (چرس):** عبارت له هغه شیرې څخه دی چې د بوټو اوگلانو څخه لاسته راځي. د حشیشو اغېز د ماریجوانا په نسبت درې او یا څلور چنده زیات دی.

**ماریجوانا:** داسې پوډر دي چې د میوه دارو یا گلدارو بوټو څخه لاسته راوړل کېږي.

**مورفین:** دا هم د اپیون په څېر مشهور مخدره مواد دي، بلکه مورفین د اپیون په نسبت ډېر ثبات لری او وړل راوړل یې اسانه دي، چې په اوله کې د طبیبانو د اشتباه په وجه د ډېرو دواگانو په جوړښت کې ورته ځای ورکړل شو، خو وروسته بیا کشف شو

---

۱ـ مخکېنۍ سرچینه.

چې دا ډېر خطرناک مخدره مواد دي او د دي استعمال د معتاد کېدلو باعث گرځي. د مرفینو اغېزې:

**د مرفینو اغیزې:** د تریاکو له اغېزو سره مشابهت لري، که څوک د مرفینو روږدی وي اوهغه ته لاس رسي پیدانکړي نو د بې خوبۍ د سترگو د رنگ د بدلون، د بدن د مختلفو ځایونو درد او نور رواني ناروغیو باندې اخته کېږي[1].

**هیروئین**: هیروئین عبارت دي دهغه سپین رنگی توکو څخه چې په الکولو کې ویلې کېږي او په مخدره توکو کې ډېر قیمت لري، د انسان د صحت لپاره تر ټولوخطرناک څیز دي او د کیمیایی لویو عملیاتو په نتیجه کې لاسته راځي.

**د هیرئینو اغېزې:** کمزوري، د اشتها کمښت او وېره او کله چې ورته هغه ونه رسېږي نو ډېر کمزوري شي، اسهال، د معدې په دردونو، د ملا په درد، تبه او داسې نورو ناروغیو اخته کېږي.

**بنگ:** چې په شیکران او سیکران سره هم نومول کېږي، دا داسې یو بوټی دی چې د ځمکې پرمخ د دایرې په شکل پلن کېږي او په اوسط ډول د یوه گز څخه لږ څه کم جگېږي.

---

۱ـ الدکتور وهبه الزحیلي، الفقه الاسلامي وادلته، ټوک ۷، مخ۲۳۲، مکتبة الشاملة.

**قات:** دا یو بوټی دی چې ټیټ دی او په هر قسم خاوره، او آب و هوا کې زرغونېږي، پاملرنې ته څه خاصه اړتیا نه لري، هیڅ آفت نه پرې راځي، او ملخ او نور حشرات یې هم نه خوري، لوړوالی یې تردوه مترو او کله له دې هم ډېر لوړېږي، په افغانستان او د منځنۍ اسیا په ځینو هیوادونو کې کرل کېږي.

**د قات اغېزې:** د دې موادو همېشه استعمالونکی د خپل نفس ډېر تابع وي او همېشه د دې توکو د لاسته راوړلو په تکل کې وي، په دې توکو چې څوک روږدی شي نو د دغو افتونو عوارضو درلودونکی وي:د سر درد، د زړه د ټکانونوله خپل حد څخه ډېرېدل، د سترګو په پردو کې دوینو ټولېدل، د اشتها له منځه تلل، د جنسي قوت کمزورتیا چې په پای کې له کاملې جنسي- ضعت سره مخامخ او قوت یې سلب کېږي او د وینې د فشار لوړېدل.

**کوکائین:** کوکائین د کوکا په نامه له یوه بوټی څخه چې سپین رنګ لري لاسته راځي. چې ډېرې ناوړې اغېزې منځ ته راوړي چې ځینې دادي: د زړه د نظام ګډوډ کوي او په تنفسي- جهاز

کې اختلال راپیدا کوي، ناڅاپي مړینه، ژر معتاد کېدل او د غوړونو کمزوري او لېونتوب رامنځ کوي.

## هغه مخدره توکي چې د پوزې د لیارې څخه استعمالیږي:

په پوزه کې د موادو د استعمال روږدی د سرګنګسي- او سر ګرځېدو، دسست او بې حالی، د سترګو د دید کمزوری احساس کوي، او کله نا کله د یو ناڅاپي مړینې سبب ګرځي، او ډېر ځوانان مو پېژندلي چې د داسې توکو په استعمال سره په یوناڅاپې او ناګهاني ډول سره مړه شوي دي.[1]

اوس غواړم چې د دخانیاتو (سګرټو/ چلم) په اړه څه وینا عرض کړم د دخانیاتو په هکله علماؤ مختلف نظرونه لري چې ځینې یې حرام او یا مکروه تحریمي، ځینې نور یې جایز او ځینې نور یې مکروه تنزیهي بولي موږ صرف د هغو علماؤ دلایل راوړو چې هغوی په حرمت او مکروه تحریمي قول کوي:

۱-آنلاین : www.thecabinarabic.com.

## د سګرټو او چلم د حرمت او کراهیت تحریمي دلایل يې:

د خانیات نه خواړه دي او نه درمل نو ځکه حرام دي، په استعمال کې يې عبث او لهو لعب دی چې دا سې څیز حرام وي، استعمال يې بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده، نشه ایز او مخدره ماده ده، هر هغه څه چې نشه راولي او مخدِّروي د شرابو په ډله کې راځي او شراب منصوصي حرام دي او هر هغه څه چې مخدِّر وي حرام وي پدې دلیل چې د حضرت ام سلمې حدیث دی: («**تَقُولُ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفْتِرٍ**»[1]. «رسول الله صلی الله علیه وسلم له هر نشه او سستي راوړنکي څخه منع کړیدی.» په هغې کې کفارو او اورپرستو ته ورته والی دی چې له خولې او پوزې څخه يې لوګي راوخي که حرام نه وي نو کم له کمه تحریمي مکروه خو ده، په خوله کې د بدبوی سبب کیږي لکه هوږه او پیاز، خبیث شی دی او هر خبیث څیز حرام دی، فاسقان لکه چې په حرام سره راټولیږي، پر هغو هم راټولیږي نو ځکه په هغې د تحریم حکم کیږي، د فتنې

[1] مسند الامام أحمد، د حدیث شمېره: ۲۶٦۳۴.

او مصیبت سبب کیږي او لکه همدا ځیزونه تحریم حکم یې کیږي، د عقل او نفس مفسد یا فاسدوونکې دي ځرنګه سلیم عقل په سالم بدن کې وي او انسان له لمانځه او د خدای له ذکره باسي او دا کار د منقول دلیل پر بنا حرام دی، د ځانیات د عذاب له وسیلو څخه دي چې خدای جل جلاله هغه د عذاب په وخت کې یاد کړي، د هغه په وسیله نورو ته ضرر او آذیت رسیږي؛ ځکه چې په هغه کې انسان او ملائکو ته ضرر دی پیغمبر صلی الله فرمایي : «... **فإن الملائكة تتأذى مما يتأذى منه بنو آدم**»[1] ژباړه: (... ځکه ملائکه علیهم السلام د هرهغه څه نه په تکلیف کې کېږي چې کوم څه نه انسانان په تکلیف کې کېږي). او الله جل جلاله فرمایی: (**والذين يؤذون المؤمنين والمؤمنات بغير ما اكتسبوا فقد احتملوا بهتانا واثما مبينا**).[2] یعني څوک چې بی ګناه مسلمان نارینه او ښځینه آزاروي هغوی دتهتان او ګناه عامل ګرځي، ځرنګه چې د اسراف سبب دی نو ځکه په شرعي نصوصو

---

۱ ـ صحیح الامام مسلم، باب نهي من أكل ثوما أو بصلا أو كراثا أو نحوهما، د حدیث شمیره: ۵٦۴.

۲- د سورت احزاب،۵۸ آیت .

سره حرام دی، د هغه د استعمال په وخت کې انسان په ناوړه او قبیح صورت څرګندیږي، حال دا چې خدای جل جلاله هغه ته بهترین صورت ورکړی دی، په هغې کې په بدن کې د لوګي ننوتل رامنځ ته کیږي او لوګی له اور څخه را پیدا کیږي او د اور خوړل حرام دي. حدیث شریف دی چې خدای جل جلاله اور د خوړو په حیث مونږ ته ندی پیدا کړی، په هغی کې شیطان ته ورته والی دی ځکه چې استعمالونکی یې اور په لاس کې اخلي.۱

نو راځئ د دارنګه ناوړه دودونو څخه ځانونه وژغورو او خپلې پاکې خولې، ژبې د داسې ګندګیو لکه نسوار، سګرټ او داسې نور ناوړه ځیزنو څخه وساتو؛ ځکه د دې هر یو غړي د موږ څخه پوښتل کیږي چې جایزو کې مو استعمال کړی او که نه؟

---

۱ـ نړیواله روغتیایي اداره، د ختیځی مدیترانې لپاره سیمه ایز دفتر،ددخانیاتو په استعمال کې د شریعت حکم، ژباړونکی پوهندوی ډاکټر بشیر نورمل.

# اداري فساد

یو د هغو ناوړه امورو څخه چې د موږ په ټولنه کې  د دود په څیر تقریبا د دود په څیر عملي کیږي هغه اداري فساد دی چې ډیر خلک په دې رنځ مبتلا دي ځیني یې غصب، بډې، د لاس لاندې افرادو څخه تحفې او ډالۍ، د دولت او بیت المال شتمنیو نه ناوړه ګټه اخستنه او داسې نور عاداتو او دودونو رواج شوي چې دا ټول د اداري فساد څخه شمیرل کیږي چې د نن عصر ډیری وګړي هیڅ پاملرنه  ورته نکوي چې خپل مالونه او شتمنی کوم ځایه لاسته راوړي، پدې هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم معجزةً موږ ته وړاندې نه خبر را کړی:

**«عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ( رضي الله عنه ) عَنِ النَّبِيِّ (صلى الله عليه وسلم ) قَالَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يُبَالِي الْمَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ أَمِنَ الْحَلَالِ أَمْ مِنَ الْحَرَامِ».**[1] ژباړه: د آبي هریره رضي الله عنه روایت دی چې هغه د نبي صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمایلي دي: په

---

١ ـ صحيح البخاري،بَابُ مَنْ لَمْ يُبَالِ مِنْ حَيْثُ كَسَبَ الْمَالَ، رقم الحديث: ٢٠٥٩.

خلکو په داسې زمانه راشي چې څوک په د دې فکر نکوي چې لـه کوم ځای مال لاس ته راوړی د حلالو څخه یا دحرامو څخه.

## د فساد تعریف:

### فساد په لغت کې:

مصدر دی د فسد مادې څخه چې د صلاح ضـد دی پـه معنـی د خرابي، هلاکت، ظلم، تجاوزسره راځـي چې داسې نورې معنـاوې هم لري.

**فساد په اصطلاح کې:** د الله جل جلاله د اطاعت څخه وتلـو ته وایي.

**اداره په لغت کې :** کنترول او په واک کې راوستلو ته وایی.

**اداره په اصطلاح کې:** عبارت دی له یو ټولنیز نظام څخه چې په هغه کې یو شـمېر وګـړي پـه یـو ځـانګړي سسـتم سره د خاصـو موخو د رسیدو لپاره یو ځای کارکوي. او اداري فساد زیاتره برخه د بډې (رشوت) په ذریعه مـنځ تـه راځــي نـو؛ ځکـه د رشـوت تعریـف ضروري دی:

**رشوت په لغت کې:** (ما یتوصل به إلی الماء) هغـه څـه دی چـې د هغې په واسطه اوبه کوهیڅخه راوستلی شي یعنې پړی.

## رشوت په اصطلاح کې:

علماؤ د رشوت تعریف داسې کوي: (**هي أخذ ألاموال على ترک ما يجب على الآخذ فعله أو فعل ما يجب عليه ترکه**).[1] ترجمه: یعنې چې کومه کړنه پر اخیستونکي لازم وی او د هغې په بدل کي څه څیز واخلی او یا کوم کړنه چې په د باندې پریښودل لازم وي د هغې په عوض څه څیز واخلی دا رشوت یا بډه یادیږي.

او ځینو علماؤ یې داسې تعریف کوي: (**هي ما يعطي لإبطال حق إو لإحقاق باطل**) یعنې رشوت هغه څه دی چې د حق د باطلولو او باطلو د ثابتولو لپاره ورکولی شي.

**د رشوت حکم:** رشوت اخستل، ورکول او یا د رشوت خوړل د کبائرو گناهونو څخه دی په دې هکله گڼ آیاتونه او احادیث شتون لري چې په لاندې کرښو لیکل کیږي:

## د رشوت (بډې) گناه د آیاتونو په رڼا کې:

الله جل جلاله فرمایي: (**سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّالُونَ لِلسُّحْتِ فَإِن جَآءُوكَ فَاحْكُم بَيْنَهُم أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ وَإِن تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَن يَضُرُّوكَ شَيْئًا**

---

۱- تفسیر البحر المحیط، ټوک: ۳، مخ: ٥١٦، تفسیر روح المعاني، ټوک: ۱۴، مخ:۲۲۴، المکتبة الشاملة.

**وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُم بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ).**[1]ژباړه: دوی ددروغو اورېدونکي او د حرام مال خوړونکي دي، نو که دوی تا ته (د خپلو دعوو په وړاندې کولو) راشي نو تا ته واك درکول کیږي که دې خوښه وي د هغو فیصله وکړه او که نه نو انکار وکړه . که انکار وکړې نو دوی تا ته هیڅ زیان نه شي رسولای ، او که فیصله کوې نو د عدالت په اساس یې وکړئ چې الله عدالت کوونکي خوښوي.

الله جل جلاله په باطله لاره دمال خوړلو نه منع کړیاو فرمايي: (**وَلاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُواْ بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُواْ فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ).**[2] ژباړه: خپل مالونه په باطل او د ناحق لکه بډی، سود، غصب، اوغلا... په خپل مینځ کې مه خورئ اوهغه امیرانو اوقاضیانو ته مه وړاندې کوئ چې دګناه له مخې د خلکو ځینې مالونه وخوری اوتاسې پرې خبریاست (اوپوه شی چې تاسوظالم ته مرسته ورکړی اوګناه موکړی ده).

---

۱- د المائدي سورت: ۴۲ آیت.

۲- د البقرې سورت،۱۸۸ آیت.

دارنگه قرانکریم فرمایلي دي: (**وَلاَ تَشْتَرُواْ بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلًا وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ**)[1] ژباړه: او ځما آیتونه په نا ځیزه بها د دنیا،لکه رشوت،منزلت او مقام مه پلورئ! او پوه شئ چه هر څوک د هغه ځیز په وراندې حکم ونکړي چېما نازل کړی (او الهی احکامو ته د سپکاوی قصد ولري) هغه او د هغه په ځیر کسان د شک پرته کافر دي.

علما فرمایلي دي: کوم کار چې پوره کول کول چی دچاپه غاړه واجب دی هغه د الله دژمنی مسؤول دی په پوره کول یې دچانه عوض یاد عوض اخستلو پرته نه کول یې دالله دعهد ماتول دي، همداشان کوم کار چې ترسره کول یې په چا واجب ندی. ترسره کول یې دمعاوضې په اخستلو سره هم دالله د عهد ماتول دي. دد ینه معلومیږي چېد اداري فساد ډېر ډولونه دي چې ټول حرام دي لکه د دولت چارواکې چې: وظیفې تر سره کول لپاره د دولت نه حقوق اخلی نوهغه د الله سره عهد کړی چې د حقوقو په عوض خپله دنده ترسره کووم نو کچیرې په ترسره کول کې یي دچانه معاوضه واخلی او دمعاوضې پرته هغه نه کوی او یوی

---

۱- د المائدې سورت،۴۴ آیت.

ورځی نه یې بلي ورځی ته غورځوی دالله عهد یي مات کړی، همداشان هغه کار چې د دولت لخوا دهغه به واک کې ورکول شوی نه وی رشوت اخلی اوهغه کار کوی داهم د الله عهد ماتول دي.

بدې دومره بداوناروا دی چې قرآنکریم هغه دیهودو د صفاتو په شمیرکې راوړی او قرآن کزیم فرمایي:(**سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّالُونَ لِلسُّحْتِ**).[1] ترجمه: هغوی ډېر دروغ اوري اومني او ډېر حرام مال خوري. د علامه الوسي په وینا پدې ځای کې مراد دسحت نه په حکم کې رشوت دی. دارنگه حضرت ابراهیم نخعي، حسن بصري مجاهد، قتاده اوضحاک رحمهم الله اونور د تفسیر امامانو هغه په رشوت تفسیر کړی دی، رشوت اخستلو ته ځکه سحت ویل کیږیچې نه یوازې رشوت اخستونکی او رشوت ورکونکی تباه کوی بلکې عمومي د امنیت، ملت او د ملک اساس او بنسټ هم بربادوی ځکه په کوم هیواد کې چې بدې خوړل دود وی قانون نشی پلی کیدای، په پای کې دملت اوملک امنیت چې دقانون په اساس دی نه راځی او کله چې دامنیت قانون د عمل پړاوته

١ - د المائدې سورت، ۴۲ آیت.

لاړنشی نود خلکو ځان مال حیثیت او پت نشی ساتل کیدای. همدا علت دی  چې په اسلامي شریعت کې سحت ورته ویل شوی او حرام دی.

که موږ وګورى چې بډې اخستنى ځومره یو عام او خطري آفت دی او لهلدې لارې لاسته راغلې پیسې د ډېرو خرابو او خبیثو پیسو په کتار کې واقع شوی دیوریښتنی مومن وجدان، ایمان او افکار ددغه ناوړه او ناسم کارنه ډېر لرى او تیښته کې وي، ځکه هر انسانچې دغه سپکې پیسې لاسته راوړى هغه انسان هم سپک او ذلیل کیږي.

## د رشوت (بډې) ګناه د احادیثو په رڼا کې:

د موږ مقدس دین په ظاهر واضح ډول د رشوت اخستل پهمسلمانانوحرام کړى له کعب بن عجره روایت دی : «**قال: قال النبي صلى الله عليه و سلم: ( يا كعب بن عجره إنه لا يدخل الجنة لحم ودم نبتا على سحت النار أولى به**».١ ژباړه: هغه وایي چې نبي صلى الله عليه وسلم وفرمایل : آى کعب بن عجره! جنت ته به داخل نشى هغه غوښه

١ ـ صحیح ابن حبان د حدیث شمیره: ٥٥٦٧ .

او وینه چې په حرامو لویه شویوي بلکې اور هغو ته مناسب او لائق دی.

او همداشان مسؤولینو او چاراکو لپاره یې منل حرام کړی دی او رشوت ورکونکی او اخستونکی یې ملعون معرفی کړی دی: **عن عبدالله بن عمر رضي الله عنها قال: «لعن رسول الله الراشي والمرتشي»**.[۱] ژباړه: د حضرت عبدالله بن عمر نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم رشوت ورکونکی او اخستونکی باندې لعنت ویلی دی: «**لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّاشِيَ، وَالْمُرْتَشِيَ، وَالرَّائِشَ** ».[۲] ژباره: د حضرت ثوبان نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم رشوت ورکونکی او اخستونکی او هغه څوک چېد دوی دواړو ترمنځ واسطه کیږي، باندې لعنت ویلی.

۱- مشکوة المصابیح باب الاقضیة والشهادات.

۲- شرح مشكل الآثارلأبي جعفر أحمد بن محمد المعروف بالطحاوي (المتوفى : ۳۲۱هـ)،بَابُ بَيَانِ مُشْكِلِ مَا رُوِيَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ لَعْنِهِ الرَّائِشَ، أَوِ الرَّاشِيَ مَعَ لَعْنِهِ الرَّاشِيَ وَالْمُرْتَشِيَ، د حدیث شمیره: ۵٦۵۵.

ځيني خلک حاکمانو او مشرانو ته ډالۍ، تحفه، سوغات، تعارف حق، حق الزحمه او قلمانه انعام او شرینی په ترڅ کې ترسره کوي چې دا هم يو ډول رشوت دی خو جوته ده چې دنومونو بدلون هيڅکله په ماهيت کې بدلون نشی را وستی او په هر صورت کې کومه پيسه چې د بډو له لارې را شي هر نوم چې پری کيښودل شي بياهم رشوت دی، ځيني خلک بايد پوه شی چې تحفه ډالۍ سوغات د آمرينو لپاره د رشوت په حکم کې دی پدې زمانوکې دود دادی چېډالۍد ځينی د مشرانو ډريورانو، خانه سامانونو يا د نورو اشخاصو او شاوخوا خلکو ته ورکول کيږي او هغه يو عادي او روا څيز ګڼی پداسېحال کې دپورتينو دلايلو په استناد په زغرده ويلی شو چې: هيڅ ډول نوم ايښودل ماهيت ته بدلون نشی ورکولای او هرڅه چې د رشورت له لارې راشی رشوت دی.

پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «**مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ عَلَى عَمَلٍ فَرَزَقْنَاهُ رِزْقًا فَمَا أَخَذَ بَعْدَ ذَلِكَ فَهُوَ غُلُولٌ**».[1] ژباړه: څوک چې

---

۱- سنن أبي داود، باب أرزاق العمال، حديث: ۲۹۴۵.

مونږ په کوم کار وگمارو او څه حقوق هم په مقابل کې ورکو هرڅه چې د خپلو حقوقونه اضافه واخلی د غاړی طوق به یی شي.

په بل روایت کې دي: «**من شفع لأحد شفاعة فأهدي له هدية عليها فقلبها فقد أتى بابا عظيما من أبواب الربا**».[1] ژباړه: څوک چې دبل چا لپاره سپارښت وکړی (واسطه شی) او د هغه په مټ ورته هدیه ورکول شي په رښتیا چې هغه د سود لوی دروازی ته ننوت.

عبدالله بن مسعود وایي: کچیرې څوک نوروته کار وکړي او دهغه په واسطه ډالی ورته وړاندې شی هغه حرام دی .

د مسروق رحمه الله نه روایت دی چې هغه د ابن زیاد سره یوه قضیه رد کړی او دقضیی دخښتن له لوری یو غلام ورته ډالی شو مسروق هغه ونه مانه او وی ویل:

اوریدلی می دی چې ابن مسعود رضي الله عنه به ویل: څوک چې د مسلمانانو کوم ظلم لری کړی او دظلم څښتن هغه ته کوم څیز ډالی کړی لږ وی که ډیر هغه حرام دی.[2]

---

۱- مسند امام احمد ،حدیث: ۲۲۲۵۰.

۲- الحلال والحرام للدکتور قرضاوي، مخ:۴۰۲.

**«وَقَالَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ كَانَتِ الْهَدِيَّةُ فِي زَمَنِ رَسُولِ اللهِ هَدِيَّةً وَالْيَوْمَ رِشْوَةٌ».**[1] کله چې عمربن عبدالعزیز خلیفه وو یوه ډالۍ ورته راوړی شوه خو هغه قبوله نکړه ورته وویل شول پېغمبر صلی الله علیه وسلم هدیه قبولوله عمرابن عبد العزیز وویل: پېغمبر صلی الله علیه وسلم پهه نمانه کې ډالۍ وه خو نن ورځ رشوت دی.

علماء کرامو ویلي: کله چې اسلام تردی کچېد رشوت په اړه سختی کوی نو پرقاضي او هغو کسانو چې دقاضي په مرتبه کې دی لازم دی چې هغه ځیزونه چې د قاضي کیدو اویا حاکم کیدو واندې اوپه خپل کور کې ناست ول او د هدیه په توګه ورته راوړل کیده اجازه لري چې د قضاوت یا حکومت په وخت کې هم واخلی. او دهغو ځیزونو اخستل چې پوهیړی د مقام په خاطر ورته ورکول کیږي حرام دی خو کوم چې نه پوهیږی دوستان یې د دوستۍ په خاطر یا ددوی د مقام په خاطر ورته راوړي داشبه ده او باید ورنه ډډه وکړي.[2]

د مذکور ارشاداتو اوروایاتو په رڼا کې هرځوک چې آمرینو ته تحفه او ډالۍ ورکوی چې بست او منصب پکې اغیزولري رشوت

---

۱ - صحيح البخاري، بَابُ مَنْ لَمْ يَقْبَلِ الْهَدِيَّةَ لِعِلَّةٍ، د حدیث شمیره: ۲۵۹۵.

۲- الحلال والحرام للدکتور قرضاوي، مخ:۴۰۲.

دی پداسې حال کې چېدېری خلک دغه څیز ډېر ساده گنی سره لدې چې داکار صریح رشوت دی ټول مسلمانان د دې کارنه ډډه وکړي او نوروته دی هم ورونبی چې ندی تحفه ورکړي اوندی واخلي همداشان هغه تحفه چې درشوت په چوکات کې راځی دهغې تحفی سره چې رشوت پکې نفوذ نلری خلکوته بیان شی ترڅو مطلق تحفه رشوت ونشمیرل شي.

نو راځئ د نورو خلکو او دولتي مالونو څخه ځانونه وژغورو او مرگ څخه وړاندې خپلو ځانونو سره محاسبه وکړو او ذمي فارغې کړو، د بیت المال او نورو اشخاصو مالونه مو چې په غلا، غصب، ډالی، ظلم او نورو لارو څخه لاس ته را وړي هغه خپل اصحابو ته ورکړو یعني رد مظلمه وکړو او د هغې ورځې څخه په ډار کې شو چې هلته مال او ځامن مو په درد نه راځي: یوم لا ینفع مال ولا بنون الا من أتی الله بقلب سلیم.

# نامناسبه لباس اغوستل

په اسلامي ټولنه کې یو بل دود د ځینو ښځینه ؤ له لوری معمول شوی چې هغه ډېر تنګ او چسپ جامې استعمالول دی چې دا په اوسني عصر د فتنو په وخت کې د لویو فتنو او خرابیو لامل ګرځي؛ ځکه دا کار د دوی د تعلیم او تحصیل وتلو مانع ګرځي او یا خو دا کړن د دوي د عفت او حیا له منځه وړو لامل کیږي؛ ځکه زیات ځوانان د جنګ جګړو په وخت کې خپل ښوونه او روزنه د لاس څخه ورکړي او خپل دیني مسؤولیت ته نظر نکوي چې هغه نورو پردیو ښځوو او نجلیو څخه نظر تیټ وساتي: څرنګه چې الله پاک فرمایلي دي: (**قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ**).[۱] ژباړه: (آی پیغمبره) مؤمنو نارینه ؤ ته ووایه! چې خپل نظر تیټ وساتي او خپل شرم ځایونو ساتنه وکړي. دا د هغو لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده. په باوري توګه هغوی چې څه کوي الله جل جلاله پرې خبریږي. دارنګه الله جل جلاله ښځو ته هم امر

---

۱ ـ د النور سورت: ۳۰ آیت.

کوي: (**وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ**).[1] ژباړه: او مومنو ښځو ته ووايه سترګي (دنا محرو کتلونه) ښکته کړي او پاکلمني خیال د وساتئ اوخپل زینت د ښکاره نګړئ مګر هغه چې تری ښکاره دی.

د زنانه ؤ بی حجابي او د کوره څخه بهر د تنګ او باریک لباس اغوستل چې بدن یې تری ښکاریږي د اسلامي شریعت په رڼا کې ناوړه او مذموم دود او عمل دی چې پدي حدیث کې یې قباحت ذکر دی: «**عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:«صنفان من أهل النار لم أرهما قوم معهم سياط كأذناب البقر يضربون بها الناس ونساء كاسيات عاريات مميلات مائلات رؤوسهن كأسنة البخت المائلة لا يدخلن الجنة ولا يجدن ريحها وإن ريحها ليوجد من مسيرة كذا وكذا**».۲ ژباړه: د أبي هريره رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله ضلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: دوه ډوله خلک د دوزخ اهل دي چې ما تر اوسه ندی لیدلي یو هغه قوم دی چې دوی سره د غوایانو د لکیو په شان دورې وي چې خلک

۱ - د النور سورت: ۳۱ آیت.

۲ ـ صحیح الامام مسلم، باب النساء الکاسیات العاریات المائلات الممیلات، د حدیث شمیره: ۲۱۲۸.

به پرى وهي، بل هغه پټې لوڅې ښځې دي چې خلکو زړونه خپل ځانونو ته را جلبوي او دوى هم هغوى ته ميلان لري او د سر ويښتان داسې برابر کړيوي لکه د بختي اوښانو منډووونه (دا هغه اوښان دي چې دوه دوه منډوه لري او په منځ د دواړو کې ټيټوالى وي دا زنانه هم ويښتان تړلې وي لکه دوه سرونه) چې دوى به جنت ته ته داخل نشي او د جنت بوى په هم ونه مومي پداسې حال کې چې بوى د هغه به دومره دومره واتن کې درک کولاى شي.

د دې حديث په شرحه کې علامه ملاعلي رحمه الله داسې وايي: (**كاسيات بنعمة الله عاريات من شكرها**) يعنې پټې به وي په نعمتونو د الله جل جلاله باندې ليکن د هغو نعمتونو شکر څخه به خالي وي يعنې شکر به نه اداکوي، نور هم زياتوي: (**وقيل يسترن بعض بدنهن ويكشفن بعضه اظهارا لجمالهن وابرازا لكمالهن**) داسې هم په شرحه د دې حديث کې ويل شوى: ځينې برخې د بدنونو به يې پټې کړيوي او ځينې نورې به يې ښکاروي د دې لپاره چې خپل ښايست او کمال وښاى. او يا خو داچې باريکې او نازکې چامې به يې اغوسښتي وي چې بدنونه يې ترى ښکاريږي

اګرچې په ظاهره خو جامې په غاړه لري لیکن بدنونه به یې ترې ښکاریږي نو په حقیقت کې لوڅې شوي او یا خو داچې په زیوراتو په پټې وي خو د تقوی له حیث به خالي وي او یا دا معنی چې د خلکو زړونه د خپل ځانونو طرفه ته مایلوي یا خو ډاچې ټکري (پړوني) د سرونو خپلو څخه لري کوي ترڅو مخونه یې ښکاره شې او یا داچې نورې زنانه به د دوی ناوړه فعل ته مایله کوي.

د «مائلات» معنای یې دادی: چې دوی به په زړونو او صورتونو سره نارینه ؤ ته مایله وي او یا داچې په تګ راتګ کې کبر کوونکي وي او یا داچې د پاک لمنی څخه به فسق او ناروا ته مایله وي.[1]

پدې هکله روایت دی: «**أنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِى بَكْرٍ دَخَلَتْ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ (صلى الله عليه وسلم) وَعَلَيْهَا ثِيَابٌ رِقَاقٌ فَأَعْرَضَ عَنْهَا رَسُولُ اللَّهِ (صلى الله عليه وسلم) وَقَالَ: « يَا أَسْمَاءُ إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا بَلَغَتِ الْمَحِيضَ لَمْ تَصْلُحْ أَنْ يُرَى مِنْهَا إِلاَّ هَذَا وَهَذَا» وَأَشَارَ إِلَى وَجْهِهِ**

١ ـ مرقاة المصابیح شرح مشکاة المصابیح د ملاعلي قاري، باب ما لا یضمن، ټوک ١١، مخ ٩٥، مکتبه شامله.

**وَكَفَّيْهِ**».١ ژباړه: یو وار اسماء رضي الله عنها حضور صلی الله علیه وسلم ته راغله او نازکې جامې اغوستی وې نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته و فرمایل :ای اسماء کله چې ښځه دحیض عمرته ورسیږي (پیغله شي) مناسبه نده چې د بدن یوه برخه یې هم ولیدل شي مګر دغه دغه اوخپل مخ او ورغوو ته یې اشاره وکړه.

د ښځو د پردی ساتني په هکله الله پاک فرمایي: ( **يَا أَيُّهَاالنَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاء الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَى أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا**).٢ ژباړه: ای پیغمبره خپلو ښځو، لورګانو د مومنانو ښځو ته و وایه چی خپل څادرونه را کوز کړئ تر څو و پیژندل شي او ونه زورول شي او الله بښونکی او مهربان ذات دی.

حجاب ساتل ډېرې ګټې لري لکه : د الله پاک امر په ځای کول چې په پای کې د الله پاک د رضا سبب ګرځي، روحي آرامتیا، دکورنی جوړښت، د ښځي عفت، حیا، حرمت او عزت

---

١ - سنن أبی داود، باب فِيمَا تُبْدِى الْمَرْأَةُ مِنْ زِينَتِهَا، د حدیث شمیره: ٤١٠٦.

٢ - د الاحزاب سورت، ٥٩ آیت.

پکې خوندی ساتل کيږي او په  بي حجابي کې د ښځي عفت، حيا، عزت او احترام له پښولاندې کيږي او په پای کې د الله جل جلاله د عذاب سره انسان مخامخ کيږي، نو ښځو ته پکار دی چې بي حجابي، نازکه او تنګو جامو اغوستلو  څخه ډډه وکړي ترڅو د خلکو سترګو څخه وساتل شي او پرديو ښځو ته کتل د سترګو زنا دی او دارنګه نارينه ۇ لره اړين دی چې خپل سترګې د پرديو نامحرمو څخه وساتي او د ښځو عزت او احترام دې وساتي.

# په پیغلو د ټوپک ډز کول
# او یا په بل دود سره د پیغلو د ټکری څنډه شکول

د اوسنی عصر یو بل ناوړه دود چې تر تر اوسه په ځینو سیمو کې را روان دی هغه دا چې په پیغلو د ټوپک ډز کول او یا په بل اصطلاح سره د نجونو د ټکری څنډه شکول، چې دا هم یو ډول د اجباري ودونو څخه دی چې تعریف یې دا دی:

کله چې د کوم یو ځوان یو نجلۍ خوښه شي نو هغه کوښښ کوي تر څو دا نجلۍ سره واده وکړي که چیرې د دې نجلۍ کورنۍ او یا دا نجلۍ په خپله له ده سره په واده کولو خوښه نوی نو هغهځوان څو ځلي د دې نجلۍ اولیاؤو ته ریباران ورلیږوی تر څو هغو دا نجلۍ ده ته ورکړي کله چې هغوی انکار وکړي او ریباران جواب شي نو دا ځوان واره ګوري کله چې دا نجلۍ د اوبو راوړلو، او یا ځمکې، پټې او باغ (بڼ) او یا د ژوند نور کوم

ځینو چارو لپاره ووځي دا ځوان ورشي د هغې نجلۍ د ټکري ښنډه (ژۍ) ونیسي او لږ شانته یې پرې کړي او غږ وکړي چې دا نجلۍ د ماشوه! ټول د خبر شي د ټکرۍ ښنډه یې ما پریکړی!

او یا دا چې د هغی نجلۍ د کور په دروازه کې د ټوپک ډز وکړی او غږ ورسره وکړي چې په فلانۍ نجلۍ ټوپک ما ویشتی دی خلک د خبر شي! هغه د ما ناموس دی څوک ورته نشی کتلای هغه د ما شوه! نو په پای کې دا نجلۍ بل څوک نشي غوښتلی، نو اوس د نجلۍ کورنۍ د دې لپاره چې دښمنیي زیاته نشي او دوی طاقت او زور هم د هغه په مقابل کي کم وي نو دا نجلۍ په داسې حال هغه ته ورکوي چې نه د نجلۍ او ندې د هغې د کورنۍ زړه وي چې داسې ځوان او یا هلک ته چې نه اسلامي پوها، نه اسلامي اخلاق، او ندې د نکاح عقد او شرایط پیژني، د نجلۍ کورنۍ  د دې لپاره داسې شخص ته دا نجلۍ ورکوي چې راتلونکی یې خراب نشي.

ځیني وخت خو دا ځوان داسې نام دار او زورور شخص وي چې هیڅکله هم هغه ته جواب  په نه سره نشي ورکولای او یا خو دا ځوان د نجلۍ کورنۍ ته اخطار ورکوې که دا نجلۍ چې ما یې د ټکرې ښنده شکولي او یا چې ما ټوپک پری ویشتلی بل چا ته د

ورکړه نو دا کړن به درته ښه نوی! او یا خو نورو خلکو ته اخطار ورکوي، که دا نجلۍ چا وغوښتله او یا یې واده ورسره وکړو نو د ما مقابلې ته دې تیار شي! نو پدې صورت کې نه د نجلۍ کورنۍ دا نجلۍ بل چا ته ورکولای شي او نه نور خلک دا نجلۍ غواړي؛ ځکه د دښمنۍ نه ویریږي، که چیرې د نجلۍ کورنکۍ دا نجلۍ بل چا ته په واده ورکړي نو داسې ځای کې به یې ورکوي چې معلوم نوی د نجلۍ کورنۍ به هم د خپل ابائي او اجدادي اصلی وطن څخه کډه کوي او هر څه په پریدی او هیڅ چا ته به ځای نه ورښایي نو د عمر لپاره د خپلوانو څخه ورک او لادرکه شو؛ ځکه که چیرې ځای چا ته وښايي نو د ځوان له لوری ورته د مرگ اخطار او گواښونهاو د جنگ اعلان ورکوي نو په یاد صورت کې به د نجلۍ کورنۍ او نوی خیښانو د تل لپاره د دښمنۍ او تربگنۍ په غاړه واخستله او عمر یې په خطر کې شو.

په داسې حالاتو کې ځینې وخت د خلکو ملکان او قومي مشران د دې ستونزي د حل لپاره غونډه کوي او هغې کې داسې فیصله کیږي چې اسلامې شریعت څخه ډېره لري وي، یوازینی موخه پکې دروغه جوړه وي نه دا چې دا شرعي ده او که نه، کومه شرعي او قانوني پریکړه نوي، په ځینو صورتونو کې د

نجلۍ کورنۍ ته دوه یا درې ښځې د دې نجلۍ په بدل کې ورکولای شي چې دا صورت نورې معصومې نجونې هم د ټول عمر لپاره په بدۍ او بد بختی کې اخته کړیاو هغه نجونې د خیښانو په کورنۍ کې د تل لپاره په بد نوم یادیږي چې دا په بدو کې راکړل شوې دي کله کله د نجلۍ کورنۍ د هغې په ورکولو سره ډېر زیات ولور لاس ته راوړي او ملکان او مشران پدې سره یوازې او یوازې روغه او جوړه په پام کې نیسي نه کومه شرعي پریکړه.

نو راځئ چې کامل په اسلام کې داخل شو او پوره عمل پرې وکړو او دنیا او آخرت بریا په نصیب کړو، دا نه چې که مي گټه وي عمل پرې کوم او که نه نو عمل نه کوم نو دا په نجونو او پیغلو د ټوپک ډز کول یا یې د ټکري ځنډه شکول دا د شریعت په رڼا د څو لاملونو څخه ناروا او غیر شرعي دی:

۱- پدې کې د هغو ښځو چې الله پاک ورته کرامت ورکړی د هغې بي عزتي، توهین او سپکوالی دی، چې اسلامي شریعت د دارنگه ناوړه کړو څخه منع کړی او د مسلماني ښځي او سړی توهین یې حرام بللی د اسلام شرعي مقاصدوله ډلي چې دخلکو د دین، نفس، عقل، مال او عرض ساتنه ده، شمیرل کیږي د

اشخاصو آبرو او عزت مسئله دی چې په قرآنی تعليماتو او نبوی سيرت کې هومره د پت او حيثيت انسان ته توجه شوی او تاکيد پری شوی آن چی خپله شخص هم نشي کولای او حق نه لري چې خپل عزت تر پشولاندی کړي بلکه انسانان بايد دخپل عزت احترام وکړی او په ساتنه کې يې هڅه وکړي اوهم د بل د عزت، آبرو او پت ساتني ته په پوره توگه پاملرنه وشي او د انسان د عزت په هکله د الله جل جلاله ستر پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «**فان الله حرم عليكم دماءكم و أموالكم و أعرضكم كحرمة يومكم هذا، في شهركم هذا، في بلدكم هذا**».[۱] يعني: په رښتيا چی ستاسی ويني، شتمني، عزتونو يو پربل حرام دی لکه حرمت د دی ورځيد ستاسو پدې ښار او دی مياشت کې.

دارنگه روايت دی: «**عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ قَالَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوفُ بِالْكَعْبَةِ وَيَقُولُ مَا أَطْيَبَكِ وَأَطْيَبَ رِيحَكِ مَا أَعْظَمَكِ وَأَعْظَمَ حُرْمَتَكِ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَحُرْمَةُ الْمُؤْمِنِ أَعْظَمُ عِنْدَ اللَّهِ حُرْمَةً مِنْكِ مَالِهِ وَدَمِهِ وَأَنْ نَظُنَّ بِهِ إِلَّا خَيْرًا**».[۲]

---

۱- صحيح البخاری، باب ربَّ مُبَلَّغٍ أَوْعَى مِنْ سَامِعٍ، د حديث شميره: ٦٦.
۲- سنن ابن ماجه، حرمة دم المؤمن وماله، د حديث شميره: ۳۹۲۲.

ژباړه: عبد الله بن عمررضي الله تعالی عنهما وايي: يوه ورځ مې رسول صلی الله عليه وسلم وليد چې د بيت الله په طواف مشغول ؤ ويې فرمايلي: ای کعبی! ته څومره زړه وړونکی او خوشبويه يې ستا حرمت څومره لوړ او ډېر دی، خو قسم په هغه ذات چې د محمد نفس د هغه په يد بلاکيف کې دی د مومن او دځان او مال حرمت يې د الله متعال په وړاندې د ستا تر حرمت زيات او داچې په هغه به گمان نکوو مگر خير.

پدې دواړو حديثو کې معلوم شو چې د مسلمان، ښځه وي او که نارينه عزت او آبرو ډېر زيات دی حتی له کعبې مبارکې څخه هم زيات دی، نو بايد د مسلمان حق ضايع نشي.

۲ـ پدې کې په نجلۍ او د هغې په کورنۍ ظلم او تجاوز کول دی پدې معنی چې هغوی ته کوم حق شريعت ورکړی چې هغه نجلۍ ته د ميړه د انتخاب اختيار حق دی او دا ځوان ناپوه دا حق د هغې څخه سلبوي او د هغې د رضا پرته دی د نکاح اعلان کوي، گواښونه، اخطارونه او تهديدونه ورکوي چې دا د دوی حق لوی تيری او ظلم دی چې منع يې ونشي نو په ټولو د عذاب د را تللو ويره دی پدې هکله د ابوبکر صديق رضی الله عنه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم روايت دی: «**إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوُا الظَّالِمَ فَلَمْ**

**يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ».**[1] ژباړه: کله چې خلک کوم ظالم ګوري او له ظلم نه يې منع نکړي نو نږدې دی چې الله جل جلاله ټول په سخت عذاب اخته کړي.

**او ظلم کول د نورو په حقوقو حرام دی:** «**عن جابر بن عبد الله أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال اتقوا الظلم فإن الظلم ظلمات يوم القيامة».**[2] ژباړه: د جابر بن عبد الله رضي الله عنه د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايلي دي: د ظلم څخه ځانونه وژغورئ؛ ځکه ظلم د قيامت د ورځې تيارې دي.

۳- پدې کې په هغې پاک لمنې نجلۍ باندې يو ډول تور پورې کول دي چې ځينو خلک داسې ګمان کوي چې امکان لري د نجلۍ د وړاندې څخه دې ځوان سره اړيکې درلودې نو ځکه يې د ټکري څنډه ورپريکړه او يا ځکه يې د ټوپک ډز پرې وکړو، پداسې حال کې چې هغه نجلۍ برى او پاکه وي نو پدې کې په هغې يو ډول تور لګول دي او تور لګول کبيره ګناه دی پدې هکله سرور کائنات فرمايلي دي: **عن ابى هريرة رضي الله عنه أن**

۱- سنن أابي داود، باب الأمر والنهي، د حديث شميره: ۴۳۴۰.

۲ - صحيح الامام مسلم، باب تحريم الظلم، د حديث شميره: ۲۵۷۸.

**رسول الله صلی الله علیه وسلم قال:** «**اجتنبوا السبع الموبقات، قیل: یا رسول الله! ما هن قال: الشرک بالله، والسحر و قتل النفس التي حرم الله الا بالحق و أکل مال الیتیم و أکل الربا و التولي یوم الزحف و قذف المحصنات الغافلات المؤمنات**».۱

ژباره: د ابي هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: له اووه هلاکوونکو ګناهونو څخه ځانونه وژغورئ پوښتنه وشوه ای د الله رسوله هغه کوم دي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د الله سره شریک نیول، سحر او دهغه نفس وژل چی وژنه یې الله نارواکړی مګر په حق سره د یتیم د مال خوړل، سود خوړل، ددښمن د حملی پر مهال د جګرې نه تیښته او په مؤمنو پاکو بی خبره ښځو پسې تور پوری کول دي.

نو لدی حدیث څخه معلومیږي چې په پاکو ښخو تور پوری کول غټه ګناه دی، نو په مذکور ډول ناوړه دود کې په پاکو نجونو تور پوریکول دي چې دا کړن د شریعت له مخه مردود دی.

۱- صحیح الامام مسلم، باب بیان الکبائر و أکبرها، د حدیث شمیره: ۸۹.

۴ـ په دا شان د ناوړه دود واده کې هغه محبت او مينه فضا چې الله پاک د ښځه او ميړه ترمنځ اچولي له منځه وړل کيږي او په ځاى يې د دوی ترمنځ کرکه اونفرت، حسد او بغض راځي.

۵ـ پدې ناوړه دود کې نجلۍ او د هغې کورنۍ ته ضرر رسيږي او د اسلامي شريعت له ځان ته او بل ته ضرر رسول حرام دي ځرنگه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:**عَنْ أَبِي صِرْمَةَ صَاحِبِ النَّبِيِّ (صلى الله عليه وسلم )عَنِ النَّبِيِّ (صلى الله عليه وسلم)أَنَّهُ قَالَ : «مَنْ ضَارَّ أَضَرَّ اللَّهُ بِهِ وَمَنْ شَاقَّ شَاقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ».**[1] ژباړه: د رشول صلى الله عليه وسلم صاحب أبي صِرمه د رسول الله صلى الله عليه وسلم ځخه روايت کوي چې ويی فرمايل: چاچې بل ته ضرر ورساوه الله هغه ته ضرر رسوي يعني جزايې ورکوي او چاچې بل ته تکليف ورساوه الله به هغه ته تکليف ورسوي يعني جزايې ورکوي.

٦ـ پدې ډول دود کې د دواړو طرفه دښمنۍ له منځه وړو کې ځيني وخت قومي مشران او ملکان دا نجلۍ هغه ځوان چې په خپل سر يې په دا نجلۍ ټوپک ويشتي پرته د رضا د هغې ځخه

[1] ـ سنن أبي داود، باب القضاء، د حديث شميره: ٣٦٣٧.

په نکاح ورکوي او وایي چې اوس خو ټوپک پرې ویشتلی دی او حال داچې د هغې د رضا پرته نکاح کول کوم شرعي حیثیت نلري دارنګه د دې نجلۍ د ورکولو په مقابل کې د نجلۍ کورنۍ ته دوه یا درې او یا څلور نجونې د بدو په مقابل کې د نجلۍ کورنۍ ته ورکوي چې دا یو غیر شرعي عمل دی او دوی وایي چې موږ په دې سره د دوه ؤ کورنیو ترمنځ صلحه راولو او دا ګناه او لوی جرم دی؛ ځکه ازاد مکلف انسان ورکول په بدو کې د صلحې په اړوند دا صلحه په حرامو سره دی او حرامه دی په دې هکله حضرت نبي کریم علیه الصلاة والسلام فرمایي: «**الصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ، إِلاَّ صُلْحًا حَرَّمَ حَلاَلاً، أَوْ أَحَلَّ حَرَامًا**»[1]. یعنې: د مسلمانانو ترمنځ هره صلحه جایز دی پرته د هغې صلحې څخه چې حرام حلاله وي او حلال حرام وي.

۷ ـ دا ناوړه دود په ځینو ختونو کې د قتل او د ناروا وینو تویولو سبب ګرزي او قتل لویه ګناه دي، الله پاک فرمایي: (**مَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا**

---

۱ ـ سنن ترمذي، باب ما ذکر فی الصلح بین الناس، د حدیث شمېره: ۱۳۵۲ .

**عَظِيمًا)**.[1] ژباړه : څوک چې کوم مؤمن په قصد او پوهې سره ووژني د هغه سزا جهنم دی چې د همیش لپاره به پکې وي او په هغه د الله غضب او لعنت دی او د ده لپاره یې لوی عذاب تیار کړی دی او دارنګه نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «**عن عبد الله بن عمرو :أن النبي صلى الله عليه و سلم قال لزوال الدنيا أهون على الله من قتل رجل مسلم**».[2] ژباړه: د عبد الله بن عمرورضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د ټولې دنیا نړیدل په نزد د الله پاک د یو مسلمان په ناروا قتل څخه اسان دی.

۸ ـ پدې ناوړه دود کې ښځې سره هغه د خوښې او نیکۍ فضا چې الله پرې امر کړی له منځه وړل کیږي، الله فرمایي: **(وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا)**.[3] ژباړه : او ورسره په نیکۍ چلند وکړئ او که چیرې مو ورڅخه کرکه وکړه نو ډېر داسې شیان دی چې تاسې یې نه

۱ - د النساء سورت ۱۹ آیت.

۲ ـ صحیح الامام مسلم، باب تشدید قتل المؤمن، د حدیث شمیره: ۱۳۹۵.

۳- د النساء سورت ۹۳ آیت.

خوښوی خو الله په هغه کې د خپل حکمت له لوری لوی خیر اچولی وي.

۹ ـ دا ناوړه دود یعنې په خپل سر په پیغله نجلی ټوپک ویشتل او یا د ټکري څنډې یې شکولو سره نکاح کول زیات وخت له ګاونډیانو او خپلوانو سره پیشیږي او هغوی سره د بد چلند لامل ګرزي او پېګنېو حدیثونو کېګاونډی ته ضرر رسولو حرمت راغلی دی د بیلګې ډولدا حدیث: «**وعن أبي هريرة رضي الله عنه آن النبي صلی الله علیه وسلم قال**: **والله لایؤمن، والله لایؤمن، والله لایؤمن، قیل من یا رسول الله؟ قال الذي لایؤمن جاره بوایقه**».[1] ژباړه: قسم په الله جل جلاله ایمان نلری، ایمان نلری، ایمان نلری، وویل شول: څوک یا رسول الله! وی فرمایل: هغه څوک چې ګاونډی د هغه د ازار، زوررولو اوشرنه په امان نه وي.

د دې حدیث څخه دا معلومیږي چې څوک ګاونډیانو ته ضرر رسوي هغه د کامل څښتن ندی بناء هغه څوک چې د خپل

---

۱- صحیح البخاري، بَابُ إِثْمِ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَايِقَهُ، د حدیث شمیره: ۶۰۱۶.

گاوندی په لور او خور په زور او د رضا پرته ټوپک په ولي سره نو پدې وعيد کې داخل دی - **أعاذنا الله من ذلک** .

دا ناوړه دود يعنې په نجلۍ ټوپک ويشتل ېری وخت له خپلوانو سره کيږي په پايله کې له هغوی سره د صله رحمي رابطه قطع کيږي او دا د شريعت له مخې حرام بلل شوی، څرنګه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:«**لا يدخل الجنة قاطع رحم**»[1] ژباړه: د صله رحمي پری کونکی به جنت ته داخل نشي. نور هم ګن احاديث د صله رحمي د قطعي د ګناه په هکله راغلي ډېر واړې د دې ګناه عذابوړاندې په دنيا کې الله پاک ورکړي.

دا څو په شمير زيانونه د دې ناوړه دود ذکر شول او نور ډېر اضرار پکې شتون لري، د دې لپاره چې بحث ډېر لوی نشي په همدې اکتفاء کوو.

١ - صحيح الامام مسلم، باب باب صلة الرحم وتحريم قطيعتها، د حديث شميره: ٢٥٥٦.

## د ماشومانو حقوقو ته نه پاملرنه

بل د هغو ناوړه دودونو څخه چې د مـوږ ټولنـه کـې پـه ځینـو سیمو د هیواد کې منځ ته راځي هغه د کوچنیانو د حقوقـو ضـیاع دی یا په بل عبارت سره د ماشومانو حقوقو ته نه پاملرنـه نـو اړینـه بولم چې د ماشومانو یعنې د هغو چاچې دمګـړي هغـوی ضـعیف او ناتوانه او مرستې ته ضرورت لري لکـن د راتلـونکی او مسـتقبل ځوانـان، مشـران او مسـؤولین بلـل کیـږي د هغـو حقـوق پـایمال کېدل هم د یو دود په څیر په سیمو کې رواج دیـاو هغـو نـه شـاقه کارونه پـری کـولای شي او تعلـیم او نـورو حقوقـو تـه توجـه نشي-کولای، د ماشومانو یعنې د اهل او عیال د مسئولیت په هکله الله پاک جل جلاه فرمایي: (**یآأیها الذین أمنوا قوا أنفسکم وأهلیکم نارا**).[1] ای مومنانو! ځانونه او خپل اهل د دوزخ له اوره وژغورئ.

---

۱ ـ د التحریم سورت: ٦آیت.

نو ډېر اړين يې بولم چې د ماشومانو حقوقو په هکله څه خبره وکړم تر څو د ټولنې دغو بې وسه او مظلوم قشر ته توجه وشي او له دغو ناخوالو، د هر لورى په جنګ جګړو کې شريک کړى شوي اوپه شاقه کارونوکې له دوى څخه ګټه اخستل کړى شوى په ځينو حالاتو کې د دوى متوليانو له خوا د دنيايي کمي مادي ګټې لپاره مهاجرت او سفر ته مجبور کړى شوي چې ډېر يې په بحرونو کې د کبانو قرباني شول نو راځئ د دغه مظلومانو حقوقو ته په تفصيل سره غوږ شو او په خپل ژوند کې د دوى حقوقو ته جدى پاملرنه وکړو:

## لومړى حق د هغه نسبت خپل پلار ته:

کله چې انسان دنيا ته راځى د ضعف او بې وسى په حالت کې وي او محتاج وي تر څو يې څوک وروزى، په غير کې يې ونيسى او شفقت او مهربانى ورسره وشى تر څو پخپلو پښو ودريږي دلته دى چېد اللهجل جلاله د نسب رابطه چې د هغه د مور او پلار تر منځ بيوند دى بر قراره ګرځولى او د هغې تر سيورى لاندې ماشوم د هر ډول عنايت او حقوقو څخه برخه من کيږى. په دې هلکه اللهجل جلاله فرمايى: (**هو الذي خلق من المآء**

**بشرا فجعله نسبا وصهرا)**.[1] الله تعالی هغه ذات دی چې د اوبو څخه يې انسان منځ ته راووست، نو د هغه (رابطه) يې د (نورو سره) د نسب اوزوجيت (قرابت) له مخې وټاکله.

دلته دی چې اللهجل جلاله د تبني (فرزند خوانده گی) قضيه او د اسلام څخه د مخه د جاهليت رسم او رواج چې د انسان د نسب د حق تر منځ حايل کيده له منځه يووړ او وې فرمايل:«**وماجعل أدعياءکم ابناءکم**».[2] يعنې: او ويې نه گرځول فرزند خوانده گی ستاسی حقيقی زامن». او دارنگه فرمايي: «**ادعوهم لأبائهم هو أقسط عندالله**».[3] يعنې: هغوی ته نسبت ورکړئ د هغوی پلرونو ته، دا د اللهجل جلالهپه وړاندې عدالت ته نږدې دی.

## دوه يم حق ښه نوم درلودل:

د ماشوم د حقوقو څخه يو هم د ښه نوم درلودل دی، ځکه د نوم پرته د انسان معرفت ممکن نه دی.

---

١ ـ د الفرقان سورت: ۵۴ آيت.

٢ ـ د الأحزلب سورت: ۵ آيت.

٣ ـ د الأحزلب سورت: ۵ آيت.

همدا راز ممکنه نه ده چې هغه د خپلو حقوقو او امتیازونو برخمن شی. په دې هکله روایت دی:«**عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– إِنَّكُمْ تُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَسْمَائِكُمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِكُمْ فَأَحْسِنُوا أَسْمَاءَكُمْ** ».[۱] ژباړه: د أبي الدراء رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلی: تاسئ به د قیامت په ورځ په خپلو نومونو او د پلرونو په نومونو غوښتل کیږي، ځکه نو ښه نومونه غوره کړئ.

او د ښه نومونو څخه لکه چې په احادیثو کې راغلي دي هغه دي چې الله جل جلاله ته د انسان د بنده ګۍ دلالت وکړي لکه عبد الله، عبدالرحمن.... او داسې نور یا د انبیاء علیهم الصلاة والسلام له نومونو څخه وي لکه محمد، ابراهیم، موسی او داسې نور.

## دریم حق:

عقیقه هم د ماشوم د حقوقو څخه ده چې په عقیقې سره د ماشوم د ولادت څخه لمانځل دي چې پس له ولادت څخه یو

۱ ـ سنن أبي داود، باب في تغيير الأسماء، د حدیث شمیره: ۴۹۵۰.

پسه ذبح کیږیاو د ماشوم د سر ویښتان خریل کیږیاو د پسه غوښه لکه د قربانۍ ویشل کیږي چې ښه ورځ یې اوومه ده چې د نه امکان په صورت کې څوارلسمه او یا یوویشتمه ورځ گنل شویده.

## د عقیقې حکم سنت دی:

که څه هم دځینو فقهاوو له نظره هغه واجب گنل کیږي او په دې نظر دی چې تر څو پسه ذبح نشی واجب د والدینو له ذمی څخه نه ساقط کیږی، اما د جمهورو فقهاوو راجح قول دا دی چې عقیقه په هغه صورت کې چې انسان یې وسه ولری سنت ده او نیته یې د دریو اونیو په منځ کې ده. په دې هکله (چې عقیقه د ماشوم حق دی) زیات حدیثونه روایت شویدی چې د هغې جملې نه دا روایت هم دی: «**عَنِ الْحَسَنِأَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الْغُلَامُ مُرْتَهَنٌ بِعَقِيقَتِهِ " أَوْ قَالَ: " بِعَقِيقَةٍ تُذْبَحُ يَوْمَ السَّابِعِ، وَيُحْلَقُ رَأْسُهُ وَيُسَمَّى**».[1] نوی پیدا شوی ماشوم معلق دی د عقیقی تر

---

١ - شرح مشكل الآثار للطحاوي، باب بيان مشكل ما روي عن رسول الله صلى الله عليه وسلم، د حدیث شمیره: ١٠۴٠.

اداء کولو پوري چې په اوومه ورځ به ذبح شـی، د ده ويښـتان دې وخريل شينوم د کيښودل شی.

## څلورم د رضاعت (شيدو خوړلو) حق دی:

د کوچني د زيږيدلونه پس لومړنی مهم خوړو ته چـې ارتيـا لـری هغـه د مـور شـيدې دي. مـور د شـفقت او عـاطفی لـه مخـی دی مسؤوليت څخه سر غړونه نکوی او په رضا او رغبـت سره دا وجيبـه تر سره کوي.

د ماشوم د حق او د ميـندو د مسـؤوليتونو پـه هکلـه اللـه تعـالي فرمـــايي: (**والوالـدات يرضـعن أولادهـن حـولين كـاملين لمـن أراد أن يـتم الرضاعة**)[1].

ميندی خپلو ماشومانو ته تر دوه کلونو دې شيدې ورکړئ، د هغه چا لپاره چې غواړی د رضاعت موده پوره کړي.

## پنځم د تعليم حق:

هغه څه چې د ځان څخه د مشروع په هلکه دی او همدا راز د بدني لياقت تقويه او ورزش او داسې اور دی په اسلام کې مشروع

١ - د البقرې سورت، ٢٣٣ آيت.

دفاع د یو مسلمان مسلم حق ګڼل کیږي چې په عام ډول لاندیني چارې رانغاړي:

۱ ـ د دین او عقیدې څخه دفاع چې د جهاد تر مفهوم لاندې د الله جل جلاله په لاره کې تر سره کیږي.

۲ ـ د نفس څخه د فاع.

۳ ـ د آبرو، عزت او کرامت څخه د فاع.

۴ ـ په دی هلکه حدیث شریف دی چې:**«عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ : «مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ أَوْ دُونَ دَمِهِ أَوْ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ».١**

ژباړه: د سعید بن زید له نبي صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې ویی فرمایل: له شي هغه شهید دی، څوک چې د خپل دین د دفاع په خاطر وژل شي هغه شهید دی.

دا هم په حدیث شریف ثابته ده چې پیغمبرصلی الله علیه وسلم د اولادونو په ښوونه او روزنه او د هغوی آشنا کول د آس سپریدلو او تیر اچولو باندې تأکید کړیدی. ځکه نو هر هغه څه چې د انسان د فکر او ذهني ودې یا بدني تربیت یا د ځان، مال،

١ - سنن أبي داود، باب في قتال اللصوص، د حدیث شمیره: ۴۷۷۴.

عزت او آبرو څخه د مشروع دفاع لپاره ګټور وي او هغه ته اړتیا لري، د هغه زده کړه او پوهیدل د هغه د مسلمو حقوقو څخه ګڼل کیږي. په دې برخه کې باید تقصیر او اهمال ونشي بلکې د هغې د حصول او تحصیل زمینه برابره شي تر څو ماشومان هغې ته لاس رسی پیدا کړي.

## شپږم حق د ماشوم څخه د نظر غوښتنه:

د ماشوم څخه نظر غوښتنه د تمرین او د هغو د هڅولو پخاطر تر څو په راتلونکې کې وکولای شي د پوخ نظر او رایې خاوند وي دا هم د ماشوم او کوچني سره د اسلامي شریعت سره سم چلن دی، ماشوم په هر شی کې تمرین ته اړتیا لري تر څو هغه استعداد یې چې الله جل جلاله ورکړیدی تقویه او وده وکړي.

دلته دی چې کله دماشوم څخه د کومې موضوع په اړه پوښتنه کیږي هدف د هغه د استعداد سرکوب کول نه بلکې د هغه د استعداد د معلوماتو پوهه او د برداشت ځواک وي. کله چې ځواب یې سم وي باید هغه لا زیات تقدیر او تشویق شي تر څو د هغه د ذهني ودې او د زیاتی هڅې او هاند سبب شي او که چیرې ځواب یی سم نه وي، نباید چې د سرزنش سره مخامخ

شی بلکې په ډېره مهربانۍ سره باید لارښوونه ورته وشیتر څو حوصله او همت یې اغیزمن نشي.

په دې هلکه یعني دماشوم د استعداد، معلوماتو او ذهني او فکري ودې په هلکه قرآن پاک وایي: (.. **فإن أنستم منهم رشدا فادفعوا إليهم أموالهم**...)[1]. یعني که چیرې تاسو دهغو (یتیمانو/ کوچنیانو چې پلرونه یي وفات شویوي) پوه احساس کړه؛ نو مالونه یې ورکړئ.

همدا راز اسلام هر ډول کورني تاوتریخوالی منع گرځولی دی ځکه د مور په وړاندې تاوتریخوالی چې د ماشوم واقعي تکیه ځای گڼل کیږي، د ویرې اوخوف د فضا باعث گرځي او پر ماشوم مستقیمه اغیزه لري. په حدیث شریف کې ذکر شوي چې کله به رسول اکرم د ماشوم ژړا واوریدله نو خپل خوږ قرائت به یې لنډ کړ: «**عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ إِنِّي لَأَدْخُلُ فِي الصَّلَاةِ فَأُرِيدُ إِطَالَتَهَا فَأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَأَتَجَوَّزُ مِمَّا أَعْلَمُ مِنْ شِدَّةِ وَجْدِ أُمِّهِ مِنْ بُكَائِهِ**».[2] ژباره: ځیني وخت زه په لمانځه کې

---

۱ـ د النسآء سورت، ٦ آیت.

۲ ـ صحیح البخاري، باب من أخف الصلاة عند بکاء الصبي، د حدیث شمیره: ۷۱۰.

داخليږم غواړم چې لمونځ اوږد کړم؛ نو د ماشوم ژړا مې تر غوږه شي؛ نو لمونځ (قرأت) مختصر کړم د هغه له کبله چې زه درک کړم احساس د تکليف د مور د ژړا د هغه څخه.

## اووم حق د ماشوم ساتنه اوحفاظت:

د حفاظت کلمه عامه ده او دماشوم ساتنه د هر ډول خطر په وړاندې افاده کوی لکه جسمي رواني،اخلاقي، عصبي او داسې نور خطرونه.

دماشوم وهل او ټکول په اسلام کې منع دی او دا چې په لس کلنی کې د لمونځ په برخه کې د ماشوم تأديب ته اشاره شويده، مراد داسې وهل نه دي چې  د ماشوم د معيوبيت سبب شي بلکې هدف تأديب دی،همدا راز د ماشوم ساتنه د فرهنگی انحرافاتو، الکهولی موادو د استعمال، مخدره لکه چرس، هيروئين او نور چې صحت او اخلاق ته يې زيان رسوی، ضروری گڼل کيږي.

## اتم حق د نفقې:

نفقه عبارت دی د ژوند د اړتياوو لکه خوراک، څښاک، کور، کالي او داسې نور.

د نفقې د لزوم سبب دوه شيان دي:
**الف:** زوجيت، چې د ښځې نفقه پر ميړه باندې لازمه ده.
**ب:** د اولاد قرابت، لکه والد، ولداو داسې نور.
د نفقې په هکله هم د ولادت قرابت چې د اصول او فروع تر منځ دی، مقصد ګڼل کيږي او د نفقې وجوب هم په همدې اساس دی.

## د نفقې وجوب د قرآن او سنتو له نظره:

الله پاک فرمايي: (**لينفق ذوسعة من سعته...**)١.
نفقه دی وکړئ توان لرونکی د خپل توان سره سم.
اودارنګه فرمايي: (**وعلى المولود له رزقهن وكسوتهن بالمعروف...**).[٢]
پر والد لازمه ده نفقه او لباس د هغو ښځو چې ماشوم ته شيدې ورکوي (د اجرت په مقابل کې) په ښه طريقی سره.

---

١ـ د الطلاق سورت، ٧ آيت.
٢ ـ د البقرې سورت. ٢٣٣ آيت.

په حديث کې راغلي دي چې د ابو سفيان ښځې د هغه د بخل څخه پيغمبرصلی الله عليه وسلم ته شکايت وکړ چې پر هغې او اولادونو يې نفقه نکوي، پيغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل:

**«عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ هِنْدَ (هِنْدًا) بِنْتَ عُتْبَةَ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ وَلَيْسَ يُعْطِينِي مَا يَكْفِينِي وَوَلَدِي إِلَّا مَا أَخَذْتُ مِنْهُ وَهُوَ لَا يَعْلَمُ فَقَالَ خُذِي مَا يَكْفِيكِ»**.[1] ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله تعالی عنها څخه روايت دی چې وايي: هنده د عتبه لور وويل: اي رسول الله! ابوسفيان بخيل دی ما او د ما اولاد ته دومره څه نه راکوي چې د موږ بس شي، آيا جايز دی چې په پټه څه تې واخلم؟ ويي فرمايل: دومره ترې واخله چې د ستا (او د ستا د اولاد) کفايه شي.

د ماشومانو حقوق ډېر زيات دي د بېلګې په ډول مې دا څو حقوق ياد کړل شو؛ ځکه د ماشومانو د حقوقو تلف په ځينو سيمو کې د رواج په څير ورته کتل کېږي، د دوی د هر حق تلف هلته يو دود او رواج ګرځيدلی او د ماشومانو هر حق په ځای کول د

---

١ ـ صحيح البخاري، بَابٌ إِذَا لَمْ يُنْفِقِ الرَّجُلُ فَلِلْمَرْأَةِ أَنْ تَأْخُذَ بِغَيْرِ عِلْمِهِ مَا يَكْفِيهَا وَوَلَدَهَا بِالْمَعْرُوفِ، حديث رقم: ۵۳٦۴.

دې ناوړه دود د حل لار دی، الله پاک دوکړي چې د دوی ټول حقوق په سمه توګه ادا کړی شي.

دا شپاړس (١٦) دودونه مو په دې کتاب کې بیان کړه دا نه چې همدا ناوړه دودونه دې موږ په ټولنه کې دي او نور نشته بلکه دا د نمونې په توګه ذکر شول  او نور په لس ګونو ناوړې دودونه او رواجونه شتون لري چې د اسلامي شریعت له مخه مردود دي او د موږ په ټولنه کې شتون لري د بیلګې په ډول: نوروزي، اختری او براتي د افغانانو هغه ځانګړي رسم او رواجونه دي چې د دغو خاصو ورځو په رانږدې کیدو سره یې د هلک کورنی خپلې کوژده شوې ناوې لپاره ور وړي په پای کې د هلک اړخ له ډیرو مالي ستونزو سره لاس او ګریوان شي تر دې چې په ځینو حالاتو کې د واده مراسم ډېر ورسته کوي، ولور اخستل او په هغه کې ډېر افراط کول او داسې نور د دې ټولو حل د اسلامي شریعت په تطبیق سره تأمین کیږي.

نور هم داسې ناوړه دودونه په هیواد کې شتون لري چې باید هغه ټول د شریعت په درشل کې حل او فصل شي.

## د حل لارې چارې:

د دې ناخوالو او ناوړه دودونو څخه د خلاصي لارې چارې په لانـدې ډول دي:

۱ـ اسلامي شریعت په ټولو برخو د ژند کې تطبیقول؛ ځکه اسلامي شریعت د انسان ټولو حالاتو حتی د هغه د پیدایښت څخه وړاندې او د مرګ څخه ورسته، ته شامل دی. غوره حل د ټولو ستونزو د الله پاک شریعت ده او د هغه څخه مخ اړونه سبب د هلاکت او د دنیا او اخرت خسران دی.

۲ -سرتاسري په ټولو وګړود نافذه قوانینو تطبیقول.

۳ - د اسلامي ارزښتونو او د قوانینو په اړه د خلکو د پوهې کچه لوړول، ترڅو د داسې ناوړه دودونو مخنیوی وشي .

۴- د هیواد اقتصاد پیاوړي کول.

۵ ـ د ګنو لارو چارو او وسایلو له لوری د شریعت خلا ف رواجونو او عنعناتو په ناوړه پایلو د خلکو خبرتیا.

٦ ـ د احتساب اداره په ټول هیواد کې پیاوړې کول؛ ځکه دې اداري شتون په اسلامي هیواد کې د روح په څیرضروري ده او د دې اداري په پیاوړتیا او عمل سره به دې ناوړه دودونه ته د پای

ټکی کیښودل شي او ټول وګړي ښځینه او نارینه به د ارامۍ، سوکالۍ، آبادۍ په فضا کې ژوند وکړي.

# خاتمه

د وړاندې وینا څخه څرګنده شوه چې د موږ په ټولنه کې ډېر ناوړي دودونه او رواجونه شتون لرى چې ځینې د هغو څخه ذکر شول چې هغه دادي: د شغار یا بدل واده، د میراث څخه د ښځو محرومیدل، ښځې د مال په ډول په میراث کې وړل، د نجونو پلورل، اجباري ودونه او په بدو کې د ښځو ورکول... او داسې نور دا دې بېلکې په ډول ذکر شوى دي نور هم داسې ډېر دودونه شتون لري چې د اسلامي شریعت سره په ټکر کېدي نو هر کله چې اسلامي شریعت تطبیق کړو د ټولو ناخوالو او بدبختیو څخه په په ډېر اسانۍ خلاص شو.

# وړاندیزونه

د یاد شوو ناوړه دودونو او رواجونو څخه د خلاصي لپاره دا لاندې وړاندیزونه ذکر کوم:

۱ـ د ناوړه او شریعت او قانون سره په ټکر کې دود او رواج پلې کونکې باندې اسلامي شریعت او قانون تطبیقول.

۲ـ د داسې ناوړه دودونو په هکله د رسمي او خصوصي ادارو لخوا باید ورکشاپونه، سمینارونه او د کتابونو او مقالو لیکنه په پام کې ونیول شي ترڅو خلکو ته یې د هغو ناوړې پایلې او اغیزې په ډاګه شي او په نتیجه کې یې خلک ځان ترې وژغوري.

۳ـ خپل اولادو او هر هغه چا سره چې د هغو متولیان او واکمنان یو د خپل کور په ودانۍ کې ورسره مشوره وشي او ورسته د مشورې څخه د هغو د واده تصمیم ونیول شي او داسې کړن به د ډېرو ناخوالو او بدبختیو لکه د کور څخه د تېښتو، ځان وژنې، دښمنۍ، بې اتفاقۍ او داسې نورو ستونزو څخه مخنیونه وکړي.

۴ – په هیواد کې د تعلیم، پوهاوی او لیک لوست کچې زیاتول.

۵ ـ په هیواد کې د اقتصادي وضعې کچې لوړول.

٦ ـ د مکافاتو او مجازاتو ترویجول.

٧ ـ په هیواد کې د کاری زمینو زیاتول.

٨ ـ د هیواد په کچه تعلیمي مراکز، تأسیسات او مدارس رغونه تر څو د موږ مؤمن ملت د نورو او د خپلو حقوقو څخه پوهاوی په اسانۍ سره لاسته راوړي او په پایله کې دا ناوړه دودونه ته د پای ټکی کېښودل شي.

# مصادر او سرچينې

١-قرآنكريم.
٢- بدائع الصنائع.
٣ - تفسير القرآن العظيم لأبي الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي، المتوفى٧٧۴ هـ بتحقيق سامي بن محمد سلامة، الناشر: دار طيبة للنشر والتوزيع، الطبعة: الثانية ١۴٢٠هـ.
۴ـ تفسيرالبحر المحيط لأبي حيان الغرناطي المتوفى: ٧۴٥هـ.
٥ـ تفسير روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني لأبي الثناء الألوسي المتوفى: ١٢٧٠هـ
٦ـ تفسير معارف القرآن، د مولانا مفتي محمد شفيع، د وحيد الله ژباړه، مطبعه وحيدي كتب خانه د كال چاپ غير معلوم.
٧ ـ تنوير المجاهدين، د حركت د جمعية العلماء نامتو علماؤ تأليف، ١٣٧٠ كال.
٨ - جامع البيان في تأويل القرآن،محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، لأبي جعفر الطبري،المتوفى:٣١ هـ

بتحقيـق أحمـد محمـد شـاكر، النـاشر: مؤسسـة الرسـالةالطبعة: الأولى، ١٤٢٠هـ.

٩-سـنن ابـن ماجـه لأبي عبـد اللـه محمـد بـن يزيـد القزوينـي المتوفى: ٢٧٣هـ.

١٠ـ سنن أبي داود أبي داود سليمان بـن الأشعث السجسـتاني، المتوفى: ٢٧٥هـ.

١١ ـ سـنن النسـائي لأحمـد بـن شـعيب النسـائي، المتـوفى: ٣٠٣هـ.

١٢ - سـنن الترمـذي لمحمـد بـن عيسي- ابـو عيسـى الترمـذي السلمي بتحقيق احمد شاكر.

١٣ ـ السياسة الشرعية لشيخ الاسلام ابن تيميه كتاب.

١٤- شرح مشـكل الآثـار لأبي جعفـر أحمـد بـن محمـد المعـروف بالطحاوي (المتوفى : ٣٢١هـ).

١٥- شـعب الإيمـان لأحمـد بـن الحسـين بـن عـلي بـن مـوسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى :٤٥٨هـ.

١٦- صحيح البخاري لمحمـد بـن اسـماعيل بترقـيم عبـد البـاقي المتوفى: ٢٥٦هـ.

١٧ ـ صحيح الامام مسلم بن الحجاج القشيري المتوفى: ٢٦١هـ.
١٨- عون المعبود شرح سنن أبي داود،د محمد شمس الحق العظيم آبادي أبو الطيب، المكتبة الشاملة.
١٩- الفتاوى الهندية.
٢٠ ـ فتح الباري للحافظ أحمد بن علي بن حجر ابو الفضل العسقلاني رحمه الله المتوفى: ٨٥٢هـ.
٢١ ـ الفقه الاسلامي و أدلته للدكتور وهبة الزحيلي، چاپ ځای مكتبه رشيديه پيښور، ١٣٧٠.
٢٢- المبسوط.
٢٣ ـ مجلة الجامعة الإسلامية بالمدينة المنورة.
٢٤ ـ مجلة الاحكام العدلية. تأليف لجنة من العلماء في دولة العثمانية.
٢٥ -مرقاة المصابيح شرح مشكاة المصابيح د ملاعلي قاري، مكتبه شامله.
٢٦ ـ مسند الامام أحمد بن حنبل المتوفى: ٢٤١هـ.
٢٧ - مشكوة المصابيح لمحمد بن عبد الله الخطيب التبريزي المتوفى: ٧٤١هـ

۲۸ ـ مصنف ابـن أبي شـيبة لأبي بكـر ابـن أبي شـيبة، المتـوفى: ۲۳۵هـ.
۲۹ ـ المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج،أبو زكريا يحيى بـن شرف بن مري النووي، المكتبة الشاملة.
۳۰- الموسوعة الفقهيـة الكويتيـة تـأليف وزارة الأوقـاف والشـئون الاسلامية بالكويت.
۳۱- نړيواله روغتيايي اداره، د ختيځې مديترانې لپاره سـيمه ايـز دفتر، د دخانيـاتو پـه اسـتعمال کـې د شريعـت حکـم، ژبـاړونکی پوهندوی ډاکټر بشير نورمل.
۳۲ ـ الهداية في شرح بداية المتبدي لبرهان الدين المرغينـاني، المتوفى: ۵۹۳هـ.

**سبحانك اللهم وبحمدك نشهد آن لآ اله الا انت نستغفرك و نتوب اليك**

# ناوړه دودونه او د شریعت په رڼا کې د هغو حل

لیکوال:  د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د څېړنې او مطالعاتو ریاست.

**د کتاب ځانگړتیاوې:**

**د کتاب نوم:** ناوړه دودونه او د شریعت په رڼا کې د هغو حل

**لیکوال:** شیخ فریدالله ازهري د معارف او اسلامي فرهنگ دیپارټمنټ آمر

**خپرندوی:** د ارشاد، حج او اوقـافو وزارت د څیړنـې او د اسـلامي علومـو د مطالعاتو ریاست

**د چاپ وار:** لومړی ځل

**د چاپ کال:** ۱۳۹۸هجري لمریز کال

**د چاپ شمېره:** (۲۰۰۰) ټوکه

**د چاپ ځای:** د سریع گرافیکس طباعتي شرکت

ټول حقوق او امتیازات د خپروونکی لپاره محفوظ دي

**برېښنالیک:** Islamicresearch@mohia.gov.af

**پته:** کابل، شهرنو، افغانستان

بسم الله الرحمن الرحيم

# د مطالبو فهرست


د ارشاد، حج او اوقافو وزارت تقريظ.......................١

د څيړنې او مطالعاتو رياست سريزه......................٤

د مؤلف سريزه ..........................................٦

د دودونو تعريف.........................................٨

عرف په لغت کې.........................................٨

عرف په اصطلاح کې.................................... ١٠

عرف په دوه ډوله دی.................................... ١٠

اجباري ودونه.............................................١٢

د اجباري نکاح او يا واده لاملونه.........................١٤

د قرآن کريم او سنتو په رڼا کې د دې ستونزې حل..........١٤

د اجباري ودونو په هکله د ځينو فقهاؤ نظر...................١٩

سره لدې چې اسلامي شريعت ښځې..........................٢١

د نجونو پلورل............................................ ٢٥

بدل يا د شغار واده........................................٢٧

شغار په لغت کې.........................................٢٧

شغار په اصطلاح کې......................................٢٨

یوه شبهه........................................۳۰
د یاد شوې شبهې ځواب..............................۳۱
په بدو کې د ښځو ورکول..............................۳۳
د مال په ځیر په میراث کې د ښځو وړل.................. ۳۷
د میراث څخه د ښځو محرومول.......................٤۲
اسلام نه وړاندې ټولنه کې د ښځو حالت...................٤٤
د سرو قیمومت د ښځو لپاره هم ډېر اړین دی..............۴۷
په مهرونو کې ډېر زیاتوالی...........................۵۳
ښځینه ؤ سره تاوتریخوالی............................۵۹
اسراف په ځانگړی ډول د واده په ډوډۍ کې.............. ٦۷
د سپو، چرگانو، زرکانو او مړزانو جنگول..................۷۳
د حیواناتو د جنگولو حکم..............................۷۵
د حیواناتو جنگولو په هکله د ځینو فقهاؤ څرگندونې..........۷٦
د حیواناتو په جنگولو د شرط کیښودلو حکم..................۷۸
په حیواناتو رحم کول د گناهونو د ښښنې لامل دی..............۸۰
په حیواناتو تېری او ظلم جهنم ته دي.....................۸۵
د سپیانو د ساتلو حکم.................................۸۸
د سپي د نه ساتلو اړوند روایات............................۸۹

د ځینو نارینه ۇ ځوانانو له لوری د سرو زرو استعمال.......... ۹۵
په نارینه ۇ د سرو زرو د استعمال د حرمت د لائل.............۹٦
په سگرټو او نسوارو او نورو نشه یې توکو روږدی کیدل.......۱۰۱
د مخدره توکو لغوي تعریف........................... ۱۰۲
د مخدره توکو غوره مصطلح تعریف........................۱۰۳
د ځینو علماؤ له لوری د څیړنې له پلوه........................ ۱۰۳
د ځینو علماؤ له لوری د قانون له پلوه........................ ۱۰۴
مخدره توکي په اساسي ویش سره.............................۱۰۴
۱ ـ طبعي مخدرات................................................۱۰۴
هغه مخدره توکي چې د پوزې لیارې څخه استعمالیږي.....۱۱۰
اداري فساد...... ..........................................۱۱۴
د فساد تعریف...................................................۱۱۵
فساد په لغت کې.................................................۱۱۵
فساد په اصلاح کې.....................................................۱۱۵
رشوت په لغت کې.................................................. ۱۱۵
رشوت په اصطلاح کې...................................................۱۱٦
د رشوت (بډې) گناه د آیاتونو په رڼا کې.............................۱۱٦
د رشوت (بډې) گناه د احادیثو په رڼا کې.............................۱۲۰

نامناسبه لباس اغوستل............................ ۱۲۶
په پیغلو د ټوپک ډز کول او یا په بل دود سره د پیغلې........۱۳۲
د ماشومانو حقوقو ته نه پاملرنه.......................... ۱۴۵
د حل لارې چارې................................ ۱۵۸
خاتمه............................................۱۶۰
واړندیزونه.......................................۱۶۱
مصادر او سرچینې................................ ۱۶۳

# د ارشاد، حج او اوقافو وزارت محترم وزیر مولوي عبد الحکیم (منیب) تقریظ

**الحمد لله الذي قال: (يُؤتِي الْحِكْمَةَ مَن يَشَاءُ وَمَن يُؤْتَ الْحِكْمَةَ فَقَدْ أُوتِيَ خَيْرًا كَثِيرًا وَمَا يَذَّكَّرُ إِلاَّ أُوْلُواْ الأَلْبَابِ)** [1]والصلاة والسلام على رسوله محمد وعلى آله وصحبه أجمعين. وبعد:

د ارشاد، حج اواوقافو وزارت له سته امکاناتو سره سم چې په واک کې يې لري دا دنده او مسؤوليت لري چې د اسلامي لارښوونو په برخه کې گرانو هيوادوالو ته هر اړخيزه معلومات د غږيزو او انځوريزو چينلونو، ورکشاپونو، سمپوزيمونو، سمينارونو او په ځانگړي توگه د کتابونو، رسالو، مجلو ( د وزارت پيام حق مجلې) او همدارنگه د منابرو له لارې بيان کړي او دوی ته د اسلام مقدس دين په رڼا کې د خپلو عباداتو، کړنو، دودونو او

[1] - د البقرې، سورت ٢٦٩آيت.

رواجونو ترسره کولو او د هغو ناوړه دودونو او رواجونو نه د ځان ساتني چې د اسلام مبین دین سره په ټکر کې ویصحیح منهج وړاندې کړي او هغه لاره د عملي کړی شي چې زموږ د ټولنې ټولو ناخوالو او بدمرغیوته د پای ټکی کیږي او د ټولنې د پرمختګ او هوساینې لامل وګرځي.

الحمد لله د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د یاد مسؤولیت د اداکولو په اړوند په دې وروستیو کې د تیر په څیر کوټلي ګامونه پورته کړي او خپلو هېوادوالو ته یې د پام وړ خدمتونه وړاندې کړل، تردې چې په ټولو اړینو اسلامي موضوع ګانو یې ځانګړي کتابونه، رسالې او علمي آثار ولیکل، ترڅو وکولای شو خپل ژوند د اسلام مقدس دین په رڼا کې ترسره کړو.

د ناوړه دودونو موضوع لکه: د نجونو پلورل، ښځې د مال په څیر په میراث کې وړل، ښځینه ؤ ته د مهر حق نه ورکول، هلکانو او نجونو ته د خپل ژوند د واده د ملګري د انتخاب حق نه ورکول، ښځې د میراث حق څخه محرومول او داسې نور چې د موږ ټولنه ورسره لاس او ګریوان ده او هغه ناروا کړنې چې د رواج په څیر په دې جامعه کې مروجې دي او د شریعت او قانون له پلوه ممنوع او ناروا اعمال دي، د دې اړتیا احساسیږي چې لیکل

پرې وشي او زموږ گران ولس ته د هغو خرابوالی  او بدي څرگنـده شي تر څو پـه راتلـونکي کـې  ورنـه پـه کلکـه ځـان سـاتنه او ډډه وگړي او سرغړونکو باندې يې شريعت پلی او په پايلـه کـې د ټولـو وگړو نارينه او ښځينه ؤ حقوق خوندي او د مکرم او ښاغلي انسان څرنگه چـې پکـار دی درنـاوی وشي او هيچـا پـه حقوقـو تېـری او تجاوز ونشـي.

د ليکنو او علمي آثارو د تصنيف له لارې د اسلامي او دينــي خپرونو په هکله د تدقيق او اسلامي علومو د مطالعـاتو رياسـت  د محترم رئيس او د دې کتاب د ليکوال شيخ فريـد اللـه ازهـري نـه سترې کيدونکې هڅـې د سـتاينې وړبـولم  او د اللـه جـل جلالـه څخه ورته ستر اجر او ښه بدلونونـه غـواړم او پـه دې هکلـه ورتـه د لازياتو برياوو غوښتونکی يم.

وما ذلك على الله بعزيز

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت محترم وزير

الحاج مولوي عبد الحکيم (منيب)

پسرلی کال ۱۳۹۸

# د ځیړنې او اسلامي علومو د ریاست سریزه

الحمد لله رب العـالمين والصـلاة والسـلام علـى رسـوله الـذي قـال: (العلـماء ورثـة الأنبيـاء...) و علـى آلـه و صـحابته أجمعـين. وبعد:

د الله (جل جلاله) په فضل سره د ځیړنې او اسلامي علومو د مطالعاتو ریاست په دې وروستیو کې د پام وړ لاسته راوړنې لري ، د بیلگې په توگه د (جمعې خطبــې) کتـاب چــې پــه ډېـرو علمــي مضــامینو او بحثونــو مشــتمل دی او د علــماؤ او امامــانو د گټــې اخســتلو وړ گرځیدلیــدی او د هېــواد پــه دواړو رســمي ژبــو پښــتو اوفارسي خپور شوی دی ، دا رنگه (د امامانو او خطیبانو د خطبـو لارښود) کتـاب چــې خلکــو تــه د یـاد شــوو مضــامینو او بحثونــو د وړاندې کولو طرز او طریقـه ښـوونکې رسـاله ده او داسـې نـور پـه لس گونو علمــي او ځیړنیــز آثـار یــې لــیکلي او د گرانــو هیوادوالــو چوپړ ته یې وړاندې کړي.

دغـه کتــاب (د نــاوړه دودونــو او رواجونــو لــه منځــه وړو کــې د اسلامي شریعت ونډه) چې د هېواد یو عالم شیخ فریدالله ازهـري

تألیف کړی دی، چې په ډېرو مهمو ناوړه دودونو او رواجونو چې د مونږ ټولنه یې د ستونزو سره مخ کړې ده  چې د هغو حل یې د اسلامي شریعت په رڼا کې بیان کړی دی، مشتمل دی، الله پاک دې مؤلف زحمتونه په خپل درکې قبل او منظور کړي.

الله (جل جلاله) د وکړي چې دا کتاب د مونږ هېوادوالو د ناوړه دودونو له منځه وړولو کې مثمرتمام شي  او د هغوی ټپونو ته دې درمل شی او د ټول امت لپاره د ډېر خیر، سعادت اونیکمرغي ذریعه وګرځي او د مونږ ټولنه د داسې ناخوالو او ستونزو څخه پاکه او ستره وګرځوي او مؤلف ته د لازیات ظرفیت او استعداد او پیاوړتیا د الله (جل جلاله) څخه غواړم. و ما توفیقي إلا بالله علیه توکلت و إلیه أنیب

**د خیړنې او اسلامي علومو ریاست رئیس**

**محمد شریف رباطی دراني**

**پسرلی کال ۱۳۹۸**

# د مؤلف سریزه

**الحمد لله الحي القيوم الأحد والصمد الذي لم يلد ولم يولد ولم يكن له كفوا أحد والصلاة والسلام على خاتم الأنبياء والمرسلين الذي نجانا من ظُلَم رسوم الجاهليه التي أهلكت من قبلنا وعلى آله وأصحابه من سار على نهجهم إلى يوم الدين.**

وبعد:

په دې کتاب کې یو برخه ناوړه دودونه چې د مور په ټولنه کې عادت او راوج په توګه را روان دي د هغو څخه مو یوازي (١٦) دودونه ذکر کړې دي او دا ځکه چې د دغو څخه بحث ډېره اړین وه، ترڅو د موږ ټولنه د هغو څخه وژغورل شي او د شریعت په رڼا کې د هغو حل بیان شي او د اسلام مقدس دین له لوري د هغو په اړوند معلومات د موږ ګران هېوادوال ترلاسه کړي او خپل دودونه د اسلامي شریعت سره سم برابر کړي.

## د ناوړه دود څخه زما مراد:

هر هغه کړن اوعمل دی چې په ټولنه کې د ځینو وګړو له لوري د دود او رواج په څیر عملي کېږي او په اسلامي شریعت کې هغه بد ګڼل شوی وي او یا په راتلونکی وخت کې د ستونزو او د شریعت خلاف اعمالو لامل ګرځي او یا د ښو کړنو او مسؤولیتونو پریښودل د رواج او رسم په ډول په ټولنه کې رواج شوی وي.

د لوی څښتن الله تعالی څخه غواړم چې دا کتاب د موږ د مسؤولیت د ادا کولو، د درجاتو د لوړوالي او د جهنم د اور څخه د نجات ذریعه وګرځوي؛انه سمیع الدعاء ومجیبه.

وصلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد و علی آله وأصحابه ومن اهتدی بهدیه الی یوم الدین.

شیخ فرید الله ازهري میاخیل

۱۳۹۸ هجری لمریز

## بسم الله الرحمن الرحمن

**الحمد لله الذي أرسل رسوله الذي كان قدوة حسنة بالمحجة البيضاء ليلها كنهارها والصلاة والسلام على الذي أدى الأمانة وبلغ الرسالة ونصح الأمة ومحى الظلم سيدنا ومولانا محمد وعلى آله وصحبه أجمعين.**

## د دودونو تعریف:

ناوړې دودونه او رواجونه چې له پخوا څخه راروان دي، لومړی د هغو تعريف او پيژندګلوي، نو وايو چې دودونه د دود او رواجونه د رواج جمع دی چې په عربي ژبه کې ورته عرف او عادت ويلی شي.

## عرف په لغت کې:

د عرف ماده په عربي ژبه کې د لغت له پلوه په ډېرو معانيو سره راځي چې ځيني يې دادي:

۱ ـ د یوشي ادراک او په هغه پوهه راتللو ته وايي لکه عرب وايي:(**عرف الشيء أي أردكه بعلمه**) یعنې په هغه يې علم اوپوهه راغله.
**۲ ـ** اعتراف او اقرار لکه عرب وايي:(**عرف بذنبه أي اعترف به**) یعنې په خپله ګناه يې اعتراف وکړو .
۳ ـ مجازات او مکافات لکه عرب وايې: (**عرفه أي جازاه و كافأه**) یعنې هغه سره يې د مجازاتو او مکافاتو معامله وکړله.
**۴ ـ** صبر لکه عرب وايي: (**عرف للأمر أي صبر عليه**) یعنې په هغه يې صبر وکړلو.
۵ ـ معروف، معلوم او څرګند ته ویلی شي لکه عرب وايي: (**هذا الشيء معروف**) دغه شی معلوم او څرګند دی.
٦ ـ ښه کړنه لکه حدیث کې راغلې دي: (**كل معروف صدقة وإن من المعروف أن تلقى أخاك بوجه طلق وأن تفرغ من دلوك في إناء أخيك**).[1] یعنې هره ښېګڼه صدقه دی او ځینی د ښېګڼو څخه دا همدی چې مسلمان ورور سره په ورین تندی ملاقات وکړي او د خپلې سلواغې څخه د ورور په لوښې کې څه ورتو يې کړي.

۱ - سنن الترمذي، حديث شمېره: ۱۹۷۰، شيخ الباني صحيح ګڼلی.

**عرف په اصطلاح کې:** (**العرف ما اعتاده الناس وساروا عليه من قول أو فعل أو ترك**)[1]. یعني: عرف هغه څه دی چې خلکو کې عادت وي او هغه په خپلو وینا، کړو او وړو کې عملي کوي.

## عرف په دوه ډوله دی:

(**وقد يكون معتبراً شرعاً أو غير معتبر**)[2]. یو هغه چې شرعا د اعتبار وړ وي بل هغه چې شرعا د اعتبار وړ نه وي.

هغه عرف (دود/رواج) چې اسلامي شریعت کې د اعتبار وړ دی، هغه دادی: (**هو العرف المعتبر شرعاً هو ما استجمع الشروط**)[3]. یعني: په شریعت کې معتبرعرف هغه دی چې ټول شرایط یې پوره کړیوي. دهغو شرایطو څخه دا هم دی چې شریعت څخه مخالفت ونلري، د داسې عرف په هکله مجلة الأحكام العدلية داسې وایي: (**المعروف عرفا كالمشروط شرطا**)[4]. یعني: کوم څیز چې د عرف له پلوه (په تعامل د خلکو کې) معلوم وي هغه داسې دی

١ - الفقه الاسلامي و ادلته للدكتور وهبة الزحيلي، ټوک ٧، مخ ۴١٦۴، طـ مکتبه رشیدیه، ١٣٧٠، پیښور.

٢ـ الفقه الاسلامي و ادلته للدكتور وهبة الزحيلي، ټوک ٧، مخ ۴١٦۴.طـ مکتبه رشیدیه، ١٣٧٠، پیښور.

٣ـ ذکر شوي سرچینه.

٤ـ مجلة الاحكام العدلية، د مادي شمېره : ۴٣.

لکـــــه پــــه شريعـــــت کــــې چــــې شرط شــــويوي.
هغه عرف چې په اسلامي شريعت کې فاسد او غير مقبول گڼلـی شي، هغه هغه دی چې د اسلامي شريعـت څخـه مخالفـت ولـري لکـه:(أن لا يخالف الشريعة، فإن خالف العرف نصاً شرعياً أو قاعدة من قواعد الشريعة فإنه عرف فاسد).[1] يعنې: د عرف شرايطو څخه دا هم دی چې د شريعـت صريـح نـص او يـا يـوه قاعـدې د قواعـدو د هغـه څخـه خلاف نه وي. که چېـري دهغـو څخـه مخـالف وي نـو بيـا قابـل د قبول نه دی او عمل کول په هغه باندې گناه، نـاروا او ظلـم بللـی شي، چې د موږ سپيڅلي دين کې داســې دودونـو او رواجونـو پـه ډېره ښه طريقې سره حل شوی دي.

د موږ په افغاني ټولنه کې داسې رواجونه شتون لري چې د شريعت او قانون په خلاف عملي کېږي چې په پايله کې هلاکت، ناخوالې او بدبختې را منځ ته کوي، داسې دودونه ډېر زيات دي چې دلته د ما د بحث موضوع همدا (ناوړه دودونه) يعنې هغه دودونه چې د اسلامي شريعت له پلوه مردود وي، ځينې د هغو څخه په لاندې ډول دي

١ ــ الفقه الاسلامي و ادلتـه للـدکتور وهبـة الـزحيلي، ټـوک ٧، مخ ۴١٦۴.طــ مکتبـه رشيديه، ١٣٧٠، پيښور.

# اجباري ودونه

## د اجباري (په زورسره) واده تعریف:

داهغه نکاح څخه عبارت دی چې د طرفینو(ناکح او منکوحه) د عقد د رضا او مشورې او یا یو د طرفینو د رضا پرته تر سره شي چې په هغه کې مصلحت او منافع د شرعي وکیل او یا د بل کوم شخص نیول شوی وي نه د زوج او زوجې.

د زور، جبر او ظلم نکاح چې د بالغې نجلۍ هلک رضا پرته او د ولي لطرفه د څه دنیاوي اغراضو د پوره کولو لوجهي تر سره کیږي هیڅ صحت نه لري، ځکه نکاح هم یو عقد دی او په هر عقد کې رضا د طرفینو شرعي امر دی د ښځې رضا د نکاح په هکله ډول ډول طریقې راغلي چې وروسته به ـ ان شاء الله ذکر شي او په ځینو حالاتو کې داسې کیږي چې ښځې دا نکاح رده وي خو ولي د ده رد کولو ته هیڅ پام نکوي دا نکاح ډېر ډول ډول ضررونه او زیانونه منځ ته راوړي، د بیلګې په ډول هغه محبت چې د میړه او میرمني ترمنځ الله پاک اچولی هغه له منځه وړي

او د دوی تر منځ کینه، بغض، حسد منځته ته راځي داسې کړنې د اولاد په روحیو باندې بدې اغیزې را پیدا کوي، داسې جبري ودونو کې د میړه او ښځې تر منځ د اطمنان او قناعت فضا ختمه شي او د دوی تر منځ خیانت، درواغ او د حقوق ضایع کول منځ ته راځي او په پایله کې د خواهشاتو د پوره کولو لپاره منکراتو، فحشاوو او نور ډول ډول گناهونو ته لاس پوری کیږي او بالاخره په ځینو حالاتو د ښځې له طرف د کور څخه تیښته، او یا ځان وژنه یا ځان سوزونه او داسې نورې ناخوالي منځ ته راځي چې د طرفینو ته دښمني، عداوت او تربگني را وزیږوي او قتل او کور ورانی او د دنیاوي او اخري مسؤولیت منځ ته راوړي،اما په شرعي لحاظ، صحیح نکاح هغه مهال رامنځ ته کیدلی شي چې کله د نکاح تړلو پر مهال طرفین (دواړه جوانب) په دې نکاح تړلو باندې خوښ او راضي وي، او قانوني خبره داده چې هر کله هلک او انجلۍ د نکاح په مجلس کې خپله خوښي او رضایتمندي ښکاره کړي نو د دوی نکاح تړل په دې صورت کې سمه او درسته گڼل کیږي.

## د اجباري نکاح او واده لاملونه:

**الف:** د والدینو او یا قانوني ولي او مشر د شرعي احکامو او قانوني حقوقو څخه ناپوهي.

**ب:** د پیسو او مال لاسته راوړل.

**ج:** د دښمنۍ او تاوتریخوالي له منځه وړل یا په بل اصطلاح سره د ښځې ورکول په بدیوکې.

**د:** د زور واکو جبر او زور.

**هـ:** حیله، چل فریب او ټګۍ. او داسې نور.

## د قرآن کریم او سنتو په رڼا کې د دې ستونزې حل:

الله پاک په خپل کلام کې فرمایلي دي: (**وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاء فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلاَ تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَاجَهُنَّ إِذَا تَرَاضَوْاْ بَيْنَهُم بِالْمَعْرُوفِ ذَلِكَ يُوعَظُ بِهِ مَن كَانَ مِنكُمْ يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ ذَلِكُمْ أَزْكَى لَكُمْ وَأَطْهَرُ وَاللّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لاَ تَعْلَمُونَ**).۱

۱ ـ د البقرې سورت، ۲۳۲ آیت.

ژباړه: کله چې تاسي خپلو ښځو ته طلاق ورکړ او هغو خپل عدت پوره کړ، نو بیا پدې لاره کې خنډ مه پیدا کوئ چې هغوی د خپلي خوښي مېړونه انتخاب کړي. که د دواړو خواو په دې موافقه راغله چې سره نکاح وکړي، تاسي ته ښودنه کېږي چې هیڅکله داسې حرکت مه کوئ، که پر الله او د اخرت پر ورځ ایمان لرئ. ستاسي لپاره مناسبه او سپېڅلې لاره همدا ده چې له دېنه ځان وژغورئ . الله پوهیږي او تاسي نه پوهیږئ.

د دې آیت په شان نزول کې امام بخاري رحمه الله په خپل سند سره داسې روایت کوي:«**عَنْ قَتَادَةَ حَدَّثَنَا الْحَسَنُ أَنَّ مَعْقِلَ بْنَ يَسَارٍ كَانَتْ أُخْتُهُ تَحْتَ رَجُلٍ فَطَلَّقَهَا ثُمَّ خَلَّى عَنْهَا حَتَّى انْقَضَتْ عِدَّتُهَا ثُمَّ خَطَبَهَا فَحَمِيَ مَعْقِلٌ مِنْ ذَلِكَ أَنَفًا فَقَالَ خَلَّى عَنْهَا وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَيْهَا ثُمَّ يَخْطُبُهَا فَحَالَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا فَأَنْزَلَ اللهُ: (وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ) إِلَى آخِرِ الْآيَةِ فَدَعَاهُ رَسُولُ اللهِ، فَقَرَأَ عَلَيْهِ فَتَرَكَ الْحَمِيَّةَ وَاسْتَقَادَ (وَاسْتَرَادَّ) لِأَمْرِ اللهِ**».[۱]

ژباړه: قتاده له حسن رضي الله تعالی عنهما څخه روایت کوي چې معقل بن یسار خور په یو سړی واده وه هغه طلاقه کړه او

۱ ـ صحیح البخاري، بَابٌ وَبُعُولَتُهُنَّ أَحَقُّ بِرَدِّهِنَّ، د حدیث شمیره: ۵۳۳۱.

رجوع ورته ونه کړه تر هغه چې عدت يې تير شو، بيا يې په نکاح وغوښتله خو هغه ننګاو اعراض يې ترې وکړ او ويې ويل: پرې ښوده او رجوع ورته ونه کړه سره لدې چې په رجوع قادر وه او اوس بيا يې غواړي  د دوی نکاح کول يې منع کړه نو الله (جل جلاله) دا قولخپل نازل کړو: (**وَإِذَا طَلَّقْتُمُ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ**).يعنې: کله چې تاسي خپلو ښځو ته طلاق ورکړ او هغو خپل عدت پوره کړ، نو بيا پدې لاره کې خنډ مه پيدا کوئ چې هغوی د خپلي خوښي مېړونه انتخاب کړي تر اخره پوري دا آيت نازل شو، رسول الله معقل بن يسار را وغوښتلو او په ده  يې (ياد آيت)ولوستلو د ننګ کولو څخه منع شو او د الله پاک ته يې غاړه کيښوده.

پدې آيت کې په ډاګه سره موږ ته دا لارښوونه دی چې کوم ځاي کې د ښځو خوښه شي د نکاح کولو نو هغوی مه منع کوئ بلکې الله پاک دوی د انتخاب د خاوند (مېړه) حق ورکړی.

د دې ستونزې په حل کې د نبي عليه الصلام والسلام د احاديثو په ذخيره کې ډېر ارشادات شتون لري حتی امام بخاري

داسي باب وضع کړی دی: **بَابٌ لَا يُنْكِحُ الْأَبُ وَغَيْرُهُ الْبِكْرَ وَالثَّيِّبَ إِلَّا بِرِضَاهَا**: باب دی په دې کې چې پلار او داسي بل څوک به پیغله او کونډه  په نکاح نه ورکوي مګر په رضا د هغو سره.

داسلام مقدس دین د نکاح عقد  واک او اختیار هلک او نجلۍ ته ور کړی.

لکه: **عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ**: **قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم**: «**الأَيِّمُ أَحَقُّ بِنَفْسِهَا مِنْ وَلِيِّهَا وَالْبِكْرُ تُسْتَأْذَنُ فِى نَفْسِهَا وَإِذْنُهَا صُمَاتُهَا**».[1] یعنې: د ابن عباس رضی الله تعالی عنهما روایت دی کونډه ښځه د خپل نفس په نکاح سره ورکولو کې د ولي څخه ډیره غوره دی او د پیغلې څخه به اجازه اخستلی شي، چوپوالی یې اجازه دی.

دارنګه بل روایت دی: «**أَنَّ النَّبِيَّ قَالَ لَا تُنْكَحُ الْأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَكَيْفَ إِذْنُهَا قَالَ أَنْ تَسْكُتَ**».[2] یعنې: حضرت نبي علیه الصلاة والسلام فرمایي: کونډه ښځه به په نکاح نشي ورکولای مګرترهغه وخت چې

---

۱ صحيح الامام مسلم، باب استئذان الثيب في النكاح بالنطق والبكر بالسكوت، د حدیث شمېره : ۱۴۲۱.

۲ - صحيح البخاري،بَابٌ لَا يُنْكِحُ الأَبُ وَغَيْرُهُ الْبِكْرَ وَالثَّيِّبَ إِلَّا بِرِضَاهَا، د حدیث شمېره : ۵۱۳٦.

مشوره ورسره وکړای شي او پيغله به په نکاح نشي ورکولای مگر چې اجازه يې واخستلی شي اصحابو عرض وکړو چې اجازه به يې څرنگه اخستلی شي؟ پېغمبر صلی الله عليه وسلم وفرمايل: چوپوالی يې اجازه دی.

امام بخاري رحمه الله په پخپل صحيح کې پدې عنوان باب ايښی دی: «**بَاب أَبٌ إِذَا زَوَّجَ ابْنَتَهُ وَهِيَ كَارِهَةٌ فَنِكَاحُهُ مَرْدُودٌ**» باب دی په بيان د دې کي چې پلار خپله لور په نکاح ور کړي او هغه ناراضه وي نو نکاح يې رد دی.

او بيا دا حديث يي په خپل سند سره روايت کړی: «**عَنْ خَنْسَاءَ بِنْتِ خِذَامٍ الْأَنْصَارِيَّةِ أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ ثَيِّبٌ فَكَرِهَتْ ذَلِكَ فَأَتَتْ رَسُولَ اللهِ فَرَدَّ نِكَاحَهُ**»١. يعني: د خنساء بنت خذام انصاري (رضی الله تعالی عنها)څخه روايت دی چې پلار يې په نکاح سره ورکړه، په داسې حال کې چې دا کونډه وه، هغې خپله ناخوښی حضرت نبي کريم صلی الله عليه و سلم ته وړاندې کړه هغه صلی الله عليه و سلم

---

١ ـ صحيح البخاري، بَابٌ إِذَا زَوَّجَ ابْنَتَهُ وَهِيَ كَارِهَةٌ فَنِكَاحُهُ مَرْدُودٌ، د حديث شمېره : ٥١٣٨.

د هغــې نكــاح رد كــړه . پــه دې هكلــه نــور زيــات حــديث شــتون لــري پــه همــدې اكتفــاء كــوو. دارنگــه روايــت دى: «**عَنْ عَائِشَةَ أَنَّهَــا قَالَــتْ يَا رَسُــولَ اللهِ إِنَّ الْبِكْــرَ تَسْــتَحِي «تَسْــتَحِيِي» قَــالَ رِضَــاهَا صَمْتُهَا**».[1] د بــى بــى عائشــې رضي اللــه تعــالى عنهــا څخــه روايــت دى چــې دې وويــل: آى رســول اللــه! پيغلــه خــو حيــا كــوي نــو څرنگــه بــه رضــا خپلــه پــه ژبــه بيــان كــړي؟ پېغمــبر صــلى اللــه عليــه وســلم وفرمايــل: رضــا يــې دا دى چــې چــوپ شي.

## د اجباري ودونو په هكله د ځينو فقهاوو نظر:

د حنفــي فقهــي مشــهور عــالم صــاحب الهدايــه برهــان الــدين مرغينــاني رحمــه اللــه وايــي: «**وينعقد نكاح الحرة العاقلة البالغــة برضــاها وإن لم يعقــد عليهــا ولى بكــرا كانــت أو ثيبــا عنــد أبي حنيفــة وأبي يوســف رحمهمــا الله في ظــاهر الروايــة ..... ووجــه الجــواز أنها تصرفت في خــالص حقهــا وهــي مــن أهلــه لكونهــا عاقلــة مميــزة ولهــذا**

---

١ ـ صحيح البخاري، بَابٌ لَا يُنْكِحُ الأَبُ وَغَيْرُهُ الْبِكْرَ وَالثَّيِّبَ إِلَّا بِرِضَاهَا، د حديث شمېره : ٥١٣٧.

**كـان لهـا التصـرف في المـال ولهـا اختيـار الأزواج ...ولا يجـوز للـولي إجبار البكر البالغة على النكاح...».١**

ژباړه:په ظاهر روايت کې د امام ابو حنيفه او امام ابويوسف رحمهما الله په نزد د اصيلي بالغې ښځې پيغله وي او که کونډه نکاح د هغې په رضا سره صحيح دی اگر که ولي يې هم عقد پري نوي کړی.... د جواز وجه يې دادی چې هغه په خپل ځانگړي حق کې تصرف کوي او د تصرف اهل هم ده؛ ځکه چې د عقل او ادراک څښتنه ده نو ځکه هغې لره په خپل مال کې هم تصرف حق شته او دا رنگه هغې لره د خپل خاوند د انتخاب اختيارشته... او د ولي لپاره جايز نه دی چې په بالغه پيغله ښځه د نکاح په هکله اجبار او زورنه وکړي.

نو بناء په مذکور دلايلو په اصيله بالغه ښځه د نکاح په باب هيڅ زور، زياتي او اجبار څوک نشي کولای.

١ - الهداية في شرح بداية المبتدي، باب في الأولياء والأكفاء، ټوک ١، مخ ١٩٦، مکتبه شامله.

## سره لدې چې اسلامي شريعت ښځې ته د خپل خاوند انتخاب حق ورکړی خو بیا هم لاندینیو نکتو ته پاملرنه اړینه دی:

**لومړی ـ** د نجلۍ نکاح مشرکانو، کفارو او نورو دینونو وګړو سره جواز نلري.

**دوه هم ـ** د هلک (نارینه) نکاح مشرکانو، کفارو او پرته د اهل کتابو نورو دینونو وکړو سره جواز نلري.

**دریيم ـ** د نکاح په هکله کفاءت (مثل) شرط دی.

**څلورم ـ** نسبي، رضاعي او خوسرګلوي محرماتو سره نکاح روا ندی.

**پنځم ـ** دا چې باید د نکاح له دینداره، ښه اخلاقو او تربیه لرونکو کورنیو ښځو او نارینه ؤ سره؛ ځکه د واده کولو څخه مقصد یوازې د جنسی غریزې اشباع کول نه دي بلکې عمده هدف يې د بشري کورنۍ تشکیل دی چې د نیکو او صالحو کورنیو او ایمان، اخلاق او سالمه تربیه لرونکو په نکاح سره تأکید شوی په دي هکله د دینداره میرمنې د اختیار په هکله ټینګار شویدی او روایت دی:«**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ – رضي الله عنه – عَنِ النَّبِيِّ ـ صلى الله عليه**

وسلم . **قَالَ تُنْكَحُ الْمَرْأَةُ لِأَرْبَعٍ لِمَالِهَا وَلِحَسَبِهَا وَجَمَالِهَا وَلِدِينِهَا فَاظْفَرْ بِذَاتِ الدِّينِ تَرِبَتْ يَدَاكَ»**[1].ژباړه: د ابي هريره رضي الله تعالى عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: ښځه د څلور صفاتو له کبله په نکاح سره غوره کيږي د مال، نسب، خايستوالی او دين له وجهې څخه نو خپله نيکمرغی د ديندارۍ ميرمنې په اختيار کې ولټوئ (لاسونه دی په خاور ولړلي سه).

او همدا راز د مسلمان خاوند پـه اختيـار کـې روايـت دی: «**عن أبي هريرة قال: – قال رسول الله صلى الله عليه و سلم ـ إذا أتاكم من ترضون خلقه ودينه فزوجوه إلا تفعلوا تكن فتنة في الأرض وفساد عريض**».[2]

ژباړه:کله چې تاسي ته مرکه راشی نو که چيرې هغه شخص ديندار او د نيکو اخلاقو خاوند وی هغه ومنئ که نه نو داسې کار (د ديندار شخص رد کول او د فاسق شخص اختيارول) به په ټولنه کې د لويي فتنې او فساد باعث وگرځي.

١ ـ صحيح البخاري، باب الأكفاء فى الدين وقوله ( وهو الذي خلق من الماء بشرا...)، د حديث شميره: ٥٠٩٠.

٢ ـ سنن ابن ماجه، باب الأكفاء، د حديث شميره: ١٩٦٧.

**شپږم ـ** د خاوند د اختیار حق سره باید د والدینو مشوره او لارښوونو ته د پاملرنه وشي تر څو را تلونکی یې خراب زمونږ ځوان او ګران ورونه، پیغلې او قدرمنې خوېندې به هم د خپلو درنو والدینو نظر ته هم غوږ دي، حتی د واده په څیر حساسه مسئله او پرېکړه کې به د هغوی نظر ته ترجیح ورکوي؛ ځکه د دوی تجربه او پاملرنه د اولاد په اړه ډېره ګټوره ده، کله کله داسې کېږي چې نجلۍ د والدینو د مشورې پرته د یو تربله په سطحې پیژندنه د ظاهري څېره په بنسټ نکاح وکړي بیا وروسته ظاهر شي چې هغه طرف په اسلامي روزنه او اخلاقو سره اشنا ندی او په مخدره موادو روبدی دی، سمه اسلامي پوهه او روزنه نه لري، په غلا، ظلم، درواغو باندې عادت دی، نه د الله پاک د حقوقو مراعت ساتي او نه د هغه د مخلوق، نو بیا وروسته ډېر پښیمانه وي خو دا پښیماني ورته هیڅ ګټه نه ر سوي. هغه ځوان او هغه پیغله چې د لومړي ځل لپاره د ګډ ژوندانه لپاره تصمیم نیسي نو معلومه خبره ده چې د مور او پلار او نورو مشرانو په نسبت به د دوی نظر او تجربه هم خامه او لږه وي په دې لږ کې به له خورا پټو رازونو او کارونو څخه ناخبره وي نو ځکه ښائي چې د مور او

پلار او د نورو سپین سرو او سپین ږیرو فکر او نظر ته هم په درنه سترګه وکتل شي.

بله مهمه خبره داده چې د مور او پلار په حق کې دا طبیعي خبره ده چې هغوی د خپل اولاد لپاره د خیر، ښیګڼې او نیکمرغه ژوند غوښتونکي وي او په فطري ډول په خپل لاس د روزل شوي اولاد لپار هیڅکله هم د شر غوښتونکي نه وي.د خپل اولاد سره د مور او پلار مینه، په نړۍ کې د نورو ټولو مینو په نسبت خورا سوچه، بې ریا او بې غرضه وي او دا ځکه چې لوی څښتن تعالی د دوی په زړونو کې د اولاد لپاره درنښت او ګرانښت، شفقت او مودت اچولی.

# د نجونو پلورل

په ځينـو سرحـدي سـيمو کـې بعضـی خلـک خپلـې لـورانې اوخويندې د مال او حيوان په څير دعـدت تيريـدو او نکـاح پرتـه پلوري او د دوی مـد نظـر مـال، پيسـې، يـا بلـه ښـځه، او يـا قـرب حاصلول وي ځينو لـوړ چـارواکو او زورمنـدانو تـه چـې دا کـار پـه حقيقت کې د جاهليت د وخت يو نـاروا او نـاوړه عـادت دی چـې ښځو ته به يې د انسان په سترگه نه کتلو او د مال په څير بـه يـې تری کار اخستلو او بالعکس د اسلام په مقدس دين کې الله پاک ښـځې تـه کرامـت ورکـړی پـه ډيـر عـزت او احـترام سره بـه خپـل سرنوشت د خاوند په ټاکلو کې اداکوي او د دوی وليانو ته يې امر کړی تر څو د خپل اولادونو، خويندو او لورانو په مشوره او پـه پـوره واک ورکولو سره دوی ته د نکاح په باب کې سره د پاملرني ديـن، کفاءت، تقوی، اخلاق او داسې نورو امـور پـه جـدي توگـه مراعـت کړي، تر څو د خپلـو نسـلونو راتلـونکی لـه سـتونرو څخـه خونـدی وساتي او شرعي مسؤوليت يي په پـوره توگـه ادا کـړي او انسـان د مال پـه څيـر ونـه پلـورل شي؛ ځکـه د ازاد انسـان پلـورل حـرام او

باطل کار دی پدي هکله نبي صلی الله علیه وسلم فرمایي:«**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رضي الله عنه عَنِ النَّبِيِّ . صلى الله عليه وسلم . قَالَ قَالَ اللَّهُ ثَلاَثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفَى مِنْهُ وَلَمْ يُعْطِ أَجْرَهُ**».[1]یعنې: ابوهریره رضي الله تعالی عنه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چې الله جل مجده فرمایلي دي: په ورځ د قیامت کې به زه د دریو کسانوسره جګړه کونکی او مدعي یم چې ملامتوم به یې، لومړی هغه کس چې د ما په نوم امان ور کړی او بیا غدر او خیانت وکړی بل هغه څوک چې یو اصیل انسان خرڅ کړی او پیسې یې وخوری او هغه کس چې مزدور باندې کار وکړی او د هغه مزدوري ورنه کړی. د دې حدیث څخه جوته شوه چې د انسان خرڅول دومره لویه ګناه ده چې الله تعالی به پخپله د دغه عمل کوونکی سره په ورځ د قیامت کې جګړه کوی او هغه به ملامتوی.دا حدیث په حل دي ناوړه د دود کې څرګند دی.

---

۱ ـ صحیح البخاري، بَابُ إِثْمِ مَنْ بَاعَ حُرًّا، د حدیث شمېره : ۲۲۲۷.

# بدل يا د شغار واده

د بدل واده چې شريعت کې ورته شغار وايي او په لاندې ډول تشريح کېږي:

## شغارپه لغت کې:

شغار په لغت کې: په معنی د خالي والي سره دی او له دي قول دې عربو څخه اخستل شويدی: (**من شغر البلد إذا خلا لخلوه عن الصداق**).[1] او ځينې وايي چې شغار مأخوذ دی له دي قول د عربو څخه: (شغر الكلب) يعنې: سپي خپله خپه پورته کړه او متيازې وکړی چې په باب د نکاح کې کنايه دی له جماع څخه چې دغه ډول نکاح په ناوړتوب اوقباحت کې د سپي فعل سره مشابه شويدی.[2]

---

١ ـ المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج،أبو زكريا يحيى بن شرف النووي، المكتبة الشاملة.

٢ ـ مخکېنی مرجع .

## شغار په اصطلاح کې:

دا هغه نکاح دی چې يوې ښځې ولي پلار او داسې نـور افـراد دا ښځه بل کس ته په نکـاح ورکـړي پـه دې شرط سره چـې هغـه کس به هم يوه ښځه ده ته په نکـاح ورکـوی او د دوی لپـاره مهـر ونه ټاکل شي. دا ډول ناوړه پديده او دود په افغاني ټولنه کـې پـه ځينو سيمو کې شتون لري. په اسـلامي شريعـت کـې د دې ډول نکاح منع راغلي دی؛ ځکه دي کې د هغه انسان چـې اللـه جـل جلاله هغه ته کرامت ورکړی، مکلف، د عقل او پوهي ښتـن يـې گرځولی، مشابهت دی له حيـوان سره، پـه دې هکلـه نبـي کـريم صلی الله عليه وسلم د هغه څخه منـع کـړی او فرمـايي: «لاشـغار فی الإسلام»۱. اسلام کې شغار ځای نلري.دارنگه له حضرت ابـن عمـر رضـی اللـه عـنهما څخـه روايـت دی: «**عن ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا أَنَّ رَسُولَ اللهِ نَهَى عَنِ الشِّغَارِ وَالشِّغَارُ أَنْ يُزَوِّجَ الرَّجُلُ «الرَّجُلَ» ابْنَتَهُ عَلَى أَنْ يُزَوِّجَهُ الْآخَرُ ابْنَتَهُ لَيْسَ بَيْنَهُمَا صَدَاقٌ**»۲. ژبـاړه: د عبـد الله ابن عمر رضي الله تعالی عنهما څخـه روايـت دی چـې وايـي

۱ ـ سنن ابن ماجه، د حديث شـمېره: ۱۸۸۵، شـيخ البـاني د دې حـديث پـه صحت حکم کړی.

۲ ــ صحيح بخاري، باب الشغار، د حديث شمېره :۵۱۱۲.

پېغمبر صلی الله علیه وسلم د شغار نکاح(د بدل نکاح ) څخه منع کړی شغار یعنې د بدل نکاح او هغه دیته وایي چې یو سړی خپله لور یا خور بل ته ورکړی په دې شرط سره چې هغه به خپله لور یا خور ده ته ورکوي په داسې حال کې چې د دوی لپاره مهر ونه ټاکي.د جمهورو علماوو رایه په نارواوالي د نکاح شغارکې دادی: (**وأجمع العلماء على أنه منهي عنه**).[1]یعنې علماوو په دې اتفاق کړیدی چې د شغار نکاح منع دی. مګر که چا دا ډول ناروا او منع شوی نکاح وکړه نو د امام ابو حنیفه (رح) باندې نافذه او منعقده کیږي دی او د دواړو ښځو لپاره مهر مثل لازمېږي لکه څرنګه چې فتاوی هندی په دې هکله وایي: ( **قد قالوا ان نكاح الشغار منعقد و الشرط باطل ولكل واحدة من المراتين مهر مثلها...**)
[2]یعنی: علماوو ویلي دي چې د بدل نکاح منعقده دی او شرط باطل دی یعنی هغه شرط چې یوه ښځه د بلې ښځې په بدل کې او عدم مهر د دوی لپاره دا شرطونه باطل دي بلکې د هرې وې ښځې لپاره مهر مثل لازمیږي.

---

١ ـ عون المعبود، عون المعبود شرح سنن أبي داود، محمد شمس الحق العظيم آبادي أبو الطيب، المكتبة الشاملة.

٢ ـ الفتاوى الهندية، الباب السابع فى المهر، ټوک ١، مخ ٣٠٣.

خو د امام اعظم ابو حنيفه (رحمه الله) علما د نورو علماوو سره د شغار د نکاح په منع او حرمت باندې اتفاق لري، خو دا دول نکاح که چا وکړه صحيح دی او فسخه يې لازم نه دی او هرې يوې ښځې لپاره مهر مثل لازميږي او د هغه مهر مثل لازمول باطل شرطونه له منځه وړي نو شغار د په معنا نه پاتی کيږي.[1]

نو پايله دا شوه چې دا ډول نکاح په پيل کې منع او لا يجوز دی خو که چا دا ناوړه کار ارتکاب وکړو نو فسخه لازم نه دی او فسخه يې لازم نه دی او هرې يوې ښځې لپاره مهر مثل لازميږي او باطل شرطونه ختميږي او نکاح منعقده او نافذه دی.

**يوه شبهه :**

ځينې خلک د بدل د نکاح په صورت کې داسې وايي چې يوه ښځه لکه لور يا خور يو سړی بل ته ورکړی او هغه خپله لور يا خور ده ته ورکړی، نو موږ يو څه مقدار پيسې د مهر په نوم مسمی کوو، بناء مهر تعيين شو، نو نکاح شغار پاتي نه شوه.

١ - المبسوط، ټوک ٥، مخ ١٠٥، او بدائع الصنائع، ٢، مخ ٢٧٨.

## د یاد شوې شبهې ځواب:

دا ثابته دی چې یو مقدار مبلغ ورسته وټاکل شو چې لومړی حالت کې نه وه ټاکل شوي، موږ وایو چې که چېرې دا یو اړخ په یاد شوی صورت کې خپله لور یا خور بل اړخ ته ورنه کړی آیا بل طرف به خپله لور یا خور دوه هم اړخ ته په مقابل د دغو کم مقدار مبلغ کې ورکړي، نو ځواب یې منفي دی، نو دا ویلی شو چې د لومړی حالت څخه د یوې ښځې مقابل بله ښځه راغله نه هغه مهر چې ورسته یې د حیلې په طور ټاکي؛ ځکه دا د لومړی وخت څخه معروف بین طرفین دی بناء په دې قاعده فقهي باندې: (**المعروف عرفا کالمشروط شرطا**)[1] ژباړه: د عرف له پلوه معروف او معلوم څیز دا داسې دی لکه شرط شوی څیز.

په دې ناوړي دود (شغار) کې کله داسې پیښېږي چې یو کورنۍ که دا واده شوې ښځه د پلار د کورڅخه بنا په یو دلیل منع کړي، نو بله کورنۍ هم خپله واده شوې ښځه پرته د کوم دلیل څخه منع کوي، که چېري یو طرف واده شوی ښځه ورټېي او یا وهل ټکول منځ ته راشي، نو بل طرف عین بالمثل عمل خپلې

---

۱ـ مجلة الاحکام العدلية، د مادي شمېره: ۴۳.

زنانه سره کوي چې ملامتي او سلامتي په پام کې نشي نیولی په پای کې پاک او بری ته سزا ورکول کېږي.

په ځینو حالاتو کې یوه منکوحه د دوی دواړو ښځه، خپل والدینو ته چې د بلې ښځې خسرخیل یادېږي، شیطاني او ناروا خبرې نقلوې او دوهم ښځه هم په داسې کړو مجبوره شي چې ټول ژند او عمر د دواړو له ناخوالو، تاوتریخوالو، ناروا او بدبختیو سره تیر شي، په بعضو حالاتو کې د دواړو کورنیو ترمنځ جګړې، دښمنۍ او ناندرۍ راپورته شي او تر قتل او قتال پورې وغځېږي.

نو بناء شغار یا هغه نکاح کول چې یوه زنانه د بلي زنانه په مقابل کې په صراحت سره راشي او هری یوې لپاره مهر ونه ټاکل شی نو بلاشک بیاخو د جهالت د وخت شغار دی.

# په بدو کې د ښځو ورکول

په ځینو سیمو کې دښمنۍ، تاوتریخوالی، قتل یا اخ او ډب او یا د عیب لاس او پښې هډو کې ماتولو په صورت کې د ښځو په ورکولو سره پای ته رسول کیږي په داسې حال کې چې کله ښځه هیڅ خبره هم نه وي او خوښې ته یې هم هیڅ اعتبار نه ورکول کیږي، دا کړن هم لوی جرم او گناه ده؛ ځکه گناه او جرم یو کړی وی سزا یې بل ته ورکول کیږي داسې کړنه اسلامي شریعت او د نافذه قوانینو په رڼا کې گناه دی په دې هکله حضرت نبي کریم علیه الصلاة والسلام فرمایي: «**الصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ، إِلاَّ صُلْحًا حَرَّمَ حَلاَلاً، أَوْ أَحَلَّ حَرَامًا**»[1]. یعني: د مسلمانانو ترمنځ هره صلحه جایز دی پرته د هغې صلحې څخه چې حرام حلاله وي او حلال حرام وي. د دې حدیث په رڼا کې کومه ښځه چې په بدو کې د صلحې په نوم ورکولای شي جایز نه دی او عاملین یې د گناه ارتکاب کونکي دي؛ ځکه اصیله ښځه مال ندی چې د قتل په

---

۱ ـ سنن ترمذي، باب ما ذکر عن رسول الله صلی الله علیه و سلم في الصلح بین الناس،د حدیث شمېره : ۱۳۵۲ .

عوض کې وارث د مقتول ته ورکـول شي او یـا د عیـب پـه صـورت کې معیوب ته ورکول شي بلکې پدې کې ډېر احتیـاط پکـار دی؛ ځکه د عامو خلکو دا وینا چې دا دښمني د ښځې ورکولو پرته پـه بل څه نشي دفعـه کیـدی دا یـو ډول تمسـخر او اسـتهزاء دی پـه اسـلامي شریعـت پـوري چـې خـوف د کفـر دی او پـه ارتکـاب د صغیري او کبیري گناه څوک د اسلام د دائرې څخه نوځې تر څـو تری درې کاره صادر نشي:

١ ـ د شریعت سپک گڼل یا په بل عبارت د گناه سپک گڼل.

٢ ـ د گناه حلال شمیرل.

٣ ـ په گناه فخر کول.

پدې درې حالاتو کې ځکه انسان د گناه په ارتکاب کفر ته رسیږي چې دا علامه دی د ده به نسبت کولو د کذب الله پاک او د محمدي صلی الله علیه وسلم په شریعت ته.

نو ښځې په بدو کې ورکول، یا د شغار واده کول او یا د ولی او خاوند له لوری د ښځې د مهر په مال کې تصرف د هغې د زړه د رضا او محبت پرته جایز ندی.[1]

١ ـ تنویر المجاهدین، حقوق و وجائب زنان ازنظر اسلام، ټوک ٧، مخ ٢١٠.

دارنګه الله جل جلاله فرمايي: (**ولاتزر وازرة وزر أخرى**).[1] ژباړه: هيڅ نفس د بل نفس د ګناه او جرم جزا نه شي پور ته کولی دا آيت په قرآن پاک کې ډېر ځلي په تکرار سره راغلـی. او دا مفهـوم پـه دې قـول د اللـه پـاک کـې هـم يـاد شـويدی: (**لها ماکسبت وعليها ما اکتسبت**)[2]. يعنـې: هر نفس انساني چې څـه کـړن تـر سره کـوي د خير څخه ګته يې ده تـه راجـع کېـږي او هغـه څـه چـې د بـدی څخه کړېوي ضرر يې ده ته راجع کېږي.

که چېرې څوک د ناوړو کړنو مرتکب شو هغه ده د خپل اعمالو په جزا ورسيږي که قتل عمد يا قتل خطا يا شبه خطا او يا سرقه کبرى يعنې قطاع طريقى کړيوي او يا داسې نورې ناوړه کړنې ترسره کړيوي نو د هر يو ځانګړې احکام په قرآن کريم، د نبوي صلى الله عليه وسلم د حديثو په ذخيره او د علماوو په اجتهاد او استنباط کې شتون لري نو د اسلامي شريعت په رڼا کې د بديو او ناخوالو حل او فصل وشي نه دا چې ناروا د په ناروا حل شي

١ ـ د الأنعام سورت، ١٦۴، د الاسراء سورت، ١۵، د الفاطر سورت، ١٨، د الزمر سورت، ٧، آيتونه.

٢ - د البقرې سورت،٢٨٦ آيت.

بلکې د نارو په ناروا حل نشي راتللی د دې خلاف د نورو ناخوالو او تربګنيو زيات والي امکان هم شته.

## ښځې د مال په څیر په میراث کې وړل کېږي

افغاني ټولنه کې په ځینو سیمو کې چې کله د بعضو ښځو او نجونو ولي پلار او غیره وفات شي، نو دوی داسې په میراث کې وړی شي لکه مال کله چې د یوې ښځې خاوند وفات شې هغه ښځه د هغه ورور،تره ځوی او داسې نورو ته په نکاح سره ور کول کېږي که چېري هغوی ورکوټي وي، نو دا ښځه هغه ته د عدت څخه ورسته ډېر کلونه په خوارۍ او ذلت سره انتظار باسي. د دې ناوړې پدیدې حرمت په دې آیت کریمه کې شوی، الله جل جلاله فرمایي: (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا يَحِلُّ لَكُمْ أَنْ تَرِثُوا النِّسَاءَ كَرْهًا**...)[1] ژباړه: آی مومنانو! تاسوته روا نه دی چې ښځې په زور سره په میراث کې وړئ....

د دې آیت د شان نزول په هکله علماوو څو اسباب بیان کړي دي:

---

۱ ـ د النسآء سورت: ۱۹ آبت.

۱ـ امام بخاري رحمه الله د حضرت ابن عباس رضی الله تعالی عنه څخه داسې روايت کوی: کله به چې يو سړی مړ شو د ده اولياء (قريبانو/ خپلوانو) به د ده د ښځي وکالت په لاس کې واخستو د هغې د اهل او خپلوانو رايه ته به هيڅ اختيار نه وه، که غوښتلو به يې، نو نکاح به ورسره وکړه او که نه، نو بل ته به يې په نکاح سره ورکړه او پا به يې د نکاح پرته ساتله، نو د دې ناوړي رواج ختمولو په هکله دا ياد شوی آيت نازل کړی شو. نوهغه انسان چې الله پاک ورته کرامت ورکړی سره به يې د مال او ميراث په څير معامله کوله.

۲ ـ ابوداود رحمه الله د دې آيت د شان نزول په هکله داسې روايت کوی : چې د يو سړی به د خپلوانو ښځه به په ميراث کې وړه، د نکاح څخه به يې منع کوله تر دې چې مړه به شوه او يا ده ته واپس هغه مهرچې پخوا خاوند يې ور ته ورکړی وه، ور کړی، د دې رسم او رواج پای ته رسولو کې دا آيت نازل کړی شو.
۳ ـ دارنگه د حضرت ابن عباس رضي الله تعالی عنهما څخه روايت دی چې د جهالت په وخت کې به چې د کومې ښځي خاوند (ميړه) مړ شو، يو سړی به ورته راغلو او په دې ښځه به يې

يوه جامه (لکه څادر) ورواچولو، نو د دې ښځې واک او اختيـار بـه د ده شو، نو د دغـه رواج او نـاوړه دود منـع کولـو پـه اړه دا مـذکور آيـــــــت کريمــــــــه نـــــــــازل شــــــو.

۴ ـ دارنگه د حضرت ابن عباس رضي الله تعـالی عـنهما څخـه د دې آيت په شان نزول کې داسې روايت دی: کله به چې يو څوک مړ شو او د ده څخه به لور پاتې شوله، نو د ده دوست (ملگری) به ور ته راغلو او په هغې به يې يوه جامه (لکه څادر) ور واچاوه خلکو به يې ترې منع کړل که ښکلې (ښايسته) به وه، نـو نکـاح بـه کـړه اوکه بد څيره به وه، نو بيـا بـه يـې د مـرگ وخـت پـورې حصـاروله ترڅو ميراث يې ويسی، نو ذکر شوی آيت د دغـه نـاوړي دود پـای ته ټکی کيښودو[1].

کله چې ښځه کونډه شوه او يا د نجلۍ پلار وفات شو نو اسلامي شريعت ورته د اختيار واک ورکړی دی، او کولی شي چې پخپلو ژوندنيزو چارو کې او په ځانگړې توگه د واده په څير په يوه حياتي او سرنوشت سازه موضوع کې په خپله خوښه تصرف او پريکړه وکړي.

١ ـ د حافظ ابن کثير تفسير د سورت النسآء ١٩ آيت په ذيل کې.

کونډه ښځه او يا هغه ښځه چې پلار او يا اولياء يې وفات شول د نکاح په هکله د نورو ښځو په شان د د دې اختيار لري چې له چا سره به نکاح ترسره کوي او له چا سره به نکاح نه قبلوي هر وخت چې الله پاک د ښځي ميړه، پلار اويا بل ولي وفات شو نو دا لا ډېر د شفقت لايق ده چې ښه ورسره وشي نه داچې وارث يې په ظلم او ناروا او بلا اختياره ځيني خپله په نکاح اخلي او ځيني نوري په خپل زړه سره چاته ورکوي چې ډېر ولور ورکړي او بولی پري جوړه کړي.

اسلام انسان ته کرامت ورکړی او خورا د توقير او درنښت په سترګه ورته ګوري او له همدې کبله يې خپلواک ګڼلی دی او په ټولنيز او فردي ژوند کې د اختيار آزادي ورکړی دی البته دا ډول لوړ انساني کرامت او د فکر او رأيې آزادي يوازې او يوازې د اسلامي شريعت له مهمو ځانګړتياوو څخه ده چې په نورو نړيوالو نظامونو او دينونو کې هېڅ شتون نلري او دې فرهنګ په دې وروستيو کلونو کې د شرق او غرب په يو لړ غير اسلامي ملتونو کې اوس ترويج موندلی دی او هغوی هم د اسلامي ارشاداتو او توجيهاتو څخه په تقليد، مېرمنو ته د رأيې او فکر آزادي ورکړې دی او اوس ليدل کيږي چې هغوی هم د ميرمنو نظر ته په خورا

درنه سترګه ګوري چې دا د اسلام مقدس دین څخه یې اخستلی دی، اسلامي شریعت په دې حالت کې دواړو ته ښځي او نارینه ته د اختیار واک ورکړی دی، او دوی کولی شي چې پخپلو ژوندنیزو چارو کېاو په ځانګړې توګه د واده په څیر په یوه حیاتي او سرنوشت سازه موضوع کې په خپله خوښه تصرف او پرېکړه وکړي، نو ښځه که کونډه وي او که پیغله پوره حق لري چې د شریعت د لارښوونو سره سم په خپل اختیار واده وکړي نو د وارثانو هیڅ حق نلري چې ښځي په میراث کې د مال په څېر ویشي.

# د میراث څخه د ښځو محرومول

په افغاني ټولنه کې دا هم یو بد دود او رواج دی چې ښځینه طائفه د دوی د مسلم حـق څخـه چـې میـراث دی محرومېـږي د دې حق په اړوند الله جل جلا لـه فرمـایي: (**لِلرِّجَالِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاءِ نَصِيبٌ مِمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَفْرُوضًا**).[1] یعنـې: کوم مال چې لـږ وی او کـه زیـات د پلار، مور او نـورو خپلوانـو څخـه پـاتې شـې، نـارینوو او ښـځینوو( وارثانو)لپاره معلومه مقرره برخه فرض شوی ده.

امام طبري روایت کـوی: «**عن قتادة قال: كانوا لا يورِّثون النساء، فنزلت:وللنساء نصيبٌ مما ترك الوالدان والأقربون**».یعنـې: لـه قتـاده رحمه الله روایت دی چـې ښـځو تـه بـه وړانـدې وخـت کـې دوی میـراث نـه ورکـاوه، نـو دا آیـت نـازل شـو: (**وللنساء نصيبٌ مما ترك**

1 ــ د النسآء سورت: ۷ آبت.

**الوالدان والأقربون)** او د ښځینه ؤ لپاره معلومه برخه ده د هغه څخه چې والدینو او نورو خپلوانو پریښیوي۱.

دارنګه الله جل جلاله فرمایي: (**یُوصِیکُمُ اللَّهُ فِي أَوْلَادِکُمْ لِلذَّکَرِ مِثْلُ حَظِّ الْأُنْثَیَیْنِ فَإِنْ کُنَّ نِسَاءً فَوْقَ اثْنَتَیْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِنْ کَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ**...).۲ یعنې: الله جل جلاله تاسو ته د تاسو د اولادونو د میراث په هکله داسې امر کوي : نرینه لپاره دوه پرتله د ښځینه میراث ورکولای شې، که چېري د مړي څخه یوازې لوراني دوه یا زیاتې د دوو څخه پاتې وی،نو د دوی لپاره دوه ثلثه د متروکې دي او که یوه لور پاتې وی، نو نیم متروکه وړي. دارنګه په نورو آیاتونو او احادیثو کې د ښځینه ؤ د میراث برخه ذکر دی لکن متأسفانه د هیواد په ډېرو سیمو کې اوس هم ښځینه طایفه د رواجونو او دودونو قرباني ګرځیدلي چې د میراث د حق څخه بې برخې دي.

---

۱ ـ د طبري تفسیر، د حدیث شمېره: ۸۶۵۵.

۲ ـ د النسآء سورت: ۱۱ آیت.

غواړم چې دلته په وړاندنیو شپږ ناوړه دودونو اړوند معلومات د معارف القرآن تفسیر غوره تحلیل رانقل کړم تر څو د ښځو د حقوقو په هکله صحیح او معتدل موقف اختیار کړی شي:

## د اسلام نه وړاندې ټولنه کې د ښځو حالت:

د جاهلیت د زمانی ټولو قومونو ښځې لره د کورنی استعمال د یو څیز حیثیت ورکړی وو د څارویو پشان به یې خرڅولی شوی، د خپل واده ښادي کولو هیڅ اختیار یي نه لرلو د دوی اختیارمنو به چه چا ته ورکولي د هغو څخه پرته په یې هیڅ اختیار نه درلوده. د خپلوانو په میراث کې د دوی حصه نه وه بلکه د نورو څیزونو پشان به دوی د سړو په میراث کې راتلی او د سړو ملکیت (مال دولت) به ګڼلی شوی د دوی په قبضه او ملکیت کې به هیڅ نه وو او که په نوم به څه وو نو د سړو د اجازت نه بغیر به یي په دغه مال کې څه دخل نه شو لرلی، د دې خاوند ته پوره اختیار وو چه د دې (ښځې) مال ئې په څه ډول چه غوښتو، په هر ځای کې لګولی شو او د پوښتنی کولو حق هم نلرلو، تر دی چه ځنی مغربی ملکونو کې (چه ډېر ترقي یافته ګڼلی شي) ځینی سړو به ښځه هیڅ انسان نه ګڼلو.

په دین او مذهب کې د ښځې حصه نه وه، نه ورته د عبادت کولو حق وو او نه به جنت حقداره ګڼلی شوه د روما په ځینی مجلسونو کې دا فیصله په مشورې سره شوی وه چه دا یو پلیت ځناور دی، کوم چه روح نه لری د یو پلار د پاره به دا روا ګڼلی شو چه هغه خپلی ژوندی لونړې په زمکه کې ښخی کړی. بلکه دا عمل به د عزت نښه او د شرافت معیار ګڼلی شو، د ځینی خلقو دا خیال ؤ چه د ښځی په قاتل نه خو قصاص شته او نه دیت که چیرې خاوند به یې مړ شو نو ښځه به یې ورسره ژوندۍ په اور سوزوله او له منځه به یې وړه. د نبی کریم صلی الله علیه وسلم د پیدائش نه پس او د هغوی صلی الله علیه وسلم د نبوت نه وړاندې په ٥٨٦ هـجري کال کې فرانسي د ډېرو اختلافاتو نه پس دا قرارداد تصویب کړو اوپه هغه کې صرف دومره اومنلی شوه چه ښځه یو انسان دی خو د سړی د خدمت د پاره ده او دا یې په ښځه لوړ احسان اوکړو.

غرض دا چه د دنیا ټولو قومونو او مذهبونو ښځې سره هغه قسم سلوک کولو چه د هغې په اوریدو سره بدن زیګ شي دې عاجز

مخلوق سره به نه د عقل پوهې مطابق معامله کولی شوه نه د عدل او انصاف.

په رحمة للعالمین صلی الله علیه وسلم او د هغوی په راوړلی شوی حق دین چې د انسان سترګې یې پرانستي انسان ته یې د انسان د قدر او عزت یوه طریقه اوښودله د عدل او انصاف قانون یې جاری کړو، د ښځو حقونه یې په سړو داسې لازم کړل لکه څنګه چه د سړو حقونه په ښځو لازم دي هغه یې د سړو په شان آزاده خپل واکه او د خپل مال ځان داسې مالکه وټاکله چه یوی ښځې لره خپل پلار نیکه هم په نکاح ورکولومجبوره کولی نشي او که چیرې د هغې اجازت نه بغیر بل چا ته نکاح کړی شوه نو د دې په انکار به نکاح باطلیږې. او د دې په منظورولو به صحیح کیږي د دې په مال کې هیڅ یو نارینه د دې د اجازت او رضانه بغیر هیڅ دخل مداخلت نشي کولی. د خاوند د مرګ یا طلاق ورکولو نه پس دا خپل واکه ده، څوک پری زور زیاتی نشي کولی په میراث کې د نارینوو پشان ښځه هم حصه لري او په ښځه مال لګولو او د هغې رضا ساتلو لره شریعت محمدی صلی الله علیه وسلم عبادت ټاکلی دی که چیرې خاوند د هغې واجب حقوقو

لره نه پوره کوي نو هغه د اسلامي عدالت په زور خپل حقوق یا طلاق اخستی شي.

## د سړو قیمومت د ښځو لپاره هم ډېر اړین دی:

بلاشکه د اسلام په مقدس دین کې د ښځو په ډېر غټه کچه حقوق شتون لري که ښځه نوي مور،خور، لور، ترور، خاله وریره او خورزه به هم نوي، ښځه د انساني نسل د بقا سبب دی نیمه بلکې د نیمي څخه زیاته برخه د انسان د نسل جوړوي، ښځو کې د اسیا بي بي دفرعون میرمن، مریم د عمران لور، بي بي عائشه، بي بي خدیجه فاطمه زهری رضي الله تعالی عنهن په شان ښځې شتون لري، یوازي د حضرت بي عائشې رضي الله تعالی عنها څخه (۲۲۱۰) حدیث روایت شوی دي او ښځو له خپل مناسب حقونه نه ورکول زور ظلم، او سنگدلی او بدبختی وه کوم چه اسلام ختم کړل دغه شان دوی بی قیده پریښودل او د سړو دمشرۍ او انتظام نه ازادول او د خپل د وخت تیرول او ډودۍ جامی گټلو دپاره هم دا ذمه واره جوړول د هغې حق تلفی او بربادی ده، نه د هغی د بدن جوړښت دا پیټی اوچتولی شی

او نه د کورنی کارونو ذمه واری او د خپل اولاد د پالنې دا غټ کار د دغه پیټی پورته کول دې ته څه موقعه ورکوي.

دی نه علاوه د سړو د مشری او انتظام نه په وتلو سره ښځه د ټولی انساني معاشري د پاره لویه خطره جوړیږي په دنیا کې تری فساد او مرگ ژوبله پیدا کیږي او دی عمل نه راپورته شوی قسما قسم فتنې پیدا کیدل لازمی او د روزانه لیدلو کتلو خبری دی هم دا وجه ده چه قرآن کریم د ښځو د واجب حقوقو د بیان سره سره دا هم ارشاد اوکړو چې: (**وللرجال علیهن درجة**) د سړو درجه د ښځو نه اوچته ده، او په نورو لفظونو کې یې مطلب دا دی چه سړی د ښځو نگران او ذمه وار دی.

مگر څنگه چه د اسلام نه وړاندې په جاهلیت اولی کې د دنیا ټول قومونه د دی غلطی ښکار شوی ؤ چه ښځی به یې د کور د سامان یا د څارؤ په شان ساتلی، دغه شان د اسلام د تنزل په زمانه کښی د جاهلیت اخری دور شروع شو، دیکې د ړومبی غلطیرد عمل د دی په مقابله کې د دویمې غلطی په صورت کې کولی شی. چه په ښځو باندې د سړو د دومره مشری نه د خلاصیدو او خلاصولو پرله پسی روانې دي، چه په نتیجه کې یې فحاشي او بی حیایې عامه شوه دنیا د جنگ جگړو او د فساد کور

جوړ شو مرگ ژوبلی دمره ډېرې شوی چه جاهلیت اولی ته یې شکست ورکړو د عربو یو مشهور متل دی (**الجَاهِلُ اِمَّا مُفْرِط او مُفَرِّط**) جاهل زیاتی کوي یا کمي خو په خپل حال برابر او په میانه روی هیچری قائم نه پاتی کیږي.

اوس هم دا حال د زمانه سازو خلقو دی چه یا خو به یې ښځه انسان نه گنړلو او چه ترقی یې اوکړه نو د ښځو په څټ پروت د سړو د مشری واک اوغورځولو کوم چه دنیا دپاره د حکمت او ښیگړی خبره ده، د دی بد انجام مونږ په خپلو سترگو وینو او یقین وکړئ چه تر څو د قرآني ارشاد په وړاندې ټیټ نشئ او عملي نکړو نو فتنې فسادونه به ورځ په ورځ زیاتیږي.

اوسنی حکومتونو په دنیا کښی د آمن راوستو دپاره روزانه نوی نوی قانونو نه جوړ وی اود دی لپاره نوی نوی ادارې قائموي، په بي شمیره روپی پرلگوي لیکن د کومې چینی نه چه فتنې راخوټیږي هغې طرفته توجه نه شي ورکولی که چیرې نن صبا په دنیا کښی د فتنو فسادونو، مرگ ژوبلی، جگړو او جنگونو د اسبابو د تحقیق دپاره یو کمیشن جوړ کړی شي نو ځما په خیال

کښې د دې اسباب به نیم نه زیات د ښځې د اسلامي چوکاټ نه زیات ازادول وي .

مگر د موجود زمانی د هوښیارو خلقو سترگې ځکه د دی نه پټې دی چه هغوی نفس پرستۍ کې تردې حده رسیدلی دي چه د نفساني خواهشاتو په ضد د خیر ښیگړی هیڅ بندیز نه شی زغملی.

الله پاک د زمونږ زړونه د ایمان په نور رښانه کړي او په کتاب الله د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په هدایاتو د پوره عمل کولو توفیق مونږ ته راکړي ځکه چه هم دا څیزونه د دنیا او آخرت د نیک بختۍ پنگه ده.

د قرآن کریم پدې آیت: (**وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ**).[1] ژباړه: (د ښځو لپاره هم په نېکه توگه هماغسې حقوق دي، لکه څنگه چې د نارینه ؤ پر هغو حقوق دي)، په ضمن کې دا معلومه شوه قرآن حکیم ښځی او خاوند ته خپلی خپلی ذمه واری داسې اوښودلی چه د سړو په ذمه د ښځو حقونه ادا کول داسې فرض دی څنگه چه د ښځو په ذمه د سړو حقونه ادا کول فرض دي، په

۱ ـ د البقرې سورت، ۲۲۸ آیت.

دیکې دی خبرې ته اشاره ده چه ښځه خاوند د خپلو خپلو حقونو د غوښتنې په ځای د خپلو خپلو ذمه وارو خیال وساتي که داسې وشو نو د حقونو د غوښتلو قضیه به د مینځه وځی ځکه چه د سړی ذمه واریهم د ښځی حقوق دی او ښځی ذمه واری هم د سړی حقوق دی چه هر کس خپلی ذمه واری پوره کړی نو د هر کس حقوق به د هغې په ضمن کې پوره پوره ادا شی نن سبا د ټولنې جگړې هم دی نه راپورته کیږي چه هر یو کس د خپلو حقونو غوښتنه په وړاندې لري. لیکن د خپلو ذمه وارو پوره کولو هڅو خیال نه ساتی.

د دې نتیجه دا شوه چه د حقوقو د غوښتنی نه جنگونه جوړ شول، کوم چه د حکومتونو، عوامو، ښځو لو خاوندانو او د هر کس په مینځ کې روان دي، د قرآن کریم دې اشارې ته د خبرې اړخ داسې بدل کړو چه هر کس د خپلو حقونو غوښتلو کښی دنرمی، چشم پوشی، معافی او درگزر نه کار واخلي او په خپلو ذمه وارو ادا کولو د زوو ورکړي. په دی قرآني تعلیم که عمل

اوشی نو د کورنو او خاندانونو بلکه د حکومتونو او ملکونو اکثر جګړې به ختمی شي.[1]

١ ـ تفسیر معارف القرآن، د مولانا مفتي محمد شفیع، د وحید الله ژباړه، مطبعه وحیدي کتب خانه، د کال چاپ غیر معلوم.

# په مېلمستونو کې ډېر زياتوالی

يو د هغو ناوړه دودونو څخه دا هم دی چې ډېر زيات مهر ټاکلی شي ، چې دا کار د ځونانو نجونو او هلکانو د واده کولو په وړاندې خنډ دی چې ډېر واری د ځوان نسل ودونه ورسته کوي په ځينو سيمو کې هلکان ډېر کلونه د عربي خليج او يا د اورپايي هيوادونو په سفر کې په مزدورۍ تېر کړي تر څو د خپلو د داسې درانده ودونو، مېلمستونو، دواده خوړو، او د خاصو هوټلونو په تالارونو کې دوليمې ډوډۍ ته د ډېرو خلکو را بلنه او ګډون او دارنګه د ناوې لپاره په زياته کچه سره او سپين زر او ډول ډول قيمتي لباس چې د عامو خلکو د وسې څخه بهر وي، چې داسې دارنده رواجونو او دودونو زمونږ د ځوانانو نارينه ؤ او ښځينه ؤ ودونه وروسته کوي او يا يې د ودونو څخه محروم ګرځوي او ځينې نور يې اداري فساد او نور ناوړه کړنو ته مخ کوې تر څو خپل نورو وسه لرونکو ملګرو سره د واده په مراسمو، راوجونو او دودونو کې

سیالۍ تر سره کړي، کله کله داسې ناوړه دودونه د جنو د کور ځخه د تیښتی لامل ګرځي او په پایله کې د دوی کورنۍ کې د اخلاقی بد والي ته لیاره پیدا کیږي. په ځینو وختونو کې د واده دارنده دودونه په راتلونکی کې د واده شوې نجلۍ څخه د انتقام او بدلي چې د ښځې په وړاندې د تاوتریخوالي یو ډول دی یو ډول نوی دروازه خلاصوي.

داسې زیات مهرونه مقررول او لازم ګورځول د اسلامې شریعت په رڼا کې صحیح کار ندی:

پدې هکله راویت دی: «**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي تَزَوَّجْتُ امْرَأَةً مِنْ الْأَنْصَارِ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ نَظَرْتَ إِلَيْهَا فَإِنَّ فِي عُيُونِ الْأَنْصَارِ شَيْئًا قَالَ قَدْ نَظَرْتُ إِلَيْهَا قَالَ عَلَى كَمْ تَزَوَّجْتَهَا قَالَ عَلَى أَرْبَعِ أَوَاقٍ فَقَالَ لَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أَرْبَعِ أَوَاقٍ كَأَنَّمَا تَنْحِتُونَ الْفِضَّةَ مِنْ عُرْضِ هَذَا الْجَبَلِ مَا عِنْدَنَا مَا نُعْطِيكَ وَلَكِنْ عَسَى أَنْ نَبْعَثَكَ فِي بَعْثٍ تُصِيبُ مِنْهُ قَالَ فَبَعَثَ بَعْثًا إِلَى بَنِي عَبْسٍ بَعَثَ ذَلِكَ الرَّجُلَ فِيهِمْ**».١

١ ـ صحیح الامام مسلم، باب ندب النظر إلی وجه المرأة وکفیها لمن یرید تزوجها، دحدیث شمیره: ۱۴۲۴.

ژباړه: حضرت أبي هريرة رضي الله تعالى عنه راويت کوي: چې يو سړی نبی صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویی ویل: ما نکاح وکړه د یوې ښځې سره د انصارو څخه، نبي صلی الله علیه وسلم ورته ویي فرمایل: آیا ورته کتلي د وه؛ ځکه د انصارو په سترګو کې څه شی وي چې خوښ به د نوی ویی ویل: ما ورته کتلی وه او ورته ویی فرمایل په څومره د نکاح وکړه؟ وویل څلور اوقیه باندې، نبي صلی الله علیه وسلم ورته ویی فرمایل: په څلور اوقیه آیا لکه د ده غره د یو اړخ څخه سپین زر را تراشئ! موږ سره ـ اوس ـ څه شتون نلري چې دریې کړو په کوم ټولی د جهاد کې به دې ولیږو تر څو څه لاس ته غنیمت راوړي، راوي وایي یو ټولی کي د بني عَبْس ته ولیږولو چې یو پکې دغه سړی هم وه.

د دې حدیث څخه دا لاندې نکتې استنباط کیږي:

۱ ـ امام نووي رحمة الله د دې شرحه کې وایي:

د نبی صلی الله علیه وسلم مطلب د دی فقیر سړی لپاره د داسې زیاد مهر مقرره مکروه ګڼل وه.

۲ ـ د شک پرته نکاح یو شرعي امر دی او په وخت د خوف د ارتکاب د زنا کې بیا فرض مرتبې ته رسیږي ډېر خلک د داسو زیاتو مهرونو له کبله نشي کولای چې دې شرعي امر یعنې نکاح

ته لاس رسی ولري، د مسلماتو شرعیو څخه دی چې هر څه وسیله وي وجوب ته بیا کړن یې واجب کیږي، نو لدې څخه معلومیږی چې د حاکم امر په کمښت د مهرونو او د خلکو منع کول د زیاتو مهرونو اخستلو څخه د شرعي خلاف کار ندی، بلکې پدې کار کې د خاوند او میرمني مصلحت په پام کې نیول شویدی او دغه کار د شریعت لخوا د تقدیر وړ دی.

۳ ـ په ځینو حالاتو کې د ښځي په نه ورکولو کفء ته د هغې خپلوان خپل شخصي مصلحتونه په پام کې نیولي وي لیکن هغه کفء د داسې زیات مهر توان نلری او د خپلوانو هدف صرف اسراف او فخر وي چې دا کار د شریعت خلاف دی، دې کار ته دوام ورکول داسې خپلوان فاسقان ګرځوي او د کفالت صلاحیت تري سلب کیږي نو د مسلمانانو حاکم ته پکار دی چې په داسې حالاتو کې مداخله وکړي او د نکاح واک په خپله واخلې.

۴ ـ د ډېر غریبانو او ضعیفانو لوړ مهر لامل د نکاح د منع کولو ګرځي او د دي کار څخه چې کوم زیانونه او مفاسد منځ ته راځي هغه د چا څخه پټ ندی پداسې حال کې چې اسلامي شریعت د مصالحو د تکمیل او د مفاسدو د کمښت او له منځه وړلو لپاره راغلی.

نو اگر چې په ظاهر خو زياتوالي د مهر د ښځو او د دې خپلوانو لپاره ښه ښکاريږی لکن کوم مفاسد چې په هغه مرتّب کيږي هغه ډېر زيات دي.

دارنگه روايت دی: «**خَيْرُ النِّكَاحِ أَيْسَرُهُ**».[1] ډېر ښه نکاح هغه دی چې ډېره اسانه وي. يعنې کومه نکاح چې تکليف، مهر او نور امور يې کم او اسانه وي هغه د شريعت له پلوه ښه د خير او برکت سبب کيږي.

نه داسې چې ځينې خلک يې وايي چې دا خو که په کم مهر مور خورلڼه واده شي بيا خو يې حيثيت او وقار کميږي، ځکه د مال او شتمنی سره وقار نه زياتيږي بلکې وقار په ديانت، تقوی، ښو اخلاقو، تعليم، او ښې روزنې سره زياتيږي.

پدې هلکه راويت دی: «**عَنْ أَبِي الْعَجْفَاءِ السُّلَمِيِّ قَالَ خَطَبَنَا عُمَرُ رَحِمَهُ اللَّهُ فَقَالَ أَلاَ لاَ تُغَالُوا بِصُدُقِ النِّسَاءِ فَإِنَّهَا لَوْ كَانَتْ مَكْرُمَةً فِي الدُّنْيَا أَوْ تَقْوَى عِنْدَ اللَّهِ لَكَانَ أَوْلاَكُمْ بِهَا النَّبِيُّ (صلى الله عليه وسلم) مَا أَصْدَقَ رَسُولُ اللَّهِ (صلى الله عليه وسلم) امْرَأَةً مِنْ نِسَائِهِ وَلاَ أُصْدِقَتِ امْرَأَةٌ مِنْ**

---

١ ـ سنن أبي داود، باب فيمن تزوج ولم يسم صداقا حتى مات، د حديث شميره: ٢١١٨.

**بَنَاتِهِ أَكْثَرَ مِنْ ثِنْتَيْ عَشْرَةَ أُوقِيَّةً»**.[1] ژباړه: د أبي عجفاء سلمي روایت دی چې وایي: عمر رضي الله عنه موږ ته خطبه وویله: او ویې فرمایل: خبردار د ښځو مهرونو کې تجاوز مکوئ، ځکه که دا کار په دنیا کې عزت او د الله پاک په وړاندې تقوی وی نو نبی صلی الله علیه وسلم به د ستاسو څخه ډېر پدې کار بهتر وه، رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلو بیبیانو ته مهر نه ورکړی او نه د ده لورانو ته مهر ورکړی شویوه زیات له دولسو او قیو څخه.

پدې روایت کې عمر رضي الله عنه په ډېر صراحت سره خلک منع کړل له زیاتوالي څخه بلکې په مهرونو کیدی د خلکو فقر او حالت ته د نظر وسي.

۱ ـ سنن أبي داود، باب الصداق، د حدیث شمیره: ۲۱۰۸.

# ښځینه ؤ سره تاوتریخوالی

په افغاني ټولنه کې یو د هغو ناوړه دودونوڅخه دا هم دی چې ښځینه ؤ سره تاوتریخوالی او د هغو وهل ټکول، شکنجه، عیبي کول او پوزه غوړ پریکول او دېته ورته کړنې چې دا ټول د اسلامي شریعت او د موړ د خوږ پېغمبر صلی الله علیه وسلم د سیرت سره په ټکر کې دي،

دارنګه روایت دی: «**عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زَمْعَةَ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ لَا يَجْلِدْ أَحَدُكُمُ امْرَأَتَهُ جَلْدَ الْعَبْدِ ثُمَّ يُجَامِعُهَا فِي آخِرِ الْيَوْمِ**»[1].

ژباړه: د عبد الله بن زمعه رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د ستاسو څخه دی څوک خپله میرمن ته د غلام په څیر وهل ورنکړئ؛ ځکه چې شاید په اخر د ورځ کې یې نږدوالی ورته وکړی. یعنې ډېر واري د وهلو وروسته د کوروالي ضرورت او اړتیا راشي چې دهغې په ذریعه د ناروا علاقي څخه دی ژغورل کیږي نو بیا به پښېمانه وي نو بناء څوک دي د مریه په څیر د خپله ښځه نه وهئ ګرچه تأدبي وهل

---

١ - صحیح البخاري، باب ما یکره من ضرب النسآء، د حدیث شمیره: ۵۲۰۴.

د نشوز په حالاتو کې جایز او منصوصي امر دی لکن د خوږ پېغمبر صلی الله علیه وسلم څخه هیڅ کله هم په خپل عمر کې وهل ندي واقع شوي مګر که د الله پاک په لیار کې د جهاد په مهال راغلی وي څرنګه چې د مؤمنانو مور حضرت بي بي عائشه رضي الله عنها فرمايي: «**ما ضرب رسول الله صلى الله عليه وسلم شيئا قط بيده، ولا امرأة، ولا خادماً الا أن يجاهد فى سبيل الله**».[1]

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم هیڅکه یو شی په لاس نه دی وهلی، نه ښځه، نه خادم، مګر د الله تعالی په لاره کې د جهاد په مهال. نو چې کله پېغمبر صلی الله علیه وسلم په لاس وهل ندي کړي نو پورته د هغه څخه قطعا ترې ندي ثابت شوي.

بې له شکه ښځه یو نه یو ډول کمزوري لري خو هره کمزورتیا بده نه ګڼل کیږي، ښځه که له جسمې اړخه کمزوري ده نو په دې يې څوک ملامتولای نشي، ځکه په دې کمزورتیا کې د دې لاس نشته، له قلبي او عاطفي اړخه کمزورتیا په دې مانا چې زړه سواندې او ډېره مهربانه ده، دا په اصل کې کمزورتیا نه، بلکې د

١ - صحيح الامام مسلم، باب مباعدته صلى الله عليه وسلم للآثام واختياره من المباح أسهله وانتقامه لله عند انتهاك حرماته، حديث رقم: ٢٣٢٨.

ښځې یو غوره صفت دی او رسول الله صلی الله علیه وسلم د دې صفت ستاینه کړې او تل یې صحابه کرامو ته په دې اړه توصیه کړې ده او فرمایلې یې دي: «**استوصوا بالنساء خیرا**»[1]. ښځو سره د ښه چلن په هکله توصیه وکړئ.

او همدغه نصیحت یې د حجة الوداع پر مهال چې، خپل زرگونه امت یې مخاطب وو تکرار کړی دی ترڅو خلک د دې وصیت په اهمیت وپوهیږي، نو ځکه یې په همدې لویه ورځ په خپله خطبه کې همدغه وصیت ته ځانگړی ځای ورکړی ؤ او فرمایلې یې ؤ: «**استوصوا بالنساء خیرا؛ فانما هن عوان عندکم**».[2] ښځو سره د نیکو چلن په هکله وصیت وکړئ؛ ځکه دوی ستاسو سره بندیانې دي.

ښځې یې ځکه له بندیانو سره تشبیه کړې چې، سړی واکمن یې، د طلاق واک له سړي سره وي او له جسمې پلوه هم پر ښځه غښتلی وي، له همدې امله رسول الله صلی الله علیه وسلم د

١ ـ متفق علیه.

٢ ـ سنن الترمذي، باب حق المرأة علی زوجها و في تفسیر سورة التوبة، د حدیث شمېره : ٣٠٨٧، ١١٦٣.

سړي عاطفه د ښځې پر وړاندې داسې را ګرځوي: «**خیرکم خیرکم لأهله و أنا خیرکم لأهلي**»[1].

ستاسې غوره څوک هغه دی چې د خپلې کورنۍ/میرمنې پر وړاندې غوره وي او زه د خپلې کورنۍ/میرمنې پر وړاندې غوره یم.
رسول الله صلی الله علیه وسلم په یوه ډېره بلیغه جمله کې ښځې له نارینه و سره په اهمیت، ارزښت او مقام کې برابرې بللې دي، د ښځیتوب له امله باید هیڅکله په کمه سترګه ورته و نه کتل شي، فرمایلې یې دي: «**ان النساء شقائق الرجال**»**۲**. بیشکه ښځې د نارینه ؤ په مثل دي.

ابن اثیر رحمه الله د (شقائق) مانا په (نظائر او امثال) سره کړې دی.
دا یوازې هغه کلمات نه دي چې ښځې له عاطفي پلوه پرې تسکین شي، بلکې دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه

---

۱ ـ سنن الترمذي، باب فضل ازواج النبی صلی الله علیه وسلم، د حدیث شمېره : ۳۸۹۵.

۲ ـ سنن الترمذي، باب فیمن یستیقظ فیری بللا ولایذکر احتلاما، د حدیث شمیره: ۱۱۳.

عملي ژوند دی چې، هره ورځ او هره شېبه به یې په خپل او د صحابه کرامو په کورونو کې تکراریده.

د ښځو اړوند د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینې موقفونه په ګوته کوو چې، څومره یې له ښځو سره نرم چلن کړی دی او څومره یې له نرمۍ، تسامح او ښښنې کار اخیستی:

**«عَنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ قَالَ اسْتَأْذَنَ أَبُو بَكْرٍ رَحْمَةُ اللَّهِ عَلَيْهِ عَلَى النَّبِيِّ –صلى الله عليه وسلم– فَسَمِعَ صَوْتَ عَائِشَةَ عَالِيًا فَلَمَّا دَخَلَ تَنَاوَلَهَا لِيَلْطِمَهَا وَقَالَ لاَ أَرَاكِ تَرْفَعِينَ صَوْتَكِ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ (صلى الله عليه وسلم) فَجَعَلَ النَّبِيُّ (صلى الله عليه وسلم) يَحْجُزُهُ وَخَرَجَ أَبُو بَكْرٍ مُغْضَبًا فَقَالَ النَّبِيُّ (صلى الله عليه وسلم) حِينَ خَرَجَ أَبُو بَكْرٍ (كَيْفَ رَأَيْتِنِى أَنْقَذْتُكِ مِنَ الرَّجُلِ). قَالَ فَمَكَثَ أَبُو بَكْرٍ أَيَّامًا ثُمَّ اسْتَأْذَنَ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ (صلى الله عليه وسلم) فَوَجَدَهُمَا قَدِ اصْطَلَحَا فَقَالَ لَهُمَا أَدْخِلاَنِى فِى سِلْمِكُمَا كَمَا أَدْخَلْتُمَانِى فِى حَرْبِكُمَا. فَقَالَ النَّبِيُّ (صلى الله عليه وسلم)«قَدْ فَعَلْنَا قَدْ فَعَلْنَا». ١**

ژباړه: د نعمان بن بشير څخه روايت دی چې ابوبکر رضي الله عنه د رسول صلی الله علیه وسلم څخه اجازه واخیسته او د رسول الله صلی الله علیه وسلم کورته دننه شو ناڅابه یې د خپلې لور عائشي رضي الله عنها غږ په لوړ اواز واوریدل، ورغی

١ - سنن أبي دادو، باب ما جآء فی المزاح، حديث رقم: ٥٠٠.

او غوښتل يې چې په څپېړ يې ووهي او ويل يې : تـه نـه پـوهيږې چې، پر رسول الله صلی الله عليه وسلم په لوړ اواز نـاري وهـي؟! رسول الله صلی الله عليه وسـلم يـې مخنيـوی وکـړ، ابـوبکر رضي الله عنه په غوسه له کوره ووتل، چـې کلـه هغـه ووتـل رسـول اللـه صلی الله عليه وسلم وفرمايل: «**کيف رأيتني انقذتک من الرجل؟**».

و دې ليدم، څنگه مې له سړي خلاصه کړي؟ راوي وايـې: څـو ورځې وروسته بيا ابوبکر رضي اللـه عنـه د رسـول اللـه صـلی اللـه عليه وسلم کورته ورغی چې، دواړو بيرتـه سـوله کـړې وه، نـو ورتـه ويې ويل: ماته د ستاسو سولې پـه وخـت د ننوتلـو اجـازه راکـړئ څرنگه مو چې د جگـړې پـه وخـت اجـازه راکـړې وه ، نبـي کـريم صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل: «**قد فعلنا قـد فعلنـا**» دا کـار مو کړی دا کار مو کړی يعنـې: موږ اجازه درکړې.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم رحمت د پلار تر رحمت وړاندې شو، د حضرت عائشې رضي الله عنها پلار ابوبکر صديق رضي الله عنه غوښتل چې خپلي لور ته جزا ورکړي، خو رسول الله صلی الله عليه وسلم پرې رحمت وکړ او د هغه مخه يې ونيوله کړه.

کله نا کله یې یوه میرمن یوه لویه خطا کوي، او د خلکو له مخه یې کوي او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اذیت لامل کیږي، خو بیا هم د رسول الله صلی الله علیه وسلم د رحمت له امله د هغې موقف ستایل کیږي، او د هغې کمزورتیا بښل کیږي، بلکې د هغې خطایې د هغې غیرت بلل کیږي، عکس العمل نه رامنځ ته کیږي، له تسامح او نرمۍ څخه کار اخیستل کیږي.

پدې اړوند روایت دی:«**عَنْ أَنَسٍ قَالَ كَانَ النَّبِيُّ عِنْدَ بَعْضِ نِسَائِهِ فَأَرْسَلَتْ إِحْدَى أُمَّهَاتِ الْمُؤْمِنِينَ بِصَحْفَةٍ فِيهَا طَعَامٌ فَضَرَبَتِ الَّتِي النَّبِيُّ فِي بَيْتِهَا يَدَ الْخَادِمِ فَسَقَطَتِ الصَّحْفَةُ فَانْفَلَقَتْ فَجَمَعَ النَّبِيُّ فِلَقَ الصَّحْفَةِ ثُمَّ جَعَلَ يَجْمَعُ فِيهَا الطَّعَامَ الَّذِي كَانَ فِي الصَّحْفَةِ وَيَقُولُ غَارَتْ أُمُّكُمْ ثُمَّ حَبَسَ الْخَادِمَ حَتَّى أُتِيَ بِصَحْفَةٍ مِنْ عِنْدِ الَّتِي هُوَ فِي بَيْتِهَا فَدَفَعَ الصَّحْفَةَ الصَّحِيحَةَ إِلَى الَّتِي كُسِرَتْ صَحْفَتُهَا وَأَمْسَكَ الْمَكْسُورَةَ فِي بَيْتِ الَّتِي كَسَرَتْ « كُسِرَتْ**».[۱]

ژباړه: له انس رضي الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې رسول الله صلی الله علیه وسلم له یوې میرمنې سره ؤ، چې بلې میرمنې یې یوه کاسه خواړه را ولیږل، نو د خادم لاس یې ووهل،

۱ ـ صحیح البخاري، باب الغیرة، حدیث رقم: ۵۲۲۵.

کاسه لاندې پرېوته او ماته شوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم د کاسې ټوټې سره یوځای کړې، بیرته یې هغه خواړه پکې ټولول او ویل یې: «غارت أمكم» ستاسو مور غیرت وکړ، خادم یې منتظر کړه تر دې چې دهغې کور څخه یې بله روغه کاسه راوړله اود چا کاسه چې ماته شویوه هغې ته ورکړه او ماته کاسه د دې په کور کې چې ماته کړیوه (یا ماته شویوه) پاتی کړه.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلې میرمنې قهر او غضب د هغې غیرت وبلل، د هغې درنښت ته یې پاملرنه وکړه، ویې فرمایل: ستاسې مور غیرت وکړه، د هغې د قهر او غوسې په مقابل کې یې هیڅ غبرګون و نه ښود، په ډېره اسانی ډول یې له موضوع سره برخورد وکړ.

## اسراف په ځانګړی ډول د واده په ډوډۍ کې

د موږ په ټولنه کې بل یو ناوړه دود اسراف او په ځانګړی ډول د واده په ډوډۍ کې بې دریغه زیاتوالی او اسراف دی،الله جل جلاله په قرآن کریم کې لارښوونه کوي فرمایي: **(وکلوا واشربوا ولاتسرفوا إنه لایحب المسرفین).**[1]ژباړه: او وخورئ او وڅښئ او له حد نه تیری مه کوئ الله جل جلاله له حدنه تیری کوونکي نه خوښوي.

اسراف کوونکي په خپلو ناوړه کړنو سره شیطان سره دوستي او وروري کوونکي دي، الله تعالی فرمایی : **(إن المبذرین کانوا إخوان الشیاطین و کان الشیطان لربه کفورا).**[2]ژباړه: په باوري توګه بی ځایه لګښت کوونکی د شیطان وروڼه دي او شیطان د خپل رب ناشکره دی. اسراف د مال اضاعت دی او اضاعت حرام دی څرنګه چې د الله جل جلاله رسول صلی الله علیه وسلم فرمایي:«**إن الله کره لکم ثلاثا قیل و قال و إضاعة المال و کثرة**

---

۱- د الأعراف سورت: ۳۱ , أیت .

۲ - د الإسراء سورت : ۲۷ آیت .

**السؤال»**.[1] ژباړه: الله ستاسو لپاره درى شيان بد او ناوړه بللي دي، قيل و قال (خبرو کې مناقشې او له حد زياتوالي)، د مال ضايع کول او ډېر سوال کول.د ډېر خوراک په هکله رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: «**ما ملأ آدمي وعاء شرا من بطن، حسب الآدمي لقيمات يقمن صلبه، فإن غلبت الآدمي نفسه فثلث للطعام وثلث للشراب وثلث للنفس»**.[2]

ژباړه: انسان هيڅ لوښى د گيډې نه بدتر نه دى ډک کړى د انسان لپاره کافى ده چې څو مختصرې نمړى وخوري څو په هغه سره خپله ملاسمه کړي، که چېرې په انسان باندې نفس غالب شو نو درېيمه برخه دې‌ي طعام، بله درېيمه دي څښاک او بله درېيمه دي نفس لپاره دي وگرځوي.

موږ هيواد يو فقير، جنگ او جکړو ځپلى دى چې ډېر خلک يې ناچاره بي وسه او لالاهانده دي، ډېرى داسې وگړي هم شتون لري چې اقتصادي وضع يې صفر دى، يا خو هيڅ څوک د مزدورۍ، خپلو ستونزو او اړتياوو پوره کولو نلري؛ ځکه په جگړو او

1- متفق عليه.

2ـ سنن ابن ماجه، باب الاقتصاد فى الأكل و كراهة الشبع، د حديث شميره، ٣٣٤٩.

خپل منځي شخړو کې يې د کور سرپرستان او متوليان شهيدان شوی دي حتی ځيني داسې خلک هم شتون لري چې د خپلو شهيدانو او مړو جسدونه هم لاسته ندی ورغلي، بناء موږ ته هيڅ ډول جواز نشته چې د خپل مالونو په هکله اسراف او تبذير وکړو، راځئ چې د هغو لوړ بيه خوراکونو او د مشهورو هوټلونو د تالارونو پر ځای متوسطه ډودۍ اوخوراکونه په متوسطو هوټلونو او يا خپل کورونو کې ودونه وکړو او هغه زياتي روپۍ خپلو بې وسه ګاونډيانو سره مرسته وکړو او د دې حديث مصداق وګرځورسول الله صلی الله عليه وسلم ګاونډی ته د نيکۍ په اړه ابوذررضي الله تعالی عنه ته خطاب کوي فرمايي: «**يا أباذر إذا طبخت مرقة فأكثر ماءها و تعاهد جيرانك**».[1] ژباړه: ای ابوزره! کله دی چې خوروا پخه کړی اوبه يې زياتي کړه او ګاوندی ته ترى ور کړه.

په بل حديث که رسول صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «**ليس المؤمن من يشبع و جاره جائع الى جنبه**».[2] ژباړه: هغه څوک کامل مسلمان ندی چې موړ وي او ګاونډی يې په څنګ کې

---

۱-سنن الترمذي، باب حق الجوار، د حديث شميره: ۱۹۴۴.

۲- شعب الإيمان للبيهقي، دحديث شميره: ۳۳۸۹، امام ذهبي صحيح ګڼلی.

وړی وي. په بل حدیث کی راغلي دي: «**قال رسول الله صلی الله علیه وسلم: خیر الأصحاب عندالله تعالی خیرهم لصاحبه و خیر الجیران عندالله تعالی خیرهم لجاره**».[1] ژباړه: رسول الله فرمایلي دي: د الله پاک په وراندېدېر ښه ملګري هغه دي چې د خپل ملګریپه وړاندې ښه وي او ډېر ښه ګاوندید الله په وړاندې هغه دي چېد خپلوګاوندېپه وړاندېدېر ښه وي.

نن ورځ د پوهانو او ډاکترانو د څېړنو په اثر ثابته شوې ده چې د روغتیا له غوره قوانینو څخه یو دادی چې ډېر خوراک د ډول ډول ناروغیو سر چینه ده.

موږ چې مال خرڅ کوو د هغه داسې پوښتنه موږ نه کیږي څرنګه چې د هغه لاسته را وړنو موږ نه پوښتنه کیږي پدي هکله روایت دی:«**عن أبي برزة الأسلمي قال: قال رسول الله صلی الله علیه وسلم لاتزول قدماعبد یوم القیامة حتی یسئل عن عمره فیم أفناه وعن علمه فیم فعل وعن ماله من أین اکتسبه وفیم أنفقه وعن جسمه فیم أبلاه**». ۲

١- سنن الترمذي، باب ما جاء في حق الجوار،د حدیث شمیره: ١٩۴۴.

٢ـــ سنن الترمذي، باب القیامة، د حدیث شمیره: ٢۴١٧.

ژباړه: د ابي برزه اسلمي رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي: د قيامت په ورځ به د انسان قدمونه کوم طرف لاړ نشي تر څو ترې  ونه پوښتل شي د عمر څخه چې په څه کې يې تېر کړی، د علم څخه چې څومره يې عمل پرې کړی، د مال څخه چې د کوم ځايه يې لاس ته راوړی او کوم ځای کې مصرف کړی او د جسم د ده څخه چې په څه کې يې زوړ کړی.

نکاح يو طبيعی او فطري قانون دی، که چېرې د نکاح د پريښودو يا وروسته کيدو لپاره کوم عامل سبب شي هغه انساني ضد عامل دی چې بايد مخنيوی يې وشي. يوه بله بدمرغی چې په نورو فسادونو برسېره د نکاح مخه ډپ کوي درانه مهرونه او ملاماتوونکي جهيزونه او بې اندازې لګښتونه او د نکاح په جشنونو کې بې معنا تشريفات او نورمصارف دي نو که چېرې په دې هکله اسراف نه کيدای نو لويه برخه ستونزې به حل شوې وای. راځئ دې دغو درانه مهرونو او جهيزونو کې  اسراف  څخه ځان وژغورو او  هغه مالونو د يتيمانو په کفالت او هغوی سره په مرسته کې مصرف کړو تر څو د مال د اسراف د ګناه څخه په امن او هم د هغه ثواب او اجر مستحق شو چې په حديثو کې ذکر

شوی، پدي هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «**أنا و کافل الیتیم فی الجنة هکذا**».[1] ژباړه: زه او هغه څوک چې د یتیم پالنه کوي په جنت کې به داسې یو ځای یو. یعنې د دې دواړه ګوتو په څیر نږدې به په جنت کې یو.

او د دارنګه ناوړه دودونو کې مصرف پر ځای باید یتیمانو سره ښه چلن او د هغوی ښووني او روزني ته پاملرنه وکړو تر څو د دې مبارک حدیث عاملین شو: «**قَالَ رَسُولُ اللهِ صلی الله علیه وسلم: ... وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ، لاَ يَلِي أَحَدٌ مِنَ الْمُسْلِمِينَ يَتِيمًا فَيُحْسِنُ وِلايَتَهُ، إِلاَّ جَعَلَ اللَّهُ لَهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ دَرَجَةً، وَأَعْطَاهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ حَسَنَةً، وَكَفَّرَ عَنْهُ بِكُلِّ شَعْرَةٍ سَيِّئَةً**».[2] ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: ... قسم په هغه ذات چې زما روح دهغه په لاس کېدی، هرمسلمان چې د یتیم کفالت وکړي او دهغه ښه پالنه په غاړه واخلي الله پاک د هر یو ویښته په مقابل کې یې درجه اوچته کړي او د هر ویښته په مقابل ورته یوه نیکي ورکوي او د هر ویښته په مقابل کې یې یوه ګناه وربښي.

۱- صحیح البخاري، بابٌ حُسْنُ الْعَهْدِ مِنَ الإِيمَانِ، د حدیث شمیره: ۶۰۰۵.
۲- شعب الإیمان للبیهقي، باب في رحم الصغیر و توقیر الکبیر، د حدیث شمیره: ۱۰۵۳۰.

# د سپو، چرگانو، زرکانو او مرږانو جنګول

یو بل ناوړه دود چې د زموږ په ټولنه کې له ډېر پخوا نه په ځینو وکړو مسلط دی چې هغه دسپو، چرگانو،زرکانو مرږانو او داسې نور حیواناتو جنګول دي بلاشکه چې په ډېرو احادیثو کې د حیواناتو حقوق بیان شوی دي او د هغوی تعذیبول لویه گناه بلل شوي، لیکن بیا هم د موږ په ټولنه کې دا ناړوه کار د ځینو وګړو له لوري د رسم او عادات په ډول رراوان دی او پرته د کوم احساس د دینه چې ایا دا گناه دی اوکه نه؟ نو ډېر د افسوس ځای دی چې د موږ د افغان، غیرتي او مجاهد ولس له هغو بي ژبه ځارویو چې الله پاک موږ ته مسخر او تابع کړیدي، ظلم او د اسلامي شریعت خلاف چلند وکړو، اسلامي شریعت موږ ته په هر ساه لرونکي څیز د ترحم او مهربانۍ لارښوونه کړی دی څرنګه چې روایت دی:**عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو يَبْلُغُ بِهِ النَّبِيَّ (صلى الله عليه وسلم) «الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمُ الرَّحْمَنُ ارْحَمُوا أَهْلَ الأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِى السَّمَاءِ»**[1].

---

١ ـ سنن أبي دادو، باب الرحمة، د حدیث شمیره: ٣٩٤٣.

ژباړه: دعبد الله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به یې د دې روایت سند رسولو: رحم کوونکو باندې به رحمن ذات رحم کوي، نو د ځمکې اهل باندې رحم وکړئ تر څو هغه ذات چې په اسمان کې دی پرتاسو رحم وکړي.

که چیرې دې حدیث ته موږ زیر شو نو معلومیږي چې اهل الارض کې ټول حیوانات چې د موږ د ګټې لپاره پیدا کړی شوی دي په هغو باندې ترحم کول شرعي امر دی او لامل دی رحم کیدلو دی په موږ باندې، ځکه جزا د جنس د عمل څخه وي نو د رحم په مقابل کې په رحم وینو، که چېرې مو په حیواناتو رحم ونه کړو او هغوی مو په جنګ واچول او هغو ته مو په ډول ډول تعذیب او زورونه ورکړه نو الله د نه کړي چې موږ په جنګ، ورانی او هلاکت سره مخ شو او خپل منځي جنګونه به نورهم دوام دار شي، څرنګه چې اصحاب فیل د خانه کعبې د نړولو په قصد یې غټ غټ فیلان ځان سره راوستلي وه او دغو حیواناتو (فیلانو) څخه یې ناوړه ګټه پورته کوله په مقابل کې الله جل جلاله د هغوی حالت داسې وګرځولو لکه د ښارویو شخوند وهل شوي واښه، نو راځئ لدې قراني واقعې څخه پند واخلو او د سپو، چرګانو، زرکانو او مړزانو... د جنګولو څخه ځان وژغورو.

## د حیواناتو د جنګولو حکم:

د حیواناتو جنګول، هغوی یو تربله په جنګ تیـزول او پـه هغـو ظلم کول په اسلامي شریعـت کـې حـرام دی، څرنګـه چـې سـنن ترمذي په خپل سند سره روایت کـوي:«**عن مجاهد أن النبي صلى الله عليه و سلم نهى عن التحريش بين البهائم**».[1]

ژباړه: حضرت مجاهد روایت دی چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم د حیواناتو ترمنځ تیزول یعنې په جنګ اچولو څخه یې منع کړې.

دارنګه سنن أبي دادو په خپل سند سره روایـت کـوي:«**عَنِ ابْنِ عَبَّـاسٍ قَـالَ نَهَـى رَسُـولُ اللَّهِ (صـلى الله عليـه وسـلم) عَـنِ التَّحْـرِيشِ بَـيْنَ الْبَهَائِمِ**».[2]

ژباړه: د ابن عباس رضي الله تعالی عنهما څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د حیواناتو د جنګ اچولو څخه منع کړې.

---

۱ سنن الترمذي، باب كراهية التحريش بين البهائم والضرب والوسم، د حدیث شمیره: ۱۷۰۸، ۱۷۰۹.

۲ ـ سنن أبي داود، باب فى التحريش بين البهائم، د حدیث شمیره: ۲۵۶۴.

## د حیواناتو د جنګولو په هکله د ځینو فقهاؤ څرګندونې:

(أَمَّا تَحْرِيشُ الْحَيَوَانِ  بِمَعْنَى الإِغْرَاءِ وَالتَّسْلِيطِ وَالإِرْسَال بِقَصْدِ الصَّيْدِ فَمُبَاحٌ كَإِرْسَال الْكَلْبِ الْمُعَلَّمِ، وَمَا فِي مَعْنَاهُ مِنَ الْحَيَوَانَاتِ.وَلاَ خِلاَفَ بَيْنَ الْفُقَهَاءِ فِي حُرْمَةِ التَّحْرِيشِ بَيْنَ الْبَهَائِمِ، بِتَحْرِيضِ بَعْضِهَا عَلَى بَعْضٍ وَتَهْيِيجِهِ عَلَيْهِ، لأِنَّهُ سَفَهٌ وَيُؤَدِّي إِلَى حُصُول الأْذَى لِلْحَيَوَانِ، وَرُبَّمَا أَدَّى إِلَى إِتْلاَفِهِ بِدُونِ غَرَضٍ مَشْرُوعٍ وَجَاءَ فِي الأْثَرِ: نَهَى رَسُول اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنِ التَّحْرِيشِ بَيْنَ الْبَهَائِمِ).۱

ژباړه: د حیواناتو تحریش چې په معنی دی تیزولو، مسلط کولو اود ښکار پسې لیږدول دی، که چیرې د تعلیم ورکړی شوي سپي او یا د  ده په څیر نورو حیواناتو  په ذریعه سره وي نو بیا مباح دی. او په حرمت د تحریش د حیواناتو په هکله په منځ د فقهاؤ کې کوم اختلاف شتون نه لري تحریش په معنی د تیزولو او باعث کولو په جنګ سره د ځینو حیواناتو په ځینو نورو باندې دی؛ ځکه دا ناپوهي دی او لامل د زیان او ضرر کیږي په حیوان

۱ ـ الموسوعة الفقهية، ټوک ۱۰، مخ ۱۹۵، مکتبه شامله.

پوري او ډېر واري سبب د حیوان د هلاکت ګرځي پرته د کوم شرعي موخې څخه، ځکه په اثر کې راغلي دي: چې رسول الله صلى الله علیه وسلم د ژارویو او حیواناتو د جنګولو اویو تربله تیزولو څخه نهي اومنع کړي.

ریښتیا هم چي زمونږ پروردګار په خپلو بندګانو څومره زړسواند او مهربان دی چي دهغوی دګټې او فایدې لپاره یې ګڼ شمېر ژاروي چي په جوړښت، قوت او ضخامت کي تر انسان څو ګونه زیات دي، تابع ګرزولي دي، بیا مونږ ولي ددې ژارویو دپیدایښت دموخو سرچپه له هغوی نه داسې کارونه اخلو چي یوازي زمونږ بېځایه او بېګټې شوق او هوس مړوي او نوره هېڅ ګټه نلري پدې سربېره دژارویو دا ډول منفي کارونه دهغوی لپاره ډار، ځورونه، خوږ، پرهارونه او ستوماني پېښوي.

داهم باید له یاده ونه باسو چي داسلام مبین دین دهغو تفریحـي لوبونه مخنیوی نکوي کومي چـي انسـاني جسـم تـه ګټـه رسـوي اوداسي څه پکي نه وي چي له دیني مقرراتـو سره ټکـر وي، لکـه بـې حیـایي، دنارینـه وو او مېرمنـو یوځـایي ګـډون، بـې موجبـه دژارویو ځورول او یوله بل سره جنګول، بلکه مسلمانان یـې کولـو

او د مهارتونو پکي لاسته راوړلو تـه وربـولي، لکـه دلامبـو وهلـو زده کړه، دآسـونو ځغلـول او يـا دآسـونو دسـورلی مسـابقې لکـه نېـزې وهل، د نښـي وېشتل مخکي په غشـو او اوس پـه موډرنـو وسـلو او همدا راز نوري لوبي چي دانسان روغتيا اوجسم ته ګټـه رسـوي او د شرعي مقرراتو په چوکاټ کي وي، لکه منډي وهل او ورزشي يـا تمرينـــــــــــــي نـــــــــــوري لـــــــــــوبي.

داچي مونږ خاروي او يا مرغان يوله بـل سره جنګـوو آيـا دادخپـل تش شوق دپوره کولو لپاره دهغو بې موجبـه ازارول نـه دی؟ مـونږ ولي دا له ياده اېستلي چي له مونږ څخه به ددې خارويو په هکله دقيامت په ورځ پوښتنه کېږي؟

## د حيواناتو په جنګولو د شرط کېښودلو حکم:

دا پـورتنی بحـث د خـارويو اوحيوانـاتو د جنګولـو حکـم هغـه صورت وه چې په هغه کې کوم شرط نه وي اېښودل شوی اما کله چې د حيواناتو په جنګولو کې شرط او مال کيښـودل شي نـو لـه پورته ګناه سره بيا قمار هم پکې راغی نو قمار څه شی دی؟

قمار: هغه معامله ده چې په هغې کې پريکړه او اتفـاق وشي پـه شرط لگولو د هغې په گټلو يا په بايللو سره چـې دا گټـه او تـاوان يې مبهم او نا معلوم وي بيا دا د قمار (مَيْسِر) په نوم ياديږي.

قرآن کريم کې قمار حرام او د شيطان عمل بلل شوی: الله پاک فرمايي: (**يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالأَنصَابُ وَالأَزْلاَمُ رِجْسٌ مِّنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ**).١ ژباړه: ای مؤمنانو! يقينا چه شراب او قمار او بتان او غشي (د فال، دا څلور واړه ټول) پليت دي د شيطان د کړنو څخه دي نو له دې څخه ځان وساتئ لپاره د دې چې نجات ومومئ.

کومه لوبه کې چې شرط لگول شوی وي او وړل او بايلل پکې وي هغه د قمار په حکم کې دي په دې هکله اثر دی:

«**حَدَّثَنَا وَكِيعٌ ، قَالَ: حدَّثَنَا حَمَّادُ بْنُ نَجِيحٍ قَالَ : رَأَيْتُ ابْنَ سِيرِينَ مَرَّ عَلَى غِلْمَانٍ يَوْمَ الْعِيدِ بالْمِرْبَد وَهُمْ يَتَقَامَرُونَ بِالْجَوْزِ ، فَقَالَ: يَا غِلْمَانُ ، لاَ تُقَامِرُوا , فَإِنَّ الْقِمَارَ مِنَ الْمَيْسِرِ**».٢ ژباړه: مصنف ابن أبي شيبه په خپل سند سره د وکيع او هغه د حماد بن نجيح څخه روايت کوي

---

١ - د المائدې سورت، ٩٠ آيت.

٢- مصنف ابن أبي شيبة، باب فِي لعِبِ الصِّبيانِ بِالجوزِ، د حديث شميره: ٢٦٦٩٤.

چې هغه ویلي: ابن سیرین مي لیدلی وه چې د اختر په ورځ د کورونو تر څنګ په ماشومانو چې په غوزانو یا څهارمغزو یې قمار کولو تیریدلو، نو ورته ویې ویل: آی هلکانو! قمار مکوئ؛ ځکه چې قمار جواری دی.

دارنګه بل اثر دی:«**عَن طَاوُوس، قَالَ كَانَ يَكْرَهُ الْقِمَارَ وَيَقُولُ: إِنَّهُ مِنَ الْمَيْسِرِ حَتَّى لَعِبِ الصِّبْيَانِ بِالْجَوْزِ وَالْكِعَابِ**»[1].

ژباړه: د طاووس رحمه الله څخه رانقل دی چې هغه به قمار بد ګڼلو او ویل به یې: هر هغه څیز چې په قمار کې داخل وي هغه د میسر په حکم کې داخل دی تر دې چې د ماشومان په غوازنو یا څهارمغزو او ګټکیو د ګټلو او بیللو لوبې کوي هغه هم قمار یا جواری دی.

## په حیواناتو رحم کول د ګناهونو د بښنې لامل دی:

لومړی د اسلامي شریعت له مخې په حیواناتو او مرغانو بلکې په ټول مخلوق خواخوږی، زړسواند او رحم کول مطلوب امر دی او داچې اسلام مونږ دځارویو، مرغانو او دزمکي په مخ دټولو

---

۱ ـ مصنف ابن أبي شيبة، باب فِي لِعبِ الصِّبيانِ بِالجوزِ، د حدیث شمیره: ۲۶۶۹۳.

خوځېدونکیو او روح لرونکیو په هکله دترحم او خواخوږي لورته ورغوارې د بیلکې په توګه په دې حدیثو کې:

**۱. «عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " مَنْ رَحِمَ وَلَوْ ذَبِيحَةَ عُصْفُورٍ رَحِمَهُ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ».**[۱]

ژباړه: له أبوأمامه رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چي زړه سوی او خواخوږي وکړي که د چنچوښي مرغۍ په حلالولو کي هم وي الله تعالی به دقیامت په ورځ وربانديي رحم وکړي.

**۲. «عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ ارْحَمُوا تُرْحَمُوا وَاغْفِرُوا يَغْفِرْ اللَّهُ لَكُمْ ».**[۲]

ژباړه: عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله تعالی عنهما څخه

۱ ـ شعب الإيمان لأحمد بن الحسين بن علي بن موسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى :٤٥٨هـ)، باب فى رحم الصغير و توقير الكبير، رقم الحديث: ۱۰۵۵۹.

۲ ـ مسند الامام أحمد، د حدیث شمیره: ٦٥٤١.

روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: رحم وکړئ ترڅو په تاسو باندې رحم وکړل شي ښښنه کوئ تر څو الله تعالی تاسو ته ښښنه وکړي.

۳ . «**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ أَبَا الْقَاسِمِ الصَّادِقَ الْمَصْدُوقَ (صلى الله عليه وسلم) صَاحِبَ هَذِهِ الْحُجْرَةِ يَقُولُ: «لاَ تُنْزَعُ الرَّحْمَةُ إِلاَّ مِنْ شَقِيٍّ**».[1] له ابوهریره رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چې ابو قاسم له هغه رښتوني تصدیق شوي صاحب د دغې کوټې یعنې رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اوریدلي دی چې فرمایلي: هغه څوک چې بدبخته (بد مرغه) وي دهغه په زړه کې ترحم او زړسوی نه وي.

**۴ . «عن شداد بن أوس قال اثنتان حفظتهما عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إن الله كتب الإحسان على كل شيء فإذا قتلتم فأحسنوا القتلة وإذا ذبحتم فأحسنوا الذبح وليحد أحدكم شفرته فليرح ذبيحته».**[2]

ژباړه: شداد بن اوس رضي الله تعالی عنه روایت کوي چې دوه شیان مې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یاد کړي هغه

---

۱ ـ سنن أبی داود، باب الرحمة، د حدیث شمیره: ۴۹۴۴.

۲ - صحیح الامام مسلم، باب الأمر بإحسان الذبح والقتل وتحدید الشفرة، د حدیث شمیره: ۱۹۵۵.

داچې ويې فرمايل: الله تعالی په هرڅه باندې احسان کول لازم گرځولي دي نو که تاسو وژل يا حلالول کوئ نو په ښه توگه يې کوئ او تاسو خپلو چاړه تېروئ ترڅو خپل څاروی د حلالې په وخت ژر مستريح کړئ.

سپی هغه حيوان دی چې دهغه بلا ضرورته په کور کې ساتل هم ناروا دی او د هغه شتون په کور کې سبب د منع د رحمت ملائکو گرځي، خو بيا هم هغه ته د اوبو په ورکولو يو انسان مغفور گرځي او ښنه ور ته کېږي پدې هکله روايت دی:

**٥ . «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ – رضي الله عنه – أَنَّ رَسُولَ اللهِ  قَالَ بَيْنَا رَجُلٌ يَمْشِي فَاشْتَدَّ عَلَيْهِ الْعَطَشُ فَنَزَلَ بِئْرًا فَشَرِبَ مِنْهَا ثُمَّ خَرَجَ فَإِذَا هُوَ بِكَلْبٍ يَلْهَثُ يَأْكُلُ الثَّرَى مِنَ الْعَطَشِ (الْعُطَاشِ) فَقَالَ لَقَدْ بَلَغَ هَذَا مِثْلُ الَّذِي بَلَغَ بِي فَمَلَأَ (فَنَزَلَ بِئْرًا فَمَلَأَ) خُفَّهُ ثُمَّ أَمْسَكَهُ بِفِيهِ ثُمَّ رَقِيَ فَسَقَى الْكَلْبَ فَشَكَرَ اللهُ لَهُ فَغَفَرَ لَهُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ وَإِنَّ لَنَا فِي الْبَهَائِمِ أَجْرًا قَالَ فِي كُلِّ كَبِدٍ رَطْبَةٍ أَجْرٌ».**[١]

ژباړه: ابوهريره رضي الله تعالی عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم ويې فرمايل: يو سړی په لاره روان وو، تنده

١ ـ صحيح البخاري، بابُ فَضْلِ سَقْيِ الْمَاءِ، د حديث شميره: ٢٣٦٣، ٦٠٠٩.

ورباندېزیاته شوه، یوڅاه ته ورکوز شو، اوبه یې وڅښلې او بېرته راووت، ګوري چې یوه سپی ژبه را اېستلي او له ډېري تندي لمده خاوره څټي، دې سړي له ځان سره وویل چې داسپی به هم ځما په شان تږی وي بېرته هماغه څاه ته ورکوز شو، خپله موزه یې له اوبو ډکه کړه او په خوله کي یې ونېوله ترڅو له څاه راوخوت هغه سپی یې اوبه کړ، بیا یې پدې کارالله تعالی د دې عمل په کړنه اجر ورکړه او ټول ګناهونه یې وروبښل.

د سپي په څیر څاروي ته د اوبو ورکولو سره یو انسان الله جل جلاله بښنه کوي نو دارنګه نورو حیواناتو او څارویو ته پاملرنه، د ګرمۍ او یخنۍ موسم کې هغو ته مناسب ځای برابرول، د وسه او طاقت څخه پورته کار نه کول، د هغو د توان نه زیات بار پرې نه وړل، د هغو د خوراک او څښاک ته پاملرنه او په ژوند هغه په اور نه داغل او د هغو شاؤ څخه منابر او چوکۍ نه جوړول او هغه حیوان چې د سوارۍ لپاره نه وي پیدا شوی لکه غوا او غویا په هغه سواري نه کول او هغو ته ضرر او زیان نه رسول او د شرعي هدف څخه پرته د هغو نه حلالول او نه ضایع کول د اجر سبب ګرځي.

## په حیواناتو تېری او ظلم جهنم ته لیار برابرول دي:

په دې هکله ډېر حدیث شتون لري چې د حیواناتو زورونه او تکلیفونه عذاب او جهنم ته انسان نږدي کوي څرنګه چې پدې هکله ډېر روایات شتون لري:

۱ .«**عَن ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا عَنِ النَّبِيِّ قَالَ دَخَلَتِ امْرَأَةٌ النَّارَ فِي هِرَّةٍ رَبَطَتْهَا فَلَمْ تُطْعِمْهَا وَلَمْ تَدَعْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ (خُشَاشِ-خِشَاشِ) الْأَرْضِ**».[1]

ژباړه: ابن عمر رضي الله تعالى عنهما له نبي صلى الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمایلي: یوه مېرمن پدې وجه دوزخ ته داخل شوه چي خپله پشو یې تړلي وه نه خو یې پخپله خواړه ورکول اونه یې دیته پرېښودله چي د ځمکي په مخ ځانته خواړه ومومي.

۱ ـ صحیح البخاري، د حدیث شمیره: ۳۳۱۸.

**۲ . «مَنْ مَثَّلَ بِذِي الرُّوحِ ، ثُمَّ لَمْ يَتُبْ مَثَّلَ اللَّهُ بِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ قَالَ حُسَيْنٌ: مَنْ مَثَّلَ بِذِي رُوحٍ».**[۱]

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: یوڅوک چې د کوم ژوندی ساه لرونکی غوړ، پوزه یاکوم بل اندام ورغوڅ کړي او بیا تر مرگ وړاندې الله تعالی ته توبه ونه باسي الله تعالی به یې دقیامت په ورځ دهماغه ځاروي غوندې اندامونه ورغوڅ کړي.

د حیواناتو نښه گرځولو څخه په اسلامي شریعت کې منع را غلې لکه په دې حدیث شریف کې:

**۳ . «عَنْ هِشَامِ بْنِ زَيْدٍ قَالَ دَخَلْتُ مَعَ أَنَسٍ عَلَى الْحَكَمِ بْنِ أَيُّوبَ فَرَأَى غِلْمَانًا أَوْ فِتْيَانًا نَصَبُوا دَجَاجَةً يَرْمُونَهَا فَقَالَ أَنَسٌ نَهَى النَّبِيُّ أَنْ تُصْبَرَ الْبَهَائِمُ».**[۲] ژباړه: هشام بن زید وایي زه او انس حکم بن ایوب ته ورغلو ویې لیدو چې هلکانو او یا ځوانانو یوه چرگه نښه کړیوه چې ویشتلې نو انس رضي الله تعالی هغوی ته وویل: نبي صلی الله علیه وسلم د دینه منع کړي چې ژوندي بهائم او حیوانات

۱ ـ مسند الامام أحمد، د حدیث شمیره: ۵۹۵۶.

۲ ـ صحیح البخاري، بابُ مَا يُكْرَهُ مِنَ الْمُثْلَةِ وَالْمَصْبُورَةِ وَالْمُجَثَّمَةِ، د حدیث شمیره: ۵۵۱۳، او صحیح الامام مسلم، باب نهي عن صبر البهائم، د حدیث شمیره: ۱۹۵۶.

ترهغو بند او حصارکړی شي او په ويشتلو او يا په بله ذريعه مړه کړی شي.دارنګه بل روايت دی:

۴ ـ «عن عبد الله بن جعفر قال مر رسول الله صلى الله عليه و سلم على أناس وهم يرمون كبشا بالنبل فكره ذلك وقال لا تمثلوا بالبهائم».[1]

ژباړه: عبد الله بن جعفر رضي الله تعالى عنهما فرمايي: چې رسول الله صلى الله عليه وسلم په يوه ډله کسانو تېرېدو ويې لېدل چې هغوی ديوه ژوندي مړ ځېني اندامونه په نښه کړي او په غشو يې ويشتل، ډېره کرکه يې وکړه او ويې فرمايل: دژنديو خارويو اندامونه مه غوڅوئ.

اسلام دخارويو او مرغانو بې ځايه زورول حرام ګرځولي دی، لکه په لوږه اوتنده کې ساتل، او دهغوله شاؤ څخه چوکۍ جوړول يعنې ډېر وخت د هغه په شا سپور پاته کېدل، دهغه ستومانه کول او ستونزمن کار ورڅخه اخېستل او دهغه تر وس زيات دروند بار ورباندې اېښودل، يوازې دخوند اخېستلو او شوق پوره کولو په خاطر دهغوی وژل او ښکارول چې نوره ګټه ښکار

۱ ـ سنن النسائي، باب النهي عن المجثمة، د حديث شميره:۴۴۴۰.

کوونکی نه ورڅخه آخلي، او دهغه په نښه گرځول که په ډبرو وي، یاپه غشو او یا پـه کارتوسـانو او کـه دمثـال پـه ډول بزکشي- او یـا گوسـاله کشي- وي چـي ژونـدي څـاروي پکـي کـارول کیـږي. دارنگه د اسلام مقدس دین مونږ پـه ټینگـه پـدې مکلـف گرځـوي چي په اور باندي دڅارویو، مرغانو او حشراتوله سوځولو څخه ډډه وکړو او دجسم ځیني برخي یې په اور ونه داغوه کار؛ ځکـه پـه اور عـذاب ورکـول د اللـه پـاک کـار دی نـه د انسـان، حیوانـات او یـا مرغان دلوبو لپاره یوله بل سره په جنگ اخته نکړو، دمرغـانو هغـه ځالي وراني نکړو او بېځایه یې نکـړو چېرتـه چـي هغـوی اوسي او یابچي زیږوي او دمېږیانو ځایونه له سوځولو څخه ځانونه وسـاتو.

## د سپیانو د ساتلو حکم:

علماء د لاندنیو احادیثو په رڼاکي لیکي چي که یو څوک سپی په کور کي ددې لپاره چي ښکار ورباندي وکړي، یا کرونده ورباندي ساتي، یا خپل څاروي ورباندي پیایي، یا خپل کور له غلو او دښمن څخه ورباندي ساتي یا یې دولتي اداري ددې لپاره ساتي چي نشه یي توکي ورباندي معلوم کړي او یا غله ورباندي وپیژني بیا یې ساتل جواز لري او که دا یادي شوي اړتیاوي نه

وي بيا يې ساتل مکروه او د اسلام له نظره کرکجن عمل دی او دا دساتونکي په نيت پوري اړه لري خو هغه څوک چي سپی جنګوي له عمل نه يې نيت جوته ده اودسپيو ساتل ورته جواز نلري ځکه چي دحيواناتو او مرغانوجنګول ناروا عمل دی او که پدې جنګولو باندي ګټه لاس ته راوړي او مشروط جنګول وي نو بېشکه چي په قمار کي داخل دی او ګټه ورنه اخېستل حرام کاردی.

## د سپي د نه ساتلو په اړوند روايات:

**«عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ – رضي الله عنه – قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ مَنْ أَمْسَكَ كَلْبًا فَإِنَّهُ يَنْقُصُ كُلَّ يَوْمٍ مِنْ عَمَلِهِ قِيرَاطٌ إِلَّا كَلْبَ حَرْثٍ أَوْ مَاشِيَةٍ قَالَ ابْنُ سِيرِينَ وَأَبُو صَالِحٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ إِلَّا كَلْبَ غَنَمٍ أَوْ حَرْثٍ أَوْ صَيْدٍ وَقَالَ أَبُو حَازِمٍ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ كَلْبَ صَيْدٍ أَوْ مَاشِيَةٍ».**[1]

ژباړه: له ابوهريره رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: څوک چي يو سپی ساتي دده دنېکو عملو له ثواب څخه هره ورځ يو قېراط (درجه) کمېږي مګر که دکرهني او يا د خارويو د ساتني لپاره وي، ابن

١ ـ صحيح البخاري، بَابُ اقْتِنَاءِ الْكَلْبِ لِلْحَرْثِ، د حديث شميره: ٢٣٢٢.

سیرین او ابو صالح رحمهما الله د أبي هریره رضي الله او هغه د نبي صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی: مګر هغه سپی چې د رمې، کرهنې او یا د ښکار لپاره وي او ابو حازم د أبي هریره او هغه د نبي صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي: مګر سپی د ښکار او یا که د څارویو لپاره وي.

دارنګه بل روایت دی:

**«عن أبي هريرة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال من اقتنى كلبا ليس بكلب صيد ولا ماشية ولا أرض فإنه ينقص من أجره قيراطان كل يوم»**.[1] ژباړه: له ابوهریره رضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې یو سپی ساتي چې نه دښکار کولو وي، نه دڅارویو او نه د کښت د ساتلو لپاره وي الله تعالی به یې دده دنېکو عملو له ثواب څخه هره ورځ دوه قیراطونه (درجې) کموي.

غواړم چې د دې بحث په اخر کې د قرآن کریم د آیتونو په رڼا کې د حیواناتو ځینې ګټې یادونه وکړم: الله تعالی فرمایي:

---

١ - صحيح الامام مسلم، باب الأمر بقتل الكلاب وبيان نسخة وبيان تحـريم اقتنائها إلا لصيد أو زرع أو ماشية ونحو ذلك، د حدیث شمیره: ١٥٧٥.

**(وَالْأَنْعَامَ خَلَقَهَا لَكُمْ فِيهَا دِفْءٌ وَمَنَافِعُ وَمِنْهَا تَأْكُلُونَ، وَلَكُمْ فِيهَا جَمَالٌ حِينَ تُرِيحُونَ وَحِينَ تَسْرَحُونَ ، وَتَحْمِلُ أَثْقَالَكُمْ إِلَى بَلَدٍ لَمْ تَكُونُوا بَالِغِيهِ إِلَّا بِشِقِّ الْأَنْفُسِ إِنَّ رَبَّكُمْ لَرَءُوفٌ رَحِيمٌ ، وَالْخَيْلَ وَالْبِغَالَ وَالْحَمِيرَ لِتَرْكَبُوهَا وَزِينَةً وَيَخْلُقُ مَا لَا تَعْلَمُونَ).**[1]ژباړه: او څاروي یې پیدا کړل چې په هغو کې ستاسو دپاره ګرم پوښاك او نورې ګټې هم شته او له هغو نه خوراك هم کوئ او (دا هم) تاسو ته یو ډول ښکلا ده پکې چې سهار یې وباسئ او ماښام یې بېرته راولئ او ستاسو درانه پیټي تر هغې سیمې وړي چې تاسو یې له ډېر کړاو ګاللو پرته نه شئ رسولی، رښتیا چې ستاسو رب خامخا ډېر مهربان خواخوږی دی, اسونه، کچر او خره یې هم ددې دپاره پیدا کړل چې هم پرې سپاره شئ او هم ښکلاوي او نور داسې شیان هم پیدا کوي چې تاسو وربانديې نه پوهېږئ.

دارنګه الله تعالی فرمایي:

---

۱ - د النحل سورت، ۵ ــ ۸ آیتونه.

**(أَوَلَمْ يَرَوْا أَنَّا خَلَقْنَا لَهُمْ مِمَّا عَمِلَتْ أَيْدِينَا أَنْعَامًا فَهُمْ لَهَا مَالِكُونَ، وَذَلَّلْنَاهَا لَهُمْ فَمِنْهَا رَكُوبُهُمْ وَمِنْهَا يَأْكُلُونَ، وَلَهُمْ فِيهَا مَنَافِعُ وَمَشَارِبُ أَفَلَا يَشْكُرُونَ).** [1]

ژباړه: ایا دوی نه ویني چې موږ پخپلو لاسونو د جوړو شویو شیانو څخه د دوی لپاره څاروي پیدا کړل او اوس یې دوی خاوندان دي ، موږ هغه پداسې شان دوی ته تابع کړیدي چې پر ځینو باندی دوی سپریږي، د ځینو غوښه خوري او په هغو کې د دوی لپاره راز راز گټې او څښاکونه شته نو ایا دوی شکر نه باسي؟

په داسې نورو ډېرو آیاتونو کې د حیواناتو او څارویو گټې ذکر شوی دي، چې ځنیې د هغو گټوڅخه په لاندې کرښو کې ذکر کیږي:

۱ ـ د هغوی د څرمنو او پوسکو څخه د ژمي گرم ډول ډول پوښاک لاسته راوړی شي او دارنگه د هغو څخه نور د ژوند زینت یعنې لباس جوړولی شي.

۲ ـ د ځینو غوښې خوړی شي او د انسان خوراکي اړتیاوې پوره کوی شي.

---

۱ ـ د یس سورت، ۷۱ ـ ۷۳ آیتونه.

۳ ـ د شیدو څخه یې استفاده کېږي او نور ډول ډول خوراکي توکي ترې لاسته راځي او انسان د دې لیارې څخه ډول ډول صحي ویټامینونه پوره کوي.
۴ ـ د ځینو په واسطه ښکار کولی شي لکه سپی.
۵ ـ د ځینو په ذریعه د کښت، ځارویو او ځانونو ساتل کولی شي.
٦ ـ د ځینو په ذریعه سوداګري توکي او نور مالونه د مقصد ځایونو ته رسوو.
۷ ـ ځیني د سپرلی او انتقال وسیله دي.
۸ ـ د حیواناتو د پوستکو څخه د هستوګن ځایونه جوړېږي لکه کیږدۍ او داسې نور.
۹ ـ ځارویو او مرغانو کې الله پاک لوی ښایښت اچولی لکه آس، طاووس او داسې نور.
۱۰ – د انسان لپاره په ځینو حالاتو کې د خبر او کشف ورکول لامل ګرځي لکه د سپي په ذریعه نشه یي توکي او داسې ځیزونه کشفول.
۱۱ ـ په ځینو حالاتو کې د انسان د پوهي او تعلیم ذریعه ګرځي لکه چې کارغه څخه انسان د دفن طریقه یاده کړه.

۱۲ ـ ځیني حیوانات د انسان د اور د سوزولو توکي برابروي او د ځمکې د حاصلاتود پیاوړتیا لپاره پارو او سره لاسته تری راځي.

۱۳ـ د موږ د افغاني ټولنې اقتصادي لویه برخه حیوانات او څاروي تشکیلوي.

په څارویو کې داسې نورې ډېرې گټې دي، نو راځئ چې دغه څارویو او حیواناتو څخه دا جایزې گټې واخلو تر څو د الله پاک له لوري د اجراو ثواب مستحق شو او د دوی په هکله ناوړه اوناروا دودونو لکه په جنگ اچول یې او یا پری قمار کولو څخه ځانونه وژغورو تر څو د الله پاک د عذاب څخه په نجات او خوندي پاتي شو.

# د ځينو نارينه ځوانان له لوري د سرو زرو استعمال

زمونږ د ټولنې یو بل ناوړه دود دا دی چې ځينې ځوانان خصوصا هغه ځوانان چې نوی کوژده او یا واده کوي د سره زرو چیله (د واده د نښې ګوته) استعمالوي او يا خو خپله ځوانان يې اخلې او یا يې د خسرخيلو لطرفه ورته د ډالۍ په ټوګه ورکول کیږي نو بیایي دا مسلمانان ځوانان هغه سره زر (طلا) استعمالوي او په ګوته يې کوي او يا نری سرو زرو زنځیر ځینې ځوانان په غاړه او یا په لاس کې اچوي، نو راځئ چې دا دود د اسلامي شريعت په رڼا کې وڅيړو:

د سره زره استعمال که هغه د ګوتې او یا د زنځیر او یا داسې د نورو ځيزونو په شکل وي، د موږ د اسلامي امت په نارينه ؤ د خوږ نبي صلی الله علیه وسلم په ژبه حرام شوی.

غربي پوهانو د علمي تجربو او څيړنو په نتیجو کې دیته رسیدلي چې د سره زرو د استعمال د نارینه ؤ په جنس کې د وينو په سرو کرياتو او دارنګه په حافظې قوې چې په ذهبي حجره باندې یادیږي منفي تأثیر

یعنې بده اغیز لري او د ښځینه ؤ په باب دغه منفي اثرات شتون نه لري؛ ځکه چې د هغوی د پوسکي لاندې شحمي مواد شتون لري چې هغه د سره زرو اشاعاتو او منفي تأثیراتو مخنیوی کوي.

## په نارینه ؤ د سرو زرو د استعمال د حرمت دلایل:

۱ - پـدې هکلـه روایـت دی: «**عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ زُرَيْرٍ الْغَافِقِيِّ، سَمِعْتُهُ يَقُولُ: سَمِعْتُ عَلِيَّ بْنَ أَبِي طَالِبٍ يَقُولُ : أَخَذَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى الله عَلَيْهِ وسَلَّمَ حَرِيرًا بِشِمَالِهِ، وَذَهَبًا بِيَمِينِهِ، ثُمَّ رَفَعَ بِهِمَا يَدَيْهِ، فَقَالَ: إِنَّ هَذَيْنِ حَرَامٌ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِي، حِلٌّ لِإِنَاثِهِمْ**».[1]

ژباړه: عبد الله بن زریر غافقي څخه روایت دی چې وایې ما د علي بن أبي طالب رضي الله تعالی عنه څخه اوریدلي دي چې ویلي: رسول الله صلی الله علیه وسلم په چپ لاس کې وریښم او په ښي لاس کې طلا نیولي وه او دواړه یې پورته کړه او ویې فرمایل: دغه دوه شیانو (سره زر او وریښم) جنسونه د ما د امت په نارینه ؤ حرام دي او د دوی د ښځینه ؤ لپاره حلال دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د دغه دوه شیانو جنس یعنې هر څه چې د هغو څخه جوړیږي د اسلامي امت په نارینه ؤ حرام

۱ - سنن أبي داود، کتاب اللباس، بَابُ لُبْسِ الْحَرِيرِ وَالذَّهَبِ لِلنِّسَاءِ، د حدیث شمیره: ۳۵۹۵.

ګرځولي؛ ځکه الله پاک په جنت کې د هغو عوض ورکوي، اما ښځينه طائفه لپاره حلال دي دا ځکه چې هغوى به خپل خاوندانو ته د هغو په ذريعه ځانونه ښايښته کړي.

۲ ـ دارنګه روايت دی: «**عن ابن عباس رضي الله عنهما: أن رَسُول الله – صلى الله عليه وسلم – رأى خاتَمَاً مِنْ ذهبٍ في يدِ رجلٍ فنَزعه فطرحه، وَقالَ: يَعْمدُ أحَدُكُمْ إِلَى جَمْرَةٍ مِنْ نَارٍ فَيَجْعَلُهَا في يَدِهِ! فقِيلَ لِلرَّجُلِ بَعْدَمَا ذهب رَسُول اللهِ – صلى الله عليه وسلم – : خُذْ خَاتَمَكَ انْتَفِعْ بِهِ. قَالَ : لا والله لا آخُذُهُ أبَداً وَقَدْ طَرَحَهُ رسولُ الله – صلى الله عليه وسلم -**».[1]ژباړه: له عبد الله بن عباس رضي الله تعالى عنهما څخه راويت دی هغه وايي رسول الله صلى الله عليه وسلم د سروزرو (طلاؤ) يوه ګوته د يو سړي د لاس په ګوته کې وليدله او هغه ګوته يې د هغه د لاس څخه راوويستله او وغورزوله او ويې وفرمايل: آيا يو د ستاسو په قصد سره د اور سکروټه په لاس کې اخلي، کله چې رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه د هغه ځای څخه لاړو نو هغه سړی ته وويل شول: ګوته دې واخله! کومه بله

۱ - صحيح الامام مسلم، باب تحريم خاتم الذهب على الرجال ونسخ ما كان من إباحته في أول الإسلام، د حديث شميره: ۲۰۹۰.

ګټه به ترینه واخلئ، هغه ویل: په الله مې قسم دی چې هیڅ کله به یې هم را وانخلم په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وغورځوله (نو زه به څنګه را واخلم).

د سرو زرو ((طلاؤ)) حرمت په ډېرو نورو روایتونو کې هم راغلی لکه دا روایت:

**۳ ـ «وعن أَبِي موسى الأشْعَري رضي الله عنه أنَّ رسول الله صلى الله عليه وسلم قَالَ: حُرِّمَ لِبَاسُ الحَرِير وَالذَّهَبِ عَلَى ذُكُورِ أُمَّتِي، وَأُحِلَّ لإِنَاثِهِمْ».**[۱] ژباړه: د أبي موسی اشعري رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: چې څما په امت د سړو لپاره د وریښمو جامې او سره زر حرام ګرځولي شوي دي او د ښځو لپاره حلال کړی شوی دي.

۴ ـ بل روایت دی: **«عَنْ أَبِي أُمَامَةَ أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يَلْبَسْ حَرِيرًا وَلَا ذَهَبًا»**.[۲]

ژباړه: د أبي أمامه رضي الله عنه څخه روایت دی چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي چې څوک پر الله

---

۱ ـ سنن الترمذي، باب ما جاء في الحرير والذهب، د حديث شميره: ۱۷۲۰.

۲ ـ مسند الامام أحمد، د حديث شميره: ۲۲۲۴۸.

تعالی او په ورځ د آخرت ایمان لري هغه د وریښمو جامې او سره زر نه استعمالوي یعنې هغه لره نه ښایي چې د وریښم او سره زر استعمال کړی.

۵- امام أحمد رحمه الله په خپل مسند کې روایت کوي:«**عنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِي وَهُوَ يَشْرَبُ الْخَمْرَ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ شُرْبَهَا فِي الْجَنَّةِ وَمَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِي وَهُوَ يَتَحَلَّى الذَّهَبَ حَرَّمَ اللَّهُ عَلَيْهِ لِبَاسَهُ فِي الْجَنَّةِ**».[۱]ژباړه: عبد الله بن عمرو رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمایلي دي: څوک چې د ما د امت څخه په داسې حال کې مړ شي چې شراب څکي الله پاک به په جنت کې د شراب څښل پري حرام کړي او څوک چې د ما د امت څخه په داسې حال کې مړ شي چې سره زر استعمالوي الله پاک به په جنت کې د سرو زرواستعمال پري حرام کړي. ځینې ځوانان چې د سرو زرو ګوته او یا زنځیر په لاسونو او یا غاړو کې اچوي دوی په دې ناوړه دود سره ښځینه ؤ سره تشبیه کوي؛ ځکه د طلاؤ استعمال او اچول په اسلامي شریعت کې په ښځینه ؤ پوري خاص دی نو

۱ ـ مسند الامام أحمد، د حدیث شمیره: ٦٩٤٨.

هرکله چې نارینه بالخصوص ځوانان سره زر په غاړه او لاسونو کې د زنځیر او ګوتې په شکل استعمال کړي نو د دوی تشبیه له هغوی سره راځي، او په ښځو سره تشبیه کوونکو سړو باندې رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت ویلی څرنګه چې روایت دی:

٦ ـ «**عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ لَعَنَ رَسُولُ اللهِ الْمُتَشَبِّهِينَ مِنَ الرِّجَالِ بِالنِّسَاءِ وَالْمُتَشَبِّهَاتِ مِنَ النِّسَاءِ بِالرِّجَالِ**».[1]ژباړه: د ابن عباس رضي الله عنهما روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په هغو نارینه ؤ لعنت ویلی چې له ښځو سره تشبیه کوونکي وي او دارنګه په هغو ښځو چې له نارینه ؤ سره تشبیه کوونکې وي.نو راځئ چې دې ناوړه دودو ته د پای ټکی کېږدو په ځای یې اسلامي ښووني، روزني، ښو اخلاقو او ادابو ته مخ کړو او د خپل هیواد او د خلکو د خدمت او سکالۍ ترقۍ په لور قدمونه پورته کړو او د موږ خوږ هیواد له دې کړاوونو څخه خلاص کړو او د دارینو بریا، نجاح، فلاح مو نصیب کړو.

---

١ ـ صحیح البخاري، بابٌ الْمُتَشَبِّهُونَ بِالنِّسَاءِ وَالْمُتَشَبِّهَاتُ بِالرِّجَالِ، د حدیث شمیره: ۵۸۸۵.

# په سگرټو، نسوارو اونورو نشه يي توکو روږدي کېدل

د موږ په ټولنه کې يو بل ناړوه دود چې ځيني وګړي په ځانګړی توګه ځوانه طبقه په سگرټو، نسوارو او مخدره توکو عادت دي چې دا ډېر زيان لرونکي عادت او دود دی چې زيان او نقصان يې يوازې اخته خلکو پوری ندی خاص بلکې په ټولو وګړو ته سرايت کوي، د سگرټو، نسوارو او نشه يې توکو زيانونه خورا زيات ځاني، روحي، ټولنيز، اقتصادي او دارنګه اخروي زيانونه لري چې ځيني يې عبارت دي له: غاښونه، وری، ستونی، سږي خرابوي په بوی او لوږي سره يې نورو ته ضرر رسيږي پدې کې مال بي ځايه مصرف کيږي او اخته خلک ځانونه او نور په تدريج سره د هلاکت کندې ته سوق کوي همداسې د زړه ټکان زياتوي، د بدن دفاعي سيستم کمزوری کوي، د مرکزي اعصابو د سيستم فعاليتونه کمزوري کوي، د ستوني او سږو سرطان پيدا کوي، د وينې فشار زياتوي، د باصرې، شامې او ذايقې حسونه

کمزوري کوي، د وينې کلسترول زياتوي، په معتاد سري کې لټې او کمزورتيا رامنځته کوي، د زړه د ناڅاپي دريدلو (سکتې) لامل کيږي، په تنفسي سيستم کې ګډوډي رامنځته کوي او روحي ګډوډي سټريا، پريشاني، ګوښه توب او داسې نور زيانونه لري. غواړم لومړی د مخدره توکو تعريف او بيا يې اساسي ډولونه بيان کړم:

## د مخدره توکو لغوي تعريف:

مخدره توکي په لغت کې: د مخدرکلمه د (خِدْر) له کلمې څخه اخيستل شوې ده، چې خدر د پښوالي، کمزورۍ، سستۍ او تنبلۍ په معنی راځي. (تخدرالعضو) دا کلمه عرب په هغه وخت کې استعمالوي چې يو اندام يي شل شي او حرکت ونشي کړای.

په بل عبارت سره د ډار، وروسته پاتې کېدل،سرګرځيدنې او داسې نورې معانې له ځانه سره لري او دا په هغه چاکې ښه شتون پيدا کوي چې په مخدره موادو روږدی وي، که دا مخدره توکي د مايعو لکه شراب او يا د جامدو لکه ترياک او يا د دخانياتو يعنې د لوګی لکه چرس په ډول استعمال شي.

## د مخدره توکو غوره مصطلح تعریف:

علماوو د مخدره توکو د اصطلاح له پلوه ډېر تعریفونه کړېدي چې د هغو څخه جامع او مانع تعریف دادی: (**عقاقير تؤثر على الجهاز العصبي المركزي بالتنشيط أو التثبيط أو تسبباهلوسة والتخيلات، وتؤدي بمقتضاها إلى التعود أو الإدمان وتضر بالإنسان صحياً واجتماعياً، وينتج عن ذلك أضرار اقتصادية واجتماعية للفرد والمجتمع**).[1] يعنې مخدره توکي هغه څه دي چې عصبي اوعقلي جهاز په مستۍ سره او يا له منځه وړلو او يا په کمزورۍ او يا په وهم او تخيَل سره متأثر کوي، چې د عادت (اموختـه) کېدو خاصه لـه ځان سره لري چې په نتيجه کې اقتصادي او ټولنيز زيانونه فرد او ټولنې ته رسېږي.

## د ځينوعلماؤ له لورى د ځيړني له پلوه د مخدره توکو

**تعريف**:(هي مادة كيميائية تسبب النعاس والنوم أو غياب الوعي المصحوب بتسكين الألم). يعنې هغه کيميايي ماده ده چې د

---

١- سعود بن عبد العالي البارودي العتيبي، الموسوعة الجنائية الإسلامية المقارنة بالأنظمة المعمول بها في المملكة العربية السعودية، فرع منطقة الرياض، الطبعة الثانية ١٤٢٧، ټوک: ١، مخ: ٦٩٥.

پرکالۍ، خوب، د هوش او فکر د پټوالي سره د درد د تسکين سبب گرځي.

د ځينوعلماؤ له لورى د قانون له پلوه د مخدره توکو تعريف:

**(هي المادة التي تشكل خطرا على صحة الفرد وعلى المجتمع)** يعنې: دا هغه ماده ده چې د فرد او ټولنې روغتيا ته زيان رسوي.

ځينو علماؤ يې داسي تعريف کړيدى: دا هرهغه څه دي چې عقل پوښى، مستى او کمزوري ورسره شتون ولري؛ ځکه دا د مايعو مخدره توکوله ځانگړتياوو څخه دى.

## مخدره توکي په اساسي ويش سره په لاندينيو ډولونو ويشل شوى:

## ۱ ـ طبعي مخدرات:

دا هغه درمل دي چې له کيمياوي موادو څخه جوړيږي د دوى ثأثير د طبعي او مصنوعي موادو په څير دى، چې د(حبوب) گوليو، کپسولو، پوډرو، درملو او مشروباتو په شکل استعماليږي.

مخدره توکي ډېر ډولونه لري او په څو بېلا بېلو برخو ويشل شوي دي، ځکه د درمل جوړولو صنعت هره ورځ د مخدره موادو د ترکيب او جوړښت په اړه نوې لاسته راوړنې لري، دلته به په لنډه توگه دهغو موادو ځينو ډولونو بيانوو، خمر(شراب) مو بيان نکړل؛ ځکه چې د هغو حرمت، ناوړتيا او بدې اغېزې يې په قرآني نصوصو او نبوي احاديثو سره واضح ډول بيان شويدي. په دې کې شک نشته چې د مخدره توکو ډولونه ډېر زيات دي چې په هرې سيمې او هيواد کې ځانکړي ډولونه د نشه يې توکو شتون لري چې خلک پرې روږدي دي، چې ځينې ډولونه يې په لاندې ډول معرفي کيږي:

**اپين (ترياک / افييم):** ترياک هغه مخدره مواد دي چې په کيميايي ډول جوړيږي او د مخدره موادو په منځ کې ډېر ضرري شمېرل کېږي. خوندې تريخ او اثر يې نشه لرونکی او وژونکی دی، همدا راز د هغو له پوډرو څخه د ډېرو طبي دواگانو په جوړښت کې هم استفاده کېږي.

**د اپیونو اغېزې**: کله چې یو انسان په تاریاکو روږدی شي، نـو هغه یې د ژوند یوه برخه وګرځي، چې د هغه بدن پرتـه د هغـه لـه استعمال څخه کارنه شي کولای، هر کله چې پـه هغـه لاس رسي پیدانکړي، نو له مختلفو دردونو سره مخامخ کېـږي او صـحت یـې له منځه ځي، د انـدامونو پـه کمـزورۍ د حـافظې پـه کمـزورۍ د اشتها کمښت په ځیګر کې د اخـتلال پـه پیـدا کېـدو ، د سـترګو درنـګ بدلېـدل ، د تـنفس او نـبض سـختېدل، د بـدن حـرارت ټیټېدل او نور بد اثرات د دې وژونکې وبا په سبب مـنځ تـه راځـي اپین یوه توره بخنه نسواري مـاده ده چـې د یـوه بـوټي لـه شـېرې څخه چې کوکنار نومېږي لاس تـه راځـي. د انسـانانو معلومـات د اپینو او د هغه د طبي تاثیراتو په اړه کم تر کمـه څلـور سـوه کالـه مخکې تر مېلاده رسي[1].

**اپین روغتیاته قوي ګواښ دی:** د اپینو استعمال بېلا بېـل زیانونه لري لکه: مسمومیت، د زړه ناروغي، ډنګـر تـوب او د بـدن عمومي کمزوري، د سږو سرطان، د حـافظې کمـزوري ، د بـدن د وزن کموالی، د ستړیا احساس، د جنسي میل کمزوري.

---

۱ ـ مخکېنۍ سرچینه.

**جوزبویا:** دا دې هغه مخدره توکو څخه یادېږي چې په طبعي ډول مخدر دي په عربي ژبه کې ور ته (جوزة الطبیب) ویل کیږی په گرمو هیوادونو کې کرل کېږي لکه هندوستان اوداسې نور.

**د جوزبویا اغېزې:** خوله وچوي، معده کمزوې کوي، د نورو ناوړه پیبنو اثرات هم لري او تنده مینځته راوړي[1]

**حشیش (چرس):** عبارت له هغه شیرې څخه دی چې د بوټو اوگلانو څخه لاسته راځي. د حشیشو اغېز د ماریجوانا په نسبت درې او یا څلور چنده زیات دی.

**ماریجوانا:** داسې پوډر دي چې د میوه دارو یا گلدارو بوټو څخه لاسته راوړل کېږي.

**مورفین:** دا هم د اپیون په څېر مشهور مخدره مواد دي، بلکه مورفین د اپیون په نسبت ډېر ثبات لری او وړل راوړل یې اسانه دي، چې په اوله کې د طبیبانو د اشتباه په وجه د ډېرو دواگانو په جوړښت کې ورته ځای ورکړل شو، خو وروسته بیا کشف شو

1ـ مخکېنی سرچینه.

چې دا ډېر خطرناک مخدره مواد دي او د دي استعمال د معتاد کېدلو باعث ګرځي. د مرفینو اغېزې:

**د مرفینو اغیزې:** د تریاکو له اغېزو سره مشابهت لري، که څوک د مرفینو روږدی وي اوهغه ته لاس رسي پیدانکړي نو د بې خوبۍ د سترګو د رنګ د بدلون، د بدن د مختلفو ځایونو درد او نور رواني ناروغیو باندې اخته کېږي[1].

**هیروئین**: هیروئین عبارت دي دهغه سپین رنګی توکو څخه چې په الکولو کې ویلې کېږي او په مخدره توکو کې ډېر قیمت لري، د انسان د صحت لپاره تر ټولوخطرناک څیز دي او د کیمیایی لویو عملیاتو په نتیجه کې لاسته راځي.

**د هیرئینو اغېزې:** کمزوري، د اشتها کمښت او وېره او کله چې ورته هغه ونه رسېږي نو ډېر کمزوري شي، اسهال، د معدې په دردونو، د ملا په درد، تبه او داسې نورو ناروغیو اخته کېږي.

**بنګ:** چې په شیکران او سیکران سره هم نومول کېږي، دا داسې یو بوټی دی چې د ځمکې پرمخ د دایرې په شکل پلن کېږي او په اوسط ډول د یوه ګز څخه لږ څه کم جګېږي.

۱ـ الدکتور وهبه الزحیلي، الفقه الاسلامي وادلته، ټوک ۷، مخ۲۳۲، مکتبة الشاملة.

**قات:** دا یو بوټی دی چې ټیټ دی او په هر قسم خـاوره، او آب و هوا کې زرغونېږي، پاملرنې ته څه خاصه اړتیا نه لـري، هـیڅ آفـت نه پرې راځـي، او ملخ او نور حشرات یـې هـم نـه خـوري، لـوړوالی یې تردوه مترو او کله له دې هم ډېـر لـوړیږي، پـه افغانسـتان او د منځنۍ اسیا په ځینو هیوادونو کې کرل کېږي.

**د قات اغېزې:** د دې موادو همېشه استعمالونکی د خپل نفس ډېر تابع وي او همېشه د دې توکـو د لاسـته راوړلـو پـه تکـل کـې وي، په دې توکو چې څوک روږدی شي نو د دغـو افتونـو عوارضـو درلـودونکی وي:د سر درد، د زړه د ټکانونولـه خپـل حـد څخـه ډېرېدل، د سترګو په پردو کې دوینو ټولېـدل، د اشـتها لـه منځـه تلل، د جنسي قوت کمزورتیا چې په پای کې لـه کـاملې جنسي۔ ضعت سره مخـامخ او قـوت یـې سـلب کېـږي او د وینـې د فشـار لوړېدل.

**کوکائین:** کوکائین د کوکا په نامه له یوه بوټی څخه چې سـپین رنګ لري لاسته راځي. چې ډېـرې نـاوړې اغېـزې مـنځ تـه راوړي چې ځینې دادي: د زړه د نظام ګـډوډ کـوي او پـه تنفسي۔ جهـاز

کې اختلال راپیدا کوي، ناڅاپي مړینه، ژر معتاد کېدل او د غوړونو کمزوري او لېونتوب رامنځ کوي.

## هغه مخدره توکي چې د پوزې د لیارې څخه استعمالیږي:

په پوزه کې د موادو د استعمال روږدی د سرگنگسي- او سر گرځېدو، دسست او بې حالی، د سترگو د دید کمزوری احساس کوي، او کله نا کله د یو ناڅاپي مړینې سبب گرځي، او ډېر ځوانان مو پېژندلي چې د داسې توکو په استعمال سره په يوناڅاپې او ناگهاني ډول سره مړه شوي دي.[1]

اوس غواړم چې د دخانياتو (سگرټو/ چلم) په اړه څه وينا عرض کړم د دخانياتو په هکله علماؤ مختلف نظرونه لري چې ځينې يې حرام او يا مکروه تحريمي، ځينې نور يې جايز او ځينې نور يې مکروه تنزيهي بولي موږ صرف د هغو علماؤ دلايل راوړو چې هغوی په حرمت او مکروه تحريمي قول کوي:

---

۱-آنلاین : www.thecabinarabic.com.

# د سګرټو او چلم د حرمت او کراهیت تحریمي دلایل یې:

د خانیات نه خواږه دي او نه درمل نو ځکه حرام دي، په استعمال کې یې عبث او لهو لعب دی چې دا سې ځیز حرام وي، استعمال یې بدعت دی او هر بدعت ګمراهي ده، نشه ایز او مخدره ماده ده، هر هغه څه چې نشه راولي او مخدّروي د شرابو په ډله کې راځي او شراب منصوصي حرام دي او هر هغه څه چې مخدِّر وي حرام وي پدې دلیل چې د حضرت ام سلمې حدیث دی: («**تَقُولُ نَهَى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ كُلِّ مُسْكِرٍ وَمُفْتِرٍ**»[1]. «رسول الله صلی الله علیه وسلم له هر نشه او سستي راوړنکي څخه منع کړیدی.» په هغې کې کفارو او اورپرستو ته ورته والی دی چې له خولې او پوزې څخه یې لوګي راوځي که حرام نه وي نو کم له کمه تحریمي مکروه خو ده، په خوله کې د بدبوی سبب کیږي لکه هوږه او پیاز، خبیث شی دی او هر خبیث ځیز حرام دی، فاسقان لکه چې په حرام سره راټولیږي، پر هغو هم راټولیږي نو ځکه په هغې د تحریم حکم کیږي، د فتنې

١ مسند الامام أحمد، د حدیث شمېره: ٢٦٦٣٤.

او مصیبت سبب کیږي او لکه همدا څیزونه تحریم حکم یې کیږي، د عقل او نفس مفسد یا فاسدوونکې دي څرنګه سلیم عقل په سالم بدن کې وي او انسان له لمانځه او د خدای له ذکره باسي او دا کار د منقول دلیل پر بنا حرام دی، د خانیات د عذاب له وسیلو څخه دي چې خدای جل جلاله هغه د عذاب په وخت کې یاد کړي، د هغه په وسیله نورو ته ضرر او آذیت رسیږي؛ ځکه چې په هغه کې انسان او ملائکو ته ضرر دی پیغمبر صلی الله فرمایي : «... **فإن الملائکة تتأذی مما یتأذی منه بنو آدم**»[1] ژباړه: (... ځکه ملائکه علیهم السلام د هرهغه څه نه په تکلیف کې کیږي چې کوم څه نه انسانان په تکلیف کې کیږي). او الله جل جلاله فرمایی: (**والذین یؤذون المؤمنین والمؤمنات بغیر ما اکتسبوا فقد احتملوا بهتانا واثما مبینا**).[2]یعني ځوک چې بی ګناه مسلمان نارینه او ښځینه آزاروي هغوی دتهتان او ګناه عامل ګرځي، څرنګه چې د اسراف سبب دی نو ځکه په شرعي نصوصو

---

۱ ـ صحیح الامام مسلم، باب نهي من أکل ثوما أو بصلا أو کراثا أو نحوهما، د حدیث شمیره: ۵٦۴.

۲- د سورت احزاب،۵۸ آبت .

سره حرام دی، د هغه د استعمال په وخت کې انسان په ناوړه او قبیح صورت څرګندیږي، حال دا چې خدای جل جلاله هغه ته بهترین صورت ورکړی دی، په هغې کې په بدن کې د لوګي ننوتل رامنځ ته کیږي او لوګی له اور څخه را پیدا کیږې او د اور خوړل حرام دي. حدیث شریف دی چې خدای جل جلاله اور د خوړو په حیث مونږ ته ندی پیدا کړی، په هغی کې شیطان ته ورته والی دی ځکه چې استعمالونکی یې اور په لاس کې اخلي.۱

نو راځئ د دارنګه ناوړه دودونو څخه ځانونه وژغورو او خپلې پاکې خولې، ژبې د داسې ګندګیو لکه نسوار، سګرټ او داسې نور ناوړه ځیزنو څخه وساتو؛ ځکه د دې هر یو غړي د موږ څخه پوښتل کیږي چې جایزو کې مو استعمال کړی او که نه؟

---

۱ـ نړیواله روغتیایي اداره، د ختیځې مدیترانې لپاره سیمه ایز دفتر،ددخانیاتو په استعمال کې د شریعت حکم، ژباړونکی پوهندوی ډاکټر بشیر نورمل.

# اداري فساد

يو د هغو ناوړه امورو څخه چې د موږ په ټولنه کې  د دود په ډير تقريبا د دود په ډير عملي کيږي هغه اداري فساد دی چې ډېر خلک په دې رنځ مبتلا دي ځيني يې غصب، بډې، د لاس لاندې افرادو څخه تحفې او ډالۍ، د دولت او بيت المال شتمنيو نه ناوړه ګټه اخستنه او داسې نور عاداتو او دودونو رواج شوي چې دا ټول د اداري فساد څخه شميری کيږي چې د نن عصر ډېری وګړي هيڅ پاملرنه  ورته نکوي چې خپل مالونه او شتمنی کوم ځايه لاسته راوړي، پدې هکله رسول الله صلی الله عليه وسلم معجزةً موږ ته وړاندې نه خبر را کړی:

**«عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ( رضي الله عنه ) عَنِ النَّبِيِّ (صلى الله عليه وسلم ) قَالَ يَأْتِي عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لَا يُبَالِي الْمَرْءُ مَا أَخَذَ مِنْهُ أَمِنَ الْحَلَالِ أَمْ مِنَ الْحَرَامِ».**[1] ژباړه: د آبي هريره رضي الله عنه روايت دی چې هغه د نبي صلی الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايلي دي: په

---

۱ ـ صحيح البخاري،بَابُ مَنْ لَمْ يُبَالِ مِنْ حَيْثُ كَسَبَ الْمَالَ، رقم الحديث: ۲۰۵۹.

خلکو په داسې زمانه راشي چې څوک په د دې فکر نکوي چې لـه کوم ځای مال لاس ته راوړی د حلالو څخه يا دحرامو څخه.

**د فساد تعريف:**

**فساد په لغت کې:**

مصدر دی د فسد مادې څخه چې د صلاح ضـد دی پـه معنــی د خرابي، هلاکت، ظلم، تجاوزسره راځـي چې  داسې نورې معنـاوې هم لري.

**فساد په اصطلاح کې:** د الله جل جلاله د اطاعت څخه وتلـو ته وايي.

**اداره په لغت کې :**  کنترول او په واک کې راوستلو ته وايی.

**اداره په اصطلاح کې:** عبارت دی له يو ټولنيز نظام څخه چې په هغه کې يو شـمېر وګـړي پـه يـو ځـانګړي سسـتم سره د خاصـو موخو د رسيدو لپاره يو ځای کارکوي. او اداري فساد زياتره برخه د بډې (رشوت) په ذريعه مـنځ تـه راځــي نـو؛ ځکـه د رشـوت تعريـف ضروري دی:

**رشوت په لغت کي:** (ما يتوصل به إلى الماء) هغـه څـه دی چــې د هغې په واسطه اوبه کوهيڅخه راوستلی شي يعنې پړی.

## رشوت په اصطلاح کې:

علماؤ د رشوت تعریف داسې کوي: (**هي أخذ ألاموال على ترک ما يجب على الآخذ فعله أو فعل ما يجب عليه تركه**).[1] ترجمه: یعنې چې کومه کړنه پر اخیستونکي لازم وی او د هغې په بدل کي څه څیز واخلی او یا کوم کړنه چې په د باندې پریښودل لازم وي د هغې په عوض څه څیز واخلی دا رشوت یا بډه یادیږي.

او ځینو علماؤ یې داسې تعریف کوي: (**هي ما يعطي لإبطال حق إو لإحقاق باطل**) یعنې رشوت هغه څه دی چې د حق د باطلولو او باطلو د ثابتولو لپاره ورکولی شي.

**د رشوت حکم:** رشوت اخستل، ورکول او یا د رشوت خوړل د کبائرو گناهونو څخه دی په دې هکله گن آیاتونه او احادیث شتون لري چې په لاندې کرښو لیکل کیږي:

## د رشوت (بډې) گناه د آیاتونو په رڼا کې:

الله جل جلاله فرمايي: (**سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّالُونَ لِلسُّحْتِ فَإِن جَآءُوكَ فَاحْكُم بَيْنَهُم أَوْ أَعْرِضْ عَنْهُمْ وَإِن تُعْرِضْ عَنْهُمْ فَلَن يَضُرُّوكَ شَيْئًا**

---

۱- تفسير البحر المحيط، ټوک: ۳، مخ: ٥١٦، تفسير روح المعاني، ټوک: ۱۴، مخ:۲۲۴، المكتبة الشاملة.

**وَإِنْ حَكَمْتَ فَاحْكُم بَيْنَهُمْ بِالْقِسْطِ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الْمُقْسِطِينَ)**.[1]ژباړه:  دوی ددروغو اورېدونکي او د حرام مال خوړونکي دي، نو که دوی تا ته (د خپلو دعوو په وړاندې کولو) راشي نو تا ته واك درکول کیږي که دې خوښه وي د هغو فیصله وکړه او که نه نو انکار وکړه . که انکار وکړې نو دوی تا ته هیڅ زیان نه شي رسولای ، او که فیصله کوې نو د عدالت په اساس یې وکړئ چې الله عدالت کوونکي خوښوي.

الله جل جلاله په باطله لاره دمال خوړلو نه منع کړیاو فرمایي: (**وَلاَ تَأْكُلُواْ أَمْوَالَكُم بَيْنَكُم بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُواْ بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُواْ فَرِيقًا مِّنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالإِثْمِ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ)**.[2] ژباړه: خپل مالونه په باطل او د ناحق لکه بډې، سود، غصب، اوغلا... په خپل مینځ کې مه خورئ اوهغه امیرانو اوقاضیانو ته مه وړاندې کوئ چې دگناه له مخې د خلکو ځینې مالونه وخوری اوتاسې پرې خبریاست (اوپوه شی چې تاسوظالم ته مرسته ورکړی اوگناه موکړی ده).

---

۱- د المائدي سورت: ۴۲ آیت.

۲- د البقرې سورت،۱۸۸ آیت.

دارنگه قرانکريم فرمايلي دي: (**وَلاَ تَشْتَرُواْ بِآيَاتِي ثَمَنًا قَلِيلاً وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَئِكَ هُمُ الْكَافِرُونَ**)[1] ژباړه: او ځما آيتونه په نا ځيزه بها د دنيا،لکه رشوت،منزلت او مقام مه پلورئ! او پوه شئ چه هر څوک د هغه ځيز په وراندې حکم ونکړي چېما نازل کړی (او الهی احکامو ته د سپکاوی قصد ولري) هغه او د هغه په څير کسان د شک پرته کافر دي.

علما فرمايلي دي: کوم کار چې پوره کول کول چی دچاپه غاړه واجب دی هغه د الله دژمنی مسؤول دی په پوره کول يې دچانه عوض ياد عوض اخستلو پرته نه کول يې دالله دعهد ماتول دي، همداشان کوم کار چې ترسره کول يې په چا واجب ندی. ترسره کول يې دمعاوضې په اخستلو سره هم دالله د عهد ماتول دي. دد ينه معلوميږي چېد اداري فساد ډېر ډولونه دي چې ټول حرام دي لکه د دولت چارواکې چې: وظيفې تر سره کول لپاره د دولت نه حقوق اخلی نوهغه د الله سره عهد کړی چې د حقوقو په عوض خپله دنده ترسره کووم نو کچيرې په ترسره کول کې يي دچانه معاوضه واخلی او دمعاوضې پرته هغه نه کوی او يوی

1- د المائدې سورت،۴۴ آيت.

ورځی نه یې بلي ورځی ته غورځوی دالله عهد یي مات کړی، همداشان هغه کار چې د دولت لخوا دهغه به واک کې ورکول شوی نه وی رشوت اخلی اوهغه کار کوی داهم د الله عهد ماتول دي.

بدې دومره بداوناروا دی چې قرآنکریم هغه دیهودو د صفاتو په شمیرکې راوړی او قرآن کزیم فرمايي:(**سَمَّاعُونَ لِلْكَذِبِ أَكَّالُونَ لِلسُّحْتِ**).[1] ترجمه: هغوی ډېر دروغ اوري اومني او ډېر حرام مال خوري. د علامه الوسي په وینا پدې ځای کې مراد دسحت نه په حکم کې رشوت دی. دارنگه حضرت ابراهیم نخعي، حسن بصري مجاهد، قتاده اوضحاک رحمهم الله اونور د تفسیر امامانو هغه په رشوت تفسیر کړی دی، رشوت اخستلو ته ځکه سحت ویل کیږیچې نه یوازې رشوت اخستونکی او رشوت ورکونکی تباه کوی بلکې عمومي د امنیت، ملت او د ملک اساس او بنسټ هم بربادوی ځکه په کوم هیواد کې چې بدې خوړل دود وی قانون نشی پلی کیدای، په پای کې دملت اوملک امنیت چې دقانون په اساس دی نه راځی او کله چې دامنیت قانون د عمل پړاوته

۱ - د المائدې سورت، ۴۲ آیت.

لاړنشی نود خلکو ځان مال حیثیت او پت نشی ساتل کیدای.
همدا علت دی چې په اسلامي شریعت کې سحت ورته ویل شوی او حرام دی.

که موږ وګوری چې بډې اخستنی ځومره یو عام او خطري آفت دی او لهلدې لارې لاسته راغلې پیسې د ډېرو خرابو او خبیثو پیسو په کتار کې واقع شوی دیوریښتنی مومن وجدان، ایمان او افکار ددغه ناوړه او ناسم کارنه ډېر لری او تیښته کې وي، ځکه هر انسانچې دغه سپکې پیسې لاسته راوړی هغه انسان هم سپک او ذلیل کیږي.

## د رشوت (بډې) ګناه د احادیثو په رڼا کې:

د موږ مقدس دین په ظاهر واضح ډول د رشوت اخستل پهمسلمانانوحرام کړی له کعب بن عجره روایت دی : «**قال: قال النبي صلى الله عليه و سلم: ( يا كعب بن عجره إنه لا يدخل الجنة لحم ودم نبتا على سحت النار أولى به»**.۱ ژباړه: هغه وایي چې نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل : آی کعب بن عجره! جنت ته به داخل نشی هغه غوښه

۱ ـ صحیح ابن حبان د حدیث شمیره: ۵۵٦۷ .

او وینه چې په حرامو لویه شویوي بلکې اور هغو ته مناسب او لائق دی.

او همداشان مسؤولینو او چاراکو لپاره یې منل حرام کړی دی او رشوت ورکونکی او اخستونکی یې ملعون معرفی کړی دی: **عن عبدالله بن عمر رضي الله عنها قال**: «**لعن رسول الله الراشي والمرتشي**».[۱] ژباړه: د حضرت عبدالله بن عمر نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم رشوت ورکونکی او اخستونکی باندې لعنت ویلی دی: «**لَعَنَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الرَّاشِيَ، وَالْمُرْتَشِيَ، وَالرَّائِشَ** ».[۲] ژباره: د حضرت ثوبان نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم رشوت ورکونکی او اخستونکی او هغه ځوک چېډ دوی دواړو ترمنځ واسطه کیږي، باندې لعنت ویلی.

۱- مشکوة المصابیح باب الاقضیة والشهادات.

۲- شرح مشكل الآثارلأبي جعفر أحمد بن محمد المعروف بالطحاوي (المتوفى : ۳۲۱هـ)،بَابُ بَيَانِ مُشْكِلِ مَا رُوِيَ عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنْ لَعْنِهِ الرَّائِشَ، أَوِ الرَّاشِيَ مَعَ لَعْنِهِ الرَّاشِيَ وَالْمُرْتَشِيَ، د حدیث شمیره: ۵٦۵۵.

ځيني خلک حاکمانو او مشرانو ته ډالۍ، تحفه، سوغات، تعارف حق، حق الزحمه او قلمانه انعام او شرينی په ترڅ کې ترسره کوي چې دا هم يو ډول رشوت دی خو جوته ده چې دنومونو بدلون هيڅکله په ماهيت کې بدلون نشی را وستی او په هر صورت کې کومه پيسه چې د بډو له لارې را شي هر نوم چې پری کيښودل شي بياهم رشوت دی، ځيني خلک بايد پوه شی چې تحفه ډالۍ سوغات د آمرينو لپاره د رشوت په حکم کې دی پدې زمانوکې دود دادی چې‌ډالۍ‌د ځينی د مشرانو ډريورانو، خانه سامانونو يا د نورو اشخاصو او شاوخوا خلکو ته ورکول کيږي او هغه يو عادي او روا څيز ګڼی پداسې‌حال کې دپورتينو دلايلو په استناد په زغرده ويلی شو چې: هيڅ ډول نوم ايښودل ماهيت ته بدلون نشی ورکولای او هرڅه چې د رشورت له لارې راشی رشوت دی.

پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: «**مَنِ اسْتَعْمَلْنَاهُ عَلَى عَمَلٍ فَرَزَقْنَاهُ رِزْقًا فَمَا أَخَذَ بَعْدَ ذَلِكَ فَهُوَ غُلُولٌ**».[1] ژباړه: څوک چې

---

١- سنن أبي داود، باب أرزاق العمال، حديث: ٢٩٤٥.

مونږ په کوم کار وګمارو او څه حقوق هم په مقابل کې ورکو هرڅه چې د خپلو حقوقونه اضافه واخلی د غاړی طوق به یی شي.

په بل روایت کې دي: «**من شفع لأحد شفاعة فأهدي له هدية عليها فقلبها فقد أتى بابا عظيما من أبواب الربا**».[1] ژباړه: څوک چې دبل چا لپاره سپارښت وکړی (واسطه شی) او د هغه په مټ ورته هدیه ورکول شي په رښتیا چې هغه د سود لوی دروازی ته ننوت.

عبدالله بن مسعود وایي: کچیرې څوک نوروته کار وکړي او دهغه په واسطه ډالی ورته وړاندې شی هغه حرام دی .

د مسروق رحمه الله نه روایت دی چې هغه د ابن زیاد سره یوه قضیه رد کړی او دقضیی دخښتن له لوری یو غلام ورته ډالی شو مسروق هغه ونه مانه او وی ویل:

اوریدلی می دی چې ابن مسعود رضي الله عنه به ویل: څوک چې د مسلمانانو کوم ظلم لری کړی او دظلم څښتن هغه ته کوم څیز ډالی کړی لږ وی که ډیر هغه حرام دی.[2]

---

۱- مسند امام احمد ،حدیث: ۲۲۲۵۰.

۲- الحلال والحرام للدکتور قرضاوي، مخ:۴۰۲.

«**وَقَالَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِ الْعَزِيزِ كَانَتِ الْهَدِيَّةُ فِي زَمَنِ رَسُولِ اللهِ هَدِيَّةً وَالْيَوْمَ رِشْوَةٌ**».[1] کله چې عمربن عبدالعزيز خليفه وو يوه ډالۍ ورته راوړی شوه خو هغه قبوله نکړه ورته وويل شول پېغمبر صلی الله عليه وسلم هديه قبولوله عمرابن عبد العزيز وويل: پېغمبر صلی الله عليه وسلم پهه نمانه کې ډالۍ وه خو نن ورځ رشوت دی.

علماء کرامو ويلي: کله چې اسلام تردی کچېد رشوت په اړه سختی کوی نو پرقاضي او هغو کسانو چې دقاضي په مرتبه کې دی لازم دی چې هغه څيزونه چې د قاضي کيدو اويا حاکم کيدو وراندې اوپه خپل کور کې ناست ول او د هديه په توگه ورته راوړل کيده اجازه لري چې د قضاوت يا حکومت په وخت کې هم واخلی. او دهغو څيزونو اخستل چې پوهيږی د مقام په خاطر ورته ورکول کيږي حرام دی خو کوم چې نه پوهيږی دوستان يې د دوستۍ په خاطر يا ددوی د مقام په خاطر ورته راوړي داشبه ده او بايد ورنه ډډه وکړي.[2]

د مذکور ارشاداتو اورواياتو په رڼا کې هرڅوک چې آمرينو ته تحفه او ډالۍ ورکوی چې بست او منصب پکې اغيزولري رشوت

---

١ - صحيح البخاري، بَابُ مَنْ لَمْ يَقْبَلِ الْهَدِيَّةَ لِعِلَّةٍ، د حديث شميره: ٢٥٩٥.

٢- الحلال والحرام للدكتور قرضاوي، مخ:٤٠٢.

دی پداسې حال کې چېدېری خلک دغه ځیز ډېر ساده ګنی سره لدې چې داکار صریح رشوت دی ټول مسلمانان د دې کارنه ډډه وکړي او نوروته دی هم وروښی چې ندی تحفه ورکړي اوندی واخلي همداشان هغه تحفه چې درشوت په چوکات کې راځی دهغې تحفی سره چې رشوت پکې نفوذ نلری خلکوته بیان شی ترڅو مطلق تحفه رشوت ونشمیرل شي.

نو راځئ د نورو خلکو او دولتي مالونو څخه ځانونه وژغورو او مرګ څخه وړاندې خپلو ځانونو سره محاسبه وکړو او ذمې فارغې کړو، د بیت المال او نورو اشخاصو مالونه مو چې په غلا، غصب، ډالی، ظلم او نورو لارو څخه لاس ته را وړي هغه خپل اصحابو ته ورکړو یعنې رد مظلمه وکړو او د هغې ورځې څخه په ډار کې شو چې هلته مال او ځامن مو په درد نه راځي: یوم لا ینفع مال ولا بنون الا من أتى الله بقلب سلیم.

# نامناسبه لباس اغوستل

په اسلامي ټولنه کې یو بل دود د ځینو ښځینه ؤ له لوری معمول شوی چې هغه ډېر تنګ او چسپ جامې استعمالول دی چې دا په اوسني عصر د فتنو په وخت کې د لویو فتنو او خرابیو لامل ګرځي؛ ځکه دا کار د دوی د تعلیم او تحصیل وتلو مانع ګرځي او یا خو دا کړن د دوي د عفت او حیا له منځه وړو لامل کیږي؛ ځکه زیات ځوانان د جنګ جګړو په وخت کې خپل ښوونه او روزنه د لاس څخه ورکړي او خپل دیني مسؤولیت ته نظر نکوي چې هغه نورو پردیو ښځوو او نجلیو څخه نظر تیټ وساتي: څرنګه چې الله پاک فرمایلي دي: (**قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ**).[1] ژباړه: (آی پیغمبره) مؤمنو نارینه ؤ ته ووایه! چې خپل نظر تیټ وساتي او خپل شرم ځایونو ساتنه وکړي. دا د هغو لپاره ډېره پاکه کړنلاره ده. په باوري توګه هغوی چې څه کوي الله جل جلاله پرې خبریږي. دارنګه الله جل جلاله ښځو ته هم امر

---

۱ ـ د النور سورت: ۳۰ آیت.

کوي: (**وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلَا يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلَّا مَا ظَهَرَ**).[1] ژباړه: او مومنو ښځو ته ووايه سترګي (دنا محرو کتلونه) ښکته کړي او پاکلمني خيال د وساتئ اوخپل زينت د ښکاره نګړئ مګر هغه چې ترى ښکاره دى.

د زنانه ؤ بى حجابي او د کوره څخه بهر د تنګ او باريک لباس اغوستل چې بدن يې ترى ښکاريږي د اسلامي شريعت په رڼا کې ناوړه او مذموم دود او عمل دى چې پدي حديث کې يې قباحت ذکر دى: «**عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم:«صنفان من أهل النار لم أرهما قوم معهم سياط كأذناب البقر يضربون بها الناس ونساء كاسيات عاريات مميلات مائلات رؤوسهن كأسنة البخت المائلة لا يدخلن الجنة ولا يجدن ريحها وإن ريحها ليوجد من مسيرة كذا وكذا**».[2] ژباړه: د أبي هريره رضي الله تعالى عنه څخه روايت دى چې رسول الله ضلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: دوه ډوله خلک د دوزخ اهل دي چې ما تر اوسه ندى ليدلي يو هغه قوم دى چې دوى سره د غوايانو د لکيو په شان دورې وي چې خلک

١ - د النور سورت: ٣١ آيت.

٢ ـ صحيح الامام مسلم، باب النساء الكاسيات العاريات المائلات المميلات، د حديث شميره: ٢١٢٨.

به پرى وهي، بل هغه پټې لوڅې ښځې دي چې خلكو زړونه خپل ځانونو ته را جلبوي او دوى هم هغوى ته ميلان لري او د سر ويښتان داسې برابر كړيوي لكه د بختي اوښانو منډووونه (دا هغه اوښان دي چې دوه دوه منډوه لري او په منځ د دواړو كې ټيټوالى وي دا زنانه هم ويښتان تړلې وي لكه دوه سرونه) چې دوى به جنت ته نشي او د جنت بوى په هم ونه مومي پداسې حال كې چې بوى د هغه به دومره دومره واتن كې درك كولاى شي.

د دې حديث په شرحه كې علامه ملاعلي رحمه الله داسې وايي: (**كاسيات بنعمة الله عاريات من شكرها**) يعنې پټې به وي په نعمتونو د الله جل جلاله باندې ليكن د هغو نعمتونو شكر څخه به خالي وي يعنې شكر به نه اداكوي، نور هم زياتوي: (**وقيل يسترن بعض بدنهن ويكشفن بعضه اظهارا لجمالهن وابرازا لكمالهن**) داسې هم په شرحه د دې حديث كې ويل شوى: ځينې برخې د بدنونو به يې پټې كړيوي او ځينې نورې به يې ښكاروي د دې لپاره چې خپل ښايست او كمال وښاى. او يا خو داچې باريكې او نازكې چامې به يې اغوسښتي وي چې بدنونه يې ترى ښكاريږي

اګرچې په ظاهره خو جامې په غاړه لري لیکن بدنونه به یې ترې ښکاریږي نو په حقیقت کې لوڅې شوي او یا خو داچې په زیوراتو په پټې وي خو د تقوی له حیث به خالي وي او یا دا معنی چې د خلکو زړونه د خپل ځانونو طرفه ته مایلوي یا خو ډاچې ټکري (پړوني) د سرونو خپلو څخه لري کوي ترڅو مخونه یې ښکاره شي او یا داچې نورې زنانه به د دوی ناوړه فعل ته مایله کوي.

د «مائلات» معنای یې دادی: چې دوی به په زړونو او صورتونو سره نارینه ؤ ته مایله وي او یا داچې په تګ راتګ کې کبر کوونکي وي او یا داچې د پاک لمنی څخه به فسق او ناروا ته مایله وي.[1]

پدې هکله روایت دی: «**أَنْ عَائِشَةَ رضى الله عنها أَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِى بَكْرٍ دَخَلَتْ عَلَى رَسُولِ اللَّهِ (صلى الله عليه وسلم) وَعَلَيْهَا ثِيَابٌ رِقَاقٌ فَأَعْرَضَ عَنْهَا رَسُولُ اللَّهِ (صلى الله عليه وسلم) وَقَالَ: « يَا أَسْمَاءُ إِنَّ الْمَرْأَةَ إِذَا بَلَغَتِ الْمَحِيضَ لَمْ تَصْلُحْ أَنْ يُرَى مِنْهَا إِلاَّ هَذَا وَهَذَا» وَأَشَارَ إِلَى وَجْهِهِ**

١ ـ مرقاة المصابيح شرح مشكاة المصابيح د ملاعلي قاري، باب ما لا يضمن، ټوک ۱۱، مخ ۹۵، مکتبه شامله.

**وَكَفَّيْهِ**».۱ ژباړه: يو وار اسماء رضي الله عنها حضور صلى الله عليه وسلم ته راغله او نازكې جامې اغوستى وې نو رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته و فرمايل :اى اسماء كله چې ښځه دحيض عمرته ورسيږي (پيغله شي) مناسبه نده چې د بدن يوه برخه يې هم وليدل شي مگر دغه دغه اوخپل مخ او ورغوو ته يې اشاره وكړه.

د ښځو د پردى ساتني په هكله الله پاک فرمايي: ( **يَا أَيُّهَاالنَّبِيُّ قُل لِّأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاء الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ ذَلِكَ أَدْنَىٰ أَن يُعْرَفْنَ فَلَا يُؤْذَيْنَ وَكَانَ اللَّهُ غَفُورًا رَّحِيمًا**).۲ ژباړه: اى پيغمبره خپلو ښځو، لورگانو د مومنانو ښځو ته و وايه چى خپل څادرونه را كوز كړئ تر څو و پيژندل شي او ونه زورول شي او الله بښونكى او مهربان ذات دى.

حجاب ساتل ډېرې گټې لري لكه : د الله پاک امر په ځاى كول چې په پاى كې د الله پاک د رضا سبب گرځي، روحي آرامتيا، دكورنى جوړښت، د ښځې عفت، حيا، حرمت او عزت

---

۱ - سنن أبى داود، باب فِيمَا تُبْدِى الْمَرْأَةُ مِنْ زِينَتِهَا، د حديث شميره: ۴۱۰۶.

۲ - د الاحزاب سورت، ۵۹ آيت.

پکې خوندی ساتل کيږي او په  بي حجابي کې د ښځې عفت، حيا، عزت او احترام له پښولاندې کيږي او په پای کې د الله جل جلاله د عذاب سره انسان مخامخ کيږي، نو ښځو ته پکار دی چې بي حجابي، نازکه او تنګو جامو اغوستلو  څخه ډډه وکړي ترڅو د خلکو سترګو څخه وساتل شي او پرديو ښځو ته کتل د سترګو زنا دی او دارنګه نارينه ؤ لره اړين دی چې خپل سترګې د پرديو نامحرمو څخه وساتي او د ښځو عزت او احترام دې وساتي.

# په پیغلو د ټوپک ډز کول
# او یا په بل دود سره د پیغلو د ټکری ځنډه شکول

د اوسنی عصر یو بل ناوړه دود چې تر تر اوسه په ځینو سیمو کې را روان دی هغه دا چې په پیغلو د ټوپک ډز کول او یا په بل اصطلاح سره د نجونو د ټکری ځنډه شکول، چې دا هم یو ډول د اجباري ودونو څخه دی چې تعریف یې دا دی:

کله چې د کوم یو ځوان یو نجلۍ خوښه شي نو هغه کوښښ کوي تر څو دا نجلۍ سره واده وکړي که چیرې د دې نجلۍ کورنۍ او یا دا نجلۍ په خپله له ده سره په واده کولو خوښه نوی نو هغهځوان څو ځلي د دې نجلۍ اولیاؤو ته ریباران ورلیږوی تر څو هغو دا نجلۍ  ده ته ورکړي کله چې هغوی انکار وکړي او ریباران جواب شي نو دا ځوان واره ګوري کله چې دا نجلۍ د اوبو راوړلو، او یا ځمکې، پټي او باغ (بڼ) او یا د ژوند نور کوم

ځينو چارو لپاره ووځي دا ځوان ورشي د هغې نجلۍ د ټکري ځنډه (ژۍ) ونيسي او لږ شانته يې پرې کړي او غږ وکړي چې دا نجلۍ د ماشوه! ټول د خبر شي د ټکرى ځنډه يې ما پريکړى!

او يا دا چې د هغى نجلۍ د کور په دروازه کې د ټوپک ډز وکړى او غږ ورسره وکړي چې په فلانۍ نجلۍ ټوپک ما ويشتى دى خلک د خبر شي! هغه د ما ناموس دى څوک ورته نشى کتلاى هغه د ما شوه! نو په پاى کې دا نجلۍ بل څوک نشي غوښتلى، نو اوس د نجلۍ کورنۍ د دې لپاره چې دښمنيي زياته نشي او دوى طاقت او زور هم د هغه په مقابل کي کم وي نو دا نجلۍ په داسې حال هغه ته ورکوي چې نه د نجلۍ او ندې د هغې د کورنۍ زړه وي چې داسې ځوان او يا هلک ته چې نه اسلامي پوها، نه اسلامي اخلاق، او ندې د نکاح عقد او شرايط پيژني، د نجلۍ کورنۍ د دې لپاره داسې شخص ته دا نجلۍ ورکوي چې راتلونکى يې خراب نشي.

ځيني وخت خو دا ځوان داسې نام دار او زورور شخص وي چې هيڅکله هم هغه ته جواب په نه سره نشي ورکولاى او يا خو دا ځوان د نجلۍ کورنۍ ته اخطار ورکوې که دا نجلۍ چې ما يې د ټکرې ځنده شکولي او يا چې ما ټوپک پرى ويشتلى بل چا ته د

ورکړه نو دا کړن به درته ښه نوی! او یا خو نورو خلکو ته اخطار ورکوي، که دا نجلۍ چا وغوښتله او یا يې واده ورسره وکړو نو د ما مقابلې ته دې تیار شي! نو پدې صورت کې نه د نجلۍ کورنۍ دا نجلۍ بل چا ته ورکولای شي او نه نور خلک دا نجلۍ غواړي؛ ځکه د دښمنۍ نه ویریږي، که چیرې د نجلۍ کورنکۍ دا نجلۍ بل چا ته په واده ورکړي نو داسې ځای کې به يې ورکوي چې معلوم نوی د نجلۍ کورنۍ به هم د خپل ابائي او اجدادي اصلی وطن څخه کډه کوي او هر څه په پریدی او هیڅ چا ته به ځای نه ورښايي نو د عمر لپاره د خپلوانو څخه ورک او لادرکه شو؛ ځکه که چیرې ځای چا ته وښايي نو د ځوان له لوری ورته د مرګ اخطار او ګواښونهاو د جنګ اعلان ورکوي نو په یاد صورت کې به د نجلۍ کورنۍ او نوی خیښانو د تل لپاره د دښمنۍ او تربګنۍ په غاړه واخستله او عمر يې په خطر کې شو.

په داسې حالاتو کې ځينې وخت د خلکو ملکان او قومي مشران د دې ستونزې د حل لپاره غونډه کوي او هغې کې داسې فیصله کیږي چې اسلامې شریعت څخه ډېره لرې وي، یوازینی موخه پکې دروغه جوړه وي نه دا چې دا شرعي ده او که نه، کومه شرعي او قانوني پریکړه نوي، په ځينو صورتونو کې د

نجلۍ کورنۍ ته دوه یا درې ښځې د دې نجلۍ په بدل کې ورکولای شي چې دا صورت نورې معصومې نجونې هم د ټول عمر لپاره په بدۍ او بد بختی کې اخته کړیاو هغه نجونې د خیښانو په کورنۍ کې د تل لپاره په بد نوم یادیږي چې دا په بدو کې راکړل شوې دي کله کله د نجلۍ کورنۍ د هغې په ورکولو سره ډېر زیات ولور لاس ته راوړي او ملکان او مشران پدې سره یوازې او یوازې روغه او جوړه په پام کې نیسي نه کومه شرعي پریکړه.

نو راځئ چې کامل په اسلام کې داخل شو او پوره عمل پرې وکړو او دنیا او آخرت بریا په نصیب کړو، دا نه چې که مې ګټه وي عمل پرې کوم او که نه نو عمل نه کوم نو دا په نجونو او پیغلو د ټوپک ډز کول یا یې د ټکري ځنډه شکول دا د شریعت په رڼا د څو لاملونو څخه ناروا او غیر شرعي دی:

١- پدې کې د هغو ښځو چې الله پاک ورته کرامت ورکړی د هغې بي عزتي، توهین او سپکوالی دی، چې اسلامي شریعت د دارنګه ناوړه کړو څخه منع کړی او د مسلماني ښځي او سړي توهین یې حرام بللی د اسلام شرعي مقاصدوله ډلي چې دخلکو د دین، نفس، عقل، مال او عرض ساتنه ده، شمیرل کیږي د

اشخاصو آبرو او عزت مسئله دی چې په قرآنی تعلیماتو او نبوی سیرت کې هومره د پت او حیثیت انسان ته توجه شوی او تاکید پری شوی آن چی خپله شخص هم نشي کولای او حق نه لري چې خپل عزت تر پشولاندی کړي بلکه انسانان باید دخپل عزت احترام وکړی او په ساتنه کې یې هڅه وکړي اوهم د بل د عزت، آبرو او پت ساتني ته په پوره توګه پاملرنه وشي او د انسان د عزت په هکله د الله جل جلاله ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «**فان الله حرم علیکم دماءکم و أموالکم و أعرضکم کحرمة یومکم هذا، في شهرکم هذا، في بلدکم هذا**».[1] یعني: په رښتیا چی ستاسی ویني، شتمني، عزتونو یو پربل حرام دی لکه حرمت د دی ورځید ستاسو پدې ښار او دی میاشت کې.

دارنګه روایت دی: «**عَبْدُ اللَّهِ بْنُ عُمَرَ قَالَرَأَيْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَطُوفُ بِالْكَعْبَةِ وَيَقُولُ مَا أَطْيَبَكِ وَأَطْيَبَ رِيحَكِ مَا أَعْظَمَكِ وَأَعْظَمَ حُرْمَتَكِ وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لَحُرْمَةُ الْمُؤْمِنِ أَعْظَمُ عِنْدَ اللَّهِ حُرْمَةً مِنْكِ مَالِهِ وَدَمِهِ وَأَنْ نَظُنَّ بِهِ إِلَّا خَيْرًا**».[2]

---

۱- صحیح البخاری، باب ربَّ مُبَلَّغٍ أَوْعَی مِنْ سَامِعٍ، د حدیث شمیره: ٦٦.

۲- سنن ابن ماجه، حرمة دم المؤمن وماله، د حدیث شمیره: ۳۹۲۲.

ژباړه: عبد الله بن عمررضي الله تعالى عنهما وايي: يوه ورځ مى رسول صلى الله عليه وسلم وليد چې د بيت الله په طواف مشغول ؤ ويى فرمايلي: اى كعبى! ته ځومره زړه وړونكى او خوشبويه يې ستا حرمت څومره لوړ او ډېر دى، خو قسم په هغه ذات چې د محمد نفس د هغه په يد بلاكيف كې دى د مومن او دځان او مال حرمت يې د الله متعال په وړاندې د ستا تر حرمت زيات او داچې په هغه به گمان نكوو مگر خير.

پدې دواړو حديثو كې معلوم شو چې د مسلمان، ښځه وي او كه نارينه عزت او آبرو ډېر زيات دى حتى له كعبې مباركې څخه هم زيات دى، نو بايد د مسلمان حق ضايع نشي.

۲ـ پدې كې په نجلۍ او د هغې په كورنۍ ظلم او تجاوز كول دى پدې معنى چې هغوى ته كوم حق شريعت وركړى چې هغه نجلۍ ته د ميړه د انتخاب اختيار حق دى او دا ځوان ناپوه دا حق د هغې څخه سلبوي او د هغې د رضا پرته دى د نكاح اعلان كوي، گواښونه، اخطارونه او تهديدونه وركوي چې دا د دوى حق لوى تيرى او ظلم دى چې منع يې ونشي نو په ټولو د عذاب د را تللو ويره دى پدې هكله د ابوبكر صديق رضى الله عنه د پيغمبر صلى الله عليه وسلم روايت دى: «**إِنَّ النَّاسَ إِذَا رَأَوُا الظَّالِمَ فَلَمْ**

**يَأْخُذُوا عَلَى يَدَيْهِ أَوْشَكَ أَنْ يَعُمَّهُمُ اللَّهُ بِعِقَابٍ».**[1]ژباړه: کله چې خلک کوم ظالم ګوري او له ظلم نه يې منع نکړي نو نږدې دی چې الله جل جلاله ټول په سخت عذاب اخته کړي.

**او ظلم کول د نورو په حقوقو حرام دی:** **«عن جابر بن عبد الله أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال اتقوا الظلم فإن الظلم ظلمات يوم القيامة».**[2]ژباړه: د جابر بن عبد الله رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې فرمایلي دي: د ظلم څخه ځانونه وژغورئ؛ ځکه ظلم د قیامت د ورځې تیارې دي.

۳- پدې کې په هغې پاک لمني نجلۍ باندې يو ډول تور پورې کول دي چې ځينو خلک داسې ګمان کوي چې امکان لري د نجلۍ د وړاندې څخه دې ځوان سره اړيکې درلودې نو ځکه يې د ټکري ځنډه ورپريکړه او يا ځکه يې د ټوپک ډز پرې وکړو، پداسې حال کې چې هغه نجلۍ برى او پاکه وي نو پدې کې په هغې يو ډول تور لګول دي او تور لګول کبيره ګناه دی پدې هکله سرور کائنات فرمايلي دي: **عن ابى هريرة رضي الله عنه أن**

---

۱- سنن الأبي داود، باب الأمر والنهي، د حدیث شمیره: ۴۳۴۰.

۲ - صحیح الامام مسلم، باب تحریم الظلم، د حدیث شمیره: ۲۵۷۸.

**رسول الله صلی الله علیه وسلم قال: «اجتنبوا السبع الموبقات، قیل: یا رسول الله! ما هن قال: الشرک بالله، والسحر و قتل النفس التي حرم الله الا بالحق و أكل مال الیتیم و أكل الربا و التولي یوم الزحف و قذف المحصنات الغافلات المؤمنات».١**

ژباره: د ابي هريره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: له اووه هلاکوونکو ګناهونو څخه ځانونه وژغورئ پوښتنه وشوه ای د الله رسوله هغه کوم دي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: د الله سره شریک نیول، سحر او دهغه نفس وژل چی وژنه یې الله نارواکړی مګر په حق سره د یتیم د مال خوړل، سود خوړل، ددښمن د حملی پر مهال د جګړې نه تیښته او په مؤمنو پاکو بی خبره ښځو پسې تور پوری کول دي.

نو لدی حدیث څخه معلومیږي چې په پاکو ښځو تور پوری کول غټه ګناه دی، نو په مذکور ډول ناوړه دود کې په پاکو نجونو تور پوریکول دي چې دا کړن د شریعت له مخه مردود دی.

---

١- صحیح الامام مسلم، باب بیان الکبائر و أکبرها، د حدیث شمیره: ٨٩.

۴ـ په دا شان د ناوړه دود واده کې هغه محبت او مينه فضا چې الله پاک د ښځه او ميړه ترمنځ اچولي له منځه وړل کيږي او په ځای يې د دوی ترمنځ کرکه اونفرت، حسد او بغض راځي.

۵ـ پدې ناوړه دود کې نجلۍ او د هغې کورنۍ ته ضرر رسيږي او د اسلامي شريعت له ځان ته او بل ته ضرر رسول حرام دي ځرنگه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي:**عَنْ أَبِي صِرْمَةَ صَاحِبِ النَّبِيِّ (صلى الله عليه وسلم )عَنِ النَّبِيِّ (صلى الله عليه وسلم)أَنَّهُ قَالَ : «مَنْ ضَارَّ أَضَرَّ اللَّهُ بِهِ وَمَنْ شَاقَّ شَاقَّ اللَّهُ عَلَيْهِ»**.[1] ژباړه: د رشول صلی الله عليه وسلم صاحب أبي صِرمه د رسول الله صلی الله عليه وسلم ځخه روايت کوي چې ويی فرمايل: چاچې بل ته ضرر ورساوه الله هغه ته ضرر رسوي يعني جزايې ورکوي او چاچې بل ته تکليف ورساوه الله به هغه ته تکليف ورسوي يعني جزايې ورکوي.

٦ ـ پدې ډول دود کې د دواړو طرفه دښمنۍ له منځه وړو کې ځيني وخت قومي مشران او ملکان دا نجلۍ هغه ځوان چې په خپل سر يې په دا نجلۍ ټوپک ويشتي پرته د رضا د هغې ځخه

١ ـ سنن أبي داود، باب القضاء، د حديث شميره: ٣٦٣٧.

په نکاح ورکوي او وايي چې اوس خو ټوپک پرې ویشتلی دی او حال داچې د هغې د رضا پرته نکاح کول کوم شرعي حیثیت نلري دارنګه د دې نجلۍ د ورکولو په مقابل کې د نجلۍ کورنۍ ته دوه یا درې او یا څلور نجونې د بدو په مقابل کې د نجلۍ کورنۍ ته ورکوي چې دا یو غیر شرعي عمل دی او دوی وايي چې موږ په دې سره د دوه ؤ کورنیو ترمنځ صلحه راولو او دا ګناه او لوی جرم دی؛ ځکه ازاد مکلف انسان ورکول په بدو کې د صلحې په اړوند دا صلحه په حرامو سره دی او حرامه دی په دې هکله حضرت نبي کریم علیه الصلاة والسلام فرمايي: «**الصُّلْحُ جَائِزٌ بَيْنَ الْمُسْلِمِينَ، إِلاَّ صُلْحًا حَرَّمَ حَلاَلاً، أَوْ أَحَلَّ حَرَامًا**»[1]. یعنې: د مسلمانانو ترمنځ هره صلحه جایز دی پرته د هغې صلحې څخه چې حرام حلاله وي او حلال حرام وي.

۷ ـ دا ناوړه دود په ځینو ختونو کې د قتل او د ناروا وینو تویولو سبب ګرزي او قتل لویه ګناه دي، الله پاک فرمايي: (**مَن يَقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَآؤُهُ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيهَا وَغَضِبَ اللّهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهُ وَأَعَدَّ لَهُ عَذَابًا**

١ ـ سنن ترمذي، باب ما ذکر فی الصلح بین الناس، د حدیث شمېره: ١٣٥٢ .

**عَظِيمًا)**.[1] ژباړه : څوک چې کوم مؤمن په قصد او پوهې سره ووژني د هغه سزا جهنم دی چې د همیش لپاره به پکې وي او په هغه د الله غضب او لعنت دی او د ده لپاره یې لوی عذاب تیار کړی دی او دارنګه نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «**عن عبد الله بن عمرو :أن النبي صلى الله عليه و سلم قال لزوال الدنيا أهون على الله من قتل رجل مسلم**».[2] ژباړه: د عبد الله بن عمرورضي الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د ټولې دنیا نړیدل په نزد د الله پاک د یو مسلمان په ناروا قتل څخه اسان دی.

۸ ـ پدې ناوړه دود کې ښځې سره هغه د خوښۍ او نیکۍ فضا چې الله پرې امر کړی له منځه وړل کیږي، الله فرمایي: (**وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ فَإِن كَرِهْتُمُوهُنَّ فَعَسَى أَن تَكْرَهُواْ شَيْئًا وَيَجْعَلَ اللّهُ فِيهِ خَيْرًا كَثِيرًا**).[3] ژباړه : او ورسره په نیکۍ چلند وکړئ او که چیرې مو ورڅخه کرکه وکړه نو ډیر داسې شیان دی چې تاسې یې نه

۱ - د النساء سورت ۱۹ آیت.

۲ ـ صحیح الامام مسلم، باب تشدید قتل المؤمن، د حدیث شمیره: ۱۳۹۵.

۳- د النساء سورت ۹۳ آیت.

خوښوی خو الله په هغه کې د خپل حکمت له لوری لوی خیر اچولی وي.

۹ ـ دا ناوړه دود یعنې په خپل سر په پیغله نجلی ټوپک ویشتل او یا د ټکري څنډې یې شکولو سره نکاح کول زیات وخت له ګاونډیانو او خپلوانو سره پیښیږي او هغوی سره د بد چلند لامل ګرزي او پهګڼو حدیثونو کېګاونډی ته ضرر رسولو حرمت راغلی دی د بیلګې ډولدا حدیث: «**وعن أبي هريرة رضي الله عنه آن النبي صلى الله عليه وسلم قال: والله لايؤمن، والله لايؤمن، والله لايؤمن، قيل من يا رسول الله؟ قال الذي لايؤمن جاره بوايقه**».[۱] ژباړه: قسم په الله جل جلاله ایمان نلری، ایمان نلری، ایمان نلری، وویل شول: څوک یا رسول الله! وی فرمایل: هغه څوک چې ګاونډی د هغه د ازار، زورولو اوشرنه په امان نه وي.

د دې حدیث څخه دا معلومیږي چې څوک ګاونډیانو ته ضرر رسوي هغه د کامل څښتن ندی بناء هغه څوک چې د خپل

۱- صحيح البخاري، بَابُ إِثْمِ مَنْ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَايِقَهُ، د حدیث شمیره: ٦٠١٦.

ګاوندی په لور او خور په زور او د رضا پرته ټوپک په ولي سره نو پدې وعید کې داخل دی - **أعاذنا الله من ذلک** .

دا ناوړه دود یعنې په نجلۍ ټوپک ویشتل ېری وخت له خپلوانو سره کیږي په پایله کې له هغوی سره د صله رحمي رابطه قطع کیږي او دا د شریعت له مخې حرام بلل شوی، څرنګه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:«**لا یدخل الجنة قاطع رحم**»[1] ژباړه: د صله رحمي پری کونکی به جنت ته داخل نشي. نور هم ګن احادیث د صله رحمي د قطعي د ګناه په هکله راغلي ډېر واري د دې ګناه عذابوړاندې په دنیا کې الله پاک ورکړي.

دا څو په شمیر زیانونه د دې ناوړه دود ذکر شول او نور ډېر اضرار پکې شتون لري، د دې لپاره چې بحث ډېر لوی نشي په همدې اکتفاء کوو.

١ - صحیح الامام مسلم، باب باب صلة الرحم وتحریم قطیعتها، د حدیث شمیره: ٢٥٥٦.

## د ماشومانو حقوقو ته نه پاملرنه

بل د هغو ناوړه دودونو څخه چې د موږ ټولنه کې په ځینو سیمو د هیواد کې منځ ته راځي هغه د کوچنیانو د حقوقو ضیاع دی یا په بل عبارت سره د ماشومانو حقوقو ته نه پاملرنه نو اړینه بولم چې د ماشومانو یعنې د هغو چاچې دمګړۍ هغوی ضعیف او ناتوانه او مرستې ته ضرورت لري لکن د راتلونکی او مستقبل ځوانان، مشران او مسؤولین بلل کېږي د هغو حقوق پایمال کېدل هم د یو دود په څیر په سیمو کې رواج دیاو هغو نه شاقه کارونه پری کولای شي او تعلیم او نورو حقوقو ته توجه نشي-کولای، د ماشومانو یعنې د اهل او عیال د مسئولیت په هکله الله پاک جل جلاه فرمایي: (یآأیها الذین أمنوا قوا أنفسکم وأهلیکم نارا).[۱] ای مومنانو! ځانونه او خپل اهل د دوزخ له اوره وژغورئ.

---

۱ ـ د التحریم سورت: ٦آیت.

نو ډېر اړین یې بولم چې د ماشومانو حقوقو په هکله څه خبره وکړم تر څو د ټولنې دغو بې وسه او مظلوم قشر ته توجه وشي او له دغو ناخوالو، د هر لوری په جنګ جګړو کې شریک کړی شوي اوپه شاقه کارونوکې له دوی څخه ګټه اخستل کړی شوی په ځینو حالاتو کې د دوی متولیانو له خوا د دنیایي کمي مادي کټې لپاره مهاجرت او سفر ته مجبور کړی شوي چې ډېر یې په بحرونو کې د کبانو قرباني شول نو راځئ د دغه مظلومانو حقوقو ته په تفصیل سره غور شو او په خپل ژوند کې د دوی حقوقو ته جدی پاملرنه وکړو:

## لومړی حق د هغه نسبت خپل پلار ته:

کله چې انسان دنیا ته راځی د ضعف او بې وسی په حالت کې وي او محتاج وي تر څو یې څوک وروزی، په غیر کې یې ونیسی او شفقت او مهربانی ورسره وشی تر څو پخپلو پښو ودریږي دلته دی چېد اللهجل جلاله د نسب رابطه چې د هغه د مور او پلار تر منځ بیوند دی بر قراره ګرځولی او د هغې تر سیوری لاندې ماشوم د هر ډول عنایت او حقوقو څخه برخه من کیږی. په دې هلکه اللهجل جلاله فرمایی: (**هو الذي خلق من المآء**

**بشرا فجعله نسبا وصهرا)**.[1] اللـه تعـالی هغـه ذات دی چـې د اوبـو څخه يې انسان منځ ته راووست، نـو د هغـه (رابطـه) يـې د (نـورو سره) د نسب اوزوجيت (قرابت) له مخې وټاکله.

دلتـه دی چـې اللهجـل جلالـه د تبنـي (فرزنـد خوانـده گـی) قضـيه او د اسـلام څخـه د مخـه د جاهليـت رسـم او رواج چـې د انسان د نسب د حق تـر مـنځ حايـل کيـده لـه منځـه يـووړ او وې فرمايـل:«**وماجعل أدعياءكم ابناءكم**».**۲** يعنـې: او ويـې نـه گرځـول فرزنـد خوانـده گـی ستاسـی حقيقـی زامـن». او دارنگـه فرمـايي: «**ادعوهم لأبائهم هو أقسط عندالله**».[3] يعنې: هغوی تـه نسـبت ورکړئ د هغوی پلرونو ته، دا د اللهجل جلالهپـه وړانـدې عـدالت ته نږدی دی.

## دوه يم حق ښه نوم درلودل:

د ماشوم د حقوقو څخه يو هم د ښه نوم درلودل دی، ځکه د نوم پرته د انسان معرفت ممکن نه دی.

---

۱ ـ د الفرقان سورت: ۵۴ آيت.

۲ ـ د الأحزلب سورت: ۵ آيت.

۳ ـ د الأحزلب سورت: ۵ آيت.

همدا راز ممکنه نه ده چې هغه د خپلو حقوقو او امتيازونو برخمن شی. په دې هکله روايت دی:«**عَنْ أَبِى الدَّرْدَاءِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ –صلى الله عليه وسلم– إِنَّكُمْ تُدْعَوْنَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِأَسْمَائِكُمْ وَأَسْمَاءِ آبَائِكُمْ فَأَحْسِنُوا أَسْمَاءَكُمْ** ».[1] ژباړه: د أبي الدراء رضي الله تعالی عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلی: تاسئ به د قيامت په ورځ په خپلو نومونو او د پلرونو په نومونو غوښتل کيږي، ځکه نو ښه نومونه غوره کړئ.

او د ښه نومونو څخه لکه چې په احاديثو کې راغلي دي هغه دي چې الله جل جلاله ته د انسان د بنده ګۍ دلالت وکړي لکه عبد الله، عبدالرحمن.... او داسې نور يا د انبياء عليهم الصلاة والسلام له نومونو څخه وي لکه محمد، ابراهيم، موسی او داسې نور.

**درېيم حق:**

عقيقه هم د ماشوم د حقوقو څخه ده چې په عقيقې سره د ماشوم د ولادت څخه لمانځل دي چې پس له ولادت څخه يو

---

١ ـ سنن أبي داود، باب في تغيير الأسماء، د حديث شميره: ۴۹۵۰.

پسه ذبح کیږیاو د ماشوم د سر ویښتان خریل کیږیاو د پسه غوښه لکه د قربانۍ ویشل کیږي چې ښه ورځ یې اوومه ده چې د نه امکان په صورت کې څوارلسمه او یا یوویشتمه ورځ گڼل شویده.

## د عقیقې حکم سنت دی:

که څه هم دځینو فقهاوو له نظره هغه واجب گڼل کیږي او په دې نظر دی چې تر څو پسه ذبح نشی واجب د والدینو له ذمی څخه نه ساقط کیږی، اما د جمهورو فقهاوو راجح قول دا دی چې عقیقه په هغه صورت کې چې انسان یې وسه ولری سنت ده او نیته یې د دریو اونیو په منځ کې ده. په دې هکله (چې عقیقه د ماشوم حق دی) زیات حدیثونه روایت شویدی چې د هغې جملې نه دا روایت هم دی: «**عَنِ الْحَسَنِأَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " الْغُلَامُ مُرْتَهَنٌ بِعَقِيقَتِهِ " أَوْ قَالَ: " بِعَقِيقَةٍ تُذْبَحُ يَوْمَ السَّابِعِ، وَيُحْلَقُ رَأْسُهُ وَيُسَمَّى**».[۱] نوی پیدا شوی ماشوم معلق دی د عقیقی تر

---

۱ - شرح مشکل الآثار للطحاوي، باب بیان مشکل ما روي عن رسول الله صلی الله علیه وسلم، د حدیث شمیره: ۱۰۴۰.

اداء کولو پوري چې په اوومه ورځ به ذبح شـي، د ده ويښـتان دې وخريل شينوم د کيښودل شی.

## څلورم د رضاعت (شيدو خوړلو) حق دی:

د کوچني د زيږيدلونه پس لومړنی مهم خوړو ته چې ارتيـا لـری هغـه د مـور شـيدې دي. مـور د شـفقت او عـاطفی لـه مخـی دی مسؤوليت څخه سر غړونه نکوی او په رضا او رغبـت سره دا وجيبـه تر سره کوي.

د ماشوم د حق او د ميـندو د مسـؤوليتونو پـه هکلـه اللـه تعـالي فرمـــايي: (**والوالـدات يرضـعن أولادهـن حـولين كـاملين لمـن أراد أن يـتم الرضاعة**)[1].

ميندی خپلو ماشومانو ته تر دوه کلونو دې شيدې ورکړئ، د هغه چا لپاره چې غواړی د رضاعت موده پوره کړي.

## پنځم د تعليم حق:

هغه څه چې د ځان څخه د مشروع په هلکه دی او همدا راز د بدني لياقت تقويه او ورزش او داسې اور دی په اسلام کې مشروع

---

۱ - د البقرې سورت، ۲۳۳ آيت.

دفاع د يو مسلمان مسلم حق ګڼل کيږي چې په عام ډول لاندیني چارې رانغاړي:

۱ ــ د دين او عقيدې څخه دفاع چې د جهاد تر مفهوم لاندې د الله جل جلاله په لاره کې تر سره کيږي.

۲ ــ د نفس څخه د فاع.

۳ ــ د آبرو، عزت او کرامت څخه د فاع.

۴ ــ په دی هلکه حديث شريف دی چې:«**عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ عَنِ النَّبِىِّ –صلى الله عليه وسلم– قَالَ : «مَنْ قُتِلَ دُونَ مَالِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ وَمَنْ قُتِلَ دُونَ أَهْلِهِ أَوْ دُونَ دَمِهِ أَوْ دُونَ دِينِهِ فَهُوَ شَهِيدٌ».۱**

ژباړه: د سعيد بن زيد له نبي صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې ويی فرمايل: له شي هغه شهيد دی، څوک چې د خپل دين د دفاع په خاطر وژل شي هغه شهيد دی.

دا هم په حديث شريف ثابته ده چې پيغمبرصلى الله عليه وسلم د اولادونو په ښوونه او روزنه او د هغوی آشنا کول د آس سپريدلو او تير اچولو باندې تأکيد کړيدی. ځکه نو هر هغه څه چې د انسان د فکر او ذهني ودې يا بدني تربيت يا د ځان، مال،

۱ - سنن أبي داود، باب في قتال اللصوص، د حديث شميره: ۴۷۷۴.

عزت او آبرو ښځه د مشروع دفاع لپاره ګټور وي او هغه ته اړتيا لري، د هغه زده کړه او پوهيدل د هغه د مسلمو حقوقو ښځه ګڼل کيږي. په دې برخه کې بايد تقصير او اهمال ونشي بلکې د هغې د حصول او تحصيل زمينه برابره شي تر څو ماشومان هغې ته لاس رسی پيدا کړي.

## شپږم حق د ماشوم ښځه د نظر غوښتنه:

د ماشوم ښځه نظر غوښتنه د تمرين او د هغو د هڅولو پخاطر تر څو په راتلونکې کې وکولای شي د پوخ نظر او رايي خاوند وي دا هم د ماشوم او کوچني سره د اسلامي شريعت سره سم چلن دی، ماشوم په هر شی کې تمرين ته اړتيا لري تر څو هغه استعداد يې چې الله جل جلاله ورکړيدی تقويه او وده وکړي.

دلته دی چې کله دماشوم ښځه د کومې موضوع په اړه پوښتنه کيږي هدف د هغه د استعداد سرکوب کول نه بلکې د هغه د استعداد د معلوماتو پوهه او د برداشت ځواک وي. کله چې ځواب يې سم وي بايد هغه لا زيات تقدير او تشويق شي تر څو د هغه د ذهني ودې او د زياتی هڅې او هاند سبب شي او که چيرې ځواب يی سم نه وي، نبايد چې د سرزنش سره مخامخ

شی بلکې په ډېره مهربانۍ سره باید لارښوونه ورته وشي تر څو حوصله او همت یې اغیزمن نشي.

په دې هلکه یعنې دماشوم د استعداد، معلوماتو او ذهني او فکري ودې په هلکه قرآن پاک وایي: (.. **فإن أنستم منهم رشدا فادفعوا إليهم أموالهم**...)[1]. یعني که چیرې تاسو دهغو (یتیمانو/ کوچنیانو چې پلرونه یي وفات شویوي) پوه احساس کړه؛ نو مالونه یي ورکړئ.

همدا راز اسلام هر ډول کورني تاوتریخوالی منع گرځولی دی ځکه د مور په وړاندې تاوتریخوالی چې د ماشوم واقعي تکیه ځای گڼل کیږي، د ویرې اوخوف د فضا باعث گرځي او پر ماشوم مستقیمه اغیزه لري. په حدیث شریف کې ذکر شوي چې کله به رسول اکرم د ماشوم ژړا واوریدله نو خپل خوږ قرائت به یې لنډ کړ: «**عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ عَنِ النَّبِيِّ صلى الله عليه وسلم قَالَ إِنِّي لَأَدْخُلُ فِي الصَّلَاةِ فَأُرِيدُ إِطَالَتَهَا فَأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَأَتَجَوَّزُ مِمَّا أَعْلَمُ مِنْ شِدَّةِ وَجْدِ أُمِّهِ مِنْ بُكَائِهِ**».[2] ژباره: ځینې وخت زه په لمانځه کې

۱ـ د النسآء سورت، ٦ آیت.

۲ ـ صحیح البخاري، باب من أخف الصلاة عند بكاء الصبي، د حدیث شمیره: ۷۱۰.

داخليږم غواړم چې لمونځ اوږد کړم؛ نو د ماشوم ژړا مې تر غوږه شي؛ نو لمونځ (قرأت) مختصر کړم د هغه له کبله چې زه درک کړم احساس د تکليف د مور د ژړا د هغه څخه.

## اووم حق د ماشوم ساتنه اوحفاظت:

د حفاظت کلمه عامه ده او دماشوم ساتنه د هر ډول خطر په وړاندې افاده کوی لکه جسمي رواني،اخلاقي، عصبي او داسې نور خطرونه.

دماشوم وهل او ټکول په اسلام کې منع دی او دا چې په لس کلنی کې د لمونځ په برخه کې د ماشوم تأديب ته اشاره شويده، مراد داسې وهل نه دي چې د ماشوم د معيوبيت سبب شي بلکې هدف تأديب دی،همدا راز د ماشوم ساتنه د فرهنگی انحرافاتو، الکهولی موادو د استعمال، مخدره لکه چرس، هيروئين او نور چې صحت او اخلاق ته يې زيان رسوی، ضروری گڼل کيږي.

## اتم حق د نفقي:

نفقه عبارت دی د ژوند د اړتياوو لکه خوراک، څښاک، کور، کالي او داسې نور.

د نفقې د لزوم سبب دوه شیان دي:

**الف:** زوجیت، چې د ښځې نفقه پر میړه باندې لازمه ده.

**ب:** د اولاد قرابت، لکه والد، ولداو داسې نور.

د نفقې په هکله هم د ولادت قرابت چې د اصول او فروع تر منځ دی، مقصد ګڼل کیږي او د نفقې وجوب هم په همدې اساس دی.

## د نفقې وجوب د قرآن او سنتو له نظره:

الله پاک فرمایي: (**لینفق ذوسعة من سعته...**)۱.

نفقه دی وکړئ توان لرونکی د خپل توان سره سم.

اودارنګه فرمایي: (**وعلی المولود له رزقهن وکسوتهن بالمعروف...**).[۲]

پر والد لازمه ده نفقه او لباس د هغو ښځو چې ماشوم ته شیدې ورکوي (د اجرت په مقابل کې) په ښه طریقې سره.

۱ـ د الطلاق سورت، ۷ آیت.

۲ ـ د البقرې سورت. ۲۳۳ آیت.

په حدیث کې راغلي دي چې د ابو سفیان ښځې د هغه د بخل څخه پیغمبرصلی الله علیه وسلم ته شکایت وکړ چې پر هغې او اولادونو یې نفقه نکوي، پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
**«عَنْ عَائِشَةَ أَنَّ هِنْدَ (هِنْدًا) بِنْتَ عُتْبَةَ قَالَتْ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ أَبَا سُفْيَانَ رَجُلٌ شَحِيحٌ وَلَيْسَ يُعْطِينِي مَا يَكْفِينِي وَوَلَدِي إِلَّا مَا أَخَذْتُ مِنْهُ وَهُوَ لَا يَعْلَمُ فَقَالَ خُذِي مَا يَكْفِيكِ»**.[1] ژباړه: د حضرت عائشې رضي الله تعالی عنها څخه روایت دی چې وایي: هنده د عتبه لور وویل: اي رسول الله! ابوسفیان بخیل دی ما او د ما اولاد ته دومره څه نه راکوي چې د موږ بس شي، آیا جایز دی چې په پټه څه تې واخلم؟ ویې فرمایل: دومره ترې واخله چې د ستا (او د ستا د اولاد) کفایه شي.

د ماشومانو حقوق ډېر زیات دي د بېلګې په ډول مې دا څو حقوق یاد کړل شو؛ ځکه د ماشومانو د حقوقو تلف په ځینو سیمو کې د رواج په څیر ورته کتل کېږي، د دوی د هر حق تلف هلته یو دود او رواج ګرځیدلی او د ماشومانو هر حق په ځای کول د

١ ـ صحيح البخاري، بَابٌ إِذَا لَمْ يُنْفِقِ الرَّجُلُ فَلِلْمَرْأَةِ أَنْ تَأْخُذَ بِغَيْرِ عِلْمِهِ مَا يَكْفِيهَا وَوَلَدَهَا بِالْمَعْرُوفِ، حديث رقم: ۵۳٦۴.

دې ناوړه دود د حل لار دی، الله پاک دوکړي چې د دوی ټول حقوق په سمه توګه ادا کړی شي.

دا شپاړس (۱٦) دودونه مو په دې کتاب کې بیان کړه دا نه چې همدا ناوړه دودونه دې موږ په ټولنه کې دي او نور نشته بلکه دا د نمونې په توګه ذکر شول او نور په لس ګونو ناوړې دودونه او رواجونه شتون لري چې د اسلامي شریعت له مخه مردود دي او د موږ په ټولنه کې شتون لري د بیلګې په ډول: نوروزي، اختری او براتي د افغانانو هغه ځانګړي رسم او رواجونه دي چې د دغو خاصو ورځو په رانږدې کیدو سره یې د هلک کورنی خپلې کوژده شوې ناوې لپاره ور وړي په پای کې د هلک اړخ له ډیرو مالي ستونزو سره لاس او ګریوان شي تر دې چې په ځینو حالاتو کې د واده مراسم ډېر ورسته کوي، ولور اخستل او په هغه کې ډېر افراط کول او داسې نور د دې ټولو حل د اسلامي شریعت په تطبیق سره تأمین کیږي.

نور هم داسې ناوړه دودونه په هیواد کې شتون لري چې باید هغه ټول د شریعت په درشل کې حل او فصل شي.

## د حل لارې چارې:

د دې ناخوالو او ناوړه دودونو څخه د خلاصي لارې چارې په لانـدې ډول دي:

۱ـ اسلامي شریعت په ټولو برخو د ژند کې تطبیقول؛ ځکه اسلامي شریعت د انسان ټولو حالاتو حتی د هغه د پیدایښت څخه وړاندې او د مرګ څخه ورسته، ته شامل دی. غوره حل د ټولو ستونزو د الله پاک شریعت ده او د هغه څخه مخ اړونه سبب د هلاکت او د دنیا او اخرت خسران دی.

۲ -سرتاسري په ټولو وګړود نافذه قوانینو تطبیقول.

۳ - د اسلامي ارزښتونو او د قوانینو په اړه د خلکو د پوهې کچه لوړول، ترڅو د داسې ناوړه دودونو مخنیوی وشي .

۴-  د هیواد اقتصاد پیاوړي کول.

۵ ـ د ګنو لارو چارو او وسایلو له لوری د شریعت خلا ف رواجونو او عنعناتو په  ناوړه پایلو د خلکو خبرتیا.

٦ ـ د احتساب اداره په ټول هیواد کې پیاوړې کول؛ ځکه دې اداري شتون په اسلامي هیواد کې د روح په څیرضروري ده او د دې اداري په پیاوړتیا  او عمل سره به دې ناوړه دودونه ته د پای

ټکی کیښودل شي او ټول وګړي ښځینه او نارینه به د ارامۍ، سوکالۍ، آبادۍ په فضا کې ژوند وکړي.

# خاتمه

د وړاندې وينا څخه څرګنده شوه چې د موږ په ټولنه کې ډير ناوړي دودونه او رواجونه شتون لرى چې ځينې د هغو څخه ذکر شول چې هغه دادي: د شغار يا بدل واده، د ميراث څخه د ښځو محروميدل، ښځې د مال په ډول په ميراث کې وړل، د نجونو پلورل، اجباري ودونه او په بدو کې د ښځو ورکول... او داسې نور دا دې بېلکې په ډول ذکر شوى دي نور هم داسې ډېر دودونه شتون لري چې د اسلامي شريعت سره په ټکر کېدي نو هر کله چې اسلامي شريعت تطبيق کړو د ټولو ناخوالو او بدبختيو څخه په په ډېر اسانۍ خلاص شو.

# وړاندیزونه

د یاد شوو ناوړه دودونو او رواجونو څخه د خلاصي لپاره دا لاندې وړاندیزونه ذکر کوم:

۱ـ د ناوړه او شریعت او قانون سره په ټکر کې دود او رواج پلې کونکې باندې اسلامي شریعت او قانون تطبیقول.

۲ـ د داسې ناوړه دودونو په هکله د رسمي او خصوصي ادارو لخوا باید ورکشاپونه، سمینارونه او د کتابونو او مقالو لیکنه په پام کې ونیول شي ترڅو خلکو ته یې د هغو ناوړې پایلې او اغیزې په ډاګه شي او په نتیجه کې یې خلک ځان ترې وژغوري.

۳ـ خپل اولادو او هر هغه چا سره چې د هغو متولیان او واکمنان یو د خپل کور په ودانۍ کې ورسره مشوره وشي او ورسته د مشورې څخه د هغو د واده تصمیم ونیول شي او داسې کړن به د ډېرو ناخوالو او بدبختیو لکه د کور څخه د تېښتو، ځان وژنې، دښمنۍ، بې اتفاقۍ او داسې نورو ستونزو څخه مخنیونه وکړي.

۴ – په هیواد کې د تعلیم، پوهاوی او لیک لوست کچې زیاتول.

۵ ـ په هیواد کې د اقتصادي وضعې کچې لوړول.

۶ ـ د مکافاتو او مجازاتو ترویجول.

۷ ـ په هیواد کې د کاری زمینو زیاتول.

۸ ـ د هیواد په کچه تعلیمي مراکز، تأسیسات او مدارس رغونه تر څو د موږ مؤمن ملت د نورو او د خپلو حقوقو څخه پوهاوی په اسانۍ سره لاسته راوړي او په پایله کې دا ناوړه دودونه ته د پای ټکی کېښودل شي.

# مصادر او سرچينې

١-قرآنكريم.
٢- بدائع الصنائع.
٣ - تفسير القرآن العظيم لأبي الفداء إسماعيل بن عمر بن كثير القرشي، المتوفى٧٧۴ هـ بتحقيق سامي بن محمد سلامة، الناشر: دار طيبة للنشر والتوزيع، الطبعة: الثانية ١۴٢٠هـ.
۴ـ تفسيرالبحر المحيط لأبي حيان الغرناطي المتوفى: ٧۴۵هـ.
۵ـ تفسير روح المعاني في تفسير القرآن العظيم والسبع المثاني لأبي الثناء الألوسي المتوفى: ١٢٧٠هـ
٦ـ تفسير معارف القرآن، د مولانا مفتي محمد شفيع، د وحيد الله ژباړه، مطبعه وحيدي كتب خانه د كال چاپ غير معلوم.
٧ ـ تنوير المجاهدين، د حركت د جمعية العلماء نامتو علماؤ تأليف، ١٣٧٠ كال.
٨ - جامع البيان في تأويل القرآن،محمد بن جرير بن يزيد بن كثير بن غالب الآملي، لأبي جعفر الطبري،المتوفى:٣١ هـ

بتحقيـق أحمـد محمـد شـاكر، النـاشر: مؤسسـة الرسـالةالطبعة: الأولى، ١٤٢٠هـ.

٩-سـنن ابـن ماجـه لأبي عبـد اللـه محمـد بـن يزيـد القزوينـي المتوفى: ٢٧٣هــ.

١٠ـ سنن أبي داود أبي داود سليمان بـن الأشـعث السجسـتاني، المتوفى: ٢٧٥هــ.

١١ ـ سـنن النسـائي لأحمـد بـن شـعيب النسـائي، المتـوفى: ٣٠٣هــ.

١٢ - سـنن الترمـذي لمحمـد بـن عيسي ـ ابـو عيسـى الترمـذي السلمي بتحقيق احمد شاكر.

١٣ ـ السياسة الشرعية لشيخ الاسلام ابن تيميه كتاب.

١٤- شرح مشـكل الآثـار لأبي جعفـر أحمـد بـن محمـد المعـروف بالطحاوي (المتوفى : ٣٢١هـ).

١٥- شـعب الإيمـان لأحمـد بـن الحسـين بـن عـلي بـن مـوسى الخُسْرَوْجِردي الخراساني، أبو بكر البيهقي (المتوفى :٤٥٨هــــ.

١٦- صحيح البخاري لمحمـد بـن اسـماعيل بترقـيم عبـد البـاقي المتوفى: ٢٥٦هــ.

١٧ ـ صحيح الامام مسلم بن الحجاج القشيري المتوفى: ٢٦١هـ.
١٨- عون المعبود شرح سنن أبي داود،د محمد شمس الحق العظيم آبادي أبو الطيب، المكتبة الشاملة.
١٩- الفتاوى الهندية.
٢٠ ـ فتح الباري للحافظ أحمد بن علي بن حجر ابو الفضل العسقلاني رحمه الله المتوفى: ٨٥٢هـ.
٢١ ـ الفقه الاسلامي و أدلته للدكتور وهبة الزحيلي، چاپ ځای مكتبه رشيديه پيښور، ١٣٧٠.
٢٢- المبسوط.
٢٣ ـ مجلة الجامعة الإسلامية بالمدينة المنورة.
٢٤ ـ مجلة الاحكام العدلية. تأليف لجنة من العلماء في دولة العثمانية.
٢٥ -مرقاة المصابيح شرح مشكاة المصابيح د ملاعلي قاري، مكتبه شامله.
٢٦ ـ مسند الامام أحمد بن حنبل المتوفى: ٢٤١هـ.
٢٧ - مشكوة المصابيح لمحمد بن عبد الله الخطيب التبريزي المتوفى: ٧٤١هـ

۲۸ ـ مصنف ابن أبي شيبة لأبي بكر ابن أبي شيبة، المتوفى: ۲۳۵هـ.
۲۹ ـ المنهاج شرح صحيح مسلم بن الحجاج،أبو زكريا يحيى بن شرف بن مري النووي، المكتبة الشاملة.
۳۰- الموسوعة الفقهية الكويتية تأليف وزارة الأوقاف والشئون الاسلامية بالكويت.
۳۱- نړيواله روغتيايي اداره، د ختيځې مديترانې لپاره سيمه ايز دفتر، د دخانياتو په استعمال کې د شريعت حکم، ژباړونکی پوهندوی ډاکټر بشير نورمل.
۳۲ ـ الهداية في شرح بداية المتبدي لبرهان الدين المرغيناني، المتوفى: ۵۹۳هـ.

**سبحانك اللهم وبحمدك نشهد آن لآ اله الا انت نستغفرك و نتوب اليك**